کما اذا قال هذه امرأتی و قالت هذا زوجی لاینعقد به لان الاقرار اظهار لما هو ثابت و لیس بانشاء و صحح فی الذخیرة ان بالاقرار بمحضر الشهود صح النکاح و جعل انشاء والافلا و في الفتح اذا اقرّا به و لم یکن بینهما نکاح لاینعقد الا اذا قال الشهود جعلتما هذا نکاحاً فقالانعم (مجمع الانهر ج۱ص ۳۱۸)

و هکذا فی (الدرالمختار بهامش رد المحتار ج۲ ص ۲۸۸) و (الفتاوی الهندیة ج ۱ ص۲۷۲)

وقال فی الفتح قال قاضیخان و ینبغی ان یکون الجواب علی التفصیل ان اقرا بعقد ماض و لم یکن بینهما عقد لایکون نکاحا و ان اقرالرجل انه زوجها و هی انها زوجته یکون نکاحا و یتضمن اقرارهما الانشاء بخلاف اقرار هما بماض لانه کذب الخ

(ردالمحتار ج ۲ ص۲۸۸) وهکذا فی (امدادالفتاوی ج۲ ص۲۳۴)

کما لو قال هذه امرأتي فقالت نعم لاینعقد الاان یقصد انشاء العقد او یقضي به القاضی و هذا دلیل علی ان القضاء صحیح فی المختلف عند المشایخ کما فی القهستانی عن المحیط (الدرالمنتقی بهامش مجمع النهر ج۱ ص ۳۱۸)

و فی شرح الجصاص المختار انه ینعقد اذا قضی بالنکاح الخ (الفتاوی الهندیة ج۱ ص۲۷۲)

واللہ تعالٰی اعلم.

د کمونستانو د همکار او توپکي ځوان په نکاح شوې انجلۍ نکاح څنګه ده؟

پوښتنه:
حضور ته د محترم جناب عالي شان د دارالافتاء درياست رئيس صاحب!

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

محترمه ! زما عرض دا دی چې يو نفر دکمونستي دولت په وخت کې سرباز ؤ يوه انجلۍ يې په نکاح وه او واده يې نه دی ورسره کړی دکمونستي دولت تر ړنګيدلو وروسته د پخوانيو توپکيانو سره ودريدی چې بيا د طالبانو په مقابل کې هم وجنګيدی او اوس په پاکستان کې د غلو سره په ډله کې شامل سوی دی نو ستاسې محترم جناب عالي شان څخه په ډيره درناوي هيله کوم چې ماته په دې هکله فتوی عنايت کړئ چې ددغه سړي نکاح د هغې انجلۍ سره چې پخوانۍ نکاح ورسره ترڅ سوې ده او واده يې نه دی کړی اوس هغه نکاح پر ځای ده که يا؟ والسلام

(المستفتي : امان الله)

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجواب بعون الملک المستعان

محترم مستفتي صاحب! څرنګه چې نکاح ترڅ شوې ده ايجاب او قبول په مابين د عاقدينو کې راغلی دی او خطبه هم ويل شوې ده او وروسته تر نکاح طلاق هم نه دی ورکړل شوی نو دغه انجلۍ د دغه سړي بنځه ده او نکاح يې پر خپل حال باقي ده صرف په دې خبرې چې دکمونستي حکومت

سره ولاړ ؤ یا د پخوانیو توپکیانوسره ؤ یا اوس د غلوسره ولاړ دی دغه ښځه د دغه سړي د نکاح څخه نه وزي.

(وینعقد) ملتبسا (بایجابٍ) من احدهما (وقبولٍ) من الآخر (وضعا) (للمضی) لان الماضی ادل علی التحقیق (کزوجتُ) نفسي اوبنتی اوموکلتی منک (و) یقول الآخر تزوجت و) ینعقدایضًا (بما) ای بلفظین (وضع احدهما له) للمضی (والاخر للاستقبال) او للحال (الدرالمختار بهامش ردالمحتارج۲ ص ۲۸۵) و هکذا فی (الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۲۷۰) قال النکاح ینعقد بالایجاب والقبول بلفظین یعبر بهما عن الماضی (الهدایة ج ۲ ص ۲۸۵) و هکذا فی (الفتاوی الکاملیة ص ۱۸- ۱۹)

واللہ تعالی اعلم

د حنفي او شيعه تر منځ نکاح څنګه ده؟

بحضور محترم محکمه شرعیه ولایت قندهار السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

امابعد : برادرم گل محمد نام چندین سال قبل فوت گردیده است ازاین که زن متوفی از اهل مذهب جعفري شیعه بوده فعلاً دختر برادرم رامی خواهد بدون مشوره من به عقد نکاح یک نفر شیعه جعفري را آورد ازین که دختر به مذهب امام صاحب بوده وبرادر زاده من میباشد نمی خواهم که مذکوره رابه نکاح یک نفر شیعه جعفری عقد شود ازین لحاظ به محکمه محترم عارض شدم امیدوارم که غلام نبی راکه پدری پسر شیعه مذهب است به محکمه حاضرومانع این عمل آن شودبا احترام.

(المستفتی : نور محمد ولد حاجی عبدالرؤف باشندگان ناحیه (۵) شهر قندهار)

وحضورته د محترم رئیس صاحب دارالافتاء السلام علیکم بعداً دعارض عریضه مو تاسو ته راجع کړه که چېرې د حنفي مذهب انجلی نکاح د اهل تشیع والاوو سره صحیح کیږي فتوی راکړئ چې نکاح یې ور وترو اوکه صحت نه لري چې ددغه نکاح څخه ممانعت وکړو. ومن الله التوفیق

(دکندهارولایت مرکزي عدلیه محکمه)

الفتوی

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

امابعد فاقول و باللّٰہ التوفیق

الکفائۃ یعنې مساوات مخصوصه په مابین د زوجینو کې په نکاح کې معتبر دی په لزوم د نکاح کې یعنې قریبانو لره فسخ د نکاح د نه مساوات په وخت کې شته مطلب دا چې نکاح یې صحیح کیږي خوکه د قریبانو خوښه نه وي فسخ کولای یې شي په ظاهرالروایۃ آما فتویٰ پر دې ده چې د نه مساوات په وخت کې چې قریبان یې راضي نه وي بیخي یې عقد د نکاح نه صحیح کیږي په سبب د دې لاندنیو مسائلو:

و لوکان الزوج مبتدعاً والمرأۃ سنیۃ لم یکن کفؤها کمافی النتف انتهی.

وقتیکه ظاهر گردید که مبتدع کفوء سُنیه نمی تواند شد بهمین وجه عقد مذکور منعقد نه گردید و صحیح نه شد وهمین ست مختار عندالفقهاء وبرین است فتویٰ کمافی الکفایۃ امرأۃ زوجت نفسها من غیرکفوء یصح ولکن للاولیاء حق الاعتراض وروی الحسن عن ابی حنیفۃ ان النکاح لاینعقد وبه اخذ کثیرمن مشائخنا وقال شمس الائمۃ السرخسي هذا قرب الی الاحتیاط فلیس کل ولي یحسن المرافعۃ الی القاضی ولاکل قاضی یعدل انتهی الخ ... الکفاءۃ معتبرۃ قالوا معناه معتبرۃ فی اللزوم حتی ان انعدمت جاز للولی الفسخ وهذا بناء علی ظاهر الروایۃ من ان العقد صحیح وللولی الاعتراض اما علی روایۃ الحسن المختار للفتوی من انه لایصح الخ ...

واما عدم نفاذ نکاح از غیر کفو پس در بحر رائق و مجمع الانہر وغیرہ مرقوم است واللہ تعالی اعلم بالصواب حرّرہ محمد عبد الحی عفا اللہ عنہ

(مجموعۃ الفتاوی کتاب النکاح بہامش خلاصۃ الفتاوی ج ۲ ص ۴۶-۴۷، ط رشیدیہ)

(وتعتبر) الکفائۃ (دیانۃً) وھی التقوی فالمبتدع لیس کفوءً للسُّنّیۃ کما فی النتف (الدر المنتقی فی شرح الملتقی علی ہامش مجمع الانہر، کتاب النکاح ج ۱ ص ۳۴۱ ط دار احیاء التراث العربي)

لکن المروی عن الحسن عن ابي حنیفۃ بطلان النکاح من غیر الکفوء وبہ اخذ کثیر من مشایخنا قال شمس الائمۃ السرخسي وھذا اقرب الی الاحتیاط فلیس کل ولي یحسن المرافعۃ الی القاضی ولا کل قاض یعدل والاحوط سد باب التزوج من غیر کفوء قال الامام فخر الدین والفتوی علی قول الحسن فی زماننا قال فی البحر المفتی بہ روایۃ الحسن عن الامام من عدم انعقادہ اصلا اذا کان لہا ولي ولم یرض بہ قبل فلا یفید الرضاء بعدہ واما تمکینہا من الوطئ فعلی المفتی بہ ہو حرام کما یحرم علیہ الوطئ لعدم انعقادہ و اما علی ظاہر الروایۃ ففی الولوالجیۃ ان لہا ان تمنع نفسہا ولا تمکنہ من الوطئ حتی یرضی الولی...آھ و فی البحر ایضاً قال صدر الاسلام لو زوجت المطلقۃ نفسہا من غیر کفوء ودخل بہا الزوج ثم طلقہا لا تحل للزوج الاول علی ما ہو المختار و فی الحقائق ہذا مما یجب حفظہ لکثرۃ وقوعہ وفی فتح القدیر لان الغالب فی المحلّل کونہ غیر کفوء واما لو باشر الولی عقد المحلل فانہا تحل آھ وکذا لو لم یباشرہ لکنہ رضی بہ نہر اقول ای رضی بہ قبل العقد اذ لا یفید الرضاء بعدہ کما مر (الفتاوی تنقیح الحامدیۃ کتاب النکاح باب الکفوء ج ۱ ص ۲۱)

سئلت عن حرة اصلية تزوجت بعتيق غير كفوء هل لاينعقد هذا النكاح فالجواب نعم لاينعقد هذا النكاح على المفتى به وهو رواية الحسن رَحِمَهُ ٱللَّهُ عن ابى حنيفة رَحِمَهُ ٱللَّهُ قال فى البحر المفتى به رواية الحسن عن الامام من عدم انعقاده اصلا اذا كان لها ولىٌ ولم يرضَ به قبل فلايفيد الرضى بعده آهـ من التنقيح .

والله تعالى اعلم. (الفتاوى الكاملية باب الاولياء والاكفاء ص ۲۲)

مولوي احمد نوري عفى عنه
مولوي ندا محمد حقاني

مولوي نور محمد (ثاقب)
رئيس دار الافتاء مركزي
دولت اسلامي افغانستان

شیعه که په زورد سُني انجلۍ سره نکاح وکړي؟

پوښتنه : جناب فضیلت مآب دقندهار د دارالافتاء رئیس صاحب ته !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

دا چې د سمنګان په ولایت کې یوه جینۍ چې سُنّي مذهبه او مسلمـــانه وه په وخت د تسلط د حزب وحدت کې یو شیعه په زوره نومـوړې سُنّي مذهبه او مسلمانه جینۍ په نکاح کې اخیستې ده او د هغه څخه یې دوه بچي چې دواړه نارینه دي پیدا شوي دي نو ستاسې د محترم مقام څخه په دې مورد کې افتاء غواړو چې آیا د نومـوړې جینۍ نکاح دغه شیعه ته چې جعفري مذهبی دی روا ده که یا؟

ددې جواب مونږ ته ضرور راکړئ چې په دې مورد کې محکمه څه وکړي او دا کار اوس زمونږ سره په جریان کې دی. والسلام

نوټ : د نومـوړې موضـوع په بـاره کې کـه مـونږ ته جواب په لسو ورځـوکې راکړئ دا به ستاسو لویه مهرباني وي.

(مولوي عبیدالله)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون المستعان

محترم مستفتی صاحب درین صورت مذکورہ نکاح سنیہ با اہل تشیع جائز نیست ونہ میشود ودر صورت زور وچل برای اولیاء دختر حق فسخ است اگرچہ ہمراہ سنی باشد بلکہ برای دختر واولیاء شان بہ غیر حضور قاضی حق فسخ است.

(سوال) شیعہ واہل سنت وجماعت کی مناکحت باہم درست ہے یا نہیں؟

الجواب: باہم مناکحت شیعہ وسنیوں کی جائز نہیں ہے ، سُنیہ لڑکی جس کا نکاح شیعہ مرد سے کیا گیا ہے وہ جائز نہیں ہوا لڑکی کو رخصت نہ کیا جائے اور اُس کے قبضہ میں نہ دیا جائے دوسرے مرد سُنی سے اُس کا نکاح کر دیا جائے واللہ تعالیٰ اعلم (۱) (عزیز الفتاوی ج ۱ ص ۳۹۹) و (فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۸ ص ۲۰۹)۔

سوال: اگر مرد شیعہ کسی عورت کو یہ دھوکہ دے کہ میں سنی ہوں تو اس نکاح کی بابت علماء دین کیا فتوی فرماتے ہیں؟ الجواب اس صورت میں فقہاء کا فتویٰ یہ ہے کہ نکاح نہیں ہوتا اور عورت اس سے علیحدہ ہو سکتی ہے (۲) (فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۸ ص ۲۰۱)

وافاد البهنسي انها لوتزوجت على انه حُرّ اوسُنّي او قادر على المهر والنفقة فبان بخلافه...كان لها الخيار (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۲۴۹)

اما على رواية الحسن المختار للفتوى من انه لايصح الخ ...

اما عدم نفاذ نكاح ازغيركفؤ دربحر رائق و مجمع الانهر وغيره مرقوم است (مجموعة الفتاوى كتاب النكاح بهامش خلاصة الفتاوى ج ۲ ص ۴۶-۴۷)

و تعتبرالكفائة ديانة وهى التقوى فالمبتدع ليس كفوءً للسنّية كما فى النتف (الدرالمنتقى فى شرح الملتقى على هامش مجمع الانهر ، كتاب النكاح ج ۱ ص ۳۴۱)

---

(۱) **ترجمه**: **سوال**: دشيعه اوسُني ترمنځ نكاح صحيح ده اوكنه؟

(**جواب**) د شيعه او سُني ترمنځ نكاح جائز نه ده سُني انجلى چې د شيعه هلک سره نكاح ترڵ شوې ده هغه صحيح نه ده انجلى مه ودوى اوددوې په قبضه كې يې مه وركوئ د بل سني هلک سره ددې نكاح ور وكړئ.

(۲) **ترجمه** : **سوال** : كه يو شيعه يوې ښځې ته دوكه وركړي چې زه سني يم نو د دې نكاح په اړه علماء كرام څه فتوى فرمائي؟

الجواب : په دې صورت كې د فقهاؤ فتوى دا ده چې نكاح نه كيږي او ښځه له ده څخه جدا كيدلای شي.

لکن المروی عن الحسن عن ابي حنیفة بطلان النکاح من غیرالکفؤ و به اخذ کثیرمن مشائخنا قال شمس الائمة السرخسي وهذا اقرب للاحتیاط فلیس کل ولیّ یحسن المرافعة الی القاضی ولاکل قاض یعدل والاحوط سد باب التزوج من غیرکفؤ قال الامام فخرالدین والفتوی علی قول الحسن فی زماننا قال فی البحر المُفتٰی به روایة الحسن عن الامام من عدم انعقاده اصلاً (الفتاوی تنقیح الحامدیة ج۱ ص ۲۱)

و اما تمکینها من الوطئ فعلی المُفتٰی به هو حرام کمایحرم علیه الوطئ لعدم انعقاده (الفتاوی تنقیح الحامدیة ج۱ ص ۲۱)

په زور که څوک د لور په نکاح مکلف شي؟

پوښتنه : د کندهار ولایت د علماؤ شورٰی د دارالافتاء د مقام محترم رئیس صاحب حضور ته !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته .

جریان داسې دی یو سړی وفات سو د هغه څخه یوه لور او یو زوی پاتې سول کوم نژدې اقارب یې نه درلودل څرنګه چې انجلۍ پیغله وه یو بل سړي په زوره وتښتوله بالاخره د پیغلې ورور ته تښتونکي خپله وړه خور په نکاح ورکړه اما د پلار رضاء یې نه وه بالاخره په زور یې پلار د خلکو د مرکو په وسیله رضاء کړ او نکاح شرعي یې وترلې اوس یې پلار وایي چې زما سره ظلم او زیاتی سوی دی زه رضا نه وم ځکه چې زه یې و وهلم او که مې عقد د نکاح نه وای کړی زه یې وژلم او د حکومت نفر ورسره وو ، په دې هکله مسئله راکړئ چې نومورې نکاح صحیح ده اوکنه .

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملک الوهاب

که چېرې واقعه داسې وي لکه مستفتي چې ليکلې ده او دغه پلار يې د مرکو يا ظلم او زياتي په وجه رضاء کړی وي او عقد يې ده پخپله کړی وي او دغه انجلۍ هم د عقد په وخت کې صغيره وي نو دغه نکاح او عقد صحيح دی که څه هم د دغه پلار سره جبر او زور شوی وي ؟

وكل تصرف يصح مع الهزل كالطلاق والعتاق والنكاح يصح مع الاكراه (البحرالرائق ج ۸ ص۷۵)

قال الخجندي الاكراه لايعمل فی الطلاق والعتاق والنكاح والرجعة الخ (الجوهرة النيرة ج ۲ ص۳۲۸) و هكذا فی (الاختيار لتعليل المختار ج ۲ ص۱۰۲) و(الدرالمختار ج ۵ ص۹۵)

واما التصرفات الخمسة التی سوی الشارع فيها بين الجد و الهزل (وهی الزواج والطلاق والرجعة والاعتاق واليمين) فصححوا عبارة الهازل فيها ورتبوا عليها آثارها (الفقه الاسلامی و ادلته ج ۹ ص ۱۸۸ ط دارالفكر)

واللہ تعالٰی اعلم.

صرف د پلار په وينا چې دغه انجلۍ زما د زوې ده نکاح نه صحيح کيږي

پوښتنه : زه بي بي (مينا) داسې وايم کله چې زما پلار مړ سو نو زه او زما مور پا ته سوو نو زما مور داسې بيان کوي چې په هغه وخت کې زما يو تربور ميلمستيا جوړه کړه خلک يې را ټول کړل او ته په هغه وخت کې د ۲ کلو وې نو دغه تربور وخلکو ته وويل چې دا مور يې زما د يوه زوی ښځه ده او دا انجلۍ زما د دا بل زوی ښځه ده خو زه چې کله په ښه او بد پوه سوې يم دا وايم چې زه داسړی نه کوم او زما تربُور دا دعوه کوي چې زما د زوی ښځه يې خو نه ايجاب او قبول سوی دی او نه شاهدان سته نو اوس ما ته فيصله را کړئ ؟

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب حامداً ومصليًا

که چېرې د دغه ښځې او سړي په ما بين کې رشتيا هم نکاح نه وي شوې او د شاهدانو په حضورکې ايجاب او قبول نه وي شوی نو دا ښځه د دغه سړي نه کيږي او په دې خبره چې پلار ويلي دي چې دا ښځه زما د دغه زوی ده دا ښځه د دغه سړي نه ګرځي او که چېرې ايجاب او قبول شوی وي او نکاح ټړل شوې وي او دغه نکاح د ښځې د کوچنيوالي په وخت کې غير له پلار او نيکه څخه بل چا ټړلې وي او په وخت د بلوغ کې دغې ښځې ويلي وي چې دغه سړی نه کوم نو هم نکاح فسخ کېدلای شي او له دې وروسته که دغه سړی دغه ښځه غواړي يا يې بل څوك غواړي د دې رضاء پکې شرط ده که

دا ناراضه او نا خوښه وي هيڅوك يې نكاح ته نشي مجبوره كولای او همدا رنګه د هرې ښځې د نكاح لپاره د هغې رضاء شرط ده .

فالايجاب والقبول ركن بالاتفاق لان بهما يرتبط احد العاقدين بالاخر و الرضاء شرط و ركن الزواج عند الحنفية الايجاب و القبول فقط (الفقه الاسلامي ج۷ ص ۵۰)

و هكذا فی (البحرالرائق ج۳ ص۸۱) و (ردالمحتار ج ۲ص ۲۸۵)

و ان زوجهما غير الاب والجد فلكل واحد منهما الخيار اذا بلغ ان شاء اقام على النكاح و ان شاء فسخ (الهداية ج۲ ص ۲۹۷) و (الفتاوی الهندية ج۱ ص۲۸۵)

(قوله لاتجبر بكر بالغة على النكاح) ای لاينفذ عقد الولی عليها بغير رضاها عند نا (البحر الرائق ج۳ ص ۱۱۰) و هكذا فی (ردالمحتار ج۲ ص ۳۲۴) و (فتاوی دارالعلوم ديوبند ج۸ ص ۷۳)

واللہ تعالٰی اعلم.

د انجلۍ د بلوغ او پر واده مجبورلو موده

پوښتنه : د كندهار د دارالافتاء رياست ته السلام عليكم ورحمة الله وبركاتهُ .

كه چېرې يو سړی خپل نابالغ زوی ته يوه نابالغه انجلۍ و غواړي او عقد وسي پر يو اندازه مهر باندې او د دغه هلك پلار هغه مهر ورکړي بيا دا هلك ځوان سي او طلب دواده و کړي نو د دې هلك پلار د انجلۍ پلار ته و وايي چې واده راکړه او د انجلۍ پلار وايي چې کوچنۍ ده نو د دواړو اختلاف دی د هلك پلار وايي غټه ده او د انجلۍ پلار وايي کوچنۍ ده .

آيا شرعًا انجلۍ د څو کالو په عمر کې غټه شمارل کيږي او پلار يې په واده ورکولو مجبور کيږي ؟

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب حامداً ومُصلّیاً

د ډیرو فقهاؤ په نزد سن اعتبار نه لري په دغه مسئله کې بلکه طاقت ته کتل کیږي که یې طاقت د واده درلوده نو واده دې کړي که څه هم د نهه ۹ کالو څخه کمه وي او که یې طاقت نه درلوده نو بیا دې نه ودوي که څه هم تر ۹ کالو بالاوي او که صورت د اختلاف شو لکه مستفتي چې پوښتنه کړې ده نو که هغه انجلۍ د کوره د باندې وتله قاضي دې پخپله و ویني او فیصله دې وکړي چې طاقت لري او کنه .

او که انجلۍ نه راوتله د کوره بیا دې قاضي داسې ښځې ور واستوي چې د ده په هغه ښځو باور وي هغه ښځې به قاضي ته حال و وایي قاضي به د هغه مطابق فیصله و کړي .

و اکثر المشایخ علی انه لاعبرة للسن فی هذا الباب و انما العبرة للطاقة ان کانت ضخمة سمینة تطیق الرجال و لایخاف علیها المرض من ذلك کان للزوج أن یدخل بها و ان لم تبلغ تسع سنین و ان کانت نحیفة مهزولة لاتطیق الجماع و یخاف علیها المرض لایحل للزوج ان یدخل بها و ان کبر سنها و هو الصحیح و اذا نقد الزوج المهر و طلب من القاضی أن یأمر أبا المرأة بتسلیم المرأة فقال ابوها انها صغیرة لاتصلح للرجال و لاتطیق الجماع و قال الزوج بل هی تصلح و تطیق ینظر انکانت ممن تخرج أخرجها و أحضرها و ینظر الیها فان صلحت للرجال امر بدفعها الی الزوج و ان لم تصلح لم یأمره و انکانت ممن لاتخرج امر من یثق بهن من النساء ان ینظرن الیها الخ (الفتاوی الهندیة ج۱ ص۲۸۷)

فان زعم الزوج انها تحتمل الرجال و انکر الاب فالقاضی یریها النساء ولا یعتبر السن (تنقیح الفتاوی الحامدیة ج۱ ص۲۸) واللہ تعالیٰ اعلم.

د فضولي په ورکړې نکاح کې که د ښځې اوخاوند ترمنځ د سکوت او رد په هکله اختلاف راشي؟

پوښتنه : عرض د طرفه د ملا عبدالباقي اخند د حاجي نبي اخند زوی اوسیدونکی د خاکریز د ولسوالۍ دکندهار ولایت و مقام ته د محترم رئیس صاحب د دارالافتاء

السلام علیکم ورحمة اللہ وبرکاته.

محترمه ! بي بي بله نسته د طرفه څخه د عبدالرشید ونبي جان ته په مقابل د (۲۵۰) لکو افغانیو مهر په حضورکې د شاهدانو په نکاح ورکړه چې ایجاب او قبول د دوی وسو او بیا عبدالرشید و ویل چې سبا راسئ تار او ستن به درکړو کله چې مونږ سبا ورغلو عبدالرشید منکر ؤ او بیا زمونږ دوې میاشتې او اووه ورځې پردغه ښځه دعوه وه بله ورځ بیا د دغو خلکو یو پیرخانه سړی راغلی او زمونږ ددواړو طرفه یې وکالت واخیستی بیا د دوهم عقد په مقابل کې دوې ښځې او یو نیم سل (۱۵۰) لکه افغانۍ په مهرکې د بله نستې و عبدالرشید ته ورکړې کله چې د دغه دوو ښځو د جملې څخه چې نبي جان ورکړې وې یوه ښځه خبره سوه هغې ښځې انکار وکړ پس له پنځو ورځو عبدالرشید خپله لور بله نسته و حکومت ته بوتله چې انکار وکړه چې هغې هم انکار وکړ اوس مونږ د اول او دوهم عقد شاهدان لرو او عبدالرشید د کور د انکار شاهدان لري ، مونږ د اثبات شاهدان لرو او دی

د کور د انکار شاهدان لري ، اوس مونږ ستاسې د لوړ مقام څخه هیله کوو چې مونږ ته د شریعت له رویه معلومات راکړئ چې کوم د قبول وړ دي چې دغه ښځه یې درېیم وار و بل چا ته ورکړي ده چې د هغه سړي پلار او نیکه شاهدي ادا کوي او امیرمحمد چې د عبدالرشید ورور دی ، د ده زوی چې ښائسته ګل نومیږي او یو شاهد د عبدالرشید اخښی دی چې ګلستان نومیږي شاهدي اداء کوي ، د بي بي بله نستې د وکالت شاهدان نسته نه په اول عقد کې او نه په دوهم کې او مدعي وایي چې کله خبر د بله نستې د نکاح و دې ته ورسیدی دې انکارنه دی کړی پر سکوت یې شاهدان سته .

والسلام

(مستفتي : ملاعبدالباقي اخنددخاکریز)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الفتوی بعون الملک العلی الاعلیٰ

محترم مستفتي صاحب! په استفتاء مذکوره کې دواړه عقده د بي بي بله نستې موقوف دي تر اجازې د دې پورې ځکه چې دا بالغه عاقله باکره ده او په عقد کې هم د دې له طرفه وکیل نشته نوکله چې دې ته خبر د نکاح ورسیږي اګر که خپل پلار په نکاح ورکړي وي بیا هم دا اختیارلري چې راضي کیږي په نکاح اوکه یې ردوي اوس چې د دې او د جانب د زوج اختلاف پیداشو په سکوت او رد کې په دې ډول سره چې جانب د زوج وایي تا سکوت کړی ؤکله چې خبر د نکاح در ورسید او دا وایي یا ما در رد کړی ؤ او انکارمې کړی ؤ او د دواړو طرفونو سره د شاهدانو نصاب پوره دی پر

خپله خبره باندې نو شاهدان د دې بهتر دي او حق داره دي په قبول سره يعنې نکاح نه ده شوې .

(ولاتُجبر البالغة البكر على النكاح) لانقطاع الولاية بالبلوغ (الدرالمختارعلى هامش رد المحتار ج ۲ ص ۳۲۴)

لايجوز نكاح احد على بالغة صحيحة العقل من اب اوسلطان بغير اذنها بكرا كانت او ثيبا فان فعل ذلک فالنكاح موقوف على اجازتها فان اجازته جاز وان ردّته بطل كذا فى السراج الوهاج (الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۲۸۷) (قال) الزوج للبكر البالغة (بلغک النكاح فسكت و قالت رددت) و لو برهنا فبينتها اولٰى (الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار ج ۲ ص۳۲۸ و ۳۲۹)

وان اقام الزوج بينة على سكوتها حين بلغها الخبر واقامت بينة على الرد فبينتها اولى كذا فى المحيط (الفتاوى الهندية - ۱ص ۲۸۹) وهكذا فى التاتارخانية -ج-۳ ص ۵۲ و فى مجمع الانهر ج ۱ص ۳۳۵ و فى البحرالرائق ج ۳ ص ۱۱۷ و احسن الفتاوى ج ۵ ص۹۵

والله اعلم بالصواب

غائب ته که ورور نکاح وکړي؟

پوښتنه : د دارالافتاء و محترمو علماء کرامو ته!

السلا م علیکم ورحمة الله وبرکاته

عرض دادی یوه جانب ته د انجلی پلاردی او بل طرف ته د غائب ورور دی عقد صحیح یې د نکاح وکړی بې له وکالته د غائب آیا دغه عقد موقوف دی یو د جانبینو یې فسخ کولای سي که یا؟ بیّنوا توجروا. والسلام.

المستفتي : حاجي اخترمحمد

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجواب بِعون المستعان

محترم مستفتي صاحب! په دغه مذکورصورت کې چې یوه جانب ته پلار د انجلی دی او بل طرف ته د غائب ورور دی دغه عقد د غائب تر اجازې پورې تعلق لري ، هر عقد چې موقوف وي د مخه تر اجازې هر یو د متعاعقدَینو کولای شي چې فسخ یې کړي .

زَوّجَه بِلا اَمْرِه، وفسخت المرأة النكاح قبل اجازة الزوج ينفسخ... والموكل او احدالعاقدين لو فسخ العقدالموقوف صح فسخه ...والحاصل ان الفضولي لايملک فسخ النكاح قبل اجازة الامر... والزوج والمرأة كل منهما يملک فسخ النكاح قبل اجازة الاخر (جامع الفصولين ج ۱ ص ۳۱۳ ط المطبعة الازهرية ، مصر)

و هكذا فی (الفتاوی الانقروية ج ۱ ص ۳۵)

باب فی الأولیاء والأکفاء

د صغیر یا صغیرې نکاح که پلار او نیکه ور وکړي تر بلوغ وروسته اختیار نلري

پوښتنه : د عرض پانه د عبدالقادر د لعل محمد د زوې د ترینکوټ مرکز اوسیدونکی ، استفتاء حضور ته د محترم رئیس صاحب دارالافتاء شوری علماء مرکزي السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

یو نفر عبدالخالق د محمدشریف زوی د ترینکوټ اوسیدونکی د چمن ده اووه کاله د مخه خپله لور بابي نامه چې د ۵ کالو وه زما زوی جمعه خان ته چې څلورکلن ؤ په رضا او رغبت ولایةً په نکاح ورکړه چې دې نکاح د شاهدانو مسلمینو په حضورکې صورت ونیوی څومودہ وروسته یې زه د پاکستان پولیسو ته په لاس ورکړم او ماته یې وویل که زما لور بیرته را طلاق نکړې نور و تاته یو لوې اتهام واردوم ، چې زما څخه یې لیکلي زماپه نامه طلاق خط واخستی، د طالبانو د تحریک په وخت کې بیا راته و ویله چې شل زره کلداري راکړئ نو زه خپله لور بیرته ستا و زوې ته درکوم هغه ؤ چې بیا یې مراسم د دسمال جوړ کړل او ما د شاهدانو په حضورکې شل زره کلداري ورکړې او بیا یې ولایةً خپله لور زما و زوی ته په را نکاح کړه او د هغه تاریخ څخه زه پوښ او نور مراسم چې د ناوې وي ترسره کوم خو اوس بیا وایي چې پوښونه مه راوړه او زما لور بلوغ ته نژدې سوی ده د خپل ځان اختیارپه خپله لري څرنګه چې نومورې یوجنجالي شخص دی چې دا دوه واره زما سره داسې ناوړه وضعیت کوي نو زما هیله دا ده چې دشرعي مسائلو په اساس فتوی راکړئ چې نومورې انجلۍ چې پلار یې ولایةً زما و

زوی ته په نکاح راکړئ ده دبل چاسره نکاح کولای سي اوکه نه اویائي پلار وبل چاته ورکولای سي اوکه نه؟ والسلام

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الفتوی بعون المستعان

محترم مستفتي صاحب! دغه بابي نامه چې پنځه کلنه وه اوخپل پلارعبدالخالق ستا زوی ته چې څلورکلن ؤ په نکاح صحیح شرعي درکړې وه حالاً يې پلار وايي چې نزدې بلوغ ته ده دا خپل اختیار لري ، شرعي حکم دا ده چې صغیر او صغیره ته چې پلار یا نیکه نکاح ور وکوي بیا وروسته له بلوغ دوی دواړو ته اختیار نشته نکاح يې لازمه ده دغه طلاق خط چې ستا په نامه يې درځخه اخستی ده دغه شرعًا طلاق نه ده ځکه چې پلار د زوې ښځه نشي طلا قه ولای .

فان زوجهما الاب او الجد يعني الصغير او الصغيرة فلا خيار لهما بعد بلوغهما لانهما كاملا الراى وافر الشفقة فيلزم العقد بمباشرتهما كما اذا باشراه برضائهما بعد البلوغ (الهدية ج ۲ ص۲۹۲) و (ردالمحتار ج ۲ ص ۳۳۰) قوله واهله اى الطلاق زوج عاقل الخ احترز بالزوج عن سيد العبد و والد الصغير الخ (ردالمحتارج۲ ص ۴۵۳) و (فتاوی دارالعلوم دیوبند کلان ج۹ ص ۱۰۲)

واللہ تعالی اعلم.

مولوي احمد (نوري) عفی عنه

د پلار ورکړې لورخاوند که شرابي اولیونی وي؟

پوښتنه : د افغانستان اسلامي امارت د دارالافتاء فضیلت مآب رئیس صاحب السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

سعدالله و لعلي ته خپله لور شوبینه ورکړې ده په شرعي نکاح چې شاهد ؤ هغه مُلا چې نکاح ترلې وه موجود نه دی لعلی نامی په هغه وخت کې جوړ ؤ شراب خور او شراب یې خوړل د اوس لپاره سوچ لیونی دی ، نو مونږ ته د مهربانۍ له مخې شرعي فتویٰ راکړئ چې د دغه شوبینې نامې نکاح د دغه لعلي نامي سره صحیح ده او که یا ؟

مستفتي : فِدامحمد ساکن کوهک

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الفتوی بعون الملک العلی الاعلی

محترم مستفتي صاحب! د نومورې شوبینه نکاح د لعلي سره که د دې پلار سعدالله په وخت د دې دکوچني والي کې ترلې وي نو بیا دغه نکاح صحیح لازمه ده لکن په دې شرط چې دی به بیباک او طمع کونکی او د لور په نکاح سره ځان ته نفع رسونکی او هغې ته ضرر رسونکی نه وي اوکه دا بالغه وه په وخت د نکاح کې او د نکاح خبر یې غوږ ته رسیدلی ؤ سکوت یې اختیار کړی ؤ او رد یې نه ؤ کړی نو بیاهم نکاح لازمه ده ، اوس چې ستاسو د استفتاء مطابق لعلي نامی سوچه لیونی دی نو د ده د لیونتوب په وجه د ده نکاح نه فسخه کیږي او نه هم د ده طلاق واقع کیږي.

(و لزم النكاح و لو بغبن فاحش) بنقص مهرها و زيادة مهره (او) زوجها (بغير كُفّ ان كان الولى) المزوج بنفسه بغبن (أبا او جداً) وكذا المولىٰ وابن المجنونة (لم يعرف منهما سوء الاختيار) مجانة وفسقا (وان عرف لا) يصح النكاح اتفاقًا.

(قوله ولزم النكاح) اى بلا توقف على اجازة احد و بلا ثبوت خيار فى تزويج الاب والجد والمولى وكذا الابن على ما ياتي (الدرالمختار و ردالمحتار ج۲ ص ۳۳۰)
و هكذا فى (احسن الفتاوى ج ۵ ص ۹۹)

و هكذا فى (الدر المنتقى فى شرح الملتقى على هامش مجمع الانهر ج ۱ ص ۳۳۵)
و هكذا فى (فتاوى دارالعلوم ديوبند كلان ج ۸ ص ۲۱۰)

و انما الخلاف بين ابي حنيفة رَحِمَهُ ٱللَّهُ و صاحبَيه فيما اذا زوجها من رجل عرفه غير كفؤ فعند ابى حنيفة رَحِمَهُ ٱللَّهُ يجوز لان الاب كامل الشفقة وافر الرأى فالظاهر انه تأمل غاية التأمل ووجد غير الكفوء اصلح من الكفوء كذا فى المحيط (الفتاوى الهندية ج۱ ص ۲۹۱)

وكذا يكون السكوت والضحک والبُكاء بلاصوت رضى واجارة لوزوجها الولى بدون الاستيذان فبلغها الخبر اى خبر النكاح بعد التزويج (مجمع الانهر ج ۱ ص۳۳۳) و هكذافى (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۳۲۴)
ويقع طلاق كل زوج عاقل بالغ الخ (مجمع الانهر ج ۱ ص ۳۸۴)

(قوله و اهله زوج عاقل الخ) احترز بالزوج عن سيد العبد و والد الصغير و بالعاقل و لو حكمًا عن المجنون و المعتوه الخ (ردالمحتار ج ۲ص ۴۵۳)

و لا یتخیر احدهما ای الزوجین (بعیب الآخر) فاحشاً کجنون (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۲۴۸)

واللہ تعالی اعلم وعلمه اتم واحکم.

نوټ : که چېرې یو پلار خپله لور په حال ددې دکوچنیوالي کې په نکاح ورکړي وي او د ده څخه سوء الاختیار په یقیني طورمعلومیږي یعني بیباک، طمع کوونکي او د دې په نکاح سره ځان ته نفع رسوونکی او دې ته ضرر رسونکی وي نو بیا نکاح صحیح نه ده او نه هم روا ده لکه د پورتنۍ حوالې د ردالمحتار اواحسن الفتاوی څخه چې هم معلومیږي.

په کوچني والي نکاح شوې انجلۍ خاوند اوس کامل لیونی دی

پوښتنه : من محمد نام ولد شیر محمد پانزده سال قبل صبیه یاد ختر خودکه هنوز چند ماهه بوده عنوانی نامزدی زن وشو هری برای برادر زاده چند ماهه خود به لفظ ایجاب از طرف من وقبول از طرف مادر کلان. بحضور دونفر شاهدان صورت گرفته است درین موضوع بین من ومادر کلان این پسر ایجاب و قبول گردید بعد ازیک سالگی معلوم شد که این طفل دارای سلامت جسمی وروانی نبوده به مرور زمان روشن گردید که طفل گنگ فلج دیوانه وفاقد سلامت عقلی وفکری می باشد از همان وقت اقدام به تداوی آن شروع شد تا مجرب ترین داکتر های شهر کراچی پاکستان ان راجع نمودیم ولی هیچ گونه بهبودی درحالت آن به مشاهده نرسید بالاخره علاج ناپذیر تشخیص گردید اکنون که به سن پانزده سالگی رسیده قادر به تکلم کردن راه رفتن منظم خوردن آب و غذا ورفع حاجت به اختیار خود نبوده و هم از نظر عقل و هوش هیچ چیز تشخیص داده نمی تواند و

اگر دست های آن ازاد باشد مواد فضله و غایطه خود می خورد اکنون به ریسمان بسته بوده نان کس دیگربد ہنش میدہد و مواد رفع حاجت ان پاک میکند فعلاکه دخترم به سن پانزده سالگی رسیده حاضر نیست که در قید نام این انسان ناقص الخلقه از حقوق شرعی و انسانی خود محروم باشد بناء جریان موضوع به قرار فوق به مخضر شما عرض شد و امید دارم که بایک ملاحظۂ عمیق شرعی متناسب به حالت عقلی جسمی مدنی و شرعی این پسر فتوٰی شرعی صادر فرمائید تاصبیه مظلومۂ من از قید نامزدی آن خلاص شود؟

جواب : اگر واقعه همین طور باشد که مستفتی بیان نموده و نوشته کرده و همین اوصاف نوشته شده مثل جنون کامل و فلج و غیره بتمامه درین پسر موجود باشد و دختر طلب فسخ نکاح نماید درین صورت جائز است که قاضی صاحب محکمه درمیان ایشان تفریق کند ونکاح ایشان فسخ کند و عمل متأخرین احناف رحمهم الله هم براین است لکن شرط اینست که دختر هیچ گاه اظهار رضاء باین نکاح در حالتی نکرده باشد که بجنون زوج خود خبردار شده باشد باید گفته شود که اگر مجنون با وجود جنون قدرت جماع و خانه داری نداشته باشد حکمش حکم عنین باشد که باتفاق جمیع ائمه و حنفیه رضوان الله علیهم اجمعین قاضی میتواند که بعد از مهلت دادن یکسال فسخ نکاح کند اما اگر قدرت جماع یا عنین بودن او ثابت نباشد لکن جنون داشته باشد جنون که باعث ایذاء شدید میشود مذہب امام صاحب و امام ابویوسف رحمهما الله تعالٰی عدم جواز فسخ است و مذہب امام محمد رحمه الله جواز حکم بفسخ است که عمل متاخرین حنفیه رحمهم الله هم بقول امام محمد رحمه الله است لکن قضاء

قاضی شرط است در صورت فسخ زیراکہ بحکم قاضی قول مرجوح راجح میشود و حکم قاضی رافع خلاف است و بعد از حکم قاضی قول ضعیف و مرجوح قوی و معتمد علیہ میگردد.

قال محمد رَحِمَهُ اللّٰهُ ان کان الجنون حادثا یؤجله سنة کالعنة ثم یخیر المرأة بعد الحول اذا لم یبرء ، و ان کان مطبقا فهو کالجب و به نأخذ کذا فی الحاوی القدسی (الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۵۲۲) و التفریق طلاق لکون الحاکم نائبا فیه مناب الزوج و هذا هو قولنا معشر الحنفیّة کما فی الهندیة قال محمد ان کان الجنون حادثا الخ (اعلاء السنن ج ۱۱ ص ۲۳۹ و ۲۴۰)

(**سوال**) اگر زوج را جنون شد بدرخواست زوجہ تفریق آن تواند شد یا نہ ؟

(**الجواب**) اگر جنون حادث باشد ہمچو عنین تا مدت یکسال مہلت دادہ خواہد شد و بعد آن اگر صحت نیافت زوجہ را اختیار است و اگر جنون مطبق است فی الفور فسخ میتواند شد حاجت بمہلت دادن نیست الخ

(مجموعة الفتاوی بهامش خلاصة الفتاوی ج ۲ ص ۴۲) و هکذا فی (جدید فقهي مسائل ج ۲ ص ۱۲۰) و (فتاوی محمودیة ج ۸ ص ۱۷۰) و (کفایت المفتي ج ۲ ص ۳۷۷) و (امداد الاحکام ج ۲ ص ۲۹۱ و ج ۲ ص ۷۰۲) و (امداد المفتین ص ۲۷۵) .

حضرت تھانوی رحمۃ اللہ علیہ نے اپنے زمانہ میں تمام علماء ہند کے اتفاق سے دوسرے آئمہ اور امام محمد

رحمۃ اللہ علیہم کے قول پر فسخ نکاح کا فتوی دیا ہے تفصیل کے لئے دیکھئے الحیلۃ الناجزۃ (۱) (حاشیہ فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۱۰ ص ۲۵۵).

شروط التفريق بالعيب...

(۱) اَلّا يكون طالب التفريق عالما بالعيب وقت العقد...

(۲) اَلّا يرضى بالعيب بعد العقد حال اطلاعه عليه فان كان طالب التفريق جاهلا بالعيب ثم علم به بعد ابرام العقد و رضى به سقط حقه فى طلب التفريق (الفقه الاسلامى و ادلته ج ۷ ص ۴۹۷ ط دار الفكر)

وفى شرح الطحاوى: و ان كان مجنونا فوَجَدَتْه عنينًا فانه ينتظر حولا و لا ينتظر الى البرء الخ (الفتاوى التاتار خانية ج ۴ ص ۵۲ ط ادارة القرآن والعلوم الاسلاميه)

اتفق ائمة المذاهب الاربعة و الامامية على التفريق بعيبين و هما الجب و العنة. (الفقه الاسلامى ج۷ ص ۴۹۳)

اتفق الفقهاء على ان الفرقة بالعيب تحتاج الى حكم القاضى وادعاء صاحب المصلحة لان التفريق بالعيب امر مجتهد فيه و مختلف فيه بين الفقهاء فيحتاج الى قضاء القاضى لرفع الخلاف.....و قضاء الحاكم يقطع دابر الخلاف (الفقه الاسلامى ج ۷ ص ۴۹۲)

شرائط تفریق: ۱-جنون خطرناک حد تک ہو، شدید ایذاء کا باعث ہو، معمولی جنون میں خیار تفریق نہیں الخ (۲) (احسن الفتاوی ج۵ ص ۴۲۵) واللہ تعالیٰ اعلم

---

(۱) **ترجمه**: حضرت تهانوی رَحِمَهُ اللَّهُ په خپله زمانه کې د هند د ټولو علماؤ په اتفاق سره د نورو ائمه ؤ اوامام محمد رَحِمَهُمُ اللَّهُ پر قول د نکاح فسخ کولو فتوی ورکړې ده د تفصیل لپاره وګورئ الحیلة الناجزة.

(۲) **ترجمه**: جنون ترخطرناک حد پورې وي، د شدید ې ایذاء باعث وي، په معمولي جنون کې د تفریق خیار نشته الخ.

د نیکه ورکړې نکاح پلار ردولا ی شي

پوښتنه : السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

زه خپل پلار یارمحمد نامي الله داد د نظرمحمد زوی د دهراود اوسیدونکي ته په نکاح ورکړم زما میړه الله داد او پلار یې نظرمحمد هر یو جدا ؤ او هر یوه ځانته ژوند کاوه الله داد نامی زما میړه مریض سو او پاکستان ته د تدوای لپاره ولاړی پس له څه وخته څخه عبدالخالق احوال ور واستوی زما میړه الله داد ته چې ستا لور زرغونه چې عمر یې درې کاله دی ستا پلار او د انجلی نیکه یې نظرمحمد زما توریالي زوی ته راکړه ، چې په دې موضوع چې زه عارضه یې مور او الله داد پلار یې هیڅ خبر نه وو بیا زما میړه الله داد نامې و عبد الخالق ته احوال ور واستاوه چې زما د لور ولي زه پخپله یم زه په دې ورکولو د خپل لور قناعت نه لرم بیا هغه ؤ چې عبدالخالق و خپل زوې توریالي ته بله ښځه په نکاح ور وغوښته او واده یې ورته وکړ چې وروسته نظرمحمد مړ سو او بیا الله داد زما میړه هم وفات سو اوس زما لور زرغونه و سن د بلوغ ته رسیدلې ده او د شریعت محمدي د حکم مطابق باید نکاح وکړي نو یوازی د عبدالخالق د اقرار څخه چې هیڅ شاهد او ثبوت نسته چې احوال یې زما میړه ته را واستوی چې ستا پلار زما و زوی ته ستا لور ورکړې ده او وروسته هغوی بل واده هم وکړی و خپل زوې ته نو اوس ستاسې د عالي مقام څخه فتوی غواړم چې زما لور زرغونه نامه د بل چاسره د خپلې خوښې نکاح کولای سي اوکه نه چې د شرعي مسائلو په حکم سره ماته معلومات راکړئ چې زه د هغو مطابق کړنه وکړم.

(بي بي مریم)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

حامداً ومصلیاً

امابعد: په صورت مذکوره کې د صغیرې انجلۍ پلار موجود دی او د انجلۍ نیکه په وخت د حضور د پلار د انجلۍ ولي ابعد بلل کیږي نیکه لره اختیار نشته د صغیرې چې پلار حاضر او موجود وي.ځکه چې ولي قریب موجود وي ولي بعید که صغیره په نکاح ورکړي دغه نکاح د ولي قریب پر اجازه موقوفه ده ، په صورت مذکوره کې زرغونه چې خپل نیکه په نکاح توریالي ته ورکړه نو د زرغونې پلار هغه نکاح رد کړه زرغونه د توریالي په نکاح کې نه شوه پاته ، دې لره اختیار شته چې اوس بالغه شوه هرڅوک چې په نکاح کوي کولای یې شي.

فلو زوّج الابعد حال قیام الاقرب توقف علی اجازته .

(الدرالمختار ج ۲ ص ۳۴۱) .

و هکذا في (الفتاوی البزازیة علی هامش الهندیة ج ۴ ص ۱۲۳) و ایضًا فیها : ولیها أبوها ثم الجد و ان علا ثم الاخ لابوین ثم لاب الخ (الفتاوی البزازیة ج ۴ ص ۱۲۰) و کذا فی (الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۲۸۵) او ولیًا بعیداً کالجد غیرالأب (مجمع الانهر ج ۱ ص ۳۳۴)

الترتیب بین الاولیاء ضروري ولکن العقد یقع صحیحًا اذا باشره الابعد مع الاقرب موقوفًا علی اجازته فان اجازه نفذ والا فلا (الفقه علی المذاهب الاربعة ج ۴ ص ۴۰) وکذا فی (الفقه الاسلامي ج ۷ ص ۲۰۰) و کذا فی (احسن الفتاوی ج ۵ ص ۱۰۰) و کذا فی (فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۸ ص ۲۲) وکذا فی (کفایت المفتي ج ۵ ص ۵۳)

په وکیل سره کړې نکاح څخه بالغه انجلۍ انکار نه شي کولای

پوښتنه : د قندهار ولایت فضیلت مآب محترم رئیس صاحب دارالافتاء ته.

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

محترمه ! زه دارنګه عرض لرم چې یو شخص خپله لور په وکالت ورکوي چې دغه لوریې بالغه وي و یو شخص ته په نکاح چې د دغه ښځې پر وکالت باندې دوه نفره شاهد وي نو دغه ښځه او یا د دغې ښځې ورور بیا انکار کولای سي که یا؟

ستاسې د لوړ مقام څخه هیله لرو چې که په دغه موضوع کې شرعي مسئله او معلومات راکړئ دا به ستاسې لویه مهرباني وي. والسلام

نوټ : په دغه نکاح کې مهر دوه سوه لکه افغانۍ مقرر سو.

(المستفتي محمدابراهیم)

الفتوی

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

محترم مستفتي صاحب ! که چېرې واقعه دغه رنګه وي چې دغه ښځې وکالت پخپله خوښه او رضا سره ورکړی وي او شاهدان هم پر دغه وکالت باندې موجود وي نو بیا دغه ښځه چې دغه وکیل په نکاح سره ورکړې ده خپل کُف ته دغه نکاح یې لازم ګرځي بیا دغه ښځه د دغې نکاح څخه منع او انکار نه شي کولای او نه یې هم بل قریب منع کولای شي ځکه چې دغه نکاح داسې حکم لري لکه دغې ښځې چې په خپله کړې وي.

رکن التوکیل الایجاب والقبول المـ ۱۴۵۱ الاذن والاجازة توکیل المـ۱۴۵۲.
یشترط ان یکون الموکل مقتدرًا علی ایفاء الموکل به المـ۱۴۵۷
ولکن حقوق العقد عائدة الی موکله ولیست بعائدة الیه المـ ۱۴۵۸ (شرح المجلة لسلیم رستم باز اللبناني ص ۷۷۰ ، ۷۷۱ ، ۷۷۴ ، ۷۷۵)
صح التوکیل وهو اقامة الغیر مقام نفسه فی التصرف ممن یملکه.....بکل مایعقده بنفسه (کنزالدقائق علی هامش البحر الرائق ج ۷ ص ۱۴۱)
(قوله وفیما یضیفه الی الموکل کالنکاح والخلع.....فلا یطالب وکیله آهـ)
ای والحقوق فی کل عقد لایستغني الوکیل عن اضافته الی موکله لان الوکیل فیها سفیر محض الاتری انه لایستغني عن اضافته العقد الی الموکل (البحرالرائق ج ۷ ص ۱۵۱) واللہ تعالی اعلم.

له پلار اونیکه څخه سوا د بل چا ورکړې انجلۍ ته تر بلوغ وروسته اختیارشته

پوښتنه : که چېرې یوه انجلۍ یتیمه خپل اکا ، سره د مور د اجازې یعنې (عَمْ) مع وجود (اُمْ) و یو هلک صغیر ته په نکاح سره د مهرمثل ورکړې وي او په وخت د بلوغ کې د دغې انجلۍ څخه انکار هم نه وي ثابت سوی ، او په ورځ د واده هم دغه اکا یعنې په حضور د شاهدانو بلا وکالت څخه دوهم ځل لپاره نکاح ور وترې ، آیا په دغه نکاح کې شریعت څه حکم کوي. چې دغه اقرار د دې حتماً دی او که سکوت دی فقط ؟

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون المستعان

که چېرې کوچنۍ انجلۍ بې له پلار او نیکه یعنې د (پلار پلار) بل چا په نکاح ورکړه دا تر بلوغ اختیار لري اوکه بعد البلوغ دې سکوت وکړ او نکاح یې رد نه کړه دا اقرار بلل کیږي ، بل اقرار نه غواړي .

وان زَوّجَهما غیرالاب والجد فلکل واحد منهما الخیار اذا بلغ...ثم عندهما اذابلغت الصغیرة وقد علمت بالنکاح فسکتت فهو رضا (الهدایة ج ۲ ص ۱۳) و کذا فی (فتح القدیر ج ۳ ص ۱۷۵و ۱۷۷)

په نکاح کولو کې صرف د خاوند مالداری ته کتل

پوښتنه : و حضورته د محترم ریاست دار الافتاء

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

د لاندې مسئلې په هکله پوښتنه کوم چې:بعضې خلک د ښځې په ورکولوکې د میړه صلاحیت او تقویٰ په نظر کې نه ساتي یوازې د هغه دنیا داري او پیسې په نظر کې ساتي نو دا څه حکم لري؟

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب

د ښځو دورکولو په وخت کې باید د ښځو د خاوندانو صلاح او تقوی حتمي په نظر کې وساتل شي داسې نه چې یوازې مال په نظرکې ونیول شي ځکه چې فاسق سړی د ښځې کُف نه دی او همدارنګه امکان لري بلکه غالبه دا ده چې د دغه فاسق سړي په وجه صالحه ښځه غیرصالحه او فاسقه وګرځي ، په دې وخت کې به د دوې د ګناهونو مسئولیت دغه ورکوونکي ته راجع وي

(دیانةً) ای تقوی فلیس فاسق کفؤً لصالحة اوفاسقة بنت صالح (الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج ۲ ص ۳۴۷)

عن ابی هریرة رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ عن النبی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَسَلَّمَ قال تنکح المرأة لاربعٍ لمالها ولحسبها و جمالها ولدینها فاظفر بذات الدین تَرِبَتْ یَدَاک (صحیح البخاري ج ۲ ص ۷۷۲)

والله تعالی اعلم

د هاشمي نکاح د غير هاشمي سره روا ده

پوښتنه : د دارالافتاء محترم رئيس صاحب !

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

عالي جناب د صوبانې لور زما پرزوې تورجان ناره کړې ده دوه ګشته زمونږ و کور ته رانتوتلې ده ، خو مونږ د مسلمان د پت د خوندي کېدو په خاطر دوه واړې مو انجلۍ د پلار و کورته ور استولې او پښتنی دود او رواج مو پر ځای کړی دی مرکې مو ورته کړي خو انجلۍ هم وايي چې بل څوک نه کوم بې له توره او د انجلۍ پلار او مور هم کامل رضايت لري ، خو د انجلۍ اکا په دې نامه چې مونږ سيدان يو زمونږ نکاح ستاسې سره نه کيږي ، نو مونږ هيله کوو چې و مونږ ته شرعي مسئله راکړئ ، تر څو زمونږ مشکل حل او فصل سي، دا به مو اسلامي شفقت وي. والسلام

(مستفتي : کوچی میاداد)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الله تعالى

کفاءت په نکاح کې که څه هم معتبر دی لکن اکا لره دلته حق د اعتراض نشته ولې چې د هاشمي نکاح د غير هاشمي سره صحيح او روا ده په دې شرط چې دواړه طرفين سره راضي شي.

بله دا چې پلار او يا ورور لره حق د اعتراض شته اوکه چېرې پلار او يا ورور نه وي نو بيا اکا لره حق د اعتراض شته اوس چې پلار او ورور ژوندي دي او راضي هم دي اکا هيڅ حق د اعتراض نه لري.

المبحث الثالث : صاحب الحق فی الکفاءة آهـ ...یثبت هذا الحق عند الحنفیّة للا قرب من الأولیاء العصبة فالاقرب فاذا لم یرضوا فلهم ان یفرقوا بین المرأة و زوجها آهـ ... واذا زوجها الولی بغیر کُفءٍ برضاها لزم النکاح واذا رضی الأولیاء فقد اسقطوا حق انفسهم بالاعتراض والفسخ (الفقه الاسلامي و ادلته ج ۷ ص ۱۳۴ و ۱۳۵ ط دار الفکر)

رضا بعض الأولیاء المستوین فی الدرجة دون البعض : ان تعدد الأولیاء الاقارب کالاخوة الاشقاء و رضی بعضهم بالزواج ولم یرض الآخرون کان رضا البعض عند ابي حنیفة و محمد مسقطاً لحق الآخرین.

(الفقه الاسلامي ج ۷ ص ۲۳۲)

سئل فی هاشمی زوج صغیرته لغیر هاشمی عالماً بذالک راضیاً به فهل یصح النکاح.

الجواب نعم والحالة هذه (تنقیح الفتاوی الحامدیة ج ۱ ص ۲۱)

و رضا البعض کالکل ، ای رضا بعض الاولیاء المستوین فی الدرجة کرضا کلهم حتی لایتعرض احد منهم بعد ذلک (البحر الرائق ج ۳ ص ۱۲۹)

و هکذا في (بدائع الصنائع ج ۲ ص ۳۱۸)



تر کونډیدو وروسته اختیار د ښځې دی او د پردې په نوم پیسې اخستل څنګه دي؟

مقام ته د محترم رئیس صاحب دارالافتاء!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

محترمه! زما اخښی چې د تریاکو معامله یې کوله او په وخت د حکومت د خلق کې زما دغه اخښی په نسبت د نه اوبو (له تندې) په شهادت رسیدلی دی چې زما د اخښي د مرګ شاهدان موجود وو لکن فعلاً هغه شاهدان مړه شوي دي او بیا د طرفه زما د اخښي د پلار زمور ځخه په باره کې زما د خور ۲ لکه پرده غوښتله چې مور ددغه پردې د ورکولو توان او طاقت نه درلودی اوس بیا د دغې زما د خور لیورونه و ماته وایې چې ته څلورسوه لکه پرده راکړه او یا بیرته خپله خور په (۸۰۰) لکه روپۍ په نکاح راکړه، نو زه ستا د مقام څخه هیله کوم چې د رویه د شریعت و ماته معلومات راکړې چې زه ستا د معلوماتو سره سم د هغه کار په باره کې د خپلې خور د ورکړنګ کار وکړم دا به ستا لویه وسیله وي. په احترام.

(المستفتي: ملا امیر محمد اخند ولسوالي موسی قلعه)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملک الوهاب

ښځه چې کونډه شي د خپل اختیار ده چې بالغه وي په زور یې هیڅوک نشي کولای او نه یې په زور هیڅوک ورکولای شي بل ته

سوال: زید کی لڑکی بیوہ ہو گی تو اس آہ۔

الجواب: اب یہ لڑکی خود مختار ہے آہ۔ (۱) (فتاوی دار العلوم دیوبند ج۸ ص۸۶)

ولایجوز للولی اجبار البکر البالغة علی النکاح لانها حرة فلایکون للغیر علیها ولایة الاجبار (الهدایة ج ۲ ص ۲۹۴ ط رشیدیه)

ولو استاذن الثیب فلابد من رضاها بالقول (الهدایة ج ۲ ص ۲۹۵)

و لایزوج البکر البالغة ابوها علی کره منها خلافا للشافعی رَحِمَهُ اللّٰهُ و فی الثیب لایزوج بالاجماع (فتاوی قاضیخان بهامش الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۳۵۸ ط دار الاشاعة قندهار)

او پرده اخیستل روا نه ده اوکه د بنځې رضا راغله په مهرکې د بنځې اختیار دی.

مولوي احمد نوري عفی عنه
مولوي ندا محمد الحقاني
مولوي محمود میوندوال

(۱) **ترجمه**: **پوښتنه**: د زید لور کونډه شوه نو ددې الخ
ځواب: اوس دغه انجلۍ د خپل اختیار ده الخ

پلار د نابالغې لور وکالت بل چاته ورکولای شي او کنه ؟

پوښتنه : یوه صغیره انجلۍ ده پلار ولایت پرې کولای شي آیا په وخت د نکاح او ورکولو کې دا پلار د دې انجلۍ وکالت بل چاته ورکولای شي که څنګه ؟ والسلام

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب باسم ملهم الصواب

د صغیرې پلار چې د خپلې صغیرې لور د ورکولو لپاره وکالت بل چاته ورکړي او وکیل د دغه صغیرې نکاح دکوم چاسره وکړي نو عقد د نکاح صحیح او نافذ دی.

ومن امر رجلاً بان یزوج ابنته الصغیرة فزوجها والاب حاضر بشهادة رجل واحد سواهما جاز النکاح (الهدایة ج۲ ص ۲۸۷ ط رشیدیه)

سوال: (۸۷۸) ایک شخص نے اپنے خُسر کو اسٹامپ دیا اور کہہ دیا کہ میری دختر نابالغہ کا نکاح میرا خُسر جہاں چاہے کردے اب اگر شخص مذکور کا خُسر اپنی نواسی کا نکاح کرادے تو بلا اجازت اس کی والد کے درست ہے یا نہیں؟

الجواب : ولی اس صورت میں نابالغہ کے نکاح کا اس کا باپ ہے لیکن اگر باپ نے نابالغہ کے نانا کو اجازت دے دی اور اس نے نکاح کر دیا تو وہ نکاح صحیح ہے (۱)

(فتاوی دارالعلوم دیوبند ج۸ ص۳۷)

فلو زوّج الابعد حال قیام الاقرب توقف علی اجازته (الدرالمختار ج۲ ص۳۴۱ ط رشیدیه)

---

(۱) **ترجمه: پوښتنه**: یوه سړي خپل خسرته لیکلي او په خوله وویل چې زما دنابالغې لورنکاح چې چیرې وغواړي زماخسر دې وکړي اوس که دنوموړې خسر دخپلې لمسۍ نکاح وروکړي نوبې ددې دپلارله اجازې نکاح صحیح ده اوکنه ؟

ځواب: په دې صورت کې دنابالغې دنکاح ولي ددې پلاردی خوکه پلاردنابالغې نیکه ته اجازه وکړه اوهغه نکاح ور وکړه نوداسې نکاح صحیح ده

باب المهر

(د ولور بيان)

پوښتنه : جناب محترم د دارالافتاء لوړمقام ته

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

محترما! زه علی محمد د حاجي محمدحسن زوی د قندهار ولايت د ډنډ ولسوالۍ د والکزو د کوشخانې اوسېدونکی چې فعلاً د بيلو په کلي کې اوسېږم. دارنګه عرض لرم .

چې يو دربندسرای چې د ناحيه (۲) شهر نو د حاجي محمدسعيد مسجد سره موقعيت لري د رحمت الله د حاجي محمدکريم د زوی څخه ما په وکالت د بي بي کُبریٰ چې زما لور ده په مهر شرعي کې د شاهدانو په حضور ځنې تسليم کړی ؤ بيا بي بي کُبریٰ د شاهدانو په حضورکې ماته هبه کړی ، بيا ما د شاهدانو په حضور ځنې تسليم او قبض کړی دی اوس چې ما رحمت الله نامي ته خبر ورکړ چې سرای را تخليه کړه ، دی چالاکي راسره کوي په يوه او بله بهانه ، نو زه نه پوهيږم چې دی څه شرعي حق د معطلۍ پر ما لري که يا. هيله کوم چې په شرعي حکم مې واقف کړئ . والسلام

(ستاسو خادم سوال کوونکی علي محمد)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملک الوهاب

محترم مستفتي صاحب! ستاسو د سوال جواب پر څلورو اجزاؤ مشتمل دی.

اول : دا چې سرای چونکه مال متقوّم دی او هر هغه شی چې مال متقوم وي د زوج له طرفه زوجې ته په مهرکې ورکول شرعاً جائز دي .

دوهم : دا چې د سرای ملکیت چې کله زوجې ته ثابت شو هغه کولای شي چې هر چاته دغه سرای هبه کوي خپل اختیار یې دی.

دریم : لور چې پلار ته کوم شی هبه کړي او پلار پر هغه شي باندې قبضه وکړي نو هبه تامه شوله بیا دغه لور بیرته په دغه موهوبه شي کې رجوع د هبې څخه نشي کولای.

څلورم : کله چې د سرای ورکول په مهرکې جائز دي او هبه تامه شوې ده او په دغسې هبه کې رجوع هم صحیح نه ده نوسرای د موهوب له شو. یعنې چې کوم چا ته هبه شوی وي دهغه شخصي ملکیت دی شریعت مقدّس د موهوب له حق ګرزولی دی ، باید خامخا ورته تخلیه شي.

المهر انما یصح بکل ماهومال متقوم (الفتاوی العالمکیریة المعروفة بالفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۳۰۲)

و لو تزوجها علی فرس (الدرالمختار) و قید بالمبهم لانه فی المعین باشارةٍ کهذا العبداوالفرس یثبت الملک لها بمجرد القبول ان کان مملوکا له والا فلها ان تأخذالزوج بشرائه لها (ردالمحتار ج ۲ ص ۳۷۷) ط رشیدیه)

فقال الحنفیة المهرهوکل مال متقوم معلوم مقدورعلی تسلیمه فیصح کون المهرذهبًا اوفضًا.....ویصح کونه فلوسًا او اوراقاً نقدیةً، مکیلاً او موزونًا، حیوانًا او عقارًا الخ (الفقه الاسلامي ج ۷ ص ۲۵۵ ط دارالفکر)

واما ما (ای الشرائط) یرجع الی الموهوب فانواع منها ان یکون موجودا وقت الهبه ...و منها ان یکون مالامتقوما...ومنها ان یکون الموهوب مقبوضًا حتی لایثبت الملک للموهوب له قبل القبض... ومنها ان یکون مملوکا فلا تجوز هبة المباحات (الفتاوی الهندیة ج ۴ ص ۳۷۴)

ولایرجع فی الهبة من المحارم بالقرابة کالاباء والامهات و ان علوا الخ

(الفتاوی الهندیة ج ۴ ص ۳۸۷) و کذا فی (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار ج ۴ ص ۵۷۸ ط رشیدیه) و (البنایة ج ۹ ص ۲۳۸) و (الفقه علی المذاهب الاربعة ج ۳ ص ۳۰۵)
و (فتاوی قاضیخان علی هامش الهندیة ج ۳ ص ۲۷۲)

مشترک سرای په مهر کې ورکول

پوښتنه : و عالي مقام ته د دارالافتاء السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته عرض دا دی چې یو شخص چې دپلار میراث ور پاته دی او یوه خور لـــري وهغې ته یې حق نه دی ور جلا کړی ، دغه شخص د پلار د مال متروکه څخه و یوې ښځې ته په مهرکې یو سرای چې حدود یې هم معلوم کړي دي سره د پنځوس زره کلداري ورکړي سوال دا دی چې دغه مشترک ســـرای ملکیت وهغې ښځې ته پاتیږي کیا ؟ او دغه ښځه دغه مذکور سرای و چاته هبه کولای سي کیا ؟ اوکه یې هبه کړي او موهوب له څه شی په عوض کې واهب ته ورکړي څه حکم یې دی ؟

(مستفتي : علي محمد)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون ملهم الصواب

مسئله دا ده چې په مشترک مال کې چې هرڅوک تصرف کوي د هغه بل شریک څخه به حتماً اجازه اخلي ، یوازې په خپله حصه کې تصرف کولای شي په دې شرط چې د هغه بل شریک حصې ته به ضرر نه رسوي او یو شریک د بل شریک په حصه کې بیګانه دی که یې د شریک اجازه وه نو وکالةً د هغه په حصه کې تصرف کولای شي اوکه یې اجازه نه وه نو تصرف

کول ورته حرام دي او دغه سراى او نقدي کلداري چې د مشترک مال څه يوه شريک په مهرکې ښځې ته ورکړي دي د ده د خپلې حصې په اندازه يې ورکړه صحيح ده او ښځه هم د هغې حصې مالکه ګرځيدلای شي اوکه يې د خور حصه هم پکې ورکړي وه د خور بې اجازې نو د خور د حصې په اندازه يې ورکړه نه ده صحيح او نه هغه ښځه د خور د حصې مالکه ګرځيدلای شي فلهذا د هغه حصې هبه هغې ښځې ته حرامه ګرځي او که فرضاً د خور حصه د خور بې اجازې دغه سړي په مهرکې ورکړې وي او د هغې ښځې څخه هلاکه شوې وي نو دغه ورور د هغو نه مقدار ضامن دې خپلې خور ته به يې قيمت ورکوي.

کيفما يتصرف صاحب الملک المستقل بملکه يتصرف ايضاً فی الملک المشترک اصحابه بالاتفاق کذلک (المادة ۱۰۲۹)

التقيد باتفاق الشرکاء لافادة انه ليس لاحدهم التصرف فی المال المشترک بلا أذن الباقين لأن شرکة الملک لاتتضمن الوکالة فکان کل واحد منهم اجنبيًا فی حصة غيره (شرح المجلة للاتاسی ج ۴ ص ۱۱)

يجوز لاحد اصحاب الحصص التصرف مستقلاً فی الملک المشترک بإذن الاخر لکن لايجوزله ان يتصرف تصرفًا مضراً بالشريک (المجلة-المادة ۱۰۷۱) کل واحدٍ من الشرکاء فی شرکة الملک اجنبی فی حصة الاخر فليس واحد وکيلاً عن الآخر فلايجوز تصرف احدهما في حصة الاخر بدون إذنه (المجلة-المادة ۱۰۷۵) وهکذا في (الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج ۳ ص ۳۲۵)

حصة احد الشريکين فی حکم الوديعة فی يد الآخر فاذا اودع احدهما المال المشترک بدون إذن فتلف يکون ضامنًا حصة شريکه راجع المادة (۷۹۰) (المجلة-المادة ۱۰۸۷)

او د هبې په هکله باید و وایو هغه حصه چې دغه ښځې ته په مهرکې رسیدلې ده د هغه حصې هبه کولای شي بل چا ته په دې شرط چې تقسیم به کوي په موهوب کې یعنې که دغه واهبه ښځه په دغه سرای کې پخپله تقسیم وکړي یا موهوب له ته اجازه وکړي د تقسیم او هغوی هم تقسیم وکړي نو هبه صحیح ده اوکه نه واهب تقسیم وکړي. او نه موهوب له ته د تقسیم اجازه ورکړي نو دغه هبه یې صحت نلري که موهوب له تقسیم کړې وي که یې نه وي کړی او که موهوب له څه شی په عوض کې واهب ته ورکړي نوکه دغه عوض په هبه کې شرط شوی ؤ او هبه صحیح شوې وه په وجه د تقسیم او موهوب له موهوب شی قبض کړي او واهب عوض قبض کړي نو هبه تامه شوه ، نه واهب حق د رجوع لري او نه موهوب له اوکه هبه نه وه صحیح شوې نو واهب ته باید خپل موهوب ورسیږي او موهوب له ته خپل عوض تسلیم شي او که دغه عوض په هبه کې نه ؤ شرط شوی بلکه د هبې د تمام وروسته یې ورکړي او په دې یې تصریح کړې وه چې دا ستا د هبې عوض دی نو دغه عوض حکم د نوې هبې لري ټول هغه شروط د هبې پکې معتبر دي لکن د اولې هبې صاحب یعنې واهب ته حق د رجوع شته او د دوهمې هبې واهب ته حق د رجوع نشته .

(و) شرائط صحتها (فی الموهوب ان یکون مقبوضاً غیرمشاع) (الدرالمختار) (قوله مشاع) ای فیمایقسم کما یأتي (ردالمحتار ج۴ ص۵۲۷ و هکذا فی (الفتاوی الهندیة ج ۴ ص ۳۷۴) و (بدائع الصنائع ج ۲ ص ۱۱۹)

و یشترط ان یکون الموهوب مقسومًا ومفرزاً وقت القبض لاوقت الهبة (الهدایة ج ۳ ص ۲۸۳)

لکن ان قسم الواهب الجزء الموهوب المشاع بنفسه او بواسطة نائبه وسلمه الی الموهوب له صح العقد لزوال المانع وکذا لوامر الموهوب له ان یقسم مع شریکه (ردالمحتار) اما لوسلمه شائعًا فلا یملکه الموهوب له ولاینفذ تصرفه فیه بل یکون مضمونًا علیه و ینفذ فیه تصرف الواهب. (شرح المجلة لسلیم باز ص ۴۷۳)

فان کانت الهبة بشرط العوض شرط لها شرائط الهبة فی الابتداء... وبعدالتقابض یثبت لها حکم البیع فلایکون لاحدهما ان یرجع فیما کان له (الفتاوی الهندیة ج ۴ ص ۳۹۴) و فی الخانیة بعث الی امرأته هدایا وعوضته المرأة وزفت الیه ثم فارقها فادعی الزوج ان مابعثه عاریة و اراد ان یستردّ و ارادت المرأة ان تستردّ العوض فالقول للزوج فی متاعه لانه انکرالتملیک وللمرأة ان تسترد مابعثته اذ تزعم انه عوض للهبة فاذا لم یکن ذلک هبةً لم یکن هذا عوضًا فلکل منهما استردادمتاعه.
(ردالمحتار ج ۴ ص ۵۷۲)

اما العوض المتأخر عن العقد...فله شرائط ثلاثة الاول مقابلة العوض بالهبة وهوان یکون التعویض بلفظ یدل علی المقابلة نحو ان یقول هذا عوض عن هبتک الخ (الفتاوی الهندیة ج ۴ ص ۳۹۳)

فالتعویض المتأخرعن الهبة هبة مبتدء ة بلا خلاف بین اصحابنا یصح بما تصح به الهبة ویبطل بماتبطل به الهبة لایخالفها الافی اسقاط الرجوع علی معنی أنه یثبت حق الرجوع فی الاولی و لایثبت فی الثانیة فاما فیماوراء ذلک فهو فی حکم هبة مبتدءة (الفتاوی الهندیة ج ۴ ص ۴۹۴)
واللہ تعالی اعلم بالصواب

د انجلۍ مهرکه پلار یا ورور ځان ته وګرځوي او یا بخښنه پکې کوي

پوښتنه : و حضور ته د محترم ریاست دارالافتاء

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

د لاندې مسئلې په هکله پوښتنه کوم چې بعضې خلک ښځې په لږ یا ډیر مهر ورکوي لکن دغه مهر یې پلار یا ورونه اخلي د ځان لپاره او ښځې ته یې نه ورکوي نو دغه اخیستل یې جواز لري کنه؟ او دا د ښځې خپل حق بلل کیږي کنه ؟

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملهم الصدق والصواب

مهر او ولور حق د ښځې دی ولي او قریب د ښځې هیڅ حق پکې نه لري بلکه ټول مهر به دغه منکوحې ښځې ته ورکول کیږي بیا د هغې اختیار دی چې هرڅه پرې کوي ، هرڅوک چې د ښځې مهر اخلي او خپله شخصي استفاده ورځنې کوي بغیر له صورت د هبې د منکوحې څخه نو هغه غاصب او ظالم دی او دغه استفاده ورته حرامه ده

قوله تعالی (وَاٰتُوا النِّسَآءَ صَدُقٰتِهِنَّ نِحۡلَةً) النساء٤

قال الکلبي وجماعة هذا خطاب للاولیاء اخرج ابن ابي حاتم عن ابي صالح قال کان الرجل اذا زوج ابنته اخذ صداقها دونها فانزل الله تعالی هذه الآیة فنهاهم عن ذلک. (احکام القرآن للتهانوي ج ۲ ص ۹۸)

فتضمنت الآیة معانی منها ان المهر لها وهی المستحقة له لاحق للولي فیه – (احکام القرآن للتهانوي-ج ۲ ص ۱۰۰)

و هکذا فی (تفسیر المظهري ج ۲ص ۲۲۰)

وفيه : ولما كان الصداق عطيةً من الله تعالى على النسآء صارت فريضةً و حقًا لهن على الازواج (تفسير مظهري ج ۲ ص ۲۲۱) و هكذا في (عزيز الفتاوى ص ۴۵۰)

نوټ : پلار يا بل قريب هيڅ حق نه لري او نه دا ورته جائز ده چې د ښځې مهر ميړه ته ور و بخښي كه لږ وي اوكه ډير وي او ښځه كه عاقله بالغه وي پخپله كولای شي چې خپل مهر و بخښي هر چاته چې يې خوښه وي او د واده په شپه كه ميړه طلب وكړي چې ماته مهرهبه كړه او ښځې هغه هبه كړ دغه هبه يې صحت نه لري او همدارنګه كه د واده د شپې وروسته د ميړه په اكراه يا جبر سره خپل مهر هبه كړي نو ديانةً مهر نه ساقطيږي د ذمې څخه او نه قضاءً ساقطيږي كه اكراه ثابته شي .

و منها جواز هبتها المهر للزوج والاباحة للزوج فى أخذه.

(احكام القرآن للتهانوي ۲ ص ۱۰۰)

واجازه مالک هبة الأدب مهر ابنته لزوجها والله تعالى امرنا باعطائها جميع الصداق الاان تطيب نفسها بتركه ولم يشترط الله طيبة نفس الأدب..... ويدل على ذلک.

قوله تعالى: {وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَاْخُذُوْا مِمَّآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ شَيْـًٔا اِلَّآ اَنْ يَّخَافَآ اَلَّا يُقِيْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ} البقرة:۲۲۹

فمنع ان يأخذ منها شيئًا مما اعطاها الابرضاها بالفدية فقد شرط رضاء المرأة ولم يفرق مع ذلک بين البكر والثيب الخ

(احكام القرآن للتهانوي ج ۲ ص ۱۰۲)

قلت فلا يعتبر بهبتها للمهر في ليلة الزفاف ديانةً لاسيما اذا وهبت بعد طلب الزوج ذلک فانها ربما تستحي من رد طلبه فتهب المهر له حياء من غير طيبة نفس . (احكام القرآن للتهانوي ج۲ ص ۱۰۴)

لابد فی التبرع من طيب قلب المتبرع به...قال وان اكرهت على هبة المهر اوالابراء منه فلا يسقط عند الله انتهٰى ای ديانةً وهل يسقط قضاءً ان قامت البينة على عدم الاكراه فنعم وان عجز وحلفت على الاكراه لم يسقط قضاء و لاديانةً الخ (احكام القرآن للتهانوي ج ۲ ص ۱۰۵ و ۱۰۶)

والله تعالى اعلم

له مهرڅخه پرته نورې زياتې روپۍ غوښتل

پوښتنه : د دې انجلۍ نکاح په مهرشرعي سره بسته شوې ده اوس د انجلۍ پلار د نورو پيسو حق لري اوکنه؟

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب حامداً ومصلياً

کوم مقدار د مهر چې د ښځې له طرفه پرزوج باندې لازم شي له هغه څخه سِوا نورشی غوښتل حرام اورشوت دی.

ومن السحت ما ياخذه الصهر من الختن بسبب بنته بطيب نفسه حتى لوكان بطلبه يرجع الختن به (ردالمحتار ج ۵ ص ۳۰۱ ط رشيديه)

والله اعلم بالصواب

بې له مهر مقررولو لور ورکول

پوښتنه : ما خپله لور و يو سړي ته ورکړې ده په دې شرط چې مهر نه لري اوته به زما و زوې ته خپله لور هم راکوې دغه سړي وعده وکړه په وخت د نکاح کې اوس و ماته خپله لور نه راکوي زه د خپلې لور پوره مهر اخيستلای سم او که نه او زه حق د مهر لرم او کنه؟

(مستفتي : مامور آقا)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

هوالله تعالی المستعان

محترمو! نکاح صحيح کيږي که څه هم مهر ذکر نه کړي په عقد د نکاح کې يا نکاح وکړي په شرط د نه مهر نوکه يې نکاح وکړه او مهر يې ذکر نه کړ او يا يې نکاح وکړه په شرط د دې چې مهر به نه وي نو دې ښځې لره مهرمثل دی که میړه دخول صحيح ورسره کړی وي او يا میړه يې مړ شي.

قال ويصح النكاح وان لم يسمّ فيه مهراً الخ وكذا اذا تزوّجها بشرط ان لامهر لها الخ قال وان تزوّجها ولم يسمّ لها مهراً او تزوّجها على ان لا مهرلها فلها مهر مثلها ان دخل بها او مات عنها الخ (الهداية ج ۲ ص ۳۰۳و ۳۰۴ ط رشيديه)

دا نکاح د پلار هله صحيح کيږي چې لور يې صغيره وي او يا بالغه وي خو پلار مشوره ورسره وکړي او د هغې خوښه شي او که بالغه وي بې له رضاء د هغې په نکاح ورکول يې د پلار لخوا نه صحيح کيږي.

ولايجوز للولي اجبار البكر البالغة على النكاح الخ واذا استأذنها الولى فسكتت او ضحكت فهو اذن الخ (الهداية ج ۲ ص ۲۹۴)

او جانب مقابل چې وعده وکړه چې زه لور درکوم او وفاء پر وعده يې ونه کړه شرعًا په وفا د وعدې نه مجبوره کيږي .

سئل فيما اذا وعد زيد عمرواً ان يعطيه غلال ارضه لفلانية فاستغلها و امتنع من ان يعطيه من الغلة شيئًا يلزم زيداً شئ بمجرد الوعد المذبور.

الجواب : لايلزمه الوفاء بوعده شرعاً وان وفىٰ فبها ونعمت والله سبحانه الموفق والمسئلة فى الاشباه من الحظر و الاباحة وتفصيلها فى حواشيه .

والله تعالى اعلم

(الفتاوى الحامدية ج ۲ ص ۳۲۱)

او پلار د خپلې لور لپاره مهر غوښتلی او تر لاسه کولای شي .

په مخې (بدلګرې) نکاح کې که يو طرف ته انجلۍ مړه شي نو بل طرف د روپۍ حق لري که د بلې انجلۍ؟

پوښتنه : د کندهار ولايت د تمييز او د دارالافتاء د رياست محترم مقام ته !

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

محترمه ! څرنګه چې ما محمد ګل ولد محمد عمر عجب ګل د الله نظر و زوې ته خپله لور ورکړې وه او عجب ګل زما و زوی ته خپله لور راکړې وه او تر اوسه يوه د دواړو جانبينو څخه ودونه نه دي سوي وروسته د عجب ګل لور مړه سوله اوس زما هيله ستاسې څخه دا ده چې ماته شرعي مسئله راکړئ چې د مهر مسمّى حق ورباندې لرم يعنې د بنځې حق ورباندې لرم اوکه د ولور حق ورباندې لرم . په احترام

(مستفتي : محمد ګل ولد محمد عمر)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الفتوی بعون الملک الوهاب

جواب د استفتاء دارنګه دی که چېرې یوه انجلۍ په نکاح سره ورکول شوې وي بل چاته او په وخت د عقد د نکاح کې مهر ایښودل شوی وي هغه لس دراهم وي او یا بالابود تر لس دراهمو او وروسته تر نکاح دغه انجلۍ مړه شي که واده شوې وي اوکه نه وي واده شوې نصف د هغه مهر به ورکوي ددغې انجلۍ قریبانو ته او نصف په میراث کې زوج ته پاتیږي ، اوس په مذکوره صورت کې چې د عجب ګل لور مړه شوې ده د محمد ګل زوی به هغه اول مهر چې په عقد د نکاح کې ایښودل شوی دی هغه به عجب ګل ته ورکوي او محمد ګل به خپله لور چې عجب ګل ته ورکړې ده چې د الله نظر زوې دی ور ودوي به یې په مقابل د هغه مهر کې چې په نکاح کې یې اوله ورځ ایښودل شوی دی او نور بالابود یو پر بل باندې هیڅ حق نه لري.

ومن سمّی مهراً عشرة فما زاد فعلیه المسمّی ان دخل بها اومات عنها لانه بالدخول یتحقق تسلیم المبدل و به یتاکد البدل و بالموت ینتهي النکاح نهایته والشئ بانتهائه یتقرر ویتأکد فیتقرر بجمیع مواجبه (الهدایة ج ۲ ص ۳۰۴ ط رشیدیه)

وتجب العشرة ان سمّاها او دونها و یجب الاکثر منها ان سمّی الاکثر و یتاکد عند وطئٍ او خلوةٍ صحّت من الزوج او موت احدهما (الدرالمختارعلی هامش ردالمختار ج ۲ ص ۳۵۸)

تأکد المهر: اتفق الفقهاء علی انه یتأکد وجوب المهر فی العقد الصحیح بالدخول او الموت آهـ (الفقه الاسلامي و ادلته ج ۷ ص ۲۸۱ ط دارالفکر)

(فان سمّاها او دونها) ای فان سمّی العشرة او دون العشرة (فلها عشرة بالوطئ اوالموت)

(تبیین الحقائق شرح کنزالدقائق ج ۲ ص ۵۳۸ ط ایج – ایم - سعید)

واللہ اعلم وعلمہ اتم واحکم

باب متفرقات النکاح

ښځه څومره موده کې د پلار کره تلای شي اوڅومره وخت تیرولای شي؟

پوښتنه : د دارالافتاء محترم ریاست ته

السلام علیکم ورحمة اللہ وبرکاته

ډیرومحتروعلماء کراموزه یوه ضروري پوښتنه لرم هیله ده چې دشرعي په رڼاکې ځواب راکړئ هغه داچې ښځه دخپل مور اوپلار کورته په څومره موده کې د زوج له کوره تلای شي اوڅومره زمانه هلته پاتې دلای شي؟

(المستفتي : میرحمزه د ارغنداب اوسیدونکی)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملک العلی الاعلی

ښځه د خپل موراو پلارکره د دوې د زیارت لپاره یوه هفته بعد تلای شي اجازه د میړه وي اوکه نه وي کله چې مور او پلار قدرت و نلري پر راتلو دې ته اوکه قدرت یې ؤ پر راتلو خپلې لورته نو بیا ورتلل ددې د هغوی د زیارت لپاره موقوف پراجازه د میړه دي .

او هلته د مور او پلار سره د پاته کېدو وخت بیا په میړه پورې اړه لري چې څومره زمانه اجازه ورکوي هغومره زمانه پاته کیدلای شي ځکه چې دښځې

حق صرف د مور او پلار په زیارت او ملاقات کې دی نه په شپو او ورځو تیرولوکې.

(قوله ان لم یقدرا علی اتیانها) فان قدرا علی اتیانها لاتذهب وهوحسن فان بعض النساء لایشق علیه الخروج الی الاب وقد یشق ذلک علی الزوج فتمنع وهذا قول ابي یوسف قال فی البحر والحق الاخذ بقول ابي یوسف اذا کان الابوان بالصفة التي ذکرت وان لم یکونا کذلک ینبغي ان یأذن لها فی زیارتهما الحین بعدالحین علی قدرمتعارف والصحیح انه لایمنعها من الخروج الی الوالدین ولایمنعهم من الدخول علیها فی کل جمعة وفی غیرهما من المحارم کل سنة وانما یمنعهم من الکینونة عندها وعلیه الفتوی کما فی الخانیة فعلی المفتي به تخرج الی الوالدین فی کل جمعة باذنه وبغیرإذنه ولزیارة المحارم کل سنة مرّة باذنه وبغیر اذنه واما الخروج الی الاهل زائدا علی ذلک فلها ذلک باذنه آهـ ملخصًا (حاشیة الطحطاوي علی الدرالمختار ج ۲ ص ۲۲۸)

(و لایمنعها من الخروج الی الوالدین) في کل جمعةٍ ان لم یقدرا علی اتیانها علی ما اختاره في الاختیار (الدرالمختار) (قوله علی ما اختاره في الاختیار) الذي رأیته في الاختیار شرح المختار هکذا قیل لایمنعها من الخروج الی الوالدین وقیل یمنع و لایمنعهما من الدخول الیها في کل جمعةٍ وغیرهم من الاقارب في کل سنةٍ هو المختار آهـ فقوله هو المختار مقابله القول بالشهر في دخول المحارم کما افاده في الدرر و الفتح ، نعم ما ذکره الشارح اختاره في فتح القدیر حیث قال و عن ابي یوسف في النوادر تقیید خروجها بان لایقدرا علی اتیانها فان قدرا لاتذهب وهو حسن و قد اختار بعض المشایخ منعها من الخروج الیهما و اشار الی نقله في شرح

المختار والحق الاخذ بقول ابي يوسف اذا كان الأبَوَان بالصفة التي ذكرت و الاينبغي ان يأذن لها في زيارتهما في الحين بعدالحين على قدر متعارفٍ اما في كل جمعةٍ فهو بعيد فان في كثرة الخروج فتح باب الفتنة خصوصًا اذا كانت شابةً والزوج من ذوى الهيئآت بخلاف خروج الابوين فانه ايسر آهـ وهذا ترجيح منه لخلاف ما ذكر في البحر انه الصحيح المفتٰى به من انها تخرج للوالدين في كل جمعةٍ بِأذنه و بدونه وللمحارم في كل سنة مرّةً بِأذنه و بدونه (ردالمحتار ج ۲ ص ۷۲۱ و ۷۲۲ ط رشيديه)

والله اعلم وعلمه اتم واحكم

آيا مور يا پلار خپله لور د شپو لپاره كورته راوستلا ى شي؟

پوښتنه : د دارالافتاء محترم رياست ته !

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

ډيرو محترمو علماء كرامو يو ضروري سوال لرم هيله ده چې د شرعي په رڼاكې راحل كړئ هغه دا چې آيا پلار يا مور كولاى شي چې خپله لور د زوج له كوره د شپو لپاره بوزي؟ والسلام

(المستفتي: ميرحمزه د ارغنداب اوسپدونكى)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملک العلی الاعلی

دښځې پلار يا مور نه شي كولاى چې خپله لور د زوج له كوره بغير د اجازې دده څخه د شپو او ورځو لپاره بوزي ، لكه د مخكې پوښتنې او جواب څخه چې هم دا واضحه شوه چې د زوج إذن او اجازه ضروري ده ، او زوج لره په

عدم اذن کې ګنجایش شته ، خصوصًا په هغه وخت کې چې د ښځې مور او پلار په راتللو قدرت ولري ، او بیا شپو ته د بوتللو لپاره خو خامخا إذن غواړي ، او دلته په دې پوښتنه کې هم د شپو لپاره د بوتللو خبره شوې ده .

خاوند که په کلونو ښځه د پلار کره نه پریږدي؟

پوښتنه : د دارالافتاء محترم ریاست ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ډیرو محترمو علماء کرامو! یوه ضروري پوښتنه لرم هیله ده چې د شرعي په رڼا کې ځواب راکړئ هغه دا چې زوج که خپله زوجه د خپل پلار او مور کره په کلونو نه پریږدي د دې څه حکم دی؟

(المستفتي: میرحمزه د ارغنداب اوسیدونکی)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملک العلی الاعلی

زوج چې خپله زوجه د خپل پلار او مور کره په کلونو نه پریږدي که د دې وجهې څخه وي چې د زوجې مور او پلار قدرت لري پر راتلو خپلې لور ته نو بیا زوج خلاص دی ، اوکه بغیر د دغې وجهې څخه وي چې بناء پر عناد یې نه پریږدي نو بیا دی شریعت مقدسه ته مجرم بلل کیږي.

(ولایمنعها من الخروج إلی الوالدین) فی کل جمعة إن لم یقدرا علی إتیانها ، علی ما اختاره فی الاختیار ، ولوأبوها زمنًا مثلاً فاحتاجها ، فعلیها تعاهده ولوکافراً و إن أبیٰ الزوج ، فتح (الدرالمختار)

(قوله زمنًا) ای مریضًا مرضًا طویلاً (قوله فعلیها تعاهده) ای بقدر احتیاجه الیها وهذا اذا لم یکن له من یقوم علیه کما قیّده فی الخانیة (ردالمحتار ج ۲ ص ۷۲۲)

خاوند لور نه راسره کوي

پوښتنه : د دارالافتاء محترم ریاست ته !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

ډیرو محترمو علماء کرامو ! زه یو ضروري سوال لرم هیله ده چې دشرعې په رڼاکې راحل کړئ هغه داچې زما کورپه هلمندکې دی اولورمې په پاکستان کې ده تقریباً یو کال دوې میاشتې کیږي اته (۸) واړې ورغلی یم په لاس یې نه راکوي څنګه وکړم ؟

والسلام

المستفتي: میرحمزه د ارغنداب اوسیدونکی

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب حامداً ومصلیاً

د دغې پوښتنې جواب د مخکې پوښتنو په جوابونو کې بیان شو ، چې مور او پلار نه شي کولای چې بغیر د زوج د اجازې څخه خپله لور کورته بوزي ، نو ته صبر کوه او شریعت ته غاړه کښیږده .

څوک چې د ښځې د پلار کره راوستلو ضامن شوی وي

پوښتنه : په کندهار کې زما د زوم د خالـه زوی د هرڅه وکالت پرغاړه اخیستی دی او زما د لور د راوستلو ضمانت هم ده پرغاړه کړی دی اوس چې هرڅه ورته وایم پر خپل عهد پښیمانه دی حال دا چې زما د لور راتګ زما زوم د ده پر اجازې پورې موقوفه کړی دی ، نو اوس د شریعت له نګاه څخه زما لاس پر ده لګیږي ، کیا؟ والسلام

(مستفتي : میرحمزه)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملک العلی الاعلٰی

چونکه دا د ښځې پریښودل او نه پریښودل د مور او پلار کره د میړه او ماندینې (زوج او زوجې) د حقوقو څخه دي نو اوس دده دغه ضمانت بې معنیٰ معلومیږي ، د هیڅ شي لاس دې نه پرې لګیږي.

باب في حرمة المصاهرة

په حالت د مس کې د یوه جانب شهوت هم کفایت کوي

پوښتنه : و حضورته د دارالافتاء د محترمو علماء کرامو !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

وبعد: د حُرمت مُصاهرت په صورت کې د فقهي کتابونه لیکي چې که د مس په حال کې إنزال وشي نو حرمت د مُصاهرت نه ثابتیږي ، اوس عرض دا دی چې مونږ ته په مذکوره مسئله کې پوره معلومات د معتمدو کتابونو په حواله راکول شي چې د مس په حال کې شهوت د جانبینو څخه ضروري دی او که د جانب واحد څخه هم کفایت کوي.

(المستفتي : حاجي نیک محمد)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الله تعالى

د جانب واحد څخه هم کفایت کوي.

و لایشترط شهوتهما جمیعًا بل یکفي اشتهاء احدهما اذا کان الاخر محل الشهوة و اشتهاء احدهما عندالمس ایهما کان الذکر او الانثی الماس او الممسوس.

(الفتاوی التارتارخانیة ج ۲ ص ۲۲۰ ط ادارة القرآن والعلوم الاسلامیة)

د مس پرمهال د دواړو جانبه شهوت را پاریدل او د دواړو یا یوه إنزالیدل

پوښتنه : د مس په حالت کې که جانبینو ته شهوت پیدا شو دواړه انزال شول او یا یواځې نارینه او یا یواځې زنانه انزال شوه نو څه حکم لري ؟

(المستفتي : حاجي نیک محمد)

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجواب حامداً ومصلیاً

که دواړه انزال شي خو واضحه ده چې حرمت نه راځي.

وشرطه ان لاینزل حتی لوانزل عندالمس اوالنظر لم تثبت به حرمة المصاهرة کذا فی التبیین قال الصدر الشهید وعلیه الفتویٰ الخ

(الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۲۷۵ ط دار الاشاعة قندهار)

اوکه شهوة دواړو ته پیښ وي او یوازې نارینه انزال شي حرمت مصاهرت راځي ځکه چې پر ښځې باندې دغه لاندې عبارت تطبیق کیږي :

و فی الهدایة : و من مسته امرأة بشهوة حرمت علیه امها وبنتها وقال الشافعي لاتحرم الخ

(الفتاوی التاتارخانیة ج ۲ ص ۲۲۴ ط ادارة القرآن والعلوم الاسلامیة)

او که یوازې ښځه انزال شي هم حرمت مصاهرت ثابت دی ځکه چې پر نارینه باندې دغه لاندې قول تطبیق کیږي : و علی هذا الخلاف - ای بین الحنفیّة والشافعیّة -

مَسُّه امرأةً بشهوةٍ ونَظَرُه الی فرجها الخ (الفتاوی التاتارخانیه ج ۲ ص ۲۲۴ ط ادارة القرآن والعلوم الاسلامیة)

که یو جانب ته شهوت پیدا شي او انزال وشي نو

پوښتنه : د مس په حالت کې که یواځې نارینه ته یا یواځې ښځې ته شهوت پیدا شي او انزال شي نو څه حکم دی؟

(المستفتي : حاجي نیک محمد)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملک الوهاب

که یوطرف ته شهوت او انزال پیښ شي او بل طرف ته نه وي پیښ نو حرمت نه راځي.

و وجود شهوة احدهما یکفي وشرطه ان لاینزل حتی لو انزل عندالمس اوالنظر لم تثبت به حرمة المصاهرة کذا في التبیین . قال الصدرالشهید و علیه الفتوی کذا في الشموني شرح النقایة و لومس فانزل لم تثبت به حرمة المصاهرة فی الصحیح لانه تبیّن بالانزال انه غیر داع الی الوطئ کذا فی الکافي (الفتاوی الهندیة ج۱ ص ۲۷۵ ط دارالاشاعة العربیة قندهار)

د دوولس کلنې لور په مس سره حرمت د مصاهرت ثابتیږي او کنه ؟

بحضور جناب محترم رئیس صاحب شورئ مرکزی علماء افغانستان .

السلام علیکم ورحمۃ اللہ وبرکاتہ.

محترما ! بنده دربستر خود بودیم که اراده نمودم که بازن منکوحه خویش جماع نمایم وقتیکه دست برایش دراز کردم عوض زن ام بدختر خویش که عمرآن به دوازده سالگی قریب بودیعنی صغیره بودکه ازضعف آن معلوم میشود، دستم برخورد اکنون برایم تشویش واقع گردیده که حرمت مصاہرۃ واقع نگردیده باشد امیدواریم از روی مهربانی شرعا برایم حکم دهید ـ والسلام

(المستفتي : حمدالله مسکون ولسوالي شاه وليکوټ)
وکتل شوه / ۱۳۷۲/۹/۲۰

جناب محترم رئیس صاحب دار الافتاء مرکزي
السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

لطفًا نوموړي عارض ته شرعي فتوئ ورکړئ والسلام

الحاج مولوي عبدالودود (بنوري)
رئیس شورئ مرکزي علماء افغانستان

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب حامداً ومصلیاً

محترم مستفتی صاحب مس کردن ودست زدن دختر حرمت مصاہرت یعنی حرمت زوجہ کہ مادر دختر باشد برزوج میاورد بایں شرط کہ این مس و دست زدن بشہوت باشد وبلا حیلولت وپردہ کہ مانع حرارت دست باشد ودختر مشتہاۃ باشد کہ نہ (۹) سالہ باشد یازائد ازان ،لیکن یک سخن قابل غوراست کہ علامہ شامی بحوالہ الفتح نقل کردہ کہ اگر یک کسی مشتہر الآلہ باشد تلاش وطلب میکند زن خودرا پس دخول کرد بین دوران دختر آن زن بنا برخطاء حرام نہ شود مادر آن دختر تاحالیکہ زیادت انتشار نہ شدہ باشد دیگر حوالہ برعلم مبتلابہ است وہم شہوت کہ اعتباردر شرع دارد دروقت مس کردن ونظرکردن است نہ پس ازان حد واندازہ شہوت درصورت مس ونظر ہر دو تحرک آلہ است و یا زیادت آن گر پیش ازان در تحرک بود بنا برقول مفتی بہ۔

سوال : (٥٤٤) شخصی درحالت شہوت دختر خودراکہ زوجہ خودپنداشتہ بگرفت چون معلوم نمودکہ دختر او ست نہ زوجہ اوفوراً دست برداشت زوجہ اش برو حرام خواہد شدیانہ؟

الجواب: در مختار میں ہے:

وكذا لوفزعت فدخلت فراش ابيها عريانة فانتشر لها ابوها تحرم عليه امها وفي الشامي (قوله فدخلت فراش ابيها) كني به عن المس والافمجرد الدخول في الفراش بغير مس لايعتبر شامي ج ۲ ص ۳۰۷ ط رشيديه)

اس روایت سے معلوم ہوا کہ حالت شہوت میں بلاحیلولۃ مس کرنا دختر مشتہاۃ حرام کرتا ہے اس کی ماں کو یعنی اپنی زوجہ کو(۱) (فتاوی دارالعلوم دیوبند ج۷ ص۳۳۱)

(قوله ليست بمشتهاة به يفتى) كذا فى البحر عن الخانية ثم قال فأفاد انه لافرق بين ان تكون سمينة اولا ولذا قال فى المعراج بنت خمس لاتكون مشتهاة اتفاقاً وبنت تسع فصاعداً مشتهاة اتفاقًا وفيما بين الخمس والتسع اختلاف الرواية والمشائخ والاصح انها لاتثبت الحرمة (ردالمحتار ج ۲ ص ۳۰۷ ط رشيديه)

والعبرة للشهوة عند المس والنظر لابعدهما وحَدُّها فيهما تحرك آلته او زيادته به يفتى الخ قال فى الفتح وفرع عليه مالو انتشر وطلب امرأته فاولج بين فخذى بنتها خطاء لاتحرم امها ما لم يزدد الانتشار (الدرالمختار و ردالمحتار ج ۲ ص ۳۰۴ ط رشيديه)

د خوابني سره په زنا متهم سړي لپاره خپله ښځه څنګه ده؟

پوښتنه: و حضور ته د عالي جناب محترم دشُوی اخندزاده سيناني صاحب!
السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

زه عبدالله د ملا جلال اخند زوی د شناه چوی د کلي د شاه وليکوت د ولسوالۍ اوسيدونکی داسې عرض لرم.

محترمه! يو نفر چې ابراهيم نومېږي خپله يوه لور يې چې شافعه نومېږي تقريباً شل (۲۰) کاله کېږي چې په حلاله نکاح سره و عبدالحميد ته ورکړې

(۱) **ترجمه**: له دې روايت څخه معلوم شوچې مشتهاة لورپه حالت دشهوت کې بې له حائله مسه کول ددې موريعنې خپله کور والاحراموي.

ده مونږ صحیح او معتبر معلومات لرو چې دغه عبدالحمید نامی د خپلې خوابنې سره چې ددغه شافعي نامې مور ده فعل د زناء کړی دی نومورې عبدالحمید نامی لادرکه دی د دې شافعي نومې مور او پلار دواړه مړه دي او هیڅ څوک نه لري .

نو ستاسو د محترم حضور څخه داسې هیله کوو چې دغه شافعه نامه و دغه عبدالحمید نامي ته د شریعت له نګاه څخه روا ده کنه ؟ په دې هکله شرعي مسئله غواړو . والسلام

(عبدالله جان)

بریاست محترم دار الافتاء السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

ددغې مسئلې حل ستاسې څخه امید لرو چې وشي. والسلام

(اخندزاده صاحب عبدالغفورسیناني)

رئیس ستره محکمه ۱۳۷۵/۱۲/۱۹

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب باسم ملهم الصواب

دغه عبدالحمید نامی سړی چې د ده زنا د خپلې خوابنې سره د ده په اقرار یا شرعي شهادت سره چې هغه شهادت د دوو سړو یا یوه سړي او دوو ښځو دی ثابته شوې وي نو حرمت مصاهرت (یعنې حرمت د خُسرګنۍ) راځي دغه شافعه نامې چې ددې ښځه ده پرده باندې د ابد لپاره حرامیږي اوکه په صرف آوازه سره وي بغیر د اقرار او شهادت شرعي څخه نو بیا نه حرامیږي دا د ده ښځه ده.

(ولغيرها من الحقوق سواء كان) الحق (مالااوغيره كنكاح وطلاق الخ) رجلان او رجل وامرأتان الخ (الدرالمختارعلى هامش ردالمحتارج ۴ ص ۴۱۳ ط رشيديه)

(قوله لغيرها) اى لغيرالحدود والقصاص ومالايطلع عليها الرجال منح (ردالمحتارج۴ ص۴۱۳) و(فتاوى دارالعلوم ديوبند مدلّل ج ۷ ص ۳۲۸) او كله چې حرمت مذكوره ثابت هم شي په فوق الذكر دليل شرعي سره بيا هم د شافعه نكاح د بل زوج او ميړه سره نه روا كيږي ترڅو پورې چې عبدالحميد متاركت نه وي كړى او عدت يې ختم نشي (يعنې ترڅو وه نه وايي چې دا ما پريښووله) او يا قاضي جُدا والى رانه ولي په مابين د دوى كې.

و بحرمة المصاهرة لا يرتفع النكاح حتى لايحل لها التزوج بآخر الاّبعد المتاركة وانقضاء العدة الخ

(قوله الاّبعدالمتاركة) اى وان مضى عليها سنون كما فى البزازية وعبارة الحاوي الابعد تفريق القاضي او بعدالمتاركة الخ (الدرالمختار و ردالمحتار ج ۲ ص ۳۰۷ ط رشيديه) و (فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۷ ص ۳۳۳)

والله تعالى اعلم

مـــولوي محمد اخلاص بركتى
مولوى عبدالحكيم عفى الله عنه
مـــولوي احمد نورى عفى عنه

مولوى نورمحمد (ثاقب)
رئيس دارالافتاء
مركزي دولت اسلامي افغانستان

په شهوت سره مسه کړې ښځې د مور سره نکاح څنګه ده

زید وایي چې ما زینب په شهوت مسه کړې وه انزال او نه انزال مې هیردی خو د آله سر مې لوند ؤ بیا زینب بل چا وکړه په نکاح مایې مور چې هنده ده په نکاح وکړه اوس زما نکاح د هندې سره صحیح ده کیا؟

د شریعت له نګاه څخه جواب راکړئ اللہ جَلَّجَلَالُہٗ دې ثواب درکړي.

والسلام

(الحاج مولوي بهاؤ الدین حقاني)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملک الوهاب

که چېرې یو سړی یوه ښځه مس کړي په شهوت سره او انزال یې و نه شي مور یې پرې حرامه ده خواه مذي یې راخارج شي اوکه نه شي نو دغه زید چې زینب یې په شهوت سره مس کړې ده که انزال یې شوی نه وي نو د زینب مور چې هنده نومیږي پرې حرامه ده او هر چې لوندوالی د آله دی هغه معتبرنه دی ځکه چې هغه مذي خارج شوي دي.

من نَظَرَ الی فرج امرأة بشهوة اولمسها بشهوة حرمت علیه امها وبنتها وحرمت علی ابنه وابیه (الاختیار لتعلیل المختار ج ۳ ص ۸۸)

و فی الهدایة و لو مس فانزل فقد قیل یوجب حرمة المصاهرة والصحیح انه لایوجبها (الفتاوی التاتارخانیة ج ۲ ص ۲۱۹ ط ادارة القرآن والعلوم الاسلامیة)

سئل ابوالقاسم عن رجل صافح ربیبته وانزل المذی هل یوجب ذلک حرمة؟

قال اذا كانت الشهوة متحركة عند ملاقاة يده يدها حرمت عليه امها الخ
(الفتاوى التاتارخانية ج ۲ ص ۲۲۰)

مولوي احمد نوری عفی عنه
مولوی مفتی نور محمد ثاقب
رئیس عمومي دارالافتاء مرکزی
امارت اسلامي افغانستان

که ښځه دعوی وکړي چې خسر را سره زنا وکړه نو

پوښتنه : په حضور د جناب محترم مولانا صاحب سرپرست دارالافتاء !
السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

محترمه! څرنګه چې یوعالم دی لوریې چاته په مُخې ورکړي وه پس له یوې یا دوو میاشتو دغه انجلۍ د خسر او خوښې له مخه وویل خپل پلار ته چې زما ددې کوره اودخسر څخه ډیر بد راځي ماکورته بوزه پلار کورته بوتلله پس له څه وخته پلارېې وویل چې انجلۍ درځه کورته هغې په ډیره ناراضۍ وویل چې زه نه ځم هلته ځماخُسریوه پلا ماته لاس را واچاوه بیامي خوښې خسرته بد اورد وویل نوخوښې یې ډیره سخته ووهله دوې ورځې وروسته بیا خسر وویل چې اوبه راوړه زیرخانې ته خوښې هم د ډاره وویل وریې وړه ما چې اوبه ور وړې هالته یې زه ونیولم او زنا یې راسره وکړه نو اوس زه نه ځم پلار یې حکومت ته اطلاع ورکړه اوخسرمنکر دی او قاضي وایي چې انجلۍ په لاس ورکړه نو آیا دغه عالم اوس څه وکړي ، قضاءً ، دیانةً او سیاسةً څه لار د ګرځیدو شته کنه؟

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب

كه چېرې انجلۍ دا و وايي چې زماخسر زما سره زنا وكړه نو داضرورت لري چې اثبات به يې كوي او د انجلۍ ميړه به هم ددې انجلۍ تصديق كوي اوبيابه دا انجلۍ پر دغه ميړه حرامېږي اوسره جلاكيږي به اوكه يې ميړه تصديق ونكړي نوپه دې سره حرمت نه راځي اونه حكم په جلا والي سره كيدلى شي اګركه انجلۍ اوخسردواړه اقرارپه زناسره وكړي.

تزوج بكرا فوجدها ثيبا وقالت ابوک فضّني ان صدقها بانت بلا مهر والّا، شَمَنِيْ (الدر المختار على هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۳۰۳ ط رشيديه) و (البحرالرائق ج ۳ ص ۹۴) و (الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۲۷۲)

(قوله فوجدها ثيبًا) الذى فى البحر فلما اراد مجامعتها وجدها ثيبا وهو يلوّح الى انه وجدها ثيبًا بغير جماعه اما لو جامعها فمقتضى قولهم ان الوطئ فى دارالاسلام لايخلو عن حدٍ او مهرٍ لزوم المهر (حاشية الطحطاوي على الدرالمختار ج ۲ ص ۱۵)

رجل قبل امرأة ابيه بشهوة اوقبل الاب امرأة ابنه بشهوة وهى مكرهة وانكر الزوج ان يكون بشهوة فالقول قول الزوج وان صدّقه الزوج وقعت الفرقة ويجب المهر على الزوج ويرجع بذلک على الذى فعل ان تعمد الفاعل الفساد وان لم يتعمد لايرجع و فى الوطئ لايرجع وان تعمد بالوطئ الفساد لانه وجب الحد والمال مع الحد لايجتمع.

(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۲۷۲ ط دارالاشاعة قندهار)

سوال: زید مقر ہے کہ میں نے اپنے بیٹے کی عورت کو شہوۃ سے مس کیا ہے آیا زید کے بیٹے پر اس کی عورت حرام ہوگئی یا نہیں اگر حرام ہوگئی تو نکاح فسخ ہوگیا یا تفریق قاضی کی ضرورت ہے اگر ہے تو کون تفریق کر سکتا ہے اور تفریق کا کیا طریقہ ہے؟

الجواب: زید کا کہنا بیٹے پر حجت نہیں ہو سکتا لیکن آکر بیٹا بھی اس کی تصدیق کرتا ہے اور گواہوں سے ایسا مس ثابت ہے جس سے حرمت مصاہرت ثابت ہو جائے تو بیٹے پر وہ عورت ممسوسہ پدر بالشہوۃ حرام ہوگئی لہٰذا بلامتارکت شوہر یا تفریق قاضی نکاح فسخ نہ ہوگا الخ(۱)
(فتاوی دارالعلوم دیوبند یعني عزیزالفتاوی ص ۵۳۲)

اوهمدارنګه دامسئله په (امدادالفتاوی ج ۲ ص ۳۲۰) او (کفایت المفتي ج ۵ ص ۱۸۷) کې ذکرشوې ده .

نو د مذکوره عباراتوڅخه دا معلومه شوه چې قاضي صاحب چې دا فیصله کړې ده چې انجلۍ دې دخپل خاوند په لاس ورکول شي دا فیصله صحیح او پرځای ده که میړه تصدیق د ښځې نه وي کړی اوکه میړه یې تصدیق کړی وي نو بیا پرې حرامیږي

---

(۱) **ترجمه**: **پوښتنه**: زید اقرارکوي چې مادخپل زوې کور والاپه شهوت سره مسه کړه آیا دزید پر زوی خپله ښځه حرامه شوه او کنه ، که حرامه شوه نونکاح ماته شوه که د قاضي تفریق ته اړتیا شته ، که شته نو څوک تفریق کولای شي اودتفریق څه طریقه ده؟
ځواب: دزید وینا پر زوې حجت نه شي کیدلای خوکه زوی هم دده تصدیق کوي اوپه ګواهانوداسې مس ثابت وي چې ورڅخه حرمت دمصاهرت ثابت شي نوپر زوې دغه د پلار په شهوت سره مسه کړي میرمن حرامه شوه ځکه بې د خاوند له متارکې یا د قاضي له تفریق نکاح نه ماتیږي .

البته که دا خسر داسې ډیر بې باکه سړی وي نوحکومت دې نور زجر او تعزیر ورکړي بغیر د راګرځولو د انجلۍ څخه . والله تعالی اعلم

مولوی احمد نوري عفی عنه
مولوی محمد اخلاص برکتی
مولوی نورمحمد ثاقب
رئیس دارالافتاء مرکزی دولت اسلامي افغانستان

د ښځې دعوی چې خسر راسره زنا وکړه

پوښتنه : محترم د دارالافتاء رئیس صاحب

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته

محترمه! یوسړی په خپله مړور باندې متهم شوی چې موضوع یې په لاندې ډول ده .

۱- چې ددغه سړي خپله ښځه راغلې یوعالم ته چې یوتعویذ راوکړه چې زما میړه ځما په مړور باندې پسې دی اوبدفعل ورسره کوي اودغه ښځه دوه واره دغه عالم ته ورغلې ده اودغه عالم شاهدي اداء کوي.

۲- دوهم دغه ښځې یوملنګ ته ویلي چې یودم راوکړه چې زما میړه زما په مړوربانديې پسې دی اوملنګ زما دمړور څخه پوښتنه وکړه چې رښتیاده هغې وویل چې هوملنګ دستي ووتی چې دلته دقهر اُور اُوري.

۳- نوموړي نفرخپله مړور د پلار له کوره څخه راوستله او په لاره کې یې خپلې مړور سره بدکاري کوله او ترکی پر راغلی ، څرنګه چې شرعي حکم وي معلومات راکړئ. والسلام

(قوماندان ملا حاجي محمد اخند مسئول ولسوالي ارغستان)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملک الوهاب

دغه سړی یعنې خسر چې خپله مړور باندې متهم شوی ده دمتهم شخص په باره کې حکم داده چې تعزیر ورکول شي اوحبس شي اوهمدارنګه هغه سړی چې تقبیل د اجنبیه ښځې وکړي او یا ورسره معانقه وکړي او یا یې مس بالشهوة وکړي نو هم به حبس کیږي ترهغوچې توبه وباسي.

و یجوز الحبس بالتهمة لما روی ان رسول اللّٰہ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ حبس رجلا بالتهمة الخ (بدائع الصنائع ج ۷ ص ۸۱ ط ایج - ایم - سعید)

ومن یتهم بالقتل والسرقة یحبس ویخلد فی السجن الی ان یظهر التوبة وکذا من قبل اجنبیة اوعانقها اومسها بشهوة وذکر فی البحر ان الحاصل وجوبه باجماع الامة لکل مرتکب معصیة لیس فیها حد مقدر آهـ (الفتاوی الکاملیة ص ۴۷ نقلا عن الاشباه والدرالمختار و ردالمحتار)

اوهر چې داخبره چې دا ښځه (مړور) په خپل میړه باندې حرامیږي اوکه یا نو وایو چې مسئله داده چې یوه ښځه اقرار وکړي چې زما خسر ماسره زنا وکړه نوکه یې اثبات دزنا وکړ اومیړه یې تصدیق وکړي نوپردغه میړه حرامیږي اوسره جلا کیږي اوکه داسې نه ؤ نو بیا حرمت نه راځي او هر چې دغه نور قرائن دي دغه هم مؤثرنه ګرزي په جلا والي دښځه کې دخپل میړه څخه.

تزوج بکرا فوجدها ثیّبًا وقالت ابوک فضّني ان صدقها بانت بلامهر والّا، شمني (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۳۰۳ ط رشیدیه) وکذا (البحر الرائق ج ۳ ص ۹۴) و کذا (الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۲۷۲)

(قوله فوجدها ثيبًا) الذی فی البحرفلما اراد مجامعتها وجدها ثيبًا وهو يلوّح الى انه وجدها ثيبًا بغير جماعه اما لوجامعها فمقتضى قولهم ان الوطئ فی دارالاسلام لايخلو عن حدٍ او مهرٍ لزوم المهر.

(حاشية الطحطاوي على الدرالمختار ج ۲ ص ۱۵ ط دارالمعرفة بيروت)

رجل قبل امرأة ابيه بشهوة اوقبل الاب امرأة ابنه بشهوة وهی مكرهة وانكر الزوج ان يكون بشهوة فالقول قول الزوج وان صدّقه الزوج وقعت الفرقة و يجب المهر على الزوج و يرجع بذلک على الذی فعل ان تعمدالفاعل الفساد وان لم يتعمدلا يرجع وفی الوطئ لايرجع وان تعمد بالوطئ الفساد لانه وجب الحد والمال مع الحد لايجتمع. (الفتاوی النهدية ج ۱ ص ۲۷۲ ط دارالاشاعة قندهار) ومثله فی (فتاوی دارالعلوم ديوبند يعنی عزيزالفتاوی ص۵۳۲) و (امدادالفتاوی ج ۲ ص ۳۲۰) و(كفايت المفتي ج ۵ ص ۱۸۷) واللہ تعالی اعلم

مولوی احمد نوری عفی عنه
مولوی محمد اخلاص برکتی

مولوی نورمحمد ثاقب
رئيس دارالافتاء دولت اسلامي افغانستان

که د مور په مسه کولو سره زوی ته شهوت راشي؟

پوښتنه : د دارالافتاء د علماء کرامو محترم حضور ته !

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

و بعد : عرض دا دی که چېرې په لاندې مسئله کې معلومات راکړئ ډیره مهرباني به مو وي : محترما ! که چېرې مور د شفقت په طریقه وخپل زوی ته لاس ورورې اومس یې کړي خو بې اختیاره د زوې شهوت ورته پیداسي آیا دغه مور یې پر پلار حرامیږي که نه حرامیږي آیا انتشار او زیادت د انتشار شرط دی که تنها د زړه شهوت هم حرمت لازموي ؟ . بیّنوا توجروا

والسلام مع الاحترام

(المستفتي : مرزا کاکو)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الله تعالی

په دغه صورت کې مور چې خپل زوی ته لاس ور وړي او د زوی له طرفه څخه شهوت پیدا شي نو حرام والی ددغې ښځې پرخپل زوج باندې په سبب ددغه لاس ور وړلوهله راځي چې شرط یې وي داسې چې په و خت د تماس او د لاس ورورلو کې انتشار دآلې د تناسُل ددغه زوی شوی وي او که چېرې مخکې یې انتشار ؤ بیا به یې زیادت د انتشار شوی وي ، دغه انتشار او زیادت د انتشار به په وخت د مس کې وي او وروسته تر مس انتشار او زیادت اعتبار نه لري ، او پر لاس باندې به جامه نه وي او یا به دومره نازکه وي چې حرارت دیوه څخه بل ته ورسیږي او همدارنګه به د زوج پر دغه واقعه باندې یقین وي او یابه یې غالب ظن وي .

وحَدُّها فیهما تحرک آلته اوزیادته به یُفتی (قوله وحَـدُّها فیهما) ای حدالشهوة فی المس والنظر ح (قوله او زیادته) ای زیادة التحرک ان کان موجودا قبلهما (الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۳۰۴)

والعبرة للشهوة عندالمس والنظر لابعدهما (قوله والعبرة الخ) قال فی الفتح وقوله بشهوة فی موضع الحال فیفید إشتراط الشهوة حال المس فلومس بغیر شهوة ثم اشتهی عن ذلک المس لاتحرم علیه آهـ (الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۳۰۴) و هکذا فی (الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۲۷۵)
و لو لشعرعلی الرأس بحائل لایمنع الحرارة (قوله بحائل لایمنع الحرارة) ای ولو بحائل الخ فلوکان مانعا لاتثبت الحرمة (الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ ص ۳۰۴) و هکذا فی (الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۲۷۵)

و علی هذا ینبغي ان یقال فی مسه ایاها لاتحرم علی ابیه و ابنه الاّان یصدقاه او یغلب علی ظنهما صدقه ثم رأیت عن ابي یوسف ما یفید ذلک الخ (ردالمحتار ج ۲ ص ۳۰۴) و (فتح القدیر ج ۳ ص ۱۳۰) فقرصت ابنه من غیرها کذا فی فتح القدیر (قوله فقرصت ابنه من غیرها) قال فی النهر قید بابنه من غیرها لیعلم ما اذا کان منها بالأولی (منحة الخالق علی البحرالرائق ج ۳ ص ۱۰۰)

واللہ تعالی اعلم بالصواب

مولوي محمود

د ښځې په تلاش که د خاوند د شهوت لاس پرخوابښې ولګيده؟

پوښتنه : عالیقدرو علماء کرامو د دارالافتاء ! زه عاجز داسې عرض کومه چې په نیمه شپه باندې زه خپل و زوجې ته دپاره دجماع په طریقه دشهوة ورتلمه خطاوتمه لاس مې پرخوابښې باندې ولګیدی اول مې لاس سربیره پرجامه ولګیدی په دغه وخت کې شهوة موجود ؤ وروسته چې مې لاس پرلخ بدن ولګیدی شهوة مې کمزوری سو زه پوه سوم چې دغه ښځه اجنبیه ده نوژر باره رالیږې سومه .

اوس ګرانو عزتمندو علماؤ و ما ته هغسې فیصله راکړئ چې په ورځ دآخرت مختوره نه یم. والسلام

(یو تن مستفتي)

یادونه: دلته د مستفتي نوم او ځای یې په اصل استفتاء کې موجود ؤخو مونږ دده د عزت د ساتنې په خاطر په ابهام سره ذکر کړ او همداسې په ځینو نورو ځایونو کې هم مونږ کړي دي

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب

ستاسوپه استفتاء کې څلورخبرې ضروري دي باید تاسو ورته پوره متوجه شئ.

اوله خبره: که ستا لاس دخوابښې پربدن لګیدلی ؤ پرجامه سربیره اوهغه جامه هم نازکه جامه وه اوپه دغه حالت کې هم شهوت موجود ؤ اوزیات شو نوستابښځه پرتاحرامیږي ، اوکه زیاتوب د شهوة نه راغی نوحرمت نه راځي، نازکه جامه دې ته وایي چې د بدن ګرمي او حرارت نه شي ګرځولای .

دوهمه خبره : که د خوابنې کالي او جامه پنډه وه يعنې د بدن حرارت پرکالو سربيره نه معلوميده نوحرمت نه راځي.

دريمه خبره : که پرلُخ بدن لاس ولګيږي اوشهوت موجود وي يازيات شي حرمت راځي اوکه شهوت کم شي يا نه وي نو بياحرمت نه راځي.

څلورمه خبره : که ستاد لاس په لګيدوسره پرلُخ بدن يا نازکه جامه يواځې خوابنې ته شهوت پيدا شوی ؤ نو هم حرمت راځي.

(و) اصل (ممسوسته بشهوة) و لو لشعر على الرأس بحائل لايمنع الحرارة اى و لو بحائل الخ فلوكان مانعاً لاتثبت الحرمة الخ (و اصل ماسته ... و فروعهن) مطلقاً والعبرة للشهوة عندالمس والنظر لابعدهما وحدّها فيهما تحرک آلته او زيادته به يفتی و فی امرأة ونحوشيخ كبير تحرک قلبه اوزيادته ... (و لافرق) فيما ذكر (بين اللمس والنظر بشهوة بين عمد و نسيان) و خطاءٍ و اكراهٍ ... وتكفى الشهوة من احدهما الخ (الدرالمختار و ردالمحتار ج ۲ ص ۳۰۴ و ص ۳۰۲ و ص ۳۰۷)

و هكذا فی (حاشية الطحطاوي على الدرالمختار ج ۲ ص ۱۵-۱۷)
و (فتاوی دارالعلوم ديوبند كلان ج ۷ ص ۳۷۲ و ج ۷ ص ۳۸۲.
والله تعالى اعلم


كتاب
الرضاع

کتاب الرضاع

رضاعت په شهادت یا په اقرار مع الاصرار سره ثابتیږي

پوښتنه : د دارالافتاء محترم رئیس صاحب ! ما خپله لورګل رام نامه د عبدالمنان زوي ته چې میراجان نومیږي په شرعي اومسلمانۍ په نکاح درې کاله کیږي چې ورکړې وه اوپس له نکاح زما ورنداري وویل چې دغه میراجان دلس کالودې ماپه دوه کلنۍ په عمرچې دی په تي کې ؤ تې مې ورکړی زما په یاد نه ؤ اوس ماستاسې لورګل رام نامې ته هم تی ورکړی دی چې د دوې د نکاح وروسته پیښه شوې ده زه غواړم چې څلورشاهدانې ښځې او یو نر یعنې دمیراجان پلار وایي چې دغه ښځې زما و زوې ته تی ورکړی دی او زه محمدابراهیم اوزما ماینه هم وایي چې ستا ورنداري دغه دووته تی ورکړی دی هیله لرم چې ددغه موضوع شرعي فیصله زما په لاس کې راکړئ چې زه په دنیا او آخرت کې مسئول نه شم.

په درناوي محمدابراهیم ۱۳۷۵/۵/۸هـ ش

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون ملهم الصواب

رضاع یعنې تی ورکول ثابتیږي په اقرارمع الاصرار سره اوکه انکار موجود وي نوبیابه ثابتیږي په شهادة د دوه عادلانوسړیانو اویاشهادت دیوعادل سړي اودوه عادلانې ښځوسره ، او نه ثابتیږي په خبر د یوکس سره خواه ښځه وي اوکه سړی هم مخکې دعقد دنکاح څخه اوهم بعد دنکاح څخه ، او کله چې رضاع ثابت شي او نکاح شوې وي نوتفریق په مابین د زوج او زوجه کې د قاضي لخواه صورت نیسي او کله چې تفریق راشي نوکه دا تفریق قبل

الدخول وي په زوجه باندې نو هيڅ شی نه کيږي هغې لره اوکه بعدالدخول وي بيا واجبيږي هغې لره کوم چې اقل وي په مهر مسمی او مهرمثل کې او واجب نه ده هغې لپاره نفقه اونه سکنی اوکه خبر ورکونکی په رضاع باندې يوکس وي اوپه زړه کې واقع شي چې دی صادق ده نوبيا اولی او بهتر پرهيزکول دي دنکاح څخه ، اوکه يوسړي نکاح وکړه د يوې ښځې سره بلې ښځې وويل چې ما تاسو دواړو ته تی درکړی ده نو بيا دلته څلور وجې دي : که دواړو يې تصديق وکړ نکاح فاسد ده او مهر نشته ښځې لره که دخول نه وي شوې او که دواړو يې تکذيب وکړو اودا خبر ورکونکې عادله وي نو بيا بهتره جُدايي ده او که دخول نه وي شوی سړي لره افضل دا ده چې نصف مهر هغې ته ورکړي او ښځې لره افضل دا ده چې هيڅ شی وانخلي او که دخول شوی وي بيا سړي لره افضل دا ده چې پوره مهر او نفقه اوسُکنی ورکړي او ښځې لره افضل دا ده چې اقل د مهر مثل او مهر مسمی واخلي نه نفقه اوسکنی .

و الرضاع (حُجّته حُجّة المال) و هی شهادة عدلين اوعدل و عدلتين لكن لا تقع الفرقة الاّ بتفريق القاضي لتضمنها حق العبد (و هل يتوقف ثبوته على دعوى المرأة الظاهر لا) لتضمنها حرمة الفرج وهی من حقوقه تعالى (كما فی الشهادة بطلاقها) الخ (قوله حُجّته الخ) ای دليل اثباته و هذا عند الانكار لانه يثبت بالاقرار مع الاصرار كما مر (قوله وهی شهادة عدلين الخ) ای من الرجال و افاد انه لايثبت بخبرالواحد امرأة كان او رجلا قبل العقد او بعده و به صرح فی الكافی والنهاية تبعا لما فی رضاع الخانية لو شهدت به امرأة قبل النكاح فهو فی سعة من تكذيبها لكن فی محرمات الخانية ان كان قبله والمخبر عدل ثقة لايجوز النكاح و ان بعده و هما كبيران

فالاحوط التنزه وبه جزم البزازي معللا بان الشک فی الاول وقع فی الجواز وفی الثانی فی البطلان والدفع اسهل من الرفع و یوفّق بحمل الاول علی ما اذا لم تعلم عدالة المخبر او علی ما فی المحیط من ان فیه روایتین و مقتضاه انه بعد العقد لایُعتبر اتفاقا لکن نقل الزیلعی عن المُغني وکراهیة الهدایة ان خبر الواحد مقبول فی الرضاع الطارئ بان کان تحته صغیرة فشهدت واحدة بان امّه اواخته ارضعتهما بعد العقد قلت ویشیرالیه ما مرمن قول الخانیة وهما کبیران لکن قال فی البحر بعد ذلک ان ظاهر المتون انه لایعمل به مطلقا فلیکن هوالمعتمد فی المذهب قلت وهوایضا ظاهرکلام کافی الحاکم الذی هوجمع کتب ظاهرالروایة وفرق بینه وبین قبول خبرالواحد بنجاسة الماء اواللحم فراجعه من کتاب الاستحسان (تنبیه) فی الهندیة تزوج امرأة فقالت امرأة ارضعتکما فهو علی اربعة اوجه ان صدّقاها فسدالنکاح ولامهر ان لم یدخل وان کذّباها وهی عادلة فالتنزه المفارقة والافضل له اعطاء نصف المهر لو لم یدخل والافضل لها ان لاتاخذ شیئًا ولو دخل فالافضل دفع کماله والنفقة والسکنی والافضل لها اخذ الاقل من مهر المثل والمسمی لاالنفقة والسکنی (الدرالمختار و درالمحتار ج ۲ ص ۴۴۸ ط رشیدیه)

و لایقبل فی الرضاع الاشهادة رجلین اورجل وامرأتین عدول کذا فی المحیط- ولاتقع الفرقة الابتفریق القاضی کا فی النهرالفائق واذا شهد رجلان عدلان او رجل وامرأتان وفرق بینهما فان کان قبل الدخول بها فلا شئ لها وان کان بعدالدخول بها یجب الاقل من المسمي ومن مهر المثل ولا تجب النفقة والسکنی کذا فی البدائع ولو شهد رجلان عدلان او رجل وامراتان بعد النکاح عندها لایسعها المقام مع الزوج لان هذه شهادة

لوقامت عندالقاضی یثبت الرضاع فکذا اذا قامت عندها کذا فی فتاوی قاضیخان وان کان المخبر واحداً او وقع فی قلبه انه صادق فالاولی ان یتنزه ویأخذ بالثقة وجدالاخبار قبل العقد اوبعده ولایجب علیه ذلک کذا فی المحیط الخ (الفتاوی الهندیة ج۱ ص ۳۴۷ ط دارالاشاعة قندهار)

مولوي عبدالحکیم عفی عنه
مولوي عبدالله مشهور به خطیب - ولایت ارزگان
مولوي محمدمسلم حقاني
مولوي مفتی نورمحمد ثاقب
سرپرست دارالافتاء مرکزی افغانستان

یوازې د ښځو په وینا اثبات د رضاعت کیږي اوکنه ؟

پوښتنه : محترم و مکرم مولوي ثاقب صاحب رئیس د دارالافتاء ته !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

څرنګه چې بي بي هاجره د ملا محمد یار اخند لور چې وعبدالحلیم دعبدالله زوی ته په نکاح شرعي باندې ورکړې وه اوبي بي مریمه چې دعبدالله لورده وعبدالرشید ته چې دعطاء الله زوی ده په موخې باندې یو د بله سره ورکړې وې او د دوی په منځ کې ایجاب اوقبول هم سوی ؤ وروسته له پنځه میاشتو د عبدالحلیم مور وویل چې دغې بي بي هاجرې ته ما (تی) ورکړی ده وروسته بیا درې ښځو نورو هم وویل چې ودغې نجلۍ ته دعبدالحلیم مور تی ورکړی ده چې هغه ښځې عبارت دي له (د بي بي هاجرې مور ، انا ، او د بي بي هاجرې د اکا ښځه) او همدارنګه د عبدالحلیم مور وایي چې په یقین سره د ملا محمد یار اخند په وروښوکې ویوه ته ما (تی) ورکړی ده لیکن

داسې راته معلوم نه ده چې کوم یو لره ، اوس نومونږ تاسوته داعرض وړاندې کړ چې شریعت څرنګه فیصله کوي مونږ ته اطمینان راکړئ .

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجواب بعون الملک العلی الاعلی

د اولې او دوهمې دواړو پوښتنو په جواب کې به مونږ دا و وایو چې یوازې د ښځو په قول سره چې نارینه نه وي ورسره که هر څونه هم وي اثبات د رضاع او تي رودلو نه پرې کیږي په وخت د انکار کې ، نو اوس دلته په اول صورت کې څلور ښځې دي نارینه ورسره نشته او په دوهم صورت کې یوه ښځه ده او نارینه ورسره نشته او په دغه وروستني صورت کې شک هم واقع دی ولې چې دغه ښځه وایي چې ما د ملا محمد یار په ورونو کې یوه ورور ته (تی) ورکړی دی او را معلوم نه دی چې کوم یو دی او په شک سره هم رضاع نه ثابتیږي ، ها دا یوه خبره ده چا ته چې د یو ثقه مخبر په خبر سره اعتماد اواطمینان حاصل شي اودغه مخبر صادق وبلل شي اګرکه یوه ښځه هم وي نو رضاع احتیاطاً ثابتیږي.

(سئل) فی شهادة النساء وحدهن علی الرضاع هل تقبل.

(الجواب) حجة الرضاع حجة المال وهوشهادة عدلین اوعدل وعدلتین ولا یثبت بشهادة النساء وحدهن لکن ان وقع فی قلبه صدق المخبرترک قبل العقد اوبعده کما فی البزازیة (اقول) ای ترک احتیاطا و ذکر فی البحر عن الکافی والنهایة انه لایثبت بخبر الواحد ولو رجلا قبل العقد اوبعده ثم ذکر عن محرمات الخانیة انه لواخبر عدل ثقة یؤخذ بقوله ولایجوز النکاح وان اخبر بعدالنکاح فالاحوط ان یفارقها الخ (الفتاوی تنقیح الحامدیة ج ۱ ص

۳۴ ط مکتبة حبیبیه) و هکذا فی (الدرالمختار و ردالمحتار ج ۲ ۴۴۸ ط رشیدیه) و ان کان المخبر واحداً و وقع فی قلبه انه صادق فالاولی ان یتنزه ویأخذ بالثقة وجد الاخبارقبل العقد اوبعده ولایجب علیه ذلک کذا فی المحیط (الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۳۴۷ ط رشیدیه)

(قوله ثم لم یدر) اخذ من ذلک ان الرضاع لایکون محرِّمًا الاّ اذا علمت المرضعة قاله صاحب النهر (حاشیة الطحطاوي علی الدرالمختار ج ۲ ص ۹۴ ط دارالمعرفة بیروت)

و هکذا (فی الاختیار لتعلیل المختار ج۳ ص ۱۲۰) و (الدرالمختار و ردالمحتار ج ۲ ص ۴۳۹ ط رشیدیه)

مولوي احمد (نوري) عفی عنه

مولوي نورمحمد (ثاقب)

رئیس دارالافتاء مرکزي

امارت اسلامي افغانستان

په شک سره رضاعت نه ثابتيږي

پوښتنه : د مرکزي دار الافتاء محترم رئيس صاحب !

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

امابعد : زه غواړم چې خپله لور وخپل وراره ته په نکاح ورکړم اوس د هغه مور يوه حيله جوړه وي وايي چې دا انجلۍ تقريباً د دروميا شتووه اوديره مريضه وه دخوراک صلاحيت يې نه درلودی خو ما (تی) راپورته کړی د انجلۍ په خوله کې مې ورکړی بيرته دستي مې ايسته کړی اوس دا وايي چې زه په شک کې يم چې زما تي څانګې نه دي کړي او نه يې په کومه اندازه پوه سوې يم چې دې انجلۍ شيدې تيرې کړي او که يې نه دي تيرې کړې ،اوس دا ښځه وايي چې زه يوازې وم بل شاهد نه ؤ ، اوس دا نکاح صحيح ده که نه ده صحيح. بينوا توجروا

(المستفتي : امان الله)

الفتویٰ

بعون الملک العلی الاعلی

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

محترم مستفتي صاحب ! په دغه مذکور صورت کې چې محض تی د انجلۍ په خوله کې ورکول شوی دی دشيدو د تيريدو علم ددغې تي ورکونکې نه دی راغلی په دغسې شک سره حرمت نه ثابتيږي په قضاء کې او نکاح روا ده ، او احتياط دا دی چې بل چا ته ورکول شي .

اما لو شک فيه بان ادخلت الحلمة فی فم الصغير وشکت فی الار تفاع لا تثبت الحرمة بالشک (فتح القدير ج ۳ ص ۳۰۴) و هکذا فی (الفقه الاسلامي ج ۷ ص ۲۲۸ ط دارالفکر)

المرأة اذا جعلت ثديها فی فم الصبي ولاتعرف اَمص اللبن ام لاففی القضاء لا تثبت الحرمة بالشک و فی الاحتیاط تثبت (الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۳۴۴)

د رضاعي ورور زوی ته لور په نکاح ورکول

پوښتنه : السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

محترمو علماء کرامو ! دوه د اکا زامن چې د مور شیدې سره خوړلي وي د یوه اکا زوې لور د بل اکا و زوی ته روایت لري که یا ؟

مسئله تحریري راکړئ ډیر لطف او مرحمت به مو وي . په درناوي .

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملک الوهاب

دوه کسان چې سره تی وخوري دا دواړه رضاعي ورونه بلل کیږي د دغه یوه لور ددې بل رضاعي وریره ده او رضاعي وریره په سړي باندې حرامه ده لکه نسبي وریره

په تبیین الحقائق (ج ۲ ص ۴۲۳ ط ایچ ایم سعید) کې د محرماتو نسبیه ؤ د بیان څخه وروسته ذکر شوي دي.

(والکل رضاعاً) ای یحرم علیه جمیع من تقدم ذکره من الرضاع وهن امه وبنته واخته وبنات اخوته وعمته وخالته و ام امرأته و بنتها و امرأة ابیه وامرأة ابنه کل ذلک یحرم من الرضاع کما یحرم من النسب لقوله تعالی:

{ وَ اُمَّهٰتُكُمُ الّٰتِیْۤ اَرْضَعْنَكُمْ وَ اَخَوٰتُكُمْ مِّنَ الرَّضَاعَةِ } النساء۲۳ ولقوله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ یحرم من الرضاع مایحرم من النسب.

او همداسې بیان په البحرالرائق (ج ۳ ص ۹۴) کې هم ذکر شوی دی او په

الفتاوى الهندية (ج ۱ ص ۲۷۷ ط دارالاشاعة) کې په باب د محرماتو کې ذکر شوي دي

(القسم الثالث المحرمات بالرضاع) كل من تحرم بالقرابة والصهرية تحرم بالرضاع على ماعرف فى كتاب الرضاع كذا فى محيط السرخسي.

او ددې حدیث نه: (يحرم من الرضاع مايحرم من النسب) چې کوم صورتونه مستثنی دي په هغوکې هم استثناء د رضاعي وريرې نه ده شوې چې هغه صورتونه د استثناء ابن وهبان په شرح المنظومة کې څه دپاسه شپیتو (۶۰) ته رسولي او صاحب د البحر الرائق یواتیا (۸۱) ته او صاحب د النهرالفائق یوسل او اته (۱۰۸) ته او صاحب د الدرالمختار یو سل او شل (۱۲۰) ته رسولي دي او بعضو نور مقادیر هم ښوولي دي.

فهى مائة وعشرون و هذا من خواص كتابنا (قوله و هذا من خواص كتابنا) اعلم ان ابن وهبان فى شرح منظومته اوصلها الى نيف وستين وبيّنها صاحب البحر و زاد عليها حتى اوصلها الى احدى وثمانين وقال انه من خواص هذا الكتاب و اوصلها فى النهر الى مائة وثمانية وقال انها من خواص كتابه فاراد الشارح ان يوصلها الى مائة و عشرين الخ (الدرالمختار و رد المحتار ج۲ ص۴۴۲ ط رشيديه)

مولوي عبدالحكيم – سنګين ، ولايت هلمند
مولوي عبدالله مشهور به خطيب – ولايت ارزګان
مولوي حمدالله اخندزاده – دايچوپان ، ولايت زابل
مولوي محمد مسلم حقاني – ولايت بغلان
مولوي نورمحمد (ثاقب)
باګرامي ، ولايت کابل سرپرست دارالافتاء مرکزي افغانستان

د تي نه رودونکو نکاح سره روا ده

پوښتنه : د يو سړي رضاعي خور ده چې ددغې رضاعي خور يې بيا بله کشره نسبي خور ده او ددغه سړي کشر نسبي ورور دی ، د هغې رضاعي خور دکشرې نسبي خور ددغه سړي دکشر نسبي ورور سره نکاح صحيح ده او کيا ؟ او حال دا دی چې دواړو تی هم نه دی رودلی.

بينوا بالبرهان واجركم على الرحمٰن.

(المستفتي : حاجي فدامحمد تلكان)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب و منه الصدق والصواب

که چېرې يوځای دوې ښځې وي چې ديوې ښځې لپاره زامن وو او د هغه بلې ښځې لپاره لونې وې اوس هغه ښځه چې د هغې لپاره لونې دي تی يې ورکړ يوه زوی ته د هغې ښځې چې د هغې لپاره زامن دي نو لونې د دغه ښځې حرامې دي پر دغه زوی باندې بِشخصه او نه دي حرامې يوه ددغه لونې څخه پر نورو زامنو ددغه ښځې باندې ځکه چې نه دي جمع شوي دوی پر تي باندې د يوې ښځې.

ذكرت فى الغاية ولوان امرأة لها بنون واخرى لها بنات فارضعت التى لها بنات ابنًا من بنى الاخرى فان بناتها تحرم على ذلك الابن بعينه و لاتحرم واحدة من بناتها على سائر بنى المرأة لعدم اجتماعهم على ثدى امرأةٍ واحدةٍ .

(لسان الحكام مع معين الحكام ص ۲۲۰)

و لو ان امرأتين لاحداهما بنون وللا خرى بنات فارضعت التى لها البنات ابنًا واحداً من بنى المرأة الاخرى لم يجز لذلک الابن ان يتزوج بتلک المرأة التى ارضعته ولابواحدة من بناتها و يجوز لسائر البنين ان يتزوجوا تلک المرأة وبناتها ايّتهنّ شاؤوا (الفتاوى التاتارخانية ج۳ ص ۲۳۱ ط ادارة القرآن والعلوم الاسلامية)

(**سئل**) فى امرأتين اجنبيتين ارضعت كل واحدة منهما اولادا معلومين للاخرىٰ ثم ولدت احدٰهما ذكراً و الاخرىٰ انثٰى و لم يجتمعا على ثدىٍ واحدٍ بان لم يرضع الذكر من ام الانثٰى ولا الانثٰى من ام الذكر اصلا فهل يسوغ للذكر التزوج بالانثٰى.

(**الجواب**) نعم حيث لم يكن بينهما رضاع وتحل اخت اخيه رضاعا كما فى التنوير وغيره (الفتاوى تنقيح الحامدية ج۱ ص ۳۳ و ۳۴ ط مكتبة حبيبيه) (و تحل اخت اخيه رضاعا) (الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج ۲ ص ۴۴۲ ط رشيديه) و (البحرالرائق ج ۳ ص ۲۲۷ ط مكتبه ماجديه) و هكذا فى (مجمع الانهر ج ۱ ص ۳۷۷ ط رشيديه) و (فتاوى دارالعلوم ديوبند كلان ج ۸ ص ۳۸۷)

واللہ تعالى اعلم

مولوي احمد نوري عفى عنه
مولوي محمود ميوندوال
مولوي ندا محمد الحقاني
مولوي مفتي نور محمد ثاقب رئيس عمومي دارالافتاء مركزي
دولت اسلامي طلباء افغانستان

د تي رودونکي هلک او انجلۍ د نورو وروڼو اوخويندو نکاح سره روا ده

پوښتنه : د زيد لور چې د عمرو خورزه ده نو د عمرو زوی او د زيد لور دواړو د عمرو د مور تی و رودی اوس نومسئله دا ده چې د عمرو او زيد ددې دوه اولادو څخه علاوه د نورو نکاح صحيح ده اوکه نه ؟ مسئله دې علماء واضحه وفرمايي. والسلام

(مستفتي : ملا عبدالرزاق اخند)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الفتوی بعون الملک الوهاب

په مذکور صورت کې چونکه د عمرو زوې پخوا دعمرو دمور لمسی کيدی اوس چې دهغې شيدې يې وَرَوْ دَلې نودهغې رضاعي زوې شو او دعمرو خور اودهغې اولادونه پخوا ددغه هلک عمه اودعمه زامن اولونې کيدل اوس رضاعي خور اورضاعي خوريان اوخورزيګانې شول. اودزيد لور پخوا دعمرو دمور لمسۍ کيدله اوس چې دهغې شيدې ئې ورودلې دهغې رضاعي لور شوه نوعمرو اودعمرو اولادونه پخوا ددغه انجلۍ ماما او دماما زامن اولونې کيدل اوس يې رضاعي ورور اورضاعي وريرونه او وريريګانې شول ، حاصل دا دې چې د عمرو مذکور يوازې د دغه زوی د زيد د لونو سره نکاح منعه شوله او د زيد يوازې د مذکورې لور نکاح د عمرو د زامنو سره منعه شوله باقي د زيد او عمرو نور ټول اولادونه پر خپل زاړه حال پاته دي يو تر بل يې نکاح سره روا او جائز ده.

قال رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يحرم من الرضاع ما يحرم من النسب (الهداية ج ۲ ص ۳۲۹ ط رشيديه) (و تحل اخت اخيه رضاعًا) يصح اتصاله بالمضاف كان يكون له اخ نسبي له اخت رضاعية و بالمضاف اليه كان يكون لاخيه رضاعا اخت نسبًا و بهما وهو ظاهر. (الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج ۲ ص ۴۴۲ و ۴۴۳)

و هكذا فی (البحرالرائق ج ۳ ص ۲۲۷) و تحل اخت اخيه رضاعًا الخ (الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۳۴۳) (و تحل اخت الاخ لها رضاعًا) اى من حيث الرضاع (و نسباً) يشمل اربع صور لان كلا من الاخت والاخ اما ان يكون رضاعاً اونسبا اوبالعكس والكل حلال (مجمع الانهر ج ۱ ص ۳۷۷) والله سبحانه الهادي وعليه اعتمادي

عبدالستار مشهور به حافظ

د رضاعي خاله سره نکاح کول او د رضاعت په هکله شهادت

پوښتنه : دکندهار ولایت ددارالافتاء ریاست !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

مافضل محمد خپله لور وخپل سکني خور ئي ملا خيرالدين اخند ته ورکړه زمالور زما دمیرې تی رودلی دی. زما میره ، زما پلار او زما کور والا شهادت ورکوي چې دغه انجلۍ زما دمیرې تی رودلی دی ، اوس ملایان صاحبان وایي چې نکاح یې روا نه ده ، ستاسې د لورې حضورڅخه احتراماً هیله کوم چې په دغه باره کې خپله فتوی او مشوره راکړئ او خور یی مې هم په دغه باره کې کوم اعتراض نه لري ، زه فقط دغه وینا لرم چې آیا زما د

میرې په تي ورکولو سره زما پرسکني خوريي دمخه يا وروسته ترنکاح حرامیږي اوکه نه؟ ومن الله توفیق

(مستفتي : فضل محمد ولد حاجي امیرخان)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الفتویٰ بعون الله تعالی

په مذکورصورت کې دغه انجلۍ دغه هلک ته ناروا ده ولې چې د رضاع په شاهدۍ کې یو سړی او دوې ښځې شته که څه هم یوه ښځه تي ورکونکې ده شاهدي یې صحیح ده اوفسخه اوجلا والی ددوې په قضاء دقاضي سره کیږي یوې محکمې ته به عریضه کوي بیا قاضي به دغه انجلۍ او هلک سره جلا کوي اوحکم دناروا والي به ور باندې کوي.

ولوارضعتها امرأة اب الزوج اوامرأة ابنه اوامرأة جده آهـ... فان كان اللبن من ذلک الزوج حرمت عليه (الفتاوى التاتارخانية ج ۳ ص ۲۳۱) (و اذا ارضعت المرأة صبية حرمت على زوجها و آبائه و ابنائه) فتكون المرضعة ام الرضيع واولاد ها اخوته واخواته من تقدم و من تأخرفلايجوز ان يتزوج شيئًا من ولدها وولد ولدها وان سفلوا وآبائُها اجداده وامهاتها جداته من قبل الأم واخوتها واخواتها اخواله وخالاته و يكون زوجها الذى نزل منه اللبن اب المرضعة واولاده اخوتها وابائه وامهاته اجدادها وجداتها من قبل الأب واخوته واخواته اعمامها وعماتها لاتحل مناكحة احد منهنّ كما فى النسب الخ (الاختيار ، كتاب الرضاع ج ۳ ص ۱۱۸)

والرضاع حُجّته حُجّة المال وهى شهادة عدلين او عدل وعدلتين لكن لاتقع الفرقة الابتفريق القاضى (قوله وعدلتين) اى و لواحداهما المرضعة و لايضر كون شهادتها على فعل نفسها لانه لاتهمة فى ذلک كشهادة القاسم والوزّان

والکیّال علی ربّ الدین حیث کان حاضراً بحر قلت ومافی شرح الوهبانیة عن النتف من انه لاتقبل شهادة المرضعة عندابي حنیفة و اصحابه فالظاهر ان المراد اذا کانت وحدها (الدرالمختار مع ردالمحتار ج۲ ص ۴۴۸)

ولایقبل فی الرضاع الاشهادة رجلین اورجل وامرأتین عدول کذا فی المحیط و لاتقع الفرقة الابتفریق القاضی کذا فی النهر الفائق (الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۳۴۷) و کذا فی (الحامدیة ج ۱ ص ۳۴) و ایضًا (مجمع الانهر ج۱ ص ۳۸۰) و ایضًا فی (الهدایة ج۲ ص ۳۳۳) و ایضاً فی (البحر الرائق ج ۳ ص ۲۳۲) و کذا فی (تبیین الحقائق ج ۲ ص ۲۴۳ ط ایچ - ایم - سعید)

واللہ اعلم وعلمه اتم واحکم

د نسبي ورور رضاعي خور سره نکاح څنګه ده؟

پوښتنه : میرحمزه اغا اومیرزا اغا سره ورونه دي دمیرحمزه اغا دري زامن دي ۱-عبدالباري آغا ۲- سرداروليي اغا ۳- سیدنبي اغا اوس د میرزا اغا خور میرزا اغاته هم تی ورکړی دی او هغه دوه وریرو ته یې هم تی ورکړی دی چې عبدالباري اغا او سرداروليي اغا دي اوسیدنبي اغاته یې تی نه دی ورکړی اوس د میرزا اغا لور سیدنبي اغا ته چې دعمه تی یې نه دی رودلی رواکیږي که یا؟

نوټ: د میرحمزه اغا بنځې دمیرحمزه اغا ددغې خور زامنو ته هم تی ورکړې دی .

والسلام

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب : په سوال مذکور کې د سید نبي اغا نکاح د میرزا اغا د لور سره صحیح ده ځکه د میرزا اغا لور د سید نبي اغا نسباً د اکا لور کیږي او رضاعي تعلق (چې حرمت پرې راځي) نه سره لري او د میرحمزه اغا ښځې چې دده د خور زامنو ته تی ورکړی دی داعمل د سید نبي اغا په نکاح کې ممانعت نه راولي.

نوټ : فقهاء کرام فرمایي چې پر ښځوباندې واجب ده چې بې له ضرورته دې د بل چا هر کوچني ته تی نه ورکوي او که تی ورکړي نو په یاد دې ساتي او مشهوره کوي دې او احتیاطاً دې نوشته کوي چې بیا په غلطی کې واقع نه شي.

یحرم علی الرضیع ابواه من الرضاع واصولهما وفروعهما من النسب والرضاع جمیعًا الخ (الفتاوی الهندیة ج۱ ص ۳۴۳)

والاصل فی ذلک ان کل اثنین اجتمعا علی ثدیٍ واحدٍ صارا اخوین اواختین او اخا و اختا من الرضاعة فلایجوز لاحدهما ان یتزوج بالآخر (بدائع الصنائع ج ۴ ص ۲)

و هکذا فی (الهدایة ج ۲ ص ۳۳۰) و تحل اخت اخیه رضاعا... و تحل ام اخیه وام عمه وعمته و ام خاله وخالته من الرضاع (الفتاوی الهندیة ج۱ ص ۳۴۳) والواجب علی النساء ان لایرضعن کل صبيٍ من غیر ضرورة و اذا ارضعن فلیحفظن ذلک ویشهرنه ویکتبنه احتیاطًا الخ (ردالمحتار ج ۲ ص ۴۳۹) و هکذا في (فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۸ ص ۳۷۱)

د رضاعي خور وربره په نکاح کول

پوښتنه : په ډير زيات احترام سره دا عرض لرم چې زه غواړم چې خپله لور په نکاح صحيح شرعي سره په حضور کې د شاهدانو د خپل د خاله زوې محمد جمعه د عبدالقادر زوي ته ورکړم په رضايت سره مګر زما خور د اميرجان نامې سره يوځای تی رودلی دی او اميرجان د محمد جمعه ورور کيږي اوس مونږ ته معلومات په شرعي ډول سره نه کيږي چې جواز لري که يا ؟ والسلام

(المستفتي : محمد الله)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب حامداً ومصلياً

محترم مستفتي صاحب ! کومې ښځې او کوم نران چې الله پاک يې نکاح تر مابين حرامه کړې ده له رويه د نسب يا له رويه د رضاعت ستا لور چې تاسې يې محمد جمعه ته ورکوئ په دغه محرماتو کې داخله نه ده بلکه تر دې قول دالله پاک لاندې ده : {وَاُحِلَّ لَكُمْ مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ}

ولې چې ستا لور د محمد جمعه سره نه نسبي حرمت او نه رضعي حرمت لري که چېرې ستا د خور چې د محمد جمعه د مور تی يې رودلی دی بله خور وی چې د محمد جمعه د مور تی يې نه وی رودلی هم ورته روا وه وربره خو يې بيخي روا ده.

قال الله تعالى: {حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ اُمَّهٰتُكُمْ وَ بَنٰتُكُمْ وَ اَخَوٰتُكُمْ وَ عَمّٰتُكُمْ وَ خٰلٰتُكُمْ وَ بَنٰتُ الْاَخِ وَ بَنٰتُ الْاُخْتِ وَ اُمَّهٰتُكُمُ الّٰتِيْٓ اَرْضَعْنَكُمْ وَ اَخَوٰتُكُمْ مِّنَ الرَّضَاعَةِ} {وَ اُحِلَّ لَكُمْ مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ}

وتحل اخت اخيه رضاعًا... و تحل ام اخيه وام عمه وعمته وام خاله وخالته من الرضاع هكذا فی شرح الوقاية.....وكذا يجوز له ان يتزوج بعمة ولده من الرضاع كذا فی السراج الوهاج (الفتاوی العالمكيرية المعروفة بالفتاوی الهندية ج ۱ ص ۳۴۳) و (الهداية ج ۲ ص ۳۳۰) و كذا يجوز للرجل ان يتزوج اخت اخته من الرضاع و هذا ظاهر (بدائع الصنائع ج ۴ ص ۵)

د رضاعي خور سره نکاح

پوښتنه : دوه ورونه دي يوځني وفات سو کُنډه يې ژوندي ورور وکړه د ذکرشوي کُنډې زوې پيدا شوی ؤ پس مرګي د اولې ښځې يې لور پيدا سوه دغه انجلۍ اودغه هلک يو دبل د ميرې ګانو تی سره و رودی مثال د کُنډې تی انجلۍ و رودی او د دا بلې ښځې دې هلک و رودی آيا درضاعت حکم څنګه دی ددغه انجلۍ او يتيم هلک نکاح کيږي او که نه؟ .

والسلام مع الاحترام

(المستفتي : ملا فتح خان اخند)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب : محترم مستفتي صاحب ! دغه يتيم هلک چې د انجلۍ د مورتی رودلی دی اوانجلۍ دهلک دمورتی رودلی دی ددغه يتيم اوانجلۍ نکاح نه سره رواکيږي ځکه چې خور او ورور کيږي .

(فيحرم منه) ای بسببه (مايحرم من النسب) رواه الشيخان. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتارج ۲ ص ۴۳۹) (و لاحل بين الرضيعة و ولد مرضعتها) ای التي ارضعتها (الدرالمختار و ردالمحتار ج ۲ ص ۴۴۳)

و (الهداية ج ۲ ص ۳۳۰ ط رشيديه) و (الفتاوى الهندية ج۱ ص ۳۴۳) ثم مدة الرضاع ثلثون شهراً عندابي حنيفة و قالا سنتان (الهداية ج۲ ص ۳۲۹ ط رشيديه) و (الفتاوى الهندية ج۱ ص ۳۴۲)

والله تعالى اعلم

د رضاعي خور د ورور سره نکاح کول

پوښتنه : دافغانستان داسلامي امارت د دارالافتاء رياست فضيلت مآب رئيس صاحب ! السلام عليكم و رحمة الله وبركاته

فضيلت مآب ! ما د عبدالخالق سره دوستي کړې ده خپله لوريې زما و زوی ته راکړې ده اوس دده بله مشره لور صائرو نومیږي هغه داسې اقرار کوي چې ما و خپلې دغې خور بابي نامې ته خپل تی ورکړی دی او بل اقرار اوس کوي چې زما د عارض لور چې صديقه نومیږي وايي هغې ته مې هم تی ورکړی دی ، نوهيله کوو چې تاسې وموږ ته شرعي فتوی راکړئ چې دغه بابي نامې زما و زوې ته روا ده اوکه نه ده روا ؟ او بل داسې مطلب دی چې زما زوی د پنځوکالو ؤ دبابي مور زما د زوی په خوله کې په زوره تی ورکړی دی ، اوله نکاح (۲۰) زره کلداري مهر ؤ دوهم پلا يې بيا په (۳۴) زره کلداري راکړې ده د شاهدانو په حضور کې.

والسلام

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون المستعان

په مذکور صورت کې چې عبدالخالق خپله لور دعبدالقادر ځوې ته ورکړې ده اودعبدالخالق بلې مشرې لورچې خپلې خور او د عبدالقادر لورته تی ورکړی دی په دغه رضاع او تی ورکولو سره دعبدالخالق لور د عبدالقادر پرځوی نه حرامیږي دغه تی ورکول فقط پر هغو دوو انجونو پورې تعلق لري دغه ناکح هلک ته نه نقل کیږي حاصل دا چې دغه نکاح جائز اوصحیح ده . او رضاع وروسته تردوه نیم کالو نه ثابتیږي.

ذکرالحنفیّة ایضًا انه یجوز للرجل الزواج باخت الاخ من الرضاع واخت الاخ من النسب و ام الرضیع من النسب و بالمرضعة . اما اخت الاخ من الرضاع فکان یرضع طفل من امرأة فیجوز لاخی هذا الطفل الذي لم یرضع ان یتزوج بنت هذه المرأة وهی اخت اخیه من الرضاع وهذا معنی قول العوام : افلت رضیعا وخذ اخاه ومثلها اخت اخته من الرضاع (الفقه الاسلامي و ادلته ج ۷ ص ۱۴۳ و ۱۴۴ ط دارالفکر)

سئل : فی رجل له اخت نسبیة رضعت من امرأة لها بنت نسبیة فهل للرجل ان یتزوج تلک البنت.

الجواب: نعم له التزوج باخت اخته (تنقیح الحامدیة ج ۱ ص ۳۴)

سئل: فی صبی رضع من امرأة وعمره ثلاث سنین ثم ارضعت المرأة بنتًا عمرها سنة فهل للصبی التزوج بالبنت المذکورة .

الجواب : نعم لان الرضاع بعد مضی مدته وهی سنتان و نصف عند ابي حنیفة لایکون مُحرِّمًا قال في الخلاصة و لاتثبت الحرمة بعد سنتین و نصف و ان لم یفطم و به یفتي القاضي الامام اهـ (تنقیح الحامدیة ج ۱ ص ۳۵) و (بدائع الصنائع ج ۴ ص ۵ و ۲) واللہ تعالی اعلم

د رضاعي خور يا خاله سره نکاح

پوښتنه : د دارالافتاء لوړ مقام ته ! السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

زه محمدرسول او رسول محمد عرض لرو.

موږ دوه سره باجه ګان يو اوس مونږ په خپل مابين کې دوستي سره کړې ده موږ ښو د بله لونې سره ورکړې دي ځامونو ته صديق الله چې د محمدرسول زوې دی. او بي بي خاتمه چې د رسول محمد لور ده دواړه موسره په نکاح کړې دي او عبدالله چې د رسول محمد زوې دی او سردار بي بي چې د محمد رسول لور ده دغه دواړه موسره په نکاح کړې دي.

اوس غېرله صديق الله څخه چې د محمد رسول زوې دی هغو نورو درو چې بي بي خاتمه او سردار بي بي او عبدالله چې د رسول محمد زوی دی د خپلې آنا تی رودلی دی ، عبدالله ولد رسول محمد عمر يې شپږ کاله دی سرداربي بي چې د محمدرسول لور ده ورته ناسته ده عمر يې شپږ کاله دی ، صديق الله چې د محمدرسول زوی دی عمر يې (۱۱) کاله دی بي بي خاتمه د رسول محمد لور ورته ناسته ده عمر يې (۸) کاله دی.

والسلام

(المستفتي : محمدرسول)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب حامداً ومصلياً

په مذکورصورت کې که څه هم ماسېوا دصديق الله څخه نورو درې واړو سره د خپلې انا (تی) رودلی دی خو بيا هم دغه دواړه انجونې دغه دواړو هلکانو ته حرامې دي او نکاح يې باطله ده ځکه چې دغه انجونې ددغه هلکانو يا خويندې او يا خاله ګانې رضاعي دي.

{ وَ اُمَّهٰتُكُمُ الّٰتِیْۤ اَرْضَعْنَكُمْ وَ اَخَوٰتُكُمْ مِّنَ الرَّضَاعَةِ }

وکذا العمات والخالات وبنات الاخ وبنات الاخت من الرضاعة اجماعًا علی حسب مافصلناه فی النسب لقوله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یحرم من الرضاع مایحرم من النسب .

(تفسیرالمظهري ج ۳ ص ۵۲) و (فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۷ ص ۳۹۸) او ارضعت امرأة من لبنه رضیعاً فالکل اخوة الرضیع واخواته آهـ (الفتاوی التاتارخانیة ج ۳ ص ۲۲۹) و اذا رضع صبیان من ثدی امرأة فهما اخوان (الاختیار ج ۳ ص ۱۱۹) و هکذا فی (فتح القدیر ج ۳ ص ۳۱۴) و (حاشیة الطحطاوي علی الدرالمختار ج ۲ ص ۹۲).

واللہ تعالی اعلم

که د ناوې مور د زوم کشرې خورته او د زوم مور د ناوې مشر ورور ته شیدې ورکړې وي؟

پوښتنه : د ناوې مور د زوم وکشرۍ خور ته شیدې ورکړي دي او د زوم مور د ناوې و مشر ورور ته شیدې ورکړې دي آیا په مذکوره صورت کې د ناوې او زوم نکاح صحت لري اوکنه ؟

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب حامداً ومصلیاً

محترم مستفتی صاحب ! په دغه مذکور صورت کی د ناوې او زوم نکاح بالکل صحت لري خو چې ناوې ته د زوم مور شیدې نه وي ورکړې او یا زوم ته د ناوې مور شیدې نه وي ورکړې .

(سئل) فی امراتین لکل منهما اولاد فارضعت کل منهما اولاد الاخری ثم بعد ذلك وضعت احدی المراتین المذکور تین بنتًا والاخری وضعت ابنًا و لم یرضع الابن من ام البنت ولم ترضع البنت من ام الابن الی ان بلغا فهل والحال هذه تحل البنت المذکورة للابن المذکور واذا عقد علیها عقداً صحیحاً مستکملاً للشروط یکون العقد المذکور صحیحًا نافذاً و لایحر مان علی بعضهما بارضاع اخواتهما السابقین حیث لم یجتمعا علی ثدیٍ واحدٍ

(اجاب) اذا لم ترضع البنت المذکورة من ام الابن ولم یرضع الابن من ام البنت ولم یحتمعا علی ثدی واحد یحل النکاح بینهما وقد صرّحوا بجواز تزوج اخت اخیه رضاعًا والله سبحانه وتعالی اعلم (الفتاوی المهدیة ج ۱ ص ۲۲)

(سئل) فی امراتین اجنبیتین ارضعت کل واحدة منهما اولادا معلومین للاخری ثم ولدت احداهما ذکراً و الاخری انثی ولم یجتمعا علی ثدی واحد بان لم یرضع الذکر من ام الانثی ولاالانثی من ام الذکر اصلا فهل یسوغ للذکر التزوج بالانثی.

(الجواب) نعم حیث لم یکن بینهما رضاع وتحل اخت اخیه رضاعا کمافی التنویر وغیره (تنقیح الحامدیة ج ۱ ص ۳۳ و ۳۴)

و فی آخر المبسوط و لو کانت ام البنات ارضعت احدی البنین وام البنین ارضعت احدی البنات لم یکن للابن المرتضع من ام البنات ان یتزوج واحدة منهن وکان لاخوته ان یتزوجوا بنات الاخری الاالابنة التی ارضعتها امهم وحدها لانها اختهم من الرضاعة (الفتاوی الانقرویة ج ۱ ص ۲۸)

(قوله و تحل اخت اخیه رضاعا) یصح اتصاله بکل من المضاف والمضاف الیه وبهما کما قدمناه فی نظائره فالاول ان یکون له اخ من النسب ولهذا الاخ اخت رضاعیة والثانی ان یکون له اخ من الرضاع له اخت نسبیة والثالث ظاهر. (البحرالرائق ج ۳ ص ۲۲۷) وهکذا فی (الدرالمختار و ردالمحتار ج ۲ ص ۴۴۲ و ۴۴۳) واللہ تعالٰی اعلم.


كتاب
الطلاق

کتـــــاب الطلاق

بـاب ايقاع الطلاق

درې طلاقه ورکوونکی به رجوع څنګه کوي؟

پوښـتنه : عـرض د طرفـه څخـه د داد محمـد دحـاجي محمدافضـل زوی ، اوسیدونکی فعلاً مهاجر د پاکسـتان ، و مقـام تـه د محتـرم رئیس صاحب د تمییز !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

محترمه ! زه خپله بیده وم چې په دغه وخت کې زما د خپلې کور والااو زما د خپلې مور په مابین کې جنګ او دعـوه وه کله چې زه دخپلې ماندینې او مـور پـه جنګ د خوبـه څخه بیدار شوم مـا و خپلې ماندینې تـه درې واړې طلاق ورکـی چې فعـلاً زه پـه خپلـو ویلـو د طـلاق پښـیمانه یـم ، نـو زه سـتا د مقام څخه هیله کـوم چې لـه رویـه د شریعت و مـا تـه هدایت وکړې چې زمـا خپلې ماندینې ته چې ما درې واره طلاق ورکړی څنګه رجـوع کیـږي چې زه ستاسې د هدایت سره سم هغه کار وکړم او زما مشکل حل شي دا به ستاسو وسیله وي چې زه خپله کوچنیان لرم او شپه او ورځ راته ژاړي.

(مستفتي : داد محمّد)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملک الوهاب

محترم مستفتي صاحب ! څرنګه چې ته د خپلې کور والااو مور په جنګ را ویښ شوې ، او د ویښ والي په حال کې دې خپلې کور والاته دري طلاقه ورکړي دا طلاق طلاق بدعي بائن مغلظ دی په دې طلاق باندې کور والاد خپل خاوند څخه جلا کیږي ، دغه طلاقه شوې ښځه باید بل سړی په نکاح صحیح سره په نکاح کړي که دغه دوهم سړي طلاقه کړه او یا مړ شو بیا یې اول سړی په نکاح کولای شي .

وطلاق البدعة ان یطلقها ثلاثًا بکلمة واحدة اوثلاثًا فی طهر واحد فاذا فعل ذلک وقع الطلاق وکان عاصیًا (الهدایة ج ۲ ص ۳۳۴ ط رشیدیه)
من انکر وقوع الثلاث فقد خالف الاجماع ولو حکم حاکم بان الثلاث تقع واحدةً لم ینفذ حکمه لانه لایسوغ فیه الاجتهاد لانه خلاف لا اختلاف (حاشیه الطحطاوي علی الدرالمختار ج ۲ ص ۱۰۵)

و لاحاجة الی الاشتغال بالدلالة علی رد قول من انکر وقوع الثلاث جملة لانه مخالف للاجماع کما حکاه فی المعراج ولذا قالوا لوحکم حاکم بان الثلاث بفمٍ واحدٍ واحدة لم ینفذ حکمه لانه لایسوغ فیه الاجتهاد لانه خلاف لااختلاف (البحرالرائق ج ۳ ص ۲۳۹)

وان کان الطلاق ثلاثًا فی الحرة او ثنتین فی الامة لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره نکاحا صحیحا و یدخل بها ثم یطلقها او یموت عنها (الهدایة ج ۲ ص ۳۷۸ ط رشیدیه) واللہ تعالی اعلم و علمه اتم و احکم

د حلالي لپاره د زوج ثاني د څومره عمر کيدل ضروري دي ؟

پوښتنه : جناب فضيلت مآب د دارالافتاء محترم رئيس صاحب !

السلام عليكم و رحمة الله و بركاته

محترما! زمونږ د علماؤ د مرکزي شوری څخه يونفر داسې استفتاء کړې ده که يوه ښځه په کلمات ثلاثه سره طلاقه شي نو زوج آخر يې څومره کوچنی وي چې بيا زوج اول ته رواشي اوهمدارنګه څومره کوچنی وي چې دخول يې جواز پيدا کوي وزوج اول ته اوپه حديث شريف کې خوداسې راغلي دي حتی تذوقي عسيلته ويذوق عسيلتک نومونږ دغه موضوع وتاسوته راجع کړه هيله ده چې شرعي فتوی ورکړئ.

والسلام

(الحاج مولوي عبدالودود اخند رئيس شوری مرکزي علماء)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملک العلام

يوه ښځه چې په ثلاثه سره طلاقه شي نو زوج اول ته نه رواکيږي ترڅوچې زوج ثاني يې په نکاح نکړي په نکاح صحيح سره اوبيا دخول پرې و نکړي او بيا بينونة په طلاق يا موت سره رانشي اوعدت تير نشي اوشرط په دخول کې ايلاج دی چې مراد ورځنې التقاء الختانين دی نه انزال نو که چېرې زوج ثاني دومره کوچنی ؤ چې قادر پر ايلاج نه ؤ نو تحليل نشي راتلای اوکه صبی مراهق ؤ چې مثل دده جماع کولای شي نو بياتحليل راتلای شي لکه په (الاختيار) کې چې وايي :

(والمبانة بالثلاث لاتحل له حتى تنكح زوجا غيره نكاح صحيحا ويدخل بها ثم تبين منه) ... (والشرط هوالايلاج دون الانزال) ... (و ان يكون المحلل يجامع مثله)

(قوله و ان يكون المحلل الخ) سواء كان مراهقًا او بالغًا لوجود الشرط و هو الايلاج و لايجوز صغير لايقدر على الايلاج لعدم الوطئ المراد من النكاح (الاختيار لتعليل المختار ج ۳ ص ۱۵۰ و ۱۵۱) و هكذا فى (الدرالمختار و ردالمحتار ج ۲ ص ۵۸۳) و (الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۴۷۳ ط دارالاشاعة قندهار) و فيها : و يشترط ان يكون الايلاج موجبا للغسل وهوالتقاء الختانين و هكذا فى (الفقه الاسلامى وادلته ج ۷ ص ۴۵۳ ط دارالفكر) والله تعالى اعلم وعلمه اتم

مولوي نورمحمد ثاقب
رئيس دارالافتاء مركزى دولت اسلامى افغانستان
مولوي احمدنوري عفى عنه
مولوي ندامحمد الحقاني فاضل وفاق المدارس

خاوند په غصه کې درې کاڼي ښځې ته ورکړل او ورته وې ویل چې زما د کوره و وزه

پوښتنه : د دارالافتاء محترم مقام ته ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته زه دالله بنده محمد داود دخواجه محمد زوې ومحترم مقام ته دا لاندې عرض لرم : څرنګه چې زما ښځې ځان ایله ناحقه وځاه ته واچوی اوځان یې په مرګ مبتلاء کوی او زه یې خپل د مرګ مسئول ګڼلم نومورې ښځه چې ما د څاه څخه و ویسته په خیر نو زه په ځان نه پوهیدلم په دې غمګین حال باندې او پرځان مې حاکمیت نه درلودی په ځان نه پوهیدم ښځې ته مې وویل چې څلورخویندې لرم پنځمه خورمې ته یې ځه ووزه دکوره څخه مې دري ډبرې مې ورکړې ویل مې ځه پر ما ځان مه تاوانه وه د پلار کره دې ولاړه سه هلته ځان مړه که او بل نومورې ښځې ته مې هیڅ لفظ نه دی ویلی صرف ما ویل ځه د پلارکره وزه ښځه مې ایستلې ده . نومورې ښځه بیرته عارضه سوې ده پس له اتو میاشتو د قرآن شریف سره بیرته زما وکورته راغلې ده چې زه خپل میړه غواړم پر ما بل میړه حرام دی خپل غواړم .

بناءً د محترم لوړعالي مقام څخه په درناوي سره هیله کوم چې په پورتنۍ موضوع کې زما بیچاره او ناقراره سره مرسته اوکومک د الله جَلَّجَلَالُهُ په لحاظ وکړئ او یوه شرعي فتوی راته راکړئ تر څو په آینده کې د پاک الله جَلَّجَلَالُهُ او د شریعت او مسلمانانو په حضورکې مسئول او مجرم واقع نه سم او یوه صحي لاره راته معلومه او په لاس راکړئ . والسلام

(المستفتي : محمد داؤد)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب باسم ملهم الصدق والصواب

یوسړی چې خپلې ښځې ته درې ډبرې وروغورځوي اوپه خوله باندې ورته ووایي چې زما دکوره څخه و وزه د پلارکور ته لاړه شه اوس نو نیت ته د زوج کتل کیږي که چیرې یې په نیت کې یو طلاق ؤ دغه ښځه په یوه طلاق سره طلاقه کیږي او صرف په نوې نکاح سره دغه زوج ته روا کیږي ، اوکه چیرې په نیت کې یې درې طلاقه وو بیاپردغه زوج باندې دغه ښځه په درې طلاق طلاقه کیږي او روا والی یې په زوج آخر سره کیږي او یو سړی چې خپلې ښځې ته ووایي چې زما پنځمه خوریې په دغه لفظ سره دغه ښځه نه طلاقه کیږي اودغه لفظ ته ظهارهم نه ویل کیږي ځکه چې حرف اوکلمه دتشبیه یې نه ده راوړې اوپه ظهارکې حرف دتشبیه غواړي اویوسړی چې خپلې ښځې ته ووایي چې ووزه دکوره څخه خپل د پلار کورته لاړه شه که په حالت د غضب کې ؤ او په نیت د طلاق ؤ او یو طلاق ؤ په یوه طلاق باندې طلاقه کیږي او په تجدید د نکاح سره روا والی دغه زوج ته کیږي اوکه یې په نیت کې درې طلاقه وو بیاپه درې طلاقه سره طلاقه کیږي او دغه زوج ته روا کیدل یې نکاح د زوج آخر غواړي.

سوال : رجل طرح ثلاث مدارات الی امرأته و قال اٹھ اور چلی جا۔ میرے گھر میں نہ بیٹھ ماحکم طلاقه.

الجواب : فی الشامي- فلایقع بإلقاء ثلاثة احجار الیها او بامرها بحلق شعرها وان اعتقد الالقاء والحلق طلاقا انتهی (فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۹ ص ۳۸۶ بحواله ردالمحتار ج ۲ ص ۴۵۳ و فی بعض النسخ ج۲ ص ۲۴۶)

(ویقع بباقیها) ای باقی الفاظ الکنایات المذکورة آهـ...(البائن ان نواها او الثنتین) لما تقرر ان الطلاق مصدر لایحتمل محض العدد (و ثلاث ان نواه) للوحدة الجنسیة. (الدرالمختار ج ۲ ص ۵۰۲ و ۵۰۷)

قال و بقیة الکنایات اذا نوی بها الطلاق کانت واحدة بائنة وان نوی ثلثا کان ثلاثا آهـ... و هذا مثل قوله انت بائن آهـ... والحقي باهلکِ (الهدایة ج ۲ ص ۳۵۲ ط رشیدیه) و انما یصح نیة الثلاث فیها لتنوع البینونة الی غلیظة وخفیفة الخ (الهدایة ج ۲ ص ۳۵۴)

(و ان نوی بانتِ علیّ مثل اُمّي) او کاُمّي وکذا لو حذف علیّ خانیة (براً و ظهاراً او طلاقًا صحت نیته) و وقع مانواه لانه کنایة (و الا) ینو شیئًا او حذف الکاف (لغا) آهـ (قوله او حذف الکاف) بان قال انت امی و من بعض الظن جعله من باب زید اسد، درمنتقی عن القهستانی قلت ویدل علیه ماذکره عن الفتح من انه لابد من التصریح بالاداة، (الدرالمختار و ردالمحتار ج ۲ ص ۲۲۲)

(و فی الغضب) توقف (الاولان) ان نوی وقع و الا لا (و فی مذاکرة الطلاق) یتوقف (الاول فقط) و یقع بالاخرین و ان لم ینو آهـ

(قوله توقف الاولان) ای مایصلح رداً و جواباً و مایصلح سبًا و جوابًا آهـ
نحو اُخْرُجِي قُوْمِی اِذْهَبِیْ ردا یصح – خلیة بریة سبًا صَلَحْ
(الدرالمختار و ردالمحتار ج ۲ ص ۵۰۵) و هکذا فی (البحر الرائق ج ۳ ص ۳۰۲)

(ځه و وزه پر ما طلاقه يې) په غصه کې ويل

پوښتنه : د دارالافتاء رياست مولوي صاحب محترم مقام ته !

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

زه ملا احمدالله اخند احتراماً دارنګه عرض لرم

څرنګه چې ما د خپل عيال سره په کورکې يوه اندازه جنجال درلودی ځکه چې زه مريض وم نو په دغه خاطر چې زما اعصابو پوره کار نه کاوه خپل کور والاته مې د خولې څخه و وتله چې ځه له کوره څخه و وزه پر ما طلاقه يې په نيت کې مې طلاق نه ؤ ځکه چې ډير مې نفس تنګ سوی ؤ او په حال کې د درد وم په ځان نه يم پوه سوی هغه ښځه دوې انجونې کوچنی هم لري او زما اخښي هم پس له دغه موضوع څخه خپله خور زما دکوره څخه بيولې ده خپل کورته چې په لښکرګاه کې دی بعد له هغه چې ما دغه خبره کړې ده پښيمانه هم وم مګر اوس نه پوهيږم چې دغه ښځه پر ما باندې طلاقه سوې ده که يه ؟

ستا د لوړ مقام څخه دا هيله لرم چې ماته په دغه موضوع کې رهنمايي وکړې ستاسو لويه مهرباني به وي. والسلام و من الله التوفيق .

(مستفتي : ملا احمدالله اخند)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب حامداً ومصلياً

طلاق دوه قمسه دي يوطلاق صريح او بل طلاق کنايي دی . مستفتي چې اول لفظ ويلی دی هغه کنايي دی چې خونې څخه و وزه او مستفتي دا اقرار کړی دی چې په نيت کې يې طلاق نه ؤ اوس نو که څه هم په حال د غضب کې وي دغه ښځه په دغه لفظ سره پر دغه زوج باندې نه طلاقه کيږي ځکه

چې نیت په دغه لفظ کې معتبر دی په حال د غضب کې او دویم لفظ یې چې ویلی دی چې پر ما طلاقه یې هغه لفظ صریح دی په دې لفظ سره طلاق واقع دی که یې څه هم په نیت کې نه وي اوس نوکه چېرې د دغې مطلقې عدّت پاته وي په رجوع د زوج سره کفایت کیږي اوکه چېرې عدت یې تیر شوی وي نو په دغه یوه طلاق بائنه ګرځي ، په نوي عقد د نکاح سره بیا تحلیل زوج ته کیږي او بي له نوې نکاح حلال والی نه راځي.

الطلاق علی ضربین صریح و کنایة فالصریح قوله انت طالق آهـ فهذا یقع به الطلاق الرجعي آهـ و لایفتقر الی النیة لانه صریح فیه. (الهدایة ج ۲ ص ۳۳۸ ط رشیدیه)

و اذا طلق الرجل امرأته تطلیقةً رجعیةً اوتطلیقتین فله ان یراجعها فی عدتها رضیت بذلک اولم ترض لقوله تعالی {فَاَمْسِكُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ} من غیرفصل ولابد من قیام العدّة لان الرجعة استدامة الملک آهـ ... لانه لاملک بعد انقضائها (الهدایة ج ۲ ص ۳۷۳)

واذا کان الطلاق بائنًا دون الثلاث فله ان یتزوجها فی العدة و بعد انقضائها لان حل المحلیة باق الخ (الهدایة ج ۲ص ۳۷۸) و بقیة الکنایات اذا نوی بها الطلاق کانت واحدة بائنة آهـ (الهدایة ج۲ ص ۳۵۲)

الرجعة ... (هي استدامة الملک القائم) بلاعوض مادامت (فی العدة)

(الدرالمختار ج ۲ ص ۵۷۴) و ینکح مبانته بما دون الثلاث فی العدة وبعدها بالاجماع- (الدرالمختار ج۲ ص ۵۸۲) و هکذا فی (بدائع الصنائع ۳ ص ۱۰۹) و اما شرائط جوازالرجعة فمنها ایام العدة آهـ (بدائع ج ۳ ص ۱۸۳) و هکذا فی (تبیین الحقائق ج ۳ ص ۱۴۹ ط ایج - ایم - سعید) و هکذا (فی الفتاوی التاتار خانیة ج۳ص ۵۹۳ و ص ۵۹۹ ط ادارة القرآن و العلوم الاسلامیة)

د غصې پر مهال (په ثلاثًا او کُلّما پر ما طلاقه يې) ويل

پوښتنه : دمرکزي دارالافتاء علماء کرامو ته !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

څرنګه چې د شپې لس بجې وې زه دکوره څخه ووتلم يو نفر په مخه راغلی راته وی ويل چې ځې ماورته وويل کشمشوته ځم چې ترده تيرسوم شک را ولويدی بيرته راوګرځيدم کورته راغلم هغه سړی دزيرخاې وکلکين ته ولاړ ؤ زمونږ خونې ته يې د لاس څراغ لګاوه اومړکاوه خوماپنځه دقيقې سکوت وکی بالامې اسلامي جزبه راپورته سوه اوهيڅ په ځان نه يم پوهيدلی اوپه ډيرهيبت مې ورته وويل پرمادې دکوم دله ګومان کړی دی زه معيوب يم اوپخپله لکړه مې وواهه اوزامه مې ور ماته کړه اوپه دغه وخت کې په مځکه او اسمان نه پوهيدم نو چې زما ښځه را و وتله زما د خولې دغه الفاظ ور و وتل چې ځه په ثلاثا اوکلما پر ما طلاقه يې د کلما په معنی نه زه هغه وخت پوهيدم نه اوس ، نو دا ښځه اوس ما ته حلاله ده اوکه راته حرامه ده ؟

بينوا توجروا

الفتویٰ

بعون الملک العلی الاعلی

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

محترم مستفتي صاحب ! ستا ښځه د هميشه لپاره طلاقه ده ځکه چې د طلاق الفاظ چې په هره ژبه وي چې استعمال يې بې له طلاقه په بله معنی کې نه کيږي هغه صريحي طلاق دي نيّت نه غواړي اوکه چيرې په بله معنی کې هم مستعمليدل بيا حکم د کنايا تو عربيه ؤ لري حتی که يومهمل لفظ په يوه علاقه دعلاقو کې مستعمليده جواب د طلاق کيدای شي نو د پښتنو

په علاقه کې چې یو څوک قصد ولري چې دده ښځه دهمیشه لپاره پرده حرامه شي نو دی داسې وایي چې پر ما طلاقه یې په ثلاثه په کلما بعضې خلک کلمې وایي ددې الفاظومعنی په عرف اواستعمال کې داده چې هروار اوهروخت چې ما اوتانکاح سره کوله پرماحرامه یئ نودغه ښځه دغه سړي ته د همیشه لپاره نه روا کیږي او دا خبره چې نه په مځکه اونه په اسمان پوهیدم غضب چې داسې اندازې ته ورسیږي چې څه وایم اوڅه کوم او پرې پوهیږي نه دا حالت نادر پیښیږي په دې وخت کې بیا طلاق نه واقع کیږي اوچې دونه پوهیږي چې پر زامه یې وهه او بیا داسې الفاظ وایي نو پرې پوهیږي هم چې ما داسې وویل دا هغه حالت نه دی چې طلاق نه و اقع کیږي.

والاصل الذی علیه الفتوی فی زماننا هذا فی الطلاق بالفارسیة انه اذا کان فیها لفظ لایستعمل الافی الطلاق فذلک اللفظ صریح یقع به الطلاق من غیر نیةٍ اذا اضیف الی المرأة وما کان بالفارسیة من الالفاظ مایستعمل فی الطلاق وفی غیره فهو من کنایات الفارسیة فیکون حکمه حکم کنایات العربیة فی جمیع الاحکام کذا فی البدائع (الفتاوی الهندیة ج۱ ص ۳۷۹) و (ردالمحتارج ۲ ص ۴۲۵)

(قوله و لو بالفارسیة) مراده بها غیرالعربیة (حاشیة الطحطاوی علی الدر ج ۲ ص ۱۱۲)

امرأة قالت (مرا سه طلاق ده فقال الزوج دایم بالیاء فان کان هذا لغة اهل بلدة من البلدان و لم یکن لغة اهل بلدة الزوج لایُصدّق انه لم یرد به الجواب و ان لم یکن لغة اهل بلدة من البلدان لم یکن جوابا کذا في محیط السرخسي (الفتاوی الهندیة ج۱ ص ۳۸۰) (و یقع بها) بهذه الالفاظ ای طلقتک و انت طالق و مطلّقة و ما بمعناها من الصریح ویدخل نحو طلاع و

تلاغ و طلاک و تلاک او طا لاق او طلاق باش بلا فرق بين عالم و جاهل (واحدة رجعية و ان نوی خلافها (الدرالمختار علی هامش حاشية الطحطاوي ج ۲ ص ۱۱۲) و لو دخلت كلمة كلما على نفس التزوج بان قال كلما تزوجت امرأة فهی طلق يحنث بكل مرة وان كان بعد زوج آخر (الهداية ج ۲ ص ۳۲۵)

يفهم مما ذكر ان طلاق الغضبان لايقع اذا اشتد الغضب بان وصل الى درجة لايدري فيها مايقول ويفعل و لا يقصده او وصل به الغضب الى درجة يغلب عليه فيها الخلل والاضطراب فی اقواله وافعاله وهذه حالة نادرة الخ (الفقه الاسلامی ج ۷ ص ۳۵۲ ط دارالفكر) والله تعالى اعلم

زما ښځه سل طلاقه ده ويونكي كه د طلاق نيت نه وي كړی؟

پوښتنه : محترم رئيس صاحب د دار الافتاء!

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

وبعد: محترمه! زمونږ يو انډيوال دی ماينه يې كور نه وه طالب د مورسره خوشكه وكړه دماينې پرسرطالب باره وويل وموړته چې زما ماينه پر ما په سل (۱۰۰) طلاقه طلاقه ده په دغسې شكل يې پنځه واره وويل او دده نيت د طلاقو نه ؤ ددغه خبرې معلومات راكړئ چې طلاق واقع كيږي اوكنه ؟ بينوا توجروا. والسلام

(المستفتي : ملا فيض الله آخند)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب

په دغه مذکور صورت کې چې مستفتي لیکلی دی دري طلاقه واقع شوي دي او دده په نیت پورې اړه نه لري ولې چې دا صریحي طلاق دی ، نیت وي اوکه نه وي واقع کیږي حتی که نیت د عدم وقوع وکړي هم دده تصدیق نشي کیدلای قضاءً .

کما لو قال اکثر الطلاق او انت طالق مراراً اوالوفا او لاقلیل و لاکثیر فثلاث هو المختار کما فی الجوهرة (الدرالمختار) (قوله او الوفا) جمع الف ح ای فیقع به الثلاث و یلغو الزائد (ردالمحتار ج ۲ ص ۴۹۰) لما مر ان الصریح لا یحتاج الی النیة (ردالمحتار ج۲ ص ۴۲۷) اما اشتراط نیة الطلاق فلا بدلیل انه لونوی الطلاق عن العمل لایصدق ویقع دیانة ایضاً کما یاتي مع انه لم ینو معنی الطلاق و کذا لوطلق هازلاً (ردالمحتارج۲ ص ۴۲۸)

سوال: ایک شخص نے تکرار میں اپنی زوجہ کو کہا کہ میں نے تم کو سو طلاقیں دی اب وہ شخص کہتا ہے کہ میں نے غصہ کی حالت میں بلانیت طلاق یہ الفاظ کہے تھے تو طلاق واقع ہوئی یا نہیں۔

الجواب: صریح طلاق میں نیت کی ضرورت نہیں ہے بدون نیت کے طلاق واقع ہو جاتی ہے۔ (۱)

(فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۹ ص ۴۹)

رجل قال لامرأته ترا تلاق ههنا خمسة الفاظ تلاق و تلاغ و طلاغ و طلاک و تلاک عن الشیخ الامام الجلیل ابي بکر محمد بن الفضل رَحِمَهُ اللّٰهُ انه یقع وان تعمد و قصد ان لایقع و لا یصدق قضاءً الخ (الفتاوی الهندیة ج۱ ص ۳۵۷)

واللہ تعالی اعلم بالصواب

---

(۱) **ترجمه**: یوسړي د جنجال پرمهال خپلې ښځې ته وویل چې ما تا ته سل طلاقه درکړو اوس هغه سړی وایي چې ما د غصې په حالت کې بې د طلاق له نیته دا الفاظ ویلي دي نو طلاق واقع شو که نه؟

الجواب: په صریح طلاق کې نیت ته ضرورت نشته. بې له نیت طلاق واقع کیږي.

دغه ښځه له ماڅخه پاتې ده او درې لوټې يې و غورځولې د دې څه حکم دی؟

پوښتنه : محترم رياست ته د دارالافتاء مرکزي !

و بعد : يوسړي د قهر په حال کې وويل خپل پلار او د اکا زوی ته چې دغه ښځه زما دخوا څخه پاته ده او درې لوټې يې وغورځولې اوښځه هم تر اوسه را واده سوې نه د ه.

(المستفتي : عبيدالله ولد عبدالله)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الفتوی بعون الملک العلی الاعلی

دقهر په حال کې په بعض الفاظوسره چې دميړه لخوا صادر شي يوطلاق بائن واقع کيږي اګرکه د طلاق کوونکي نيت هم نه وي ، دغه حال د قهر اوغضب دليل دی پر وقوع دطلاق باندې ، په استفتاء کې لفظ مذکور ددغه الفاظو څخه دی صرف په تجديد دنکاح سره (يعنې نوې کېدو) د نکاح سره رواکيږي او نور نو درې لوټې ورغورځول په شريعت مقدس کې هيڅ اعتبار نه لري.

وانما يفهم الطلاق منها بالقرينة اودلالة الحال وهی حالة مذاکرة الطلاق اوالغضب (الفقه الاسلامی ج ۷ ص ۳۲۷ ط دارالفکر)

(باب الکنايات) (کنايته) عندالفقهاء (مالم يوضع له) ای الطلاق (واحتمله) وغيره (فـ) الکنايات (لاتطلق بها) قضاءً (الاّبنية او دلالة الحال) و هی حالة مذاکرة الطلاق او الغضب الخ (الدرالمختار علی هامش

ردالمحتار ج ۲ ص ۵۰۱ و ۵۰۲ ط رشیدیه) و هکذا فی (فتاوی دارالعلوم دیوبند کلان ج ۹ ص ۱۳۵ و ۱۳۶)

سوال : رجل طرح ثلاث مدرات الی امرأته وقال اُٹھ اور چلی جامیرے گھر میں نہ بیٹھ ماحکم طلا قه ای هی بائنة بتطلیقة واحدة ام مطلقة بثلاث مغلظة فلا تحل له من بعد حتی تنکح زوجا غیره .

الجواب : فی الشامي فلایقع بالقاء ثلاثة احجار الیها اوبامر ها بحلق شعرها وان اعتقد الالقاء والحلق طلاقًا انتهی وقوله اٹھ چلی جا الخ ان کان بنیة الطلاق تقع به واحدة بائنة کما مر فقط (فتاوی دارالعلوم دیوبند کلان ج ۹ ص ۳۸۵ و ۳۸۶) و هکذا فی (ردالمحتار ج ۲ ص ۴۵۳)

سوال: (۴۳۶)ایک شخص نے کہا کہ میں نے فلان شخص کی بیٹی چھوڑے، اس لفظ چھوڑ کو آپ صاحب کیا ترجیح دیتے ہیں کیونکہ بعضے علماء اس لفظ کو بائن کہتے اور بعضے صریح آپ کتابوں کے حوالہ سے جواب تحریر فرماویں۔

الجواب: لفظ چھوڑا ترجمہ ہے سرحتک اور فارقتک کا پس جیسے کہ لفظ کنایات میں سے ہے ان کا ترجمہ بھی کنایہ ہے نیت یا دلالت حال سے طلاق واقع ہوگی اور چھوڑنے کا لفظ ہمارے عرف میں جیسا کہ نکاح سے چھوڑنے پر بولا جاتا ہے نفقہ وغیرہ کی خبر نہ لینے اور حقوق زوجیت کے ادا نہ کرنے پر بھی بولا جاتا ہے (۱)

---

(۱) **ترجمه**: **پوښتنه**: (۴۳۶) یوه سړي وویل چې مادفلاني سړي لور پریښوده دغه لفظ د پریښودو ته تاسوصاحب څه ترجیح ورکوئ ځکه چې ځینې علماء دې لفظ ته بائن وایي اوځینې صریح تاسو دکتابونو په حواله ځواب ولیکئ.

الجواب: لفظ دپریښوده ترجمه ده دسرحتک اوفارقتک نولکه څنګه چې لفظ له کنایاتو څخه دې دهغه ترجمه هم له کنایاتوڅخه ده په نیت یادلالت حال سره طلاق واقع کیږي او د پریښودلو لفظ زمونږ په عرف کې لکه څنګه چې له نکاح څخه پریښودلو لپاره ویل کیږي دنفقې او نورو د خبرنه اخستلو اود زوجیت د حقوقونه ادا کولو لپاره هم ویل کیږي.

فقط واللہ تعالی اعلم کذا فی الدرالمختار ، باب الکفایات (فتاوی دارالعلوم دیوبند کلان ج۹ ص ۳۷۲)

ولہ ان یتزوج مطلقتہ المبانۃ بدون الثلاث فی العدۃ و بعدھا لان حل المحلیۃ باق اذ زوالہ بالثالثۃ ولم توجد وانما لایجوز لغیرہ فی العدۃ تحرزا عن اشتباہ الانساب و ھو معدوم فی حقہ. (الاختیار لتعلیل المختار ج ۳ ص ۱۵۰) واللہ تعالی اعلم

مولوي احمد نوري عفی عنه
مولوي محمود میوندوال
مولوي مفتي نورمحمدثاقب رئیس عمومی دارالافتاء مرکزي
ومعاون قضائي ستره محکمه امارت اسلامي افغانستان

د طلاق ثلاثه په اړه د خاوند او گواهانو اختلاف

پوښتنه : یوه سړي وویل چې ماخپلې ښځې ته وویل چې پلار دې راوله ترڅودې په ثلاثه سره طلاقه کړم. اوشاهدان وایي چې داسې شئ یې و نه ویل چې پلار دې راوله تر څو دې طلاقه کړم. بلکه ورته وویل چې ته په ثلاثه راباندې طلاقه یې ، اوس دیانتاً په دې باره کې فتوی غواړو. والسلام

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب باسم ملهم الصدق والصواب

په مذکورصورت کې که اوله خبره ثابته شي چې زوج زوجې ته وویل چې پلاردې راوله ترڅودې په ثلاثه طلاقه کړم دا وعده ده اوپه وعده سره طلاق نه واقع کیږي ، مګر واقع کیږي په هغه صورت کې چې هغه د وعدې لفظ

یعنې فعل مضارع غالب وي په حال کې اوپه مذکور صورت کې داجمله چې پلاردې راوله الخ غلبه دحال نه ورڅخه معلومیږي.

په دوهم صورت کې که دشاهدانو شاهدي قاضي قبوله کړه نوپه مذکورو الفاظوسره دري طلاقه واقع کیږي اودابنځه مغلظه ګرځي چې بغیر د حلالې څخه بیا نکاح په هیڅ طریقه نه ورسره کیږي.

قال في تنقیح الحامدیة ج ۱ ص ۳۸ : صیغة المضارع لایقع به الطلاق الا اذا غلب فی الحال کما صرح به الکمال بن الهمام ، و في الشامیة تحت (قوله و مابمعنا ها من الصریح): وکذا المضارع اذا غلب فی الحال مثل اطلقک کما فی البحر الخ (ردالمختار ج ۲ ص ۴۲۲) و (احسن الفتاوی ج ۵ ص ۱۴۸) و طلاق البدعة ان یطلقها ثلاثًا بکلمة واحدة او ثلاثًا في طهرٍ واحدٍ (الهدایة ج ۲ ص ۳۳۴ ط رشیدیه)

وذهب جمهور الصحابة والتابعین ومن بعدهم من ائمة المسلمین الی انه یقع ثلاث...وظاهره الاجماع علی هذالجواب وفی سنن ابي داؤد و موطأ مالک عن محمد بن ایاس بن البکیر قال طلق رجل امرأته ثلاثًا قبل ان یدخل بها ثم بدا له ان ینکحها فجاء یستفتي فذهبت معه فسأل عبدالله بن عباس و اباهریرة عن ذلک فقالا لا نری ان تنکحها حتی تنکح زوجا غیرک الخ (فتح القدیر ج ۳ ص ۳۳۰)

اما اقسام الشهادة... و منها الشهادة بغیر الحدود والقصاص و مایطلع علیه الرجال وشرط فیها شهادة رجلین اورجل وامرأتین سواء کان الحق مالاً اوغیرمال کالنکاح والطلاق والعتاق والوکالة والوصایة ونحو ذلک ممالیس بمال کذا فی التبیین (الفتاوی الهندیة ج ۳ ص ۴۵۱)

واللہ تعالی اعلم وعلمه اتم واحکم

د دروغو ترګواهۍ وروسته د طلاق د فیصلې حیثیت

پوښتنه : څرنګه چې درو کسانو غیر حق شاهدي ادا کړې وه په ثلاثه طلاقو او بیرته یې خپله شاهدي واخیسته او و یې ویل چې مونږ په درواغو شاهدي ویلې وه نوستاسې د عالي مقام څخه هیله کوم چې شرعي حکم او معلومات راکول شي چې یو قاضي د ابتدائیه یا مرافعه محکمې حکم په طلاق صادر کړي او داحکم یې بناء وي پر شهادة الزور آیا دغه طلاق واقع کیږي او که نه ؟

(المستفتي : حافظ محمدادریس)

الجواب : کله چې د دروغجنو شاهدانو دشاهدۍ په وجه قاضي حکم په طلاق وکړي نو مُفتٰی بِهٖ قول دا دی چې دغه قضاء ظاهراً نافذه ده او باطناً نه ده نافذه معنی یې دا ده چې که څه هم ظاهراً خو د قاضي په امر به ښځه د میړه څخه جلاکیږي لکن که په حقیقت او واقع کې میړه طلاق نه ؤ ورکړی او د هغه وروسته میړه غوښتل چې دغې ښځې ته نزدې شي نو دا جائز دي ، د الله تعالٰی په نزد عاصي نه ګرځي او د ښځې لپاره هم نه ده جائز چې د بل چاسره پر نکاح باندې اقدام وکړي .

(و ینفذ القضاء بشهادة الزور ظاهراً و باطناً) حیث کان المحل قابلا والقاضی غیر عالم بزورهم (فی العقود) کبیع ونکاح (والفسوخ) کاقالة وطلاق ... وقالا و زفر والثلاثة ظاهرا فقط و علیه الفتوی (الدرالمختار) نقله ایضا فی القهستانی عن الحقائق وفی البحر عن ابی اللیث الخ (ردالمحتار ج ۴ ص ۳۷۰)

لواثبتت امرأة بشهود زور ان زوجها طلقها ثلاث طلقات بائنة وبعد ان استحصلت علی الحکم بالطلاق تزوجت بعد العدة بزوج آخر فیحل له

الاستمتاع بها ولو علم بحقيقة الحال ... و دليل نفاذ القضاء على هذا الوجه ظاهرا و باطنا هو ان رجلاً ادعى الخ (دررالحكام ج ۴ ص ۲۵۹)

وفى جميع الامثلة التى سبق بيانها بانه يحل فيها على رأى الامام الاعظم هى حرام على رأى الامامين والفتوى على قول الامامين. (دررالحكام ج ۴ ص ۲۲۱) والمراد بالنفاذ (اى فى صورة النكاح) ظاهرا ان يسلم القاضى المرأة نفسها الى الرجل و يقول سلمى نفسك اليه فانه زوجك و بالنفاذ باطنا ان يحل له وطؤها و يحل لها التمكين فيما بينها و بين الله تعالى (دررالحكام شرح غررالاحكام ج ۲ ص ۴۰۹) وانما كانت الفتوى على قولهما لظهور ادلتهما بالنسبة الى دليله (حاشية الشرنبلالي على هامش دررالحكام شرح غررالاحكام ج ۲ ص ۴۰۹)

والخلاصة ان القاضى فى قول ابى حنيفة ينفذ قضاءه ظاهراً وباطنًا حيث كان المحل قابلاً لذلك كالعقود والفسوخ والقاضى غير عالم بزور الشهود وهذا القول وان كان هو الاوجه فى مذهب الحنفية الا ان المفتى به عند هم هو قو ل الصاحبين الموافق لبقية الائمة وهو ان قضاء القاضى ينفذ ظاهراً فقط لا باطنًا اى ليس الحلال عند الله هو ما قضى به القاضى بل ما وافق الحق (الفقه الاسلامى و ادلته ج ۷ ص ۴۰۵ ط دارالفكر دمشق و بيروت)

نوټ : كله چې قاضي د شاهدانو د شاهدۍ په وجه حكم صادر كړي اوبيا شاهدان دقاضي په حضوركې رجوع وكړي نوهم قاضي ملكف دى چې خپل حكم به عملي كوي او نه به يې نقض كوي يعنې دغه ښځه به د ميړه څخه جلاكوي نور نوكه په حقيقت كې طلاق صادر شوى ؤ نو ديانةً به جائز وي چې دغه معنى د نفاذ د حكم ده ظاهراً و باطنًا يا يوازې ظاهراً فقط ،

خلاصه دا چې د قاضي صادر شوی حکم به د نقض څخه ساتل کیږي که څه هم د شهادة زور پر بنا وي

اذا رجع الشهود عن شهادتهم بعد الحکم فی حضور الحاکم فلا ینقض حکمه الخ (المجلة – المادة ۱۷۲۹)

والله تعالی اعلم

که خاوند د طلاق دعویٰ کوي او ګواهان انکار کوي؟

پوښتنه : زید دا قسم واخیستی که زه کور ته داخل سوم په دې حالت کې دې ښځې ناستې وې اوس سوال دا دی : زید وایي ما د طلاق لفظ ویلی دی یعنې قسم یې په طلاق سره اخیستی دی او هغه دې ښځې وایي چې یوازې دې قسم اخیستی دی طلاق دې نه دی اخیستی ، اوس طلاق واقع کیږي او که یا؟ اوکه واقع کیږي نوکوم طلاق واقع کیږي او د قسم په وخت کې یې واده نه ؤ کړی کوزده یې کړې وه اوس یې واده کړی دی اوتر اوسه داخل سوی نه دی. والسلام

(المستفتي : عبد الرزاق)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب حامداً ومصلیاً

محترم مستفتي صاحب ! ستا استفتاء مشتمله پرځو سوالونو ده.

د اول سوال جواب : یوسړی چې اضافت او نسبت د طلاق وکړي یو شرط ته کوم وخت چې هغه شرط موجود شي طلاق واقع کیږي مثلاً یوسړی ووایي خپلې زوجې ته که ته د پلار کور ته لاړې پرده طلاقه یې نوکه هغه هر وخت او زمان د پلار کورته لاړه پر ده طلاقه ده.

واذا اضافه الى الشرط وقع عقيب الشرط اتفاقاً مثل ان يقول لامرأته ان دخلت الدار فانت طالق ولاتصح اضافة الطلاق الاان يكون الحالف مالكا اويضيفه الى ملک آهـ (الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۴۲۰) و (الهداية ج ۲ ص ۳۲۴) ففي هذه الالفاظ اذا وجد الشرط انحلت وانتهت اليمين آهـ (الهداية ج ۲ ص ۳۲۴)

د دوهم سوال جواب : ته وايې چې ماطلاق ويلى دى او درې ښځې وايي چې يا تاقسم اخيستى دى ستا قول معتبر اوصحيح دى ولې چې اقرار په طلاق صحيح دى او د ښځو قول مردود دى اعتبار نه لري.

المرء مؤاخَذ باقراره ولكن يشترط فى الاقرار اولاًان يتم بالطوع و الرضى و ان يكون المُقِرّ عاقلاً بالغًا الخ (شرح المجلة لسليم باز - المادة ۷۹ ص ۵۳) و فى البحر الاقرار بالطلاق كاذباً يقع قضاءً لاديانةً آهـ و بمثله افتى الشيخ اسماعيل و العلامة الخير الرملى. (الفتاوى تنقيح الحامدية ج ۱ ص ۴۰) اى يشترط لغير الحدود و القصاص و مايطلع عليه الرجال شهادة رجلين او رجل وامرأتين سواء كان الحق مالاًاوغيرمال كالنكاح والطلاق والعتاق والوكالة والوصاية ونحوذلک مما ليس بمال (تبيين الحقايق ج ۵ ص ۱۵۱ ط ايج - ايم - سعيد)

نصاب الشهادة فى حقوق العباد رجلان او رجل وامرأتان سواء كانت تلک الحقوق مالاًاوغيره كنكاح وطلاق آهـ (شرح المجلة لسليم باز - المادة ۱۲۸۵ ص ۱۰۰۳) و (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج ۴ ص۴۱۳) و (البحر الرائق ج ۷ ص ۲۲) و (شرح المجلة للاتاسي ج ۵ ص ۲۰۲)

د دريم سوال جواب : كه طلاق واقع شي يعنې ته كورته داخل شي نو دوه صورتونه دي.

اول که تر دغه طلاق پس تا د خپلې ښځې سره دخول او جماع کړې وي نو اوس چې ته کور ته داخل شي دا ستا طلاق صریح او رجعي دی د عدت تیریدو دمخه رجوع کولای شې خپل اهل ته او که عدت تیر شي او رجوع و نشي بیا بائنه ګرځي نوې نکاح غواړي .

دوهم صورت دا دی که تا تر اوسه د خپل اهل سره دخول او جماع نه وي کړې او کور ته داخل شي نو ستا طلاق بائن دی نوې نکاح غواړي.

سئل : فی امرأة طلقها ز وجها قبل الدخول بها وقبل الخلوة بها فهل لاعدة علیها .

الجواب : نعم المسئلة فی القهستاني وغیره (تنقیح الحامدیة ج ۱ ص ۵۷) و قال فی الایضاح اذا قال انت طالق طالق ان دخلت الدار وهی غیر مدخول بها بانت بالاولی ولم تتعلق الثانیة آهـ (الکفایة علی الهدایة بهامش فتح القدیر ج ۳ ص ۳۹۳)

واذا طلق الرجل امرأته تطلیقة رجعیة او تطلیقتین فله ان یراجعها فی عدتها رضیت بذلک اولم ترض (الهدایة ج ۲ ص ۳۷۳ ط رشیدیه) و (الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۴۷۰) والرجعة ان یقول راجعتک او راجعت امرأتي... او یطأها او یقبّلها او یلمسها بشهوة او ینظر الی فرجها بشهوة وهذا عندنا آهـ (الهدایة ج ۲ ص ۳۷۳) و کما تثبت الرجعة بالقول تثبت بالفعل آهـ (الفتاوی الهندیة ج۱ ص ۴۶۹) فالصریح ...فهذا یقع به الطلاق الرجعي...فکان صریحاً وانه یعقب الرجعة بالنص آهـ (الهدایة ج ۲ ص ۳۳۸)

د غصې پر مهال په ابد سره د مقید طلاق څه حکم دی ؟

پوښتنه : څرنګه چې یوسړي په کورکې خوشکه کړې وه خپلې کور والاتـه یـې د خوشکې په جریان کې دغه الفاظ استعمال کړي وو چې یعنـي (پرمـا دې د ابـد لپـاره طلاقـه یـې) نـو ستاسـې د محتـرم حضـورڅخه هیلـه کیـږي چـې د امکان ترحده ددغې موضوع حل په لاس راکړئ . والسلام

(المستفتي : محمد کبیر)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملک العلام

په دغه صورت د طلاق کې چې په استفتاء کې ذکرشوی دی یـو طـلاق بـائن واقع کیږي ځکه چې ابد داسې وصف دی چې په طلاق کې مفید د زیادت او شدت ګرځي او هر هغه وصف چې مفید د زیادت او شدت وي په هغـه سره طلاق له رجعي څخه بائن ته اوړي لکه په فتح القدیرکې چې وایي :

الاصل انه اذا وصف الطلاق بما لایوصف به یلغـو الوصـف ویقـع رجعیـا نحـو طلاقا لایقع علیک اوعلی انـي بالخیـار وان کـان یوصـف بـه فامـا ان لا ینبئ عن زیادة فی اثره کقوله احسن الطلاق ... فیقع به رجعیًا ... او ینبئ کاَشدِهِ و اطولِهِ یقع به بائنًا (فتح القدیر ج ۳ ص ۳۹۰) و هکذا فی (الفقـه الاسـلامي ج ۷ ص ۳۷۸ ط دارالفکر)

و لو قال انت طلاق کل یوم او ابداً او طالق الایام اوقال انت طالق الیوم وغداً او بعد غدٍ فهی واحدة .

(الفتاوی الهندیة ج۱ ص ۳۲۷ ط دارالاشاعة قندهار)

او طلاق په حال د غضب کې دري قسمه دی که غضب داسې درجې ته رسولی ؤ چې په خپلو اقوالو او افعالو هیڅ نه پوهیده یا داسې درجې ته رسیدلی ؤ چې په اقوالو او افعالو کې یې خلل او اضطراب پیدا شوی ؤ نو طلاق یې نه واقع کیږي او که په خپلو اقوالو او افعالو پوهیده او خلل او اضطراب هم نه ؤ پکې نو بیا طلاق واقع کیږي .

یفهم مماذکر ان طلاق الغضبان لایقع اذا اشتد الغضب بان وصل الی درجة لایدري فیها مایقول ویفعل ولایقصده او وصل به الغضب الی درجة یغلب علیه فیها الخلل والاضطراب فی اقواله وافعاله وهذه حالة نادرة فان ظل الشخص فی حالة وعي و ادراک لمایقول فیقع طلاقه وهذا هوالغالب فی کل طلاق الخ (الفقه الاسلامي ج ۷ ص ۳۵۲ ط دارالفکر) و هکذا فی (ردالمحتارج۲ ص ۴۲۳ ط رشیدیه)

واللہ اعلم و علمه اکمل و اتم

مولوي احمدنوري عفی عنه
مولوي ندامحمدالحقاني

مولوي نورمحمد (ثاقب) رئیس عمومي
دارالافتاء مرکزي امارت اسلامي افغانستان

له نکاح ردولو وروسته طلاق نه وقع کیږي

پوښتنه : محترما ! زه خپل یو سوال و تاسو محترم ته وړاندې کوم هیله ده چې شرعي حل ددې سوال راته وکړئ : دوه ورونه دي یو مشر دی یو کشر، کشر ورور پر کور نسته مشر ورور کوزده ور وکړه نکاح یې وترله لس یا پنځلس ورځی بعد کشر ورور راغی خبر سو کشر ورور وویل ولې مو زما بې مصلحته دا کار کړی دی دا زه نه کوم دا خبره دې کشر په مابنام کې وکړله آیا په دې خبره دا ښځه دده د نکاح څخه ووتله که نه ؟ په سهار یې بیا دا خبرې کولې مشر ورور وواهه نو په دا و هلوکې یې د درده وویل چې په ثلاثه او کلما پر ما طلاقه ده آیا دا ښځه واپس و ده ته روا کیږی که یا چې نکاح وترې ؟ آیا ددې اولې خبرې ته اعتبار دی او که دوهمې خبرې ته ؟

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجواب حامداً ومصلیاً

که چېرې موضوع دغسې وي لکه تاسو چې لیکلې ده او کشر ورور چې په خپله نکاح خبر شوی وي او دغه کشر ورور بالغ هم وي سمدستي یې انکار کړی وي نو دا نکاح صحیح نه ده او همدارنګه یې طلاق نه دی واقع شوی ولې چې طلاق خپلې ښځې ته ورکول کیږي او دا ښځه ددې خپله شوې نه ده ، نو د آینده لپاره که ښځه او میړه دواړه په نکاح راضي وو او اجازه یې وکړه او نوې نکاح یې وترله نکاح یې صحیح کیږي او که چېرې آینده هم میړه ناراضه ؤ یا ښځه (بالغه) ناراضه وه نو نوې نکاح هم نه صحیح کیږی .

(کل تصرف صدر منه) ای من الفضولی تملیکاً کان کبیع و تزویج او اسقاطاً کطلاق و اعتاق (و له مجیز) ... انعقد مو قوفا (الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج ۴ ص ۱۵۱) و هکذا فی (الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۲۹۹)

الزواج الموقوف مع كونه صحيحا لا يترتب عليه ایّ اثر من آثار الزواج قبل اجازته ممن له حق الاجازة (الفقه الاسلامی ج ۷ ص ۱۱۵ ط دارالفكر) و هكذا فی (فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ۷ ص ۱۳۷)

و اما شرطه ای الطلاق على الخصوص فشيئان احد هما قيام القيد فی المرأة نكاح اوعدة الخ (الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۳۴۸) و هكذا فی (الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج ۲ ص ۴۵۲)

والله تعالٰی اعلم

فصل فی الطلاق قبل الدخول

په طلاق ثلاثه کې مدخوله او نامدخوله دواړه سره برابرې دي

پوښتنه : يو څوکسان و وايي پر مونږ خپلې مايني طلاقې دي نو هغه ښځې چې قبل الدخول وي او هغه ښځې چې بعدالدخول وي فرق لري کنه يعنې هغه ښځې چې قبل الدخول وي هغه هم تحليل غواړي او کنه ؟

(رياست امربالمعروف و نهی عن المنكر)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملک العلام :

کله چې يو څوك خپلې ښځې ته دري طلاقه ورکړي په لفظ واحد سره هغه ښځه مدخول بها وي او که نه وي نو حرمت غليظه واقع کيږي او تحليل ته په زوج ثاني سره ضرورت لري په دې حکم کې د مدخول بها او غير مدخول بها هيڅ فرق نشته .

قال (ای المحقق ابن الهمام) فی اخر باب الرجعة لافرق فی ذلك ای اشتراط المحلل بین کون المطلقة مدخولا بها او لالصریح اطلاق النص و قد وقع فی بعض الکتب ان غیر المدخول بها تحل بلا زوج و هو زلة عظیمة مصادمة للنص و الاجماع لایحل لمسلم رآه ان ینقله فضلا عن ان یعتبره ... و لایخفی ان مثله مما لایسوغ الاجتهاد فیه لفوات شرطه من عدم مخالفة الکتاب و الاجماع نعوذ بالله من الزیغ والضلال والامرفیه من ضروریات الدین لایبعداکفارمخالفه (ردالمحتار ج ۲ ص ۴۹۳ ط رشیدیه) و ما نقل عن المشکلات انه (ای طلاق غیر المدخول بها ثلاثا) لایقع لنزول الایة فی الموطوءة باطل محض منشاه الغفلة الخ (الدرالمنتقی بهامش مجمع الانهر ج ۱ ص ۳۹۹) و هکذا فی (مجمع الانهر ج ۱ ص ۴۰۰)

خو د مدخول بها او غیر مدخول بها د طلاق فرق دا دی چې په مدخول بها کې که په یو لفظ درې طلاقه ورکړي او که په متعددو الفاظو نو حرمت غلیظه واقع کیږي او په غیر مدخول بها کې که په یو لفظ درې طلاقه ورکړي حرمت غلیظه راځي او که متعدد الفاظ وي نو اول طلاق واقع کیږي نه دوهم او دریم لکه طالق ، طالق ، طالق یا نور داسی الفاظ .

و ان فرق ... بانت بالاولی ... و لم تقع الثانیة بخلاف الموطوءة حیث یقع الکل (الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج ۲ ص ۴۹۴ ط رشیدیه) و هکذا فی (مجمع الانهر و الدرالمنتقی بهامش مجموع الانهر ج ۱ ص ۴۰۰)

واللہ تعالٰی اعلم

له واده مخکې دوه طلاقه ورکول

پوښتنه : و حضور ته د علماء کرامو د ریاست د دارالافتاء !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاتهُ .

و بعد : څرنګه چې مې پورته عرض وکړی مونږ خپلې لونې تبدیل (مُخې) کړې دي چې د دوی لور زما زوی ته ناسته ده ولې دوی زما لور طلاقه کړې ده او طلاق نامه یې نه ده ورکړې ، مونږ ته معلومات نه کیږي چې په دغه الفاظو طلاق واقع کیږي چې : (پر ما طلاق پر ما طلاق بجای خواهرم باشد) د مهربانۍ له مخې د شرعې لار ښوونه را وکړئ چې زمونږ غاړې بندې نسي او دغه ستاسې د فتوی له مخې مونږ په ایران کې رفتار وکوو ولې چې هلته په شریعت چندانې څوك نه پوهیږي او دا څلور ورځې کیږي چې زه د همدې کار لپاره د ایران څخه راغلی یم ؟

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب حامداً ومصلیاً

په شریعت مقدّس کې د طلاق نامې لیکل او ورکول شرط نه دي بلکه په ژبه د طلاق ویل هم کفایت کوي او طلاق پرې واقع کیږي نو ستا لور چې واده شوې نه ده یعنې غیر مدخول بها ده او دوه واره لفظ د طلاق ورته ویل شوی دی او بیا یې هغه درېم لفظ ورته ویلی دی نو دغه ستا لور په یوه بائن طلاق طلاقه ده او درې طلاقه نه واقع کیږي او عدت هم نه غواړي نو که چېرې دواړه طرفه یعنې زوم او ستا لور دواړه په نکاح راضي وو نو نوې نکاح دې وکړي او خپله ښځه دې واده کړي ، دغه ستا لور که بالغه وي د هغې رضاء په دغه نکاح کې شرط ده که د هغې رضاء نه وه نو نکاح به نه ور نوې کوئ بیا یې بل چا ته په نکاح ورکړئ .

قال لزوجته غیر المدخول بها انت طالق ثلاثًا و قعن و ان فرق ... بانت بالاولی لاالی عدة و لم تقع الثانیة (الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج ۲ ص۴۹۴) و هکذا فی (فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۹ ص ۳۷۳) و (مجمع الانهر ج ۱ ص ۳۹۹ و ۴۰۰) و (الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۳۷۳) و رُکنه ای الطلاق لفظ مخصوص خال عن الاستثناء.

(الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج ۲ ص ۴۵۳)

بابٌ لایُنْکِحُ الابُ و غیرُه البکرَ و الثیّبَ الاّبرضاها حدثنا معاذبن فضالة ...ان النبی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ قال لاتنکح الایّم حتی تستأمر و لاتنکح البکر حتی تستأذن - الحدیث (صحیح البخاری ج ۲ ص ۷۷۱)

(**نوټ**) که چېرې دغه ښځه واده شوې وه یعنې مدخول بهاوه او دغه الفاظ ورته ویل شوې وو نو بیا دغه ښځه په درې طلاقو طلاقه ده او په دغه دریم لفظ هم طلاق واقع کیږي قضاءً ولې چې دغه لفظ د کنایاتو څخه دی او حالت د مذاکرې د طلاق دی او که چېرې دی و وایي چې په دغه لفظ کې زما نیت د طلاق نه ؤ هم به قاضي د ده دغه خبره نه منې ، البته که خبرې په قاضي پورې اړه نه درلوده او دعوی نه وه نو دیانةً به دده او د الله تعالٰی تر مابین معامله وي که یې واقعًا نیت د طلاق نه ؤ نو خبره یې صحیح ده یوازې دې نکاح نوې کړي .

او په دغه صورت کې چې ښځه واده شوې او مدخول بها وي او په دریم لفظ کې یې هم نیت د طلاق ؤ بیا تر هغه وخته اوّل میږه ته نه رواکیږي تر څو چې بل میږه وکړي او هغه دخول وکړي د ټولو شرائطو مطابق .

فالکنایات لاتطلق بها قضاء الاّبنیة او دلالة الحال وهی حالة مذاکرة الطلاق او الغضب (الدرالمختار) (قوله قضاءً) قید به لانه لایقع دیانة بدون النیة و لو وجدت دلالة الحال فوقوعه بواحد من النیة او دلالة الحال انما هو فی القضاء فقط کما هو صریح البحر و غیره (قوله او دلالة الحال) المراد بها الحالة الظاهرة المفیدة لمقصوده و منها تقدم ذکر الطلاق الخ (ردالمحتارج ۲ ص ۵۰۲) و هکذا فی (فتاوی قاضیخان بهامش الهندیة ج ۱ ص ۴۲۷) و (مجمع الانهر ج ۱ ص ۴۰۲) و ان کان الطلاق ثلاثا فی الحرة و ثنتین فی الامة لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره نکاحًا صحیحًا و یدخل بها ثم یطلقها او یموت عنها کذا فی الهدایة (الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۴۷۳)

واللہ تعالٰی اعلم

باب تعليق الطلاق

كه بيا زما ورور دغه خبره وكړه دغه ښځه پر ما خور ده

پوښتنه : محترمو علماء كرامو د دارالافتاء ته !

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

تاسو محترمو څخه داسې شرعي پوښتنه لرم : عبدالجبار د حاجي امان الله زوی د خپلې ښځې په باب مور ته داسې و ويل كه بيا دغه زما ورور دغه خبره وكړه دغه ښځه پر ما خور ده دريې واريې يې وويل دغه دريې واره يې تيپ كړي دي وروسته يې د يو عالم څخه پوښتنه كړې وه هغه ورته ويلي ؤ چې نه ده طلاقه د نورو علماؤ څخه يې پوښتنه كړې وه هغوې ته يې داسې ويلي ؤ چې ما خپلې ښځې ته دريې واره طلاق وركړی دی د حقيقت تفصيل يې ورته كړی نه ؤ نو علماؤ ورته ويلي وو چې طلاقه ده كه تاسو موږ ته شرعي حكم راكړئ خير به مونصيب شي. والسلام

(المستفتي : مولوي ګل محمد)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملک الوهاب :

هر چې قول اول د عبدالجبار دی په باب د خپلې ښځې كې هغه تعليق دی ، بالفعل طلاق نه دی او هر چې اِخبار د عبدالجبار دی د طلاق څخه په دوهم وار نورو علماؤ ته او حال دا دی چې ده طلاق نه ده وركړی هغه اِخبار كاذب دی او حكم د اخبار كاذب په باب د طلاق كې دا دی چې طلاق ددغه مخبر كاذب ديانةً واقع نه دی يعنې چې د ښځې لخواه دعوه قاضي ته و نه شي او ښځه ددغه سړي مزاحمه و نه ګرځي د دغه سړي او د ښځې په مابين كې

معاش جائز دی دیانةً مسئولیت نشته طلاق واقع نه دی او که چېرې ښځه ددغه زوج مزاحمه وګرزي مرافعه قاضي ته وکړي قاضي به حکم په فرقت کوي لکه په البحرالرائق ج ۳ ص ۲۴۶ کې راغلي :

لواکره علی ان یقر بالطلاق فاقر لایقع کما لواقر بالطلاق هازلاً وکاذبًا کذا فی الخانیة من الاکراه ومراده بعدم الوقوع فی المشبه به عدمه دیانة کما فی فتح القدیر و لو اقر بالطلاق وهوکاذب وقع فی القضاء آهـ و صرح فی البزازیة بان له فی الدیانة اِمساکها الخ و هکذا فی (ردالمحتار۲ ص۴۵۹) و (الفتاوی الکاملیة ص ۲۲)

والله اعلم وعلمه اتم

مولوي نورمحمد (ثاقب) رئیس دارالافتاء
مرکزي دولت اسلامي افغانستان

مولوي محمداخلاص (برکتي)
مولوي عبدالحکیم عفی الله عنه
مولوي نداء محمد الحقاني
۱۳۷۵/۱۲/۱۱

که مې د فلاني سره خبرې وکړې نو ښځه راباندې طلاقه ده

پوښتنه : د مرکزي دارالافتاء د علماء کرامو حضور ته !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

مسئله : زید د څوکسانو په حضور کې دا اقرار کړی دی چې که ما د محمود سره خبرې وکړې نو پر ماباندې زمابښځه طلاقه ده او په دغه صورت کې محمود غائب او غیر حاضر ؤ او حال دا دی چې زید دغه الفاظ یو وار ویلي دي ، اوس سوال دا دی چې د مذکوره الفاظو د ویلوڅخه وروسته د زید لپاره یوه آسانه طریقه د حل پیدا سي چې زید د محمود سره خبرې وکړي او زید د تاوان څخه خلاص سي .

نوټ : او په مذکوره صورت کې که زید د مذکوره الفاظو د ویلو با وجود د محمود سره خبرې وکړې د زید پر ښځه طلاق واقع کیږي کنه ، او که واقع کیږي نوکوم طلاق واقع کیږي ؟ والسلام

(مستفتي : عبدالله)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب باسم ملهم الصواب :

په مذکوره صورت کې چونکه زید دخپلې زوجې طلاق د محمود سره پرخبرو کولو باندې معلق کړی دی نو هر وخت چې زید د محمود سره خبرې وکړي یو طلاق واقع کیږي مګر دغه طلاق ته طلاق رجعي ویل کیږي او په طلاق رجعي کې زوج خپلې زوجې ته بیرته رجوع کولای شي تر هغه وخته چې د زوجې عدت تیر شوی نه وي او دوهم او دریم یا نور وارونه چې زید د محمود سره خبرې وکړي بل طلاق نه واقع کیږي او د خبرو کولوڅخه بغیر که فرضاً زید محمود ته لیک ور ولیږي یا یې څوک ور واستاوه چې محمود

ته داسې ووايه يا يې په ګوته سره محمود ته اشاره وکړه نو د زيد پر زوجې طلاق نه واقع کيږي.

الفاظ الشرط اِنْ و اذا و اذا ما وكل و كلما و متٰى و متٰى ما ففي هذه الالفاظ اذا وجد الشرط انحلت اليمين وانتهت لانها لاتقتضى العموم و التكرار فبوجود الفعل مرةً تم الشرط وانحلت اليمين فلا يتحقق الحنث بعده الاّفى كلما لانها توجب عموم الافعال (الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۴۱۵)

المطلب الثالث ، الحلف على الكلام ... و هو اما ان يكون مطلقًا او مؤقتًا اما المطلق فهو ان يحلف ان لا يكلم فلانا فيقع على الابد حتى لوكلمه و لو بالسلام فى اى وقت و في اى مكان و على اى حال حنث ... و لوحلف لايكلم فلانا فكتب اليه كتابًا فانتهى الكتاب اليه او ارسل اليه رسولا فبلغ الرسالة اليه او اشار اليه بالاصبع لايحنث لان هذا ليس بكلام و ذلك باتفاق الحنفيّة الخ (الفقه الاسلامي ج ۳ ص ۴۳۱ و ص ۴۳۳ ط دارالفكر دمشق و بيروت)

(و فيها) كلها (تنحل) اى تبطل (اليمين) ببطلان التعليق (اذا وجدالشرط مرةً الاّفى كلما) الخ (الدرالمختاربهامش رد المحتار ج ۲ ص ۵۴۲) الرجعة ابقاء النكاح على ماكان ما دامت فى العدة كذا فى التبيين (الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۴۶۸)

حكم طلاق الرجعي : اتفق الفقهاء على ان الطلاق الرجعي له آثار هى ...۲ - انتهاء رابطة الزوجية بانتهاء العدة...۳ – امكان المراجعة في العدة يملك المطلِّق مراجعة مطلّقته بالقول اتفاقًا وكذا بالفعل عندالحنفية والحنابلة والمالكية .(الفقه الاسلامي و ادلته ج ۷ ص ۴۱۹ و ۴۲۰ ط دارالفكر)

طلاق معلق بالشرط بوقت تحقق شرط واقع ہو جاتی ہے پس اگر طلاق صریح کو معلق کیا تھا تو بلانیت بعد تحقق شرط طلاق واقع ہو جاتی ہے الخ (۱) (فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۱۰ ص ۶۲)

په معلق طلاق کې که ښځه هغه کار پټ وکړي؟

پوښتنه : محترمه ! ما عبدالرشید خپلې ښځې ته داسې وویل (که ته د فلاني شخص کره ولاړې پر ما طلاقه یې پر ما طلاقه یې) دوه واره مي په مذکورو الفاظو و ویل بیا زما مور زما په پټه زما زوجه د یو مصلحت په خاطر د هغه شخص کورته بیولې وه اوبیرته ژرکورته راغلې وه نوپه دغه کیفیت زه خپلې مور اوکور والانه یم خبرکړی اته (۸) میاشتې وروسته زه خبر شوم اوس د خبر له وخت څخه ما تعلقات له کور والاسره ختم کړي دي ، عرض دا دی چې زما طلاقونه واقع کیږي که یا ؟ او په اتو میاشتو کې به البته زما دکور والاسره څه شیان راغلي وي آیا په هغه سره زما رجوع ثابتیږي او که د رجوع لپاره خبریدل په وقوع د طلاق او نیت د رجوع ضروري دي. والسلام

(المستفتي : عبدالرشید باشنده کراچي)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجواب حامداً و مصلیاً

محترم مستفتي صاحب ! دا چې تاخپلې زوجې ته وویل که ته د فلاني سړي کور ته لاړې نو ته پر ما طلاقه یې پر ما طلاقه یې دا ستا دواړه طلاقه صریح طلاقونه دي او معلّق دي په شرط پورې نوکوم وخت چې ستا زوجه تللې ده د

(۱) **ژباړه**: په شرط سره معلق طلاق په وخت د موجودیت د شرط کې واقع کیږي ، پس که صریح طلاق یې معلق کړی ؤ نو بې له نیته د شرط له وجود وروسته طلاق واقع کیږي .

هغه سړي کور ته نو طلاقونه دواړه واقع شوي دي ، دا چې تاسې اته (۸) میاشتې وروسته خبر شوي یاست نوکه ستا زوجه تر هغو اتو میاشتو د مخه حمل داره وه او په وخت د حمل کې که تاسې رجوع ورته کړې وي په یوسبب سره د اسبابو د رجوع نو رجعت دې صحیح دی او نوې نکاح نه غواړي ولې رجوع چې نیت غواړي هغه کنائي رجوع ده او صریح او فعلي رجوع نیت نه غواړي.

اوکه حمل داره نه وه نوکه د هغه وخت د ورتګ څخه د فلاني سړي کور ته د درې حیضونو د مخه تا رجوع کړې وي نو ستا رجوع صحیح ده نوې نکاح نه غواړي او که درې حیضونه پر دې تیر شوي وي او یا حمل داره وه حمل یې ایښی وي بیا نو رجوع نه ده صحیح او نوې نکاح غواړي.

نوټ : په آینده کې ته دیوه طلاق خاوند یې که دې چېرې یوطلاق ورکړ ددغې ښځې سره بیا ستانکاح صحت نلري ترڅو چې بل میړه ونکړي او د هغه څخه طلاق وانخلي او یا وفات نشي.

واذ اضافه الی الشرط وقع عقیب الشرط مثل ان یقول لامرأته ان دخلت الدار فانت طالق وهذا بالاتفاق لان الملک قائم فی الحال والظاهر بقاؤه الی وقت وجود الشرط... و لاتصح اضافة الطلاق الاّان یکون الحالف مالکا اویضیفه الی ملک آهـ

(الهدایة ج ۲ ص۳۲۴) و (الهندیة ج۱ ص ۴۲۰) و اذا طلق الرجل امرأته تطلیقة اوتطلقتین فله ان یراجعها فی عدتها رضیت بذلک او لم ترض لقوله تعالی: فَاَمْسِكُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ من غیرفصل (الهدایة ج ۲ ص ۳۷۳) و (الهندیة ج ۱ ص ۴۷۰) وکما تثبت الرجعة بالقول تثبت بالفعل و هو الوطء واللمس عن الشهوة کذا فی النهایة وکذا التقبیل عن الشهوة علی الفم بالاجماع ...

و ظاهر ما اطلقه فی العیون القبلة فی ای موضع کانت توجب حرمة المصاهرة و هوالصحیح کذا فی الجوهرة النیرة .
(الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۴۲۹) و (الهدایة ج ۲ ص ۳۷۳)

الفاظ الرجعة صریح وکنایة فالصریح ... و الکنایة انتِ عندي کما کنتِ و انت امرأتي فلایصیر مراجعا الاّبالنیة کذا فی فتح القدیر (الهندیة ج ۱ ص ۴۲۸)
و اذا انقطع الدم عن الحیضة الثالثة لعشرة ایام انقطعت الرجعة و ان لم تغتسل و ان انقطع لاقل من عشرة ایامٍ لم ینقطع الرجعة حتی تغتسل او یمضی علیها وقت صلاة کامل لان الحیض لامزید له علی العشرة فبمجرد الانقطاع خرجت من الحیض فانقضت العدة آهـ (الهدایة ج ۲ ص ۳۷۵)
فالصریح ... فهذا یقع به الطلاق الرجعي ... فکان صریحًا و انه یعقب الرجعة بالنص آهـ و لایفتقر الی النیة (الهدایة ج۲ ص ۳۳۸)

(قوله و للحامل وضعه) ای و عدة الحامل وضع الحمل لقوله تعالی: وَأُولَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَنْ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ اطلقها فشمل الحرة والامة الخ (البحر الرائق ج۴ ص ۱۳۳) فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتَّىٰ تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ ۗ الآیة والمراد الطلقة الثالثة الخ (الهدایة ج ۲ ص ۳۷۸)

له دریو معلقو طلاقونو څخه د بچ کیدو حیله

پوښتنه : یوسړی چې خپلې ښځې ته درې طلاقه په یوشرط سره ورکړي او د هغه کار څخه دغه سړی چاره هم نلري اوکه هغه کار واقع سي طلاق واقع کیږي ، اوس به دغه سړی څه کوي ؟ ځکه چې د کارڅخه هم چاره نلري اوکه یې وکړ بیا طلاق واقع کیږي. بینوا توجروا

والسلام

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الفتویٰ : په مذکوره صورت کې حیله اوځان خلاصول د شرط څخه دا دي چې دا سړی دې خپلې دغه منکوحې ته یوطلاق رجعي ورکړي او چې عدت یې تیر شو بیا دې هغه کار چې ده شرط ایښی دی هغه دې وکړي او وروسته دې بیا نوی عقد د نکاح پر دغې ښځې باندې وکړي نو هغه تعلیق اوشرط چې ؤ د هغه څخه دغه سړی خلاص شو بیا دغه ښځه نه پرې طلاقه کیږي .

فحیلة من علق الثلاث بدخول الدار ان یطلقها واحدة ثم بعد العدة تدخلها فتنحل الیمین فینکحها (الدرالمختار ج ۲ ص ۵۴۵) و هکذا فی (احسن الفتاوی ج ۵ ص ۱۵۷) و هکذا فی (عزیزالفتاوی ص ۵۰۲)

واللہ تعالی اعلم

که بیا په دې سرای کې اووسیدم نوښځه دې را باندې خور وي

پوښتنه : محمد اسمعیل با برادر خود درین عصر وشام گفتگوی کرده است از سرای برامد باهمرای زوجه خود به زوجه خود گفته است اگرپس به این سرای بماند زوجه من بجای خواهر من است!

(المستفتي : محمّد اسمعيل)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب :

محمد اسمعیل که زوجه خود را به این الفاظ نیت طلاق کرده باشد نزد وجود شرط یک طلاق بائن واقع میشود که محتاج بتجدید نکاح میباشد واگر نیت طلاق نکرده باشد طلاق واقع نمیشود و اگر درنیت اشتباهی باشد هم طلاق واقع نمیشود!

سوال: زید نے اپنی بیوی کو غصہ کی حالت میں بہ نیت طلاق کہا کہ تو مثل میری لڑکی اور مثل میری بہن کے ہے اس صورت میں کونسی طلاق اس کی زوجہ پر واقع ہوئی۔

الجواب: اگر ان الفاظ میں زید کی نیت طلاق کی تھی جیسا کہ سوال سے ظاہر ہے تو ایک طلاق بائنہ اس کی زوجہ پر واقع ہوئی ... (۱) وان نوی بانت علیّ مثل اُمّی اوکاُمّی الخ براً اوظهارا اوطلاقا صحت نيته ووقع مانواه لانه كناية -الدرالمختار باب

---

(۱) **ترجمه**: زید خپلې ښځې ته په غصه کې د طلاق په نیت وویل چې ته زما د لور اوخور په مثل یې په دې صورت کې دده پر ښځه کوم طلاق واقع کیږي؟

الجواب: که په دغو الفاظو د زید نیت د طلاق ؤ لکه له سوال څخه چې څرګند دی نو یو بائن طلاق دده پر ښځه واقع شو.

الظهار (فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۱۰ ص ۲۰۲) و (هکذا ج ۹ ص ۳۸۴)

سوال:... ان الفاظ کے نکلنے کے بعد اس کو جب نیت کا خیال ہوا تو شک پڑ گیا کہ نیت تھی یا نہیں؟

الجواب: قال فی الدرعلم انه حلف ولم یدر بطلاق اوغیره لغا کما شک اطلق ام لا (ج ۲ ص ۷۴۵) چونکہ صورت مسئولہ میں لفظ صریح نہیں بلکہ کنایہ محتاج نیت ہے اور نیت میں شک ہے اس لئے طلاق واقع نہ ہوگی(۱) (امدادالاحکام ج ۲ ص ۴۷۱)

و لوقال انتِ علیّ مثل امّی اوکامّی فان اراد الکرامة صُدّق و ان اراد الظهار فظهار وان الطلاق فواحدة بائنة وان لم یکن له نیة فلیس بشئ (المختار للفتوی ، و شرحه الاختیار لتعلیل المختار ج ۳ ص ۱۶۲)

فالکنایات لاتطلق بها قضاء الابنیة اودلالة الحال وهی حالة مذاکرة الطلاق اوالغضب (الدرالمختار)

(قوله قضاء) قید به لانه لایقع دیانة بدون النیة ولوجدت دلالة الحال فوقوعه بواحد من النیة او دلالة الحال انما هوفی القضاء فقط کما هو صریح البحر وغیره . (ردالمحتار ج ۲ ص ۵۰۲) واللہ تعالی اعلم

---

(۱) **سوال**: ... د دغوالفاظو ترخوله وتلو وروسته چې دده کله نیت ته خیال شو نو په شک کې شوچې نیت ؤ که نه ؟ **الجواب**: قال فی الدر ... چونکه په مسئوله صورت کې لفظ صریح نه بلکه کنایه محتاج نیت ته دی او په نیت کې شک دی ځکه طلاق نه واقع کیږي.

که د پلار کره لاړې نو پرما دري طلاقه يې

پوښتنه : د افغانستان اسلامي امارت د مرکزي دارالافتاء د رئيس حضور ته !
السلام عليكم و رحمة الله وبركاته

که يو څوک داسې الفاظ خپل ناموس ته ووايي که ته دپلار کورته لاړې په دې شرط ته پرما په دري طلاقو طلاقه يې دا فيصله څنګه کيږي ؟

والسلام

(المستفتي : محمد ظاهر)

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب :

د مذکورې استفتاء الفاظ چونکه د تعليق الفاظ دي نودغه ښځه چې ميړه ورته ويلي دي چې کله ته پلار کره لاړې پر ده په دري طلا قو طلا قه يې ، اوس هر وخت که دا ښځه د پلار کره لاړه پر ده په دري طلا قو طلا قيږي او دغه ميړه ته بيا نه رواکيږي څوترعدت وروسته بل ميړه و نکړي او هغه جماع ورسره و نکړي بيا که دغه دوهم ميړه مړ شو يا يې په خپله رضا او اختيار سره طلاقه کړه او عدت يې هم تير شو نو اول ميړه ته يې بيا نکاح روا کيږي او په مذکوره صورت کې تر بل ميړه وروسته که اول ميړه نکاح ورسره وکړه بيا دا ښځه د پلار کره لاړه طلاق پرې نه واقع کيږي .

واذا اضافه الى الشرط وقع عقيب الشرط اتفاقا مثل ان يقول لامرأته ان دخلت الدار فانت طالق (الفتاوى العالمكيرية المعروفة بالهندية ج ۱ ص ۴۲۰) و (الهداية ج ۲ ص ۳۶۴)

فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ والاجماع انعقد على ان الوطئ من الزوج الثاني شرط للحل (تفسير المظهري ج ۱ ص ۳۱۲) ففى

جميعها اذا وجد الشرط انتهت اليمين...فان قال ان دخلت الدار فانت طالق ثلاثا فدخلت الدارثم تزوجها ثم دخلت ثانيا لم تطلق لان التعليق قدانحل بوجود شرط الدخول مرة فی الملک ذکره القهستاني (الدر المنتقي فی شرح الملتقی بهامش مجمع الانهر ج ۱ ص ۴۱۸.)

چونکه ښځه د پلار له کوره چاره نلري نو په مذکوره صورت کې حیله دا ده چې که میړه خپلې ښځې ته یوطلاق ورکړي او تر عدت وروسته هغه ښځه د پلار کره لاړه شي نو دري طلاقه نه واقع کیږي بیرته که ښځه خوشحاله وه پخپله رضاء اواختیار یې د زاړه میړه سره نکاح کوله میړه ته روا کیږي .

فان قال لامرأته ان دخلت الدار فانت طالق ثلاثا فاراد ان تدخلها من غير ان يقع الثلاث فحيلته ان يطلقها واحدة ثم تدخلها بعدانقضاء العدة ثم يتزوجها فان دخلتها بعد ذلک لايقع شئ لانحلال اليمين (مجمع الانهر فی شرح ملتقی الابحر ج ۱ ص ۴۲۰) و (تنحل) اليمين (بعد) وجود (الشرط مطلقا) لكن ان وجد فی الملک طلقت وعتق و الا لا (الدر المختار بهامش ردالمحتار ج۲ ص ۵۴۴)

د معلق طلاق په صورت کې طلاق لازميږي که کفاره د يمين ؟

پوښتنه : من قال لغيره ان بعت لک الثوب فامرأته طالق فباع له الثوب افيه كفارة يمين ام وقوع الطلاق - بينوا توجروا.

(المستفتي : مولوي محمد حسن از رياست استيناف)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجواب والله الموفق للصواب

فقهاء كرام پرتعليق د طلاق اطلاق د يمين کوي لکن په وخت د حنث يعنې د وجود د شرط کې صرف طلاق واقع کيږي نه کفاره و بِعبارةٍ اُخْرىٰ د يمين بالطلاق په صورت د حنث کې طلاق واقع کيږي نه کفاره.

رجل قال اگر من هرگز کشت کنم بهذه القرية فامر أتى طلاق قالوا ان زرع فيها زرعًا او فاليزاً او قطنًا كان حانثًا الخ (فتاوى قاضيخان على هامش الهندية ج ۱ ص ۴۷۳ ط دارالاشاعة قندهار) رجل حلف بالفارسية وقال هرگاه كه من اين كاركنم فكذا- فهذه جملة الفاظ الفارسية هروقت وهرگاه وهرچه گاه و هر زمان وهمى و هميشه و هر بار فى واحدة منها يتكرر الحنث بتكرارالفعل فى قولهم وهوقوله هربار كما لوقال بالعربية كلما دخلت الدار فامرأته طالق فدخل الدار مرارا يتكرر الطلاق بتكرر الدخول وفيما سواها من الفاظ هرزمان و هرگاه لايتكرر الحنث بتكرار الفعل ولايحنث الامرة واحدة الخ (فتاوى قاضيخان على هامش الهندية ج ۱ ص ۴۷۳)

فقال ائمة المذاهب الاربعة يقع الطلاق المعلق متى وجد المعلق عليه سواء اكان فعلاً لاحد الزوجين ام كان امراً سماويًا وسواء اكان التعليق قسميًا وهو الحث على فعل شئ او تركه اوتاكيد الخبر ام شرطياً يقصد به حصول الجزاء عند حصول الشرط آهـ

(الفقه الاسلامي وادلته ج ۷ ص ۴۲۷ ط دار الفكر)

مولوي محمد اخلاص (بركتي)
مولوي ندا محمد (الحقاني)
مولوي نور محمد (ثاقب)
رئيس دار الافتاء مركزي
دولت اسلامي افغانستان



باب الظهار

پر ما ښځه خور او مور ده

پوښتنه : زمونږ یو اړیوال داسې ویلي دي چې پر ما باندې خپله ماینه خور او مور ده او دا خبره یې درې کرته تکرار کړې ده او بل ګشت یو اړیوال ترې پوښتنه کړې ده چې تا څنګه دا خبره کړې ده بیا یې داسې ورته ویلي دي چې ما په کلّما سره او ثلاثه سره دا خبره کړې ده مګر طلاق یې نه دی یاد کړی او د خور او مور کلمه کې د دې نفر د طلاق ثلاثه نیت ؤ.

مونږ په احترام هیله کوو چې مونږ ته مسئله راکړئ چې د ده د نکاح ټرلو لار را ته وښیئ چې د ده نکاح څنګه ټرل کیږي ، دا نفر حلاله یا دا چې څوک ورسره شپه تیره کړي نه منې ، که بله لاره وي مونږ ته د دې کاغذ پر شا معلومات او مسئله راکړئ مونږ ډیر سودایي یو چې څه وکړو او دایې هم ویلي دي چې دا ښځه زما په کور والله که راننوزي حالانکه ښځه هم په دغه کور کې ده او په مذکور لفظ کې یې هم نیت د ثلاثه طلاق ؤ

(ملاعبدالرحیم اخند نقشبندی)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب حامداً ومصلیاً

پر دغه مستفتي صاحب باندې هیڅ شی نه لازمیږي ، نه یې ښځه طلاقیږي او نه وربانديې حرامیږي ، هغه اول لفظ چې ده ویلی دی چې پر ما خپله ماینه خور او مور ده په هغه کې خو یې لفظ د تشبیه نه دی ذکر کړی نو هغه لفظ لغو دی که څه هم نیت یې د طلاق ؤ او دوهم لفظ یې دا ویلی دی چې دا ښځه زما په کور والله که راننوزي او ښځه حالاً په کور کې ده په دې جمله

کې داسی لفظ نشته چې دلالت و کړي پر طلاق او بل دا چې مراد ورځنې استقبال دی او طلاق په لفظ د استقبال نه واقع کیږي .

بخلاف ما لو حذف الکاف منها فانه یلغو کما مر ویأتی (الدرالمنتقی بهامش مجمع الانهر ج ۱ ص ۴۴۹) و هکذا فی (الدرالمختار و ردالمحتار ج ۲ ص ۲۲۲)

اگر کسی زوجۂ خود را خواہر یا مادر بگوید برزوجہ اش طلاق واقع نمیشود و نیز ظہار نمیشود البتہ چنان گفتن یعنی زوجۂ خود را خواہر گفتن مکروہ است الخ (فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۱۰ ص ۲۱۲ و ج ۱۰ ص ۲۰۴) و (امدادالمفتین ۲۸۷ و (عزیز الفتاوی ص ۴۹۳) و (امدادالفتاوی ج ۲ ص ۴۸۰) و (فتاوی محمودیة ج ۸ ص ۱۲۲)

سوال: زید نے اپنی منکوحہ کو مار پیٹ کر گھر سے نکال دیا اور یہ الفاظ کہے مجھ کو خدا کی قسم اس عورت کو میں کبھی نہیں رکھوں گا چنانچہ عرصہ چار سال کا ہو گیا کہ نان ونفقہ نہیں دیا، تو زید کے ایسے صاف الفاظ ہوتے ہوئے بھی کیا اس کی نیت بابت طلاق دریافت کی جاوے گی یا کیا؟

الجواب: اس صورت میں زید کی زوجہ پر طلاق واقع نہیں ہوئی اور نیت کی دریافت کرنے کی بھی ضرورت نہیں ہے کیونکہ صیغہ استقبال میں اگر صریح الفاظ طلاق کے ساتھ بھی تکلم کرلے تو اس سے طلاق واقع نہیں ہوتی الخ۔ کذا فی العالمگیریۃ (۱) (فتاوی دارالعلوم دیوبند: ۹/ ۴۷)

---

(۱) **ترجمه**: **سوال**: زید خپله ښځه ووهله له کوره یې وایستله او داسې یې وویل زما دې په خدای قسم وي دغه ښځه به زه هیڅکله ونه ساتم چنانچه څلور کاله به کیږي چې نان او نفقه یې نه دي ورکړي نو د زید دداسې صفا الفاظو سره سره به آیا دده د نیت د طلاق په اړه پوښتنه هم ورځینې کیږي که څنګه؟

جواب: په دې صورت کې د زید پر ښځه طلاق واقع نه شو او د نیت د پوښتلو هم ضرورت نشته ځکه چې د استقبال په صیغه کې که په ښکاره د طلاق په الفاظو هم تکلم وکړي نو په دې سره طلاق نه واقع کیږي .

بخلاف قوله (کنم) لأنه استقبال فلم یکن تحقیقًا بالتشکیک وفی المحیط لوقال بالعربیة أُطَلِّق لایکون طلاقًا إلا إذا غلب استعماله للحال فیکون طلاقًا (الفتاوی العالمکیریة المعروفة بالهندیة ج ۱ ص ۳۸۴ ط مکتبة ماجدیة) واللہ تعالی اعلم

پرما ښځه خور او مور ده په حال د غضب کې ویل

پوښتنه: که یوڅوك ووایي چې زما ښځه پر ما خور او مور ده او دی په حالت کې د غضب وي نو د دغه ښځې حکم څه دی؟

جواب: چې یوڅوك ووایي زما ښځه پرما خور او مور ده په دی سره نه طلاق واقع کیږي نه ظهار که څه هم نیت یې د طلاق وي چې دامسئله صراحةً فقهاؤپه خپلو فتاواؤ کې لیکلې ده البته د الفظ ویل مکروه دي.

هنا الفاظ انتِ اُمّی مثل اُمّی کاُمّی حرام کظهر اُمّی ففی انتِ اُمّی لایکون مظاهراً و ینبغی ان یکون مکروهًا فقد صرحوا بان قوله لزوجته یا اخیة مکروه (فتح القدیر ج ۴ ص ۹۰)

(والا) ینوشیئا او حذف الکاف (لغا) وتعین الادنی ای البر یعنی الکرامة ویکره قوله انت امی و یاابنتی ویا اختی ونحوه (الدرالمختار) (قوله او حذف الکاف) بان قال انت امی ومن بعض الظن جعله من باب زید اسد، در منتقی عن القهستانی قلت و یدل علیه مانذکره عن الفتح من انه لابد من التصریح بالاداة

(ردالمحتار ج ۲ ص ۲۲۲) بخلاف مالو حذف الکاف منها فانه یلغو کما مرّ و یاتي (الدرالمنتقی بهامش مجمع الانهر ج ۱ ص ۴۴۹) لوقال لها انت امی لایکون مظاهراً و ینبغي ان یکون مکروهاً و مثله ان یقول یا ابنتي و یا اختي و نحوه. (الفتاوٰی الهندیة ج ۱ ص ۵۰۷)

اگر کسی زوجۂ خود را خواہر یا مادر بگوید بر زوجہ اش طلاق واقع نمی شود ونیز ظہار نمی شود البتہ چنان گفتن یعنی زوجہ خود را خواہر گفتن مکروہ است (فتاوی دارالعلوم دیو بند ج ۱۰ص ۲۱۲) و ھکذا ج ۱۰ ص ۲۰۴) و (امداد المفتین ص ۲۸۷) و (عزیز الفتاوی ص ۴۹۳) و (امداد الفتاوی ج ۲ ص ۴۸۰) و (فتاوی محمودیہ ج ۸ ص ۱۲۲)

سوال : دغه مذکور لفظ په عرف کې د طلاق او حرمت لپاره استعمالیږي او په حالت د غضب کې استعمالیږي نو باید دا طلاق صریح شي ، نیت وي اوکه نه وي باید طلاق واقع شي .

جواب : که څه هم استعمال یې د طلاق او د حرمت لپاره کیږي لکن بیا هم تعریف د صریح نه وربانده صادقیږي ولی چې د صریح په تعریف او بیان کې فقهاؤ لیکلی دي چې صریح هغه دی چې د کثرت استعمال په وجه داسې حد ته رسیدلی وي چې سامع ته هیڅ شك او شبهه پاته نشي لکن دا لفظ چې هر چا ویلی یا اوریدلی دی د هغه یقین پروقوع د طلاق نه وي بلکه شکمن شي او د علماؤ څخه پوښتنه کوي چې آیا د دغه لفظ ویونکي د زوجې حکم څه دی او بل داچې که یو څوك دغه لفظ په غیر حالت د غضب کې یا په حالت دخنداکې و وایي نو هیڅ څوك به دا نه و وایي چې دا طلاق دی او صریح هغه دی چې په هرحالت کې دسامع یقین وي په وقوع د طلاق لکه د لاندی عباراتو څخه چې معلومیږي :

فالصریح ما ظهرالمراد منه ظهوراً بیناً حتی صار مکشوف المراد بحیث یسبق الی فهم السامع بمجرد السماع حقیقةً کان او مجازاً ومنه الصرح للقصر لظهوره.

(تبيين الحقائق شرح كنزالدقائق ج ۳ ص ۳۹ ط ايچ - ايم - سعيد)
الصريح ما ظهر به المعنى المراد ظهوراً بيناً بسبب كثرة الاستعمال ... فالمعنى الصريح واضح بحيث لايحتاج السامع الى التامل فيه سواء استعمل اللفظ فى المعنى الحقيقى له اوفى غيره كالمجاز المشهور المتعارف مثل لااشرب من هذا الحوض اى من مائه الخ (اصول الفقه الاسلامى لوهبة الزحيلي ج ۱ ص ۳۰۸)

يفهم مما ذكر انه يشترط لايقاع الطلاق الصريح مايأتى...۴- ان لايكون مشكوكًا فى عدد الطلاق او فى لفظه الخ (الفقه الاسلامى و ادلته ج ۷ ص ۳۲۵ و ۳۲۲ ط دارالفكر)

سوال: په (عمدة القارى ج ۲۰ ص ۲۵۰) کې په لفظ د يا اختي کې ويلي دي: قال ابويوسف ان لم يكن له نية فهو تحريم وقال محمدبن الحسن هو ظهار اذا لم يكن له نية الخ او حال دا چې اداة د تشبيه هم نشته.
جواب: دغه علامه عيني رَحِمَهُ اللّٰهُ په (البناية شرح الهداية ج ۲ ص ۳۳۲) کې راوړي دي ولو قال انتِ اُمّي لايصير مظاهراً او همدغه د (البناية) نقل يې د نورو فقهاؤ د اقوالو سره هم مطابق دى او همدارنګه فقهاؤ ويلي دي چې هلته چې اداة د تشبيه نه وي د امام ابويوسف او امام ابوحنيفة رحمهما الله تعالى رأيه دا ده چې دا قول لغو دى.

وان لم تكن له نية او حذف الكاف كما فى الدر فليس بشئ لاحتمال الحمل على الكرامة وهذا عند ابى حنيفة و ابى يوسف وقال محمد يكون ظهاراً قال جمال الاسلام فى شرحه الصحيح قول ابى حنيفة وابى يوسف رحمهما الله واعتقده البرهانى والنسفى وغيرهما (اللباب في شرح الكتاب للميداني، بهامش الجوهرة النيّرة ج ۲ ص ۸۴) او هغه اختلاف چې په (عمدة القاري

کـې راغلی دی هغه اختلاف په (الجوهرة النيرة) کې د انتِ علیّ مثل اُمّي او کاُمّي د لفظ په متعلق راغلی دی.

(الجوهرة النيّرة شرح مختصر القدوري ج ۲ ص ۸۴)

والله تعالٰی اعلم.

باب العدة

غيرمدخول بها به عدة څنګه تيروي؟
اودا په حکم د باکرې کې ده که د ثيبې؟

پوښتنه: که چېرې يوه نابالغه يابالغه انجلۍ په داسې حال کې چې نه واده سوې وي او نه خاوند خلوت ورسره کړی وي طلاقه ياکونډه سي آيا پر دغه مذکورې انجلۍ باندې عدة سته که يا؟

او آيا دا په حکم د ثيبې کې ده او که په حکم د باکرې کې والسلام

(محمد يونس)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الفتوی بعون الله تعالی

ښځه چې بالغه وي او يا حد د بلوغ ته رسيدلې وي چې د (۹) کالو وي که چېرې وطې او يا خلوة صحيحه ورسره وشي بيا که خپل خاوند يې طلاقه کړي يا کونډه شي عدة پرې لازم دی او که کوچنۍ وه او يا لويه وه خو وطې او يا خلوت صحيحه ورسره نه ؤ شوی که طلاقه شوه عدة نه غواړي او چې کونډه شي عدة غواړي.

او بکره هغه ښځه ده چې خپل خاوند جماع نه وي ورسره کړي او نه يې خلوت صحيحه ورسره کړی وي اوکه واده هم شي چې جماع يا خلوة صحيحه نه وي

ورسره شوی حقیقةً و حکمًا بکره ده اوکه جماع ورسره وشي بیا ثیّبه ده او په مذکوره استفتاء کې دغه انجونې حقیقةً او حکمًا بکرې دي .

و قدر بتسع و به یفتی (الدرالمختاربهامش ردالمحتار ج۲ ص ۲۹۵) و اذا خلا الرجل بامرأته ولیس هناک مانع من الوطی ثم طلقها فلها کمال المهر ... و علیها العدة فی جمیع هذه المسائل آهـ (الهدایة ج ۲ ص ۳۰۵ و ۳۰۶ ط رشیدیه)

و من فصل الموانع ذکر منها الرتق ... او صغیرة لاتطیق الجِماع (فتح القدیر ج ۳ ص ۲۱۷) و اذا طلق الرجل امرأته طلاقًا بائنًا او رجعیًا ... فعدتها ثلاثة اقراءٍ

لقوله تعالی: وَالْمُطَلَّقٰتُ یَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْٓءٍ ؕ (الهدایة ج ۲ ص ۴۰۱)

و عدة الحرة فی الوفاة اربعة اشهر و عشر لقوله تعالی: وَیَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا یَّتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّعَشْرًا ۚ (الهدایة ج ۲ ص ۴۰۲)

و لاتصح خلوة الغلام الذی لایجامع مثله ولاالخلوة بصغیرة لایجامع مثلها (الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۳۰۵)

تجب العدة فی الجملة باحد امرین طلاق اوموت آهـ تجب العدة بالفرقة بعد الدخول ... او بعد الخلوة الصحیحة .

(الفقه الاسلامي ج ۷ ص ۵۹۴ و ۵۹۵ ط دارالفکر)

و لاعدة قبل الدخول بنص القرآن کما اوضحتُ و تجب العدة کذلک بالاتفاق بعد وفاة الزوج في العقد الصحیح و لوقبل الدخول او الوطء او کانت الزوجة صغیرة او زوجة صبی و لو رضیعًا ... لِاطلاق الآیات القرآنیة مثل وَالَّذِیْنَ یُتَوَفَّوْنَ مِنْکُمْ وَیَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا آهـ (الفقه الاسلامي ج ۷ ص ۵۹۲)

(من زالت بكارتها بوثبة) ... بكر حقيقةً كتفريق بجبٍ او عنة اوطلاق او موت بعدخلوة قبل وطء آهـ (الدرالمختار) و فهم من قوله بعدخلوة انه لو وقع الطلاق او الموت قبل الخلوة كانت بكراً حقيقةً و حكماً بالاولى وقيد بقوله قبل وطء لانها بعد الوطء ثيب حقيقةً و حكمًا (ردالمحتار مع الدرالمختار ج ۲ ص ۳۲۷ و ۳۲۸)

آیا عدة د ښځې د رحم د پاکۍ لپاره ده او که د خاوند د احترام پخاطر ؟

پوښتنه : عدة چې پرښځې باندې ده چې کونډه سي يا طلاقه سي مدخول بها وي که غيرمدخول بها وي آيا دغه عدة د خپل رحم د پاکولو لپاره ده او که د زوج د تعظيم لپاره ده. والسلام

(محمد يونس)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب و منه الصدق و الصواب

کونډه چې حامله نه وي ، مدخول بها وي او که غيرمدخول بها د هغې عدة لپاره د اظهار د غم او افسوس او رعايت د حق د ميړه ده او پر وجه د فوت د نعمت ده چې نکاح ده نه لپاره د براءة الرحم او هغه ښځه چې کونډه شي که خلوت صحيحه او دخول نه وي پرې شوی پر هغې عدة شته خو پروجه د فوت کېدو د نعمت چې نکاح ده او پاکوالی د رحم هم مقصود دی او حامله ښځه که کونډه شي او که طلاقه انتهاء د عدة يې په وضع د حمل ده په هغه کې مقصود براءة الرحم دی.

فهوعدة الوفاة وسبب وجوبها الوفاة قال الله تعالى: وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَ يَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا يَّتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّعَشْرًا وانها تجب لاظهار الحزن بفوت نعمة النكاح ... فتجب هذه العدة على المتوفى عنها زوجها سواء كانت مدخولابها اوغيرمدخول بها الخ (بدائع الصنائع ج ۳ ص ۱۹۲)

(قوله ودخل بها) هو قيد لغيرالمتوفى عنها لما مر ان عدة الوفاة لايشترط لها الدخول (ردالمحتار ج ۲ ص ۲۵۲)

و فى فرقه الوفاة : يراد من العدة تذكر نعمة الزواج و رعاية حق الزوج ... وابداء وفاء الزوجة لزوجها (الفقه الاسلامي ج ۷ ص ۵۹۴) و عدة الحرة فى الوفاة اربعة اشهر و عشرة ايام سواء كانت مدخولابها او لا الخ (فتح القدير ج ۴ ص ۱۴۱)

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنٰتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ مِنْ قَبْلِ اَنْ تَمَسُّوْهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّوْنَهَا ۚ ولأن وجوبها بطريق استبراء الرحم على ما بينا والحاجة الى الاستبراء بعد الدخول لاقبله الاان الخلوة الصحيحة في النكاح الصحيح اقيمت مقام الدخول فى وجوب العدة الخ (بدائع الصنائع ج ۳ص ۱۹۱) اما عدة الاقراء فلوجوبها اسباب منها الفرقة فى النكاح الصحيح سواء كانت بطلاق او بغير طلاق وانما تجب هذه العدة لإستبراء الرحم ... وشرط وجوبها الدخول او ما يجري مجرى الدخول وهوالخلوة الصحيحة في النكاح الصحيح الخ (بدائع الصنائع ج ۳ ص ۱۹۱)

ثم كونها تجب التعرف لاينفى ان تجب لغيره ايضًا وقد افاد المصنف فيماسيأتي انها ايضًا تجب لقضاء حق النكاح باظهار الاسف عليه فقد يجتمعان (فتح القدير ج ۴ ص ۱۳۲) و اذا طلق الرجل امرأته طلاقاً بائنا

او رجعیا...لان العدة وجبت للتعرف عن برائة الرحم فی الفرقة الطاریة علی النکاح (الهدایة ج ۲ ص ۴۰۱)

ثم لایخفی ان سبب العدة ماخوذ منه تاکده بالدخول اومایقوم مقامه.
(فتح القدیر ج ۴ ص ۱۳۲)

و فی الخزانة : اربع من النساء لاعدة علیهن : المطلقة قبل الدخول الخ
(الفتاوی التاتارخانیة ج ۴ ص ۵۷)

والاصل فیه قوله تعالی: وَاُولَاتُ الْاَحْمَالِ اَجَلُهُنَّ اَنْ یَّضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ... و هذه العدة انما تجب لئلایصیر الزوج ساقیاً مائه زرع غیره.
(بدائع الصنائع ج ۳ ص ۱۹۲)

(وان کانت حاملا فعدتها ان تضع حملها) لِاِطلاق قوله تعالی: وَاُولَاتُ الْاَحْمَالِ اَجَلُهُنَّ اَنْ یَّضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ط (الهدایة ج ۲ ص ۴۰۲) و ان کانت ای المتوفی عنها حاملاً فعدتها ان تضع...لاطلاق قوله تعالی: وَاُولَاتُ الْاَحْمَالِ اَجَلُهُنَّ اَنْ یَّضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ط (فتح القدیر ج ۴ ص ۱۴۱) عدة الحامل تجب بسبب الموت او الطلاق و تنتهي بوضع الحمل اتفاقًا لقوله تعالی: وَاُولَاتُ الْاَحْمَالِ الخ... ولِاَنّ براءة الرحم لاتحصل فی الحامل کما هو واضح الابوضع الحمل (الفقه الاسلامي ج ۷ ص ۲۰۱)

باب الحضانة

آیا ناسکه ورور ته د خویندو د تربیې حق شته او که نه؟

پوښتنه : د اسلام مبین دین څه حکم فرمایي په دې مسئله کې مثلاً زید دوې ښځې لري له یوې ښځې څخه صرف اناث اولاد لري اوله هغې بلې ښځې څخه ذکور او اناث لري ، زید وفات سو آیا دغه میریزی ورور د هغوانجونو چې دده د مورڅخه نه دي دا حق لري چې دغه میریزی خویندې په خپله تربیه کې راولي او کنه ؟ په مذکوره انجونوکې یوه بالغه او دري صغیرانې دي او مور یې بل میړه هم نه دی کړی اوکه یې خپله مور.

سره له دې چې د ساتنې هیڅوک او هیڅ ذریعه هم نلري ، که مدلل او مفسر جواب ددین په رڼاکې راکړئ. فاجرکم علی الله

(المستفتي : محمدطاهر قریه ملا کوچی)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الفتوی :

په مذکور صورت کې دغه ورور کولای شي چې دغه یوه بالغه خور چې دده دمور څخه هم نه ده د خپل ځان سره کړي په دې شرط چې دغه ورور به مفسد نه وي بلکه یو صالح او عادل ورور به وي ځکه چې دغه انجلۍ لویه شوې ده او هغه نورې انجونې به تر وخت د لوی والي یعنی تربلوغ پورې د خپلې مور سره وي او کله چې لویانې شولې بیا به ددغه ورور سره کیږي.

والام و الجدة احق بالفتاة الصغیرة حتی تبلغ بالحیض اوالانزال اوالسن ... و اما بعدالبلوغ فتحتاج الی التحصین والحفظ والاب فیه اقوی واهدی (الفقه الاسلامي ج ۷ ص ۷۰۱)

و ان لم یکن لها اب و لاجد وکان لها اخ اوعم فله ان یضمها اذا لم یکن مفسداً اما اذا کان مفسدا فلایمکن من ذلک (تبیین الحقائق شرح کنزالدقائق ج ۳ ص ۲۹۸ ط ایج - ایم - سعید) و هکذا في (الدرالمختار و ردالمحتار ج۲ ص ۲۹۷ ط المکتبة الرشیدیة) و هکذا فی (منحة الخالق علی البحر الرائق ج ۴ ص ۱۷۱ ط المکتبة الماجدیة)

واللہ تعالی اعلم بالصواب

د یتیمو ماشومانو د تربیې حق د چا دی؟

پوښتنه : و حضور ته د جناب محترم رئیس صاحب دمرکزي دارالافتاء !

السلام علیکم ورحمة اللہ وبرکاته.

محترمه ! موږ دارنګه عرض لرو زموږ موضوع د میراث ده چې زموږ اکا محمد نام وفات کړی دی چې د میت یوه زوجه اویو زوی پاته دي چې زوی یې د اتو کالو دی او دوی لونې چې یوه یې د پنځو کالو او بله لور یې د درې کالو ده.

د میت زوجې بل زوج په نکاح کړی هغه شخص بیګانه دی چې وارث نه بلل کیږي او موږ یې وارثان یو غواړو چې خپل کوچنیان ځینې راولو چې دغه مذکورکوچنیان د میت و موږ ته نه راکوي. موږ په دغه موضوع کې مسئله غواړو چې زموږ حق کیږي او کنه ؟

د میت وارثان موجود په دې ډول او ترتیب دی څلور ورښرونه چې یونفر ابوبکر نامی د میت زوم دی چې ددغې کونډې لور ددغه ابوبکر نامي په نکاح کې ده .

مونږ ته په دغه حصه کې مسئله راکړئ چې وارث د کوچنیانو څوک دی او د چا حق دی ؟ که جواب راکړئ ډیره مهرباني به وي. والسلام

(المستفتي : ملا محمد اسلم)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الفتوی :

محترم مستفتي صاحب ! جواب د استفتاء داسې دی چې د کوچنیانو د مور حق د ساتنې ساقط شوی دی ځکه چې بیګانه سړی یې کړی دی چې د کوچنیانو له قریبانو څخه نه دی نو بیا حق د ساتنې یې د اناء دی چې د مور مور یې ده اوکه چېرې د کوچنیانو د مور مور نه وي بیا حق د ساتنې یې د بلي انا دی چې د پلار مور یې ده او که چېرې د پلار مور یې نه وي بیا حق د کوچنیانو د سکنی خورکیږي اوکه هغه نه وي بیا د کوچنیانو د خاله حق دی چې د مور خور یې ده او که چېرې هغه نه وي بیا حق د خورزې دی اوکه هغه نه وي بیا حق د عمې دی چې د پلار خور یې ده او داسې نورې ، باید ذکرکړو چې د غه ښځې حق داره دي د حضانت په دې شرط چې بیګانه سړی به یې نه وي کړی او که چېرې بیګانه یې وکړ بیا یې حق د حضانت ساقط دی او که چېرې د غه ښځې نه وي نو بیا حق د نارینه وو دی چې نیکه ګان دي اوکه چېرې نه وو بیا یې ورونه دي اوکه چېرې هغوی نه وو بیا د ورونو زامن دي اوکه چېرې هغوی نه وو بیا د اکا ګانو دی او که چېرې هغوی نه وو بیا حق د اکاګانو د زامنو دی او داسې نور چې ورپسې وي.

الاّم احق بحضانة الولد بعدالفرقة بطلاق او وفاةٍ بالاجماع الخ (الفقه الاسلامي وادلته ج ۷ ص ۲۸۱ ط دارالفکر) الام ثم ام الام ثم ام الاب ثم الاخوات ثم الخالات ثم بنات الاخت ثم بنات الاخ ثم العمات ثم العصبات آهـ ... والاجداد وان علوا ثم الاخوة وابناؤهم وان نزلوا فالاعمام ثم بنوهم عندالحنفيّة وغيرهم آهـ (الفقه الاسلامي ج۷ ص ۲۸۳) و كذا في (كنزالدقائق على هامش البحرالرائق ج ۴ ص ۱۲۷)

و کذا فی (مجمع الانهر ج۱ ص ۴۸۰) وکذا فی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۲۸۷ و ص ۲۹۲)
و من نکحت غیرمحرم سقط حقها ای من تزوج ممن له حق الحضانة بغیرمحرم للصغیر سقط حقها لمارووینا آهـ (تبیین الحقائق ج ۳ ص ۲۹۴ ط ایج- ایم- سعید)

واللہ تعالی اعلم بالصواب

د انجلۍ حق د حضانت د مور دی که د اکا ؟

پوښتنه : محترموعلماء کرامو ته د دارالافتاء !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

زه عبدالغني د عبدالرشید زوی فعلاً دکندهار اوسیدونکی یم زما دخورلور موجوده وخت تقریبًا د لسوکالو ده چې خور مې هم ژوندۍ ده ورته ددغې همشېرې دلوریعنې اکا ددې دعوه کوي چې انجلۍ زما حق کیږي زه یې بیایم زما خور وایي چې زه یې په لاس نه درکوم ستا حق نه کیږي ، آیا حق د حضانت د مور کیږي یا د اکا؟ او خور مې بل میړه هم نه دی کړی او انجلۍ اګر چې عمر بې لس کاله پوره دی خوتراوسه بلوغ ته نه ده رسیدلې او اکا د مذکورې انجلۍ چې د انجلۍ پر بولو باندې ډیر اصرار کوي هغه په دې خاطر چې انجلۍ اوس صغیره ده دی وایي زه یې خپل زوی ته په نکاح کوم که لویه سي او د خپل اختیار سي بیا زما زوی نه خوښوي. نطلبُ منکم حکمًا شرعیًا.

(المُستفتي : عبدالغني)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الله تعالى المستعان

د حضانة معنی تربیه او ساتنه ده او د حضانة حق ثابت دی بناء پر شفقت او مهربانۍ نو اول د هغه چاحق دی چې شفقت یې ډیر وي او دا بنا پر میراث نه دی ، که چېرې یو قریب د ظلم او یا د حر د مملوکیت خیال لري یعنې چې دا انجلۍ ده زه به یې خپل زوی ته په نکاح کړم یا به یې په روپیو خرڅه کړم دا بالکل د شریعت څخه لېرې خبره ده ، په دې وجه باید حق دتصرف پردغه صغیرې یتیمې ورنکول شي ، حق د حضانت اول د مور دی که څه هم پلار ددغه کوچني ژوندی وي که چېرې دغه بنځه دمیړه څخه جلاوه او د بل چا سره یې نکاح نه وه کړې ، بیا که دې طلب د اُجرة وکړ نو حق لري په وجه د خدمت ددغه کوچني او دغه اُجرت به یا دکوچني مال وي که یې مال درلود او یا دکوچني د پلار د مال څخه او یا د هغه چا د مال څخه چې دکوچني نفقه پرې لازم وي .

او حق د حضانت تروخت د بلوغ پورې دی وروسته تر بلوغ کوچنی خپل اختیار لري په نکاح یې جبراً هیڅ څوک چاته نه شي ورکولای.

(باب الحضانة) بفتح الحاء وكسرها تربية الولد (قوله تربية الولد) هذا على اطلاقه معناه اللغوي اما الشرعي فهوتربية الولد لمن له حق الحضانة كما افاده القهستاني (تثبتُ للامّ) الخ (الدرالمختار و ردالمحتار ج ۲ ص ۲۸۷) و كذا

(الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۵۴۱) (قوله ثم حرّر) اى الخيرالرملى ان الحضانة كالرضاع اى فى انها لااجرللامّ فيها لو منكوحة او معتدة و الا فلها الأجرة من مال الصغير ان كان له مال و الافمن مال ابيه او من تلزمه نفقة (ردالمحتار ج ۲ ص ۲۹۲) و كذا فى (الفتاوى الهندية ج ۱ ص

۵۴۳) (والام والجدة) احق بها بالصغيرة (حتى تحيض) اى تبلغ فى ظاهرالرواية و لو اختلفا فى حيضها فالقول للام (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۲۹۵) وكذا فى (تحفة الفقهاء ج ۲ ص ۲۳۰) (ولاخيار للولد عندنا مطلقاً) ذكرا كان اوانثى خلافاً للشافعى قلت وهذ قبل البلوغ امابعده فيخير بين ابويه وان اراد الانفراد فله ذلك (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۲۹۲) والحضانة الى ذوات الرحم المحرم لان الحضانة تبتنى على الشفقة والرفق بالصغار وذلك من جانب النساء اوفر و هُنّ بالتربية اعلم ويكون الاقرب فالأقرب اولى ثم الاقرب ههنا هى الام ثم الجدة ام الام ثم الجدة ام الاب الخ (تحفة الفقهاء ج ۲ ص ۲۲۹) والله تعالى اعلم بالصواب

ښځه او خاوند چې سره جلا شي زوی به د چا سره وي؟

پوښتنه : حضور ته د علماء كرامو د مركزی دارالافتاء !

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

و بعد : عرض دا دی چې زما د منكوحې دوه زامن يو د اوو كالو او بل د نهو كالو زما څخه لری دي ، څه وخت زما ګذاره په كراچۍ كې وه اوس تقريباً اووه مياشتې كيږي چې زه په كندهار كې ګذاره كوم نو اوس زما ښځه په كراچی كې د خپلو هغو دوه زامنو سره ده زما سره موافقه نلري چې په كندهار كې زما سره ګذاره وكړي او څه شرعي عذر هم نلري .

اوس سوال دا دی چې كه زما ښځه اوس هم زما سره موافقه ونكړي آيا زه د دغه دوه زامنو حق لرم چې د موره يې جدا كړم كندهار ته يې راولم او كنه ؟ او دا زما يقين دی چې دغه كوچنيان كه د مور سره وي تربيه به يې خرابه وي .

(المستفتی : حاجی محمد نبی)

بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

الجواب بعون الملک الوهاب

هرکله چې زوی داسې اندازې ته ورسیږي چې د ښځو خدمت ته ضرورت نلري مثلاً خوراك ، څښاك ، طهارت او اغوستل د جامې پخپله کولای شي چې هغه نو غالبًا د ۷ – ۸ کالو وي نو بیا پلار کولای شي چې د ځان سره یې بوزي.

فقال الحنفية الحاضنة أُمًا او غيرها احق بالغلام حتى يستغنى عن خدمة النساء و يستقل بنفسه فى الاكل والشرب و اللبس و الاستنجاء و قدّر زمن استقلاله بسبع سنين لانه الغالب الخ (الفقه الاسلامى ج ۷ ص ۷۰۱) و هكذا فى (بدائع الصنائع ج ۴ ص ۴۲) و فيه : و ذكر الخصاف سبع سنين او ثمان سنين او نحو ذلك الخ

اذا انتهت مرحلة الحضانة ضم الولد الى الولى على النفس من أب او جد لا لغيرهما و يظل للاب الحق فى امساك الصبى حتى يبلغ فيخير بين ان ينفرد بالسكنى او يسكن مع ايّ ابويه شاء الخ (الفقه الاسلامى ج ۷ ص ۷۰۴)

اذا كانت الام هى الحاضنة فى حال قيام الزوجية او اثناء العدة من طلاق أو وفاة فمكان الحضانة هو المكان الذى تقيم فيه مع الزوج و لايجوز لها الانتقال به الابإذن الزوج لان الزوجة ملزمة بمتابعة زوجها والاقامة معه حيث يقيم (الفقه الاسلامى ج ۷ ص ۲۹۷)

مكان الحضانة مكان الزوجين اذا كانت الزوجية بينهما قائمة حتى لواراد الزوج ان يخرج من البلد فاراد اخذ ولده الصغير ممن له الحضانة من النساء ليس له ذلك حتى يستغنى عنها الخ (الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۵۴۳)

واللہ تعالٰی اعلم

باب النفقة

د امارت د مسئولینو نفقه

پوښتنه : محترمه ! زه بنده د امارت یو مامور یم په حیث دیومامور په حکومت کې کارکوم زما دکارپه مقابل کې امیرالمؤمنین وماته فرمایلي دي چې که تادخپل کارپه مقابل کې معاش غوښتی ماهانه اوکه دې عشرغوښتی ته مختار یې ، سره له دې چې د خپل ځان په بابت کې عشر ښه او خیر بولم ، نو ستاسې د مقام څخه شرعي معلومات غواړم چې زما په حق کې دمعاش اوکه دعشر مختارول او اخیستل تقوی ده ؟ والسلام

(المستفتي : حاجي محمد اخوند)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الفتوی :

محترم مستفتي صاحب ! نفقه د مسئولینو د امارت او ددوې داولادو اوکور والابه امیرالمؤمنین ورکوي له بیت المال څخه چې په هغې کې خراج اوجزیه اوهغه مالونه چې له کفارو سره په صلحه راغلي وي او هغه مالونه چې عاشر یې له مستأمنینو او له تجارو د اهل ذمې څخه اخلي ، ایښول شوي وي اوکه په دغه بیت المال کې شی نه وي نو له بیت د صدقاتو او یا نورو څخه به یې ورکوي او کله چې د دغه بیت مالونه پیداشول بیرته به هغه ورکول شوې اندازه په دغه بیت د صدقاتوکې یا نورو کې ایښودل کیږي که دغه ورکړل شوي کسان مصرف د عشر او صدقاتو او نورو نه وو او که دوی مصرف وو مثلاً فقراء وو نو بیا ردولو د دغه مال ته هغه بیت ته چې ورځینې را اخیستی شوی دی ، حاجت نشته .

اوس چې ته مسکین یې او امیرالمؤمنین عشر درکوي اوپه بیت المال کې خراج او جزیه او نور ذکر شوي مالونه نشته نوبالکل صحیح ده او زیادت او نقصان په نفقه کې مفوض د رأی د امیرالمؤمنین ته چې کوم چاته یې زیاته اوکوم چاته یې کمه ورکوي.

والثالث الخراج والجزية وماصولح عليه بنونجران من الحلل وبنوتغلب من الصدقة المضاعفة و ما اخذه العاشر من المستأمنين وتجار اهل الذمة كذا فی السراج الوهاج و تصرف تلک الی عطایا المقاتلة ... و الی رزق الولات واعوانهم والقضاة والمفتين والمحتسبين كذا فی محيط السرخسي ... ويصرف الى كل من تقلد شيئا من امورالمسلمين الخ

(الفتاوی الهندية ص ۱۹۰ و ۱۹۱)

(ومصرف الجزية والخراج ومال التغلبي وهديتهم للامام) ... (مصالحنا كسدّ الثغور ... وكفاية العلماء ... والقضاة والعمال ... و ذراريهم) اى ذراري من ذكر. (الدرالمختار ج۳ ص ۳۰۲ و ۳۰۷)

وفی المحيط ان هذا النوع يصرف الى ارزاق الولاة واعوانهم وارزاق القضاة والمفتين والمحتسبين والمسلمين وكل من تقلد شيئا من امورالمسلمين والى مافيه صلاح المسلمين (البحرالرائق ج ۵ ص ۱۸ ط مكتبة ماجدية)

والجزية والخراج ومال التغلبي وهدية اهل الحرب و ما اخذنا منهم بلا قتال يصرف فی مصالحنا كسد الثغور و بناء القناطير والجسور وكفاية القضاة والعلماء والعمال والمقاتلة وذراريهم (كنز الدقائق على هامش البحرالرائق ج ۵ ص ۱۱۷) والضمير فی قوله و ذراريهم يعود الى الكل من القضاة والعلماء والمقاتلة لان العلة تشمل الكل (البحرالرائق ج ۵ ص ۱۱۸) و (ردالمحتار ج ۳ ص ۳۰۷)

وعلی الامام ان یجعل لکل نوع من هذه الانواع بیتًا یخصه ولایخلط بعضه ببعض لان لکل نوع حکماً یختص به فان لم یکن فی بعضها شئ فللامام ان یستقرض علیه من النوع الآخر ویصرف الی اهل ذلک ثم اذا حصل من ذلک النوع شئ رده فی المستقرض منه الاان یکون المصروف من الصدقات او من خمس الغنیمة علی اهل الخراج وهم فقراء فانه لایرد فیه شیئا لانهم مستحقون للصدقات بالفقر وکذا فی غیره اذا صرفه الی المستحق (تبین الحقائق ج ۴ ص ۱۷۱ ط ایج - ایم - سعید)

و (البحرالرائق ج ۵ ص ۱۱۹ ط مکتبة ماجدیة) و (الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۹۱) و (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج ۳ ص ۳۰۸)

و فی المحیط من الزکاة والرأی الی الامام من تفضیل و تسویة من غیر ان یمیل فی ذلک الی هوی الخ (البحرالرائق ج ۵ ص ۱۱۸) و (ردالمحتار ج۳ ص ۳۰۸ و ۳۰۹)

نوټ :

اوس چې تاسو د معاش اخیستلو او د عشر اخیستلو په باره کې سوال کړی دی او تنخواه ستاسو د معاش د بیت څخه وجود نلري نو اوس عشر درکول د امام لخوا تاسوته او ستاسو اخیستل همدا تقویٰ ده . ان شاء الله

د مفقود د ښځې او بچيانو نفقه پرچا ده؟

پوښتنه : زيد وايي چې ما يو ځوان طالب خپل زوم جوړکړی فقط د زر (۱۰۰۰) روپو په بدل کې مې د خپلې لور نکاح ورسره وکړه د واده وروسته يې دوه زامن او دوې لونې پيدا سوي اخيري زوی دده له تللوڅخه پنځه مياشتې وروسته پيدا سوی دی بيا دده درک نه سو معلوم دده تلاش څومره چې کيدی و سو ترجنګ پورې رسيدلی دی خو پای معلوم نه ده چې يو ځای په جيل کې بندي دی يا شهيد سوی دی مونږ د يو ازبک سړي په ذريعه رابطه وکړه خوجواب راغلی چې د دغه نوم اوهيئت راته معلوم نه سو لهذا مونږ نا اميده سو.

تر دغه مخکې د يوګمنام خط په ذريعه معلومه سوه چې (۹) کسان شهيدان سوي دي په هغوکې زما د زوم نوم هم نوشته سوی ؤ خو دا نه وه معلومه چې داخط چا نوشته کړی ؤ.

اوس دده کونډه او بچيان بې له ده يو سرای ناست دي يو سپين ږيری پلار اويو ورور هم لري خو ورور مخکې ځنې جلا سوی دی او تقسيم يې کړی دی، نور مال او جايداد خو نلری لکن يو موټرسايکل يې ولاړ دی ، دده د کونډې او د بچيانو د نان نفقې بندوبست نسته ، شرعي حکم څه دی آيا دا کونډه بل ځای نکاح کولای سي کنه ، په دې باره کې علماء کرام څه وايي که چېرې بل ځای نکاح نه سي کولای نو بيا ددې کونډې او بچيانو نفقه پر چا ده ؟ فقط په احترام والسلام

(المستفتي : عزيزالله)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون المستعان

محترم مستفتي صاحب ! ستاسو د اولې خبرې جواب چې د مفقود مسئله ده هغه حکم مونږ ستړي محکمې ته پرېښې دی ژر ده چې یوحکم به صادرکړي .ان شاء الله تعالی

ددوهمې خبرې جواب چې نفقه ده هغه دا ده چې د ښځې نفقه پر هغه ورک میړه ده که مال یې ؤ ، دا دې قاضي ته عرض وکړي او قاضي به د دې څخه د نکاح شاهدان و غواړي که ورته معلومات نه ؤ ، بیا به د هغه د موجوده مال څخه نفقه ورمقرر کړي ، دې ته به قسم ورکړي چې میړه ورته نفقه نه ده پرې ایښې اوکفیل به ورځنې واخلي د توثیق لپاره اوکه یې د میړه مال نه ؤ بیا به ښځې ته امر وکړي په قرض اخیستلو یوازې ددې د نفقې باره کې ترڅو چې د میړه حال یې معلومیږي ، چې حال معلوم شو دغه قرض پر میړه لاړمیږي اوکوچنیان چې دي که د کار او کسب نه وو بیا به یې نفقه قاضي پر قریبانو ذوی رحم محرم باندې مقرر کړي په طریقه د قرض اول پرنیکه که مال دار ؤ او کنه بیا پرمور اوکنه بیا پراکا اوکنه بیا پر نورو قریبانو.

(و تفرض) النفقة بانواعها الثلاثة (لزوجة الغائب) مدة سفر - صیرفیه - واستحسنه فی البحر ولو مفقوداً (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۷۲۳) و کذا فی (الفتاوی تنقیح الحامدیة ج ۱ ص ۷۴)

(قوله ان لم یخلف مالا) ای ان لم یترک مالافی بیته و لاعند مودع ولاعلی مدیون و هذا محترز قوله فی مالٍ له قال فی الذخیرة انه اذا لم یکن للزوج مال حاضر و ارادت اقامة بینة علی النکاح او کان القاضی یعلم به وطلبت ان یفرض لها النفقة او یأمرها بالاستدانة لایجیبها الی ذلک خلافًا لزفر

(ردالمحتار ج ۲ ص ۷۲۵) (و یحلفها معه) ای مع الکفیل احتیاطاً الدرالمختار ج ۲ ص ۷۲۴)

(قوله و رجع علی الاب اذا ایسر) فی جوامع الفقه اذا لم یکن للاب مال والجد او الام او الخال اوالعم موسر یجبرعلی نفقة الصغیر ویرجع بها علی الاب اذا ایسر وکذا یجبر الابعد اذا غاب الاقرب (ردالمحتار ج ۲ ص ۷۲۹) و کذا فی (الفتاوی تنقیح الحامدیة ج ۱ ص ۲۹ و ص ۷۷)

وهذا من الست التی یفتی بها بقول زفر و علیه و لو غاب وله زوجة وصغار تقبل بینتها علی النکاح ان لم یکن عالما به ثم یفرض لهم ثم یامرها بالانفاق اوالاستدانة لترجع - بحر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۷۲۲)

ولو لم یکن له مال اصلا فطلبت من القاضي فرض النفقة فعندنا لایسمع البینة لانه قضاء علی الغائب و عند زفر یسمع القاضي البینة و لایقضي بالنکاح و یعطیها النفقة من مال الزوج و ان لم یکن له مال امرها القاضي بالاستدانة ... و هی من احدی المسائل السِّتّ التي یفتی فیها بقول زفر لحاجة الناس وفي فتح القدیر و نقل مثل قول زفر عن ابي یوسف فقوي عمل القضاة لحاجة الناس الی ذلک و اذا کان للمرأة اولاد صغار و غاب الاب ولم یترک لهم نفقةً تجبر الام علی الانفاق ان کان لها مال ثم ترجع بذلک علی الاب کذا في الخانیة وبهذا علم ان الرجل اذا غاب وله زوجة و اولاد صغار و لم یترک شیئًا فان القاضي یسمع البینة منها علی النکاح ان لم یکن عالمًا به علی ما علیه العمل ثم یفرض لها و لاولادها نفقةً ثم یأمرها بالاستدانة فاذا جاء رجعت علیه بالمفروض لها و لاولادها.

(البحرالرائق ج ۴ ص ۱۹۷ و ۱۹۸)

د مجاهد طالب د کورنفقه پرچا ده؟

پوښتنه : د افغانستان اسلامي امارت د کندهار د مرکزي دارالافتاء محترم رئیس صاحب ته السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

محترمه ! په حکومت کې یعنې په اسلامي امارت کې یو نفرخدمت کوي یعنې جهاد کوي طالب عسکر دی آیا ددغه مجاهد یعنې ددغه طالب عسکر دکور نفقه په چا پورې اړه لري ، په اسلامي امارت پورې اړه لري اوکه یې په قریبانو پورې اړه لري او که شخصًا په ده پورې اړه لري ؟
که په ده پورې اړه ولري نو دی به جهادکوي اوکه به دخپل کورنفقه برابره وي .
که په دې هکله معلومات راکړئ ډیره لویه مهرباني به وي .

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب

د مجاهدینو او نورو هغوکسانو نفقه چې حکومت د یوکار او یو مصلحت لپاره یوځای مقررکړی وي پربیت المال ده ، دومره اندازه نفقه به ورکوي چې د هغوی د کور کفایت پرې کیږي ، نه به ددې څخه زیاته وي او نه به کمه وي .

(ویعطی قضاة المسلمین و عمالهم وعلماؤهم منه مایکفیهم ویدفع منه ارزاق المقاتلة وذراریهم) لانه مال بیت المال فانه وصل الی المسلمین من غیر قتال وهو معد لمصالح المسلمین وهؤلاء عملتهم ونفقة الذراري علی الاباء فلولم یعطوا کفایتهم لاحتاجوا الی الاکتساب فلایتفرغون للقتال

(الهدایة مع فتح القدیر ج ۵ ص ۳۰۷) و هکذا فی (الدرالمختار و ردالمحتار ج ۳ ص ۳۰۷ ط رشیدیه)

و یصرف الی کل مستحق قدرحاجته من غیر زیادة.

(ردالمحتار ج ۳ ص ۳۰۸)

والواجب علی الائمة ان یوصلوا الحقوق الی اربابها ولایحبسونها عنهم ولایحل للامام واعوانه من هذه الاموال الامایکفیهم وعائلتهم و لایجعلونها کنوزا ... فان قصرالائمة فی ذلک فوباله علیهم.

(الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۹۱)

واللہ تعالی اعلم بالصواب




كتاب
الايمان
والنذور

کتاب الایمان والنذور

د پیر یا حضرت صاحب د نذر منونکي حکم

پوښتنه : که چېرې یو څوک د پیر صاحب یاحضرت صاحب یا اولیاؤ د رضا لپاره یوحیوان نذر کړي بیا یې حلال کړي په بسم الله سره دغه حیوان حلال دی اوکه مردارد ی ؟ او دغه ناذرکافر دی که مسلمان ؟

(د زابل علماء)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب

نذر یوعبادت دی اوعبادت یوازې دالله تعالی لپاره وي او هغه څوک چې یو حیوان د پیر صاحب یا یو زیارت لپاره نذر کوي که د هغه مطلب او حقیقت دا وي چې زه د خپل دغه نذرثوابونه حضرت یافلان زیارت ته وربخښم یاداچې دغه حیوان به هلته حلالوم چې هغه ځای کې فقراء یا میلمانه یې غوښې وخوري او له همدې وجې په وخت د ذبح کې ذکر د بسم الله اوالله اکبر کوي نو دا ناذر مسلمان دی بلکه ماجور دی ، څرنګه او ولې به د کفر نسبت ورته کیږي ، لکن هغه څوک چې عقیده یې دا وي چې دا نذر د خدای تعالی لپاره نه بلکه د فلاني زیارت لپاره یې کوم او د هغه عبادت کوم نو په وخت د ذبحې که د هغه نوم ذکرکوي او که د خدای تعالی داسې مشرک بلل کیږي (نعوذ بالله تعالی)

او دغه عوام خلک چې نذرونه کوي د دوی مطلب غالبًا هغه اول قسم وي ولې که ددغه نذر کوونکي څخه پوښتنه وشي چې آیا ته عبادت د پیر او یا ددغه زیارت کوې ؟ نو د هغه جواب به منفي وي او دا ډیره بده بولي نو ځکه په دې فعل دوی ته د کفر نسبت نه کیږي .

حاصل دا چې مدار د حِل اوحُرمت پر دې دی چې که په نذر کې مقصود تقرُّب الی الله وي او بیا یې مطلب ثوابونه بخښل زیارت ته او یا صدقه کول پر فقراؤ د هغه ځای یاعامو فقراء باندې وي نو دا جائز بلکه فعل حسن دی اوکه مقصود پکې تقرب الی الغیر ؤ نو دا نذر بالکل حرام او ناجائز دی او هغه عبارتونه د فقهاؤ چې شدیده منع پکې راغلې ده مقصود پکې دا دوهم صورت دی .

(البته پر علماؤ دا لازمه ده چې دا مسئله عوامو ته په ښه ډول تشریح کړي)

و عن ابن عباس ان سعد بن عبادة استفتی النبی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ فی نذر کان علی امه فتوفیت قبل ان تقضیه فافتاه ان یقضیه عنها ، متفق علیه (مشکوة المصابیح ج ۲ ص ۳۱۹)

اختلفوا فی نذر ام سعد هذا ... و الاظهر انه کان نذرا فی المال او نذراً مُبهمًا و یعضده ما رواه الدارقطنی من حدیث مالك فقال له یعنی النبی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ اسق عنها الماء (مرقاة المفاتیح شرح مشکوة المصابیح ج ۷ ص ۳۸ ط مکتبه امدادیه)

قالت و نذرت ان اذبح بمکان کذا وکذا مکان یذبح فیه اهل الجاهلیة فقال (ای النبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ) هل کان بذلك المکان وثن من اوثان الجاهلیة یُعْبد قالت لاقال هل کان فیه عید من اعیاد هم قالت لاقال اَوْفِیْ بنذرکِ (مشکوة المصابیح ج ۲ ص ۳۲۰)

از ینجا معلوم میشود که کسی که نذر کند ذبح را در مکانی لازمست وفاء بدان اگر آن موضع معبد اوثان و مجمع شعار کفار نبود (اشعة اللمعات ج ۳ ص ۲۲۱) .

و اعلم ان النذر الذی یقع للاموات من اکثر العوام و ما یؤخذ من الدراهم و الشمع والزیت و نحوها الی ضرائح الاولیاء الکرام تقربا الیهم فهو بالاجماع باطل و حرام ما لم یقصدوا صرفها لفقراء الانام (الدرالمختار) (قوله ما لم یقصدوا الخ) ای بان تکون صیغة النذر لله تعالٰی للتقرّب الیه و یکون ذکر الشیخ مرادا به فقراءه کما مر (ردالمحتار ج ۲ ص ۱۳۹) وهکذا في (امدادالفتاوی ج ۲ ص ۵۵۴ و ۵۵۵ و ۵۵۶)

فتاوی ابی اللیث میں ہے : الناذر لغیرالله ان قصد بالنذر التقرب الی غیر الله و ظن انه یتصرف فی الامور کلها دون الله فنذره حرام باطل و ارتداده ثابت و ان قصد بالنذر التقرب الی الله و ایصال الثواب للاولیاء و یعلم انه لا یتحرك ذرة الاباذن الله و یجعل الاولیاء و سائل بینه و بین الله فی حصول مقاصده فلا حرج فیه و ذبیحته حلال طیب (خیرالفتاوی ج ۱ ص ۵۵۸)

و فی الفتاوی الصُغریٰ الکفر شئ عظیم فلا اجعل المؤمن کافرا متی وجدت روایة انه لایکفر آهـ و فی الخلاصة وغیرها اذا کان فی المسئلة وجوه توجب التکفیر ووجه واحد یمنعه فعلی المفتي ان یمیل الی الوجه الذی یمنع التکفیر تحسینًا للظن بالمسلم ... والذی تحرر انه لایفتی بکفر مسلم امکن حمل کلامه علی محمل حسن اوکان فی کفره اختلاف ولو روایة ضعیفة (ردالمحتار ج ۳ ص ۳۱۲)

نذر منونکی که د اداینې روپۍ ونلري؟

پوښتنه : محترم عالیقدر امیرالمؤمنین صاحب !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

وروسته له سلامه عرض لرم زه دملاامیرخان حقاني اندیوال یم په شبرغان کې اسیر وم تیر لوی اخترکې راخلاص سوم ماشپږ پسونه نذرانه ایښي وو حالاً پنځه زره او درې سوه (۵۳۰۰) کلداري لرم په هغو باندې شپږ پسونه نه کیږي بقایه کلداري که چېرې جواز لري ستا درانه حضور ته امید لرم چې رایې کړئ.

ومن الله التوفیق

ته د علماء کراموڅخه پوښتنه وکړه بعضې نذرونه د قسم په فدیه سره خلاصیږي ، د ثاقب صاحب سره خبرې وکړه .

(امیرالمؤمنین)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الله ملهم الصواب

که چېرې دغه مستفتي واقعًا پنځه زره او درې سوه (۵۳۰۰) کالداري لري نورې پیسې نلري ، نه موټر ، نه مځکه ، نه یې د بل چاسره حقوق وي نو دغه کالداري دې خیرات کړي یا دې هغه اندازه پسونه پرې رانیسي چې پرې کیږي د نورو څخه یې شرعًا ذمه فارغه ده او سوال کول لپاره د اداء د نذر ورته حرام دی اوکه یې نورې پیسې درلودې یا یې مځکه یا موټر یا نور قسم اموال درلودل نو بیا اداء د نذر د خپل مال څخه ور باندې واجب ده.

(نذر ان یتصدق بالف من ماله و هو یملک دونها لزمه) ما یملک منها (فقط) هوالمختار لانه فیما لم یملک لم یوجد النذر فی الملک ولامضافا

الی سببه فلم یصح (الدرالمختار) وان کان عنده عروض اوخادم یساوي مائة فانه یبیع ویتصدق وان کان یساوي عشرة یتصدق بعشرة وان لم یکن شئ فلاشئ علیه کمن اوجب علی نفسه الف حجة یلزمه بقدر ماعاش فی کل سنة حجة الخ (ردالمحتار ج ۳ ص ۷۷) و هکذا في (الفتاوی التاتارخانیة ج ۵ ص ۴۲) و (فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۱۲ ص ۱۳۷) و فیه : پس اس کو لازم نہیں ہے کہ بھیک مانگ کر نذر پوری کرے اور سوال حرام ہے .فقط (۱)

او هر چې دا خبره ده چې بعضې نذرونه د قسم په فدیه سره خلاصیږي دا خبره د نذر د الفاظو سره تعلق لري اودلته په الفاظو کې څه خبره نشته.

۱۳۷۲/۱۲/۵ هـ ش

(۱) **ترجمه**: نو پرده لازم نه دي چې په سوال کولو نذر پوره کړي او سوال حرام دی . فقط .


كتاب
الجهاد

کتاب الجهاد

د مسلمانانو له ځمکې څخه د دفاع لپاره له کفارو مرسته غوښتل څنګه دي؟

پوښتنه : ما ذا يقول علماء الشريعة الاسلامية فی حكم المسألة التالية فی ضوء احكام القرآن والسنة : هل يجوز للمسلمين اوالحكومة الاسلامية دعوة الكفار من الصليبين واليهود وغيرهم من اعداء الاسلام الى دفاع اراضی الاسلام و المسلمين مع ان المسلمين قادرون بانفسهم بالدفاع عن اراضيهم و مع انهم لم يكونوا مهددين من قبل الكفار.

(المستفتي : قاري محمودشاه)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون ملهم الصواب

لايجوز للمسلمين ولاللحكومة الاسلامية الاستعانة بالكفار فی امورالحرب الاّعندالحاجة كما فی الدرالمختار : و مفاده جواز الاستعانة بالكافر عندالحاجة وقد استعان عليه الصلاة والسلام باليهود على اليهود ورضخ لهم و فی ردالمحتار .

(قوله عندالحاجة) اما بدونها فلا لانه لايؤمن غدره آهـ (ج ۳ ص ۲۵۷) و كذا فی (مجمع الانهر شرح ملتقى الابحر ج ۱ ص ۲۴۷ ط دار احياء التراث العربي) و كذا فی (البحرالرائق ج ۵ ص ۹۰ ط مكتبه ماجديه) و يشترط فی الاستعانة عندالحاجة ان لاتكون لهم رأية تخصهم بل يكونون تحت راية المسلمين .

كما قال الطحطاوي: قال فى الفتح و لابأس ان يستعان بالمشركين على قتال المشركين اذا خرجوا طوعا ويرضخ لهم و لايسهم ولاتكون لهم راية تخصهم و لا يثبت عن النبى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انه اسهم لهم و لعل ردّه من ردّ في غزوة بدر رجاء ان يسلم آهـ

(حاشية الطحطاوي على الدرالمختار ج ۲ ص ۴۵۱)

و ايضاً يشترط ان يكون الاسلام هو الغالب .

كما قال صاحب اعلاء السُّنَن : و في شرح السير (۳ : ۱۸۲) و لابأس بان يستعين المسلمون باهل الشرك على اهل الشرك اذا كان حكم الاسلام هوالظاهر عليهم لان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ استعان بيهود قينقاع على بنى قريظه ، و خرج صفوان مع النبى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حتى شهد حُنينًا والطائف وهو مشرك فعرفنا انه لابأس بالاستعانة بهم وماذلك الانظير الاستعانة بالكلاب على المشركين والى ذلك اشار رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بقوله ان الله تعالى ليؤيد هذالدين باقوام لاخلاق لهم فى الآخرة آهـ (اعلاء السنن ج ۱۲ ص ۵۸ ط ادارة القرآن والعلوم الاسلامية)

و ذكر العلاّمة عالم بن العلاء صاحب التاتارخانية : و فى شرح الطحاوى و لاينبغى للإمام ان يستعين باهل الذمة على القتال مع اهل الحرب الاان يكون الاسلام هوالغالب فلابأس بان يستعين بهم حينئذٍ (الفتاوى التاتارخانية ج ۵ ص ۲۲۷)

والله اعلم بالصواب

مولوي نورمحمد (ثاقب) – باگرامي ، ولايت كابل سرپرست
دارالافتاء مركزي افغانستان
مولوي عبدالحكيم عفى الله عنه – سنگين ، ولايت هلمند

مولوي عبدالله مشهور به خطيب – ولايت ارزگان
مولوي محمدخواص – زميندار ، ولايت هلمند
مولوي حمدالله اخندزاده – دايچوپان ، ولايت زابل
مولوي احمد (نوري) ولايت كندهار
مولوي محمود (ميوندوال) – ولايت كندهار

د جهاد لپاره له مور او پلار څخه اجازه غوښتل

پوښتنه : محترم رئيس صاحب د مركزي دار الافتاء !
السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

امابعد : قدرمنه ! موږ د يوې مسئلې په هكله معلومات غواړو هيله ده چې د وخت سره سم يې راته وړاندې كړئ.
زه ضياء الدين د افغانستان د هلمند ولايت چې فی الحال موكور په كويټه كې دی غواړم چې دامیرالمؤمنين په حكم د طالبانو په اسلامي تحريک كې په سنګركې خدمت وكړم خومتأسفانه چې والدين مې دسنګر د خدمت څخه منع كوي او دا نور خدمت مثلاً په ملكي دفاترو كې راته اجازه راكوي ، چونكه زه فكر كوم چې د خدای جَلَّجَلَالُهُ د راكړې استعداد په وسيله به زه ښه فعال رول و لوبوم نو په داسې حالاتوكې ماته څه كول په كاردي ؟ هيله مندیم چې د وخت د تقاضاء سره سم په لنډ وخت كې مشكل راته حل كړئ سره له دې چې والدين مې زما و هيڅ قسمه خدمت ته مثلاً سُكنٰی، كِسْوة ، او تداوي و غيرها ته احتياج نه لري. والسلام بيّنوا توجروا
(المستفتي : ضياء الدين ضياء)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الفَتْوىٰ بعون الله تعالى

جواب د استفتاء داسې دی چې فرض دوه قسمه دی یو فرض عین دی او بل فرض کفائي دی خدمت د مور اوپلار د فروض اعیانو څخه دی او جهاد ګاهې فرض عین وي او ګاهې فرض کفائي وي ، اوس چونکه جهاد فرض کفائي دی نو بې له اجازې د مور او پلار جهاد ته سړی نشي تلای ، نو د مستفتي لپاره بنه طریقه دا ده چې په هر نوع وي مور او پلار دې راضي کړي او بیا دې په جهاد مقدس کې برخه واخلي نو دغه مستفتي به جامع ددواړو نیکیو او فرضو وګرځي .

کتاب الجهاد ... هو فرض کفایة ... ان قام به البعض ... لایفرض علی صبي و بالغ له ابوانِ اواحدهما لان طاعتهما فرض عین ... و فرض عین ان هجم العدو فیخرج الکل و لو بلا إذن و یأثم الزوج ونحوه بالمنع ، ذخیره .

(قوله و بالغ له ابوان الخ) ... و لیس من الصواب ترک فرض عین لیتوصل الی فرض کفایة آهـ (قوله لان طاعتهما فرض عینٍ) ای والجهاد لم یتعین فکان مراعاة فرض العین اولی کما فی التجنیس واخذ منه فی البحر کراهة الخروج بلا اذنهما . (الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۳ ص ۲۳۷ و ۲۴۱)

فصل واما بیان کیفیة فرضیة الجهاد فالامر فیه لایخلو من احد وجهین إما ان کان النفیر عاما و إما ان لم یکن فان لم یکن النفیر عامًا فهو فرض کفایة ... وکذا الولد لایخرج الا بإذن والدیه او احدهما اذا کان الآخر میتًا لان برالوالدین فرض عین فکان مقدمًا علی فرض الکفایة ... فاما اذا عمّ النفیر

بان هجم العدو على بلد فهو فرض عين الخ (بدائع الصنائع ج ۷ ص ۹۸)
و هكذا فی (حاشية الطحطاوي على الدرالمختار ج ۲ ص ۴۳۸)
و (الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۱۸۹) و (فتح القدير ج ۵ ص ۱۹۴)
والله اعلم بالصواب

د ځان پرځای بل څوک په پیسو جلب ته لیږل

پوښتنه : محترم د دارالافتاء رئیس صاحب ته !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

که د اسلامي إمارت لخوا پر خپل رعیت باندې جلب حواله کړل سي د غه رعیت مسکینان وي او که خانان وي نو که چېرې د غه نفر چې د حکومت اسلامي لخوا جلب پرې حواله سوی دی د خپل ځان په عوض کې بل څوك په پیسو و دروي ؟ او د غه بل نفر چې په پیسو په جلب کې ځي د ده مړک څنګه دی ؟ او د غه جلبي چې په پیسو ځي که مسکین وي او که خان وي څنګه حکم یې دی ؟

(ملا قدرت الله د قندهار ولایت د امنې قومندانی)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب

هغه کسان چې د حکومت لخوا پرې جلب حواله شي پر هغو دا لازمه ده چې خپله به اطاعت کوي که شرعي عذر یې نه درلود اوکه عذر یې درلود او بل نفر یې په پیسو دراوه او نیت یې دا ؤ چې زه که معذور یم نوښه داده چې د یوبل مجاهد اکمال وکړم زه به یې په ثواب کې شریک شم چې دې ته تجهیز

د غازي وايي دا کار بالکل صحيح دی اوموجب د ثواب دی بلکه دغه د پيسو ورکوونکی دغونه مأجور دی لکه هغه په سنګرکې چې وي او که دا نيت يې نه ؤ بلکه يوازې او يوازې يې د ځان خلاصول مطلب ؤ نو دا کار د پيسو ورکوونکي ته جائز دی نه د پيسو اخيستونکي ته او نه اصل لري په شريعت مقدس کې ، حاصل دا چې که نيت صحيح ؤ نو هغه عمل هم صحيح دی او مرګ د شهادت دی او که نيت د هر يو صحيح نه ؤ نو دا کار سم نه دی او خطر لري .

و حينئذٍ تصبح القوانين و التكاليف التي تصدر عن الحاكم واجبة التنفيذ كالالزام بالتجنيد الاجباري وفرض الضرائب على الاغنياء الخ (الفقه الاسلامي ج ۲ ص ۲۱۰ ط دارالفكر)

و عن زيد بن خالد ان رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال من جهز غازيًا في سبيل الله فقد غزا و من خلف غازيا في اهله فقد غزا متفق عليه (مشكوة المصابيح ج ۲ ص ۳۵۱)

من قاتل لتكون كلمة الله هى العليا فهو في سبيل الله متفق عليه (مشكوة المصابيح ج ۲ ص ۳۵۳)

نوټ : ځرنګه چې د جلب مجاهدين اکثر عوام وي نو دوی ته او همدا راز ټولو مجاهدينو ته بايد د نيت په اصلاح او احتياط باندې ډير تاکيد وشي چې نه بايد شهادت ته يې خطر پيښ شي او همدا راز بايد دغو مجلوبينو ته په سپک نظر و نه کتل شي ولې که نيت يې سم وي نو دوی هم دغسې پاک مجاهدين دي لکه دا نور .

والله تعالى اعلم بالصواب .

مؤقت حکومت جوړول څرنګه دي ؟

پوښتنه : *تأسیس حکومت مؤقت در شریعت محمّدی چه حکم دارد .* بیّنوا توجروا

(المستفتي: الحاج مولوي خليل الله فيروزي رئيس رياست عالي تمييز)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

الجواب بعون ملهم الصواب

تقیید وتوقیت امامت امام بوقت معین در شریعت جائز است در الدرالمختار بهامش ردالمحتار *آورده :* وكذاصبي و ينبغى ان يفوض امور التقليد على والٍ تابعٍ له والسلطان فى الرسم هوالولد وفى الحقيقة هوالوالى لعدم صحة اذنه بقضاء وجمعة كما فى الاشباه عن البزازية وفيها لوبلغ السلطان او الوالى يحتاج الى تقليد جديد

(الدرالمختار) (قوله وكذا صبى) اى تصح سلطنته للضرورة لكن فى الظاهر لاحقيقة قال فى الاشباه و تصح سلطنته ظاهرا قال فى البزازية مات السلطان و اتفقت الرعية على سلطنة ابن صغير له ينبغى ان تفوض امورالتقليد على وال ويعد هذا الوالى نفسه تبعا لابن السلطان لشرفه والسلطان فى الرسم هوالابن وفى الحقيقة هوالوالى لعدم صحة الاذن بالقضاء والجمعة ممن لاولاية له آهـ اى لان هذا الوالى لولم يكن هوالسلطان فى الحقيقة لم يصح اذنه بالقضاء والجمعة لكن ينبغى ان يقال انه سلطان الى غاية وهى بلوغ الابن لئلا يحتاج الى عزله عندتولية ابن السلطان اذابلغ تامل ... (قوله و فيها) اى فى الاشباه عن البزازية ايضاً و ذكر ذلك بعد

مامر بنحو ورقة فافهم و ذكر الحموى ان تجديد تقليده بعد بلوغه لايكون الا اذا عزل ذلک الوالى نفسه لان السلطان لاينعزل الابعزل نفسه وهذا غير واقع آهـ قلت قد يقال ان سلطنة ذلک الوالى ليست مطلقة بل هى مقيدة بمدة صغرابن السلطان فاذا بلغ انتهت سلطنة ذلک الوالى كما قلناه آنفا (ردالمحتار ج۱ ص۴۰۲ ط رشيديه) و در الفقه الاسلامی اورده : ويرى الدكتور السنهودي ان روح النظام الاسلامى لاتنافى اطلاقًا مع توقيت الخلافة بمدة زمنية محدودة اذا ما تضمن عقدة الخلافة ذلک .
(الفقه الاسلامي و ادلته ج ۲ ص ۲۰۹ ط دارالفكر)

و تقید و توقیت قضاء و ولایة و امارة، در اکثر کتب فقه مذکور است مثل (ردالمحتار ج ۴ ص ۳۸۰) و (فتح القدير ج ۲ ص ۳۵۸) وغیرآن

نوٹ : تقید و توقیت امامت و امارت و ولایة وقضاء بناء بر مسائل فوق جائز است لکن در وقت مصلحة ذوی الرأی والنظر.

واللہ تعالی اعلم

مولوي عبدالله مشهور به خطيب ، ولايت ارزگان
مولوي عبدالحكيم عفى الله عنه
مولوي احمد (نوري)
مولوي نورمحمد (ثاقب)
سرپرست دارالافتاء مركزي دولت اسلامي افغانستان

د اسيرانو تبادله څه حکم لري ؟

پوښتنه : تبادله محبوسین طلبه کرام همراه مخالفین درگیر جنگ جواز دارد و یا خیر

بينوا توجروا

(المستفتي : الحاج مولوي خليل الله فيروزی رئيس رياست عالي تمييز)

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجواب بعون ملهم الصواب

تبادله محبوسین طلبه همرای مخالفین جائز است زیراکه در تحفة الفقهاء آورده است که برای امام رهاکردن اسراء بغاة بدون شی جائز است، بناءً على هذا رهاکردن اسراء بمقابل اسراء طلبه کرام بطریق اولی جائز است: و بعد الانهزام يقتلون مدبريهم واسراء هم ويجهزون على جريحهم .واصله قوله تعالى: وَ اِنْ طَآىِٕفَتٰنِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْتَتَلُوْا فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا ۚ فَاِنْۢ بَغَتْ اِحْدٰىهُمَا عَلَى الْاُخْرٰى فَقَاتِلُوا الَّتِيْ تَبْغِيْ حَتّٰى تَفِيْٓءَ اِلٰٓى اَمْرِ اللّٰهِ

و ان عفا الامام عن اسرائهم فلابأس به ايضًا (تحفة الفقهاء ج ۳ ص ۳۱۳)

و در تبادلۀ محبوسین همراه کفار اختلاف است بین امام ابی حنیفه رحمه الله وصاحبین رحمهما الله و در بعض کتب فقه مثل حاشیۀ طحطاوي و فتح القدیر جواز تبادله محبوسین مسلمین همراه کفار معلوم میشود.

(وحرم فداء هم) بعد تمام الحرب اما قبله فيجوز بالمال لا بالاسير المسلم درر و صدر الشريعة و قالا يجوز و هو اظهر الروايتين عن الامام ، شمنی

الدر المختار بهامش الطحطاوی) (قوله و قالا یجوز) و به قالت الائمة الثلاثة لان تخلیص المسلم اولی من قتل الکافر للانتفاع به لان حرمته عظیمة و اما الضرر الذی یعود علینا بدفعه الیهم یدفعه ظاهراً المسلم الذی یتخلص منهم لانه ضرر شخص واحد فیقوم بدفعه واحد مثله ظاهراً فیتکافئان وتبقی فضیلة تخلیص المسلم وتمکینه من عبادة ربه وقد ثبت ذلک عن رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و تمامه في الفتح .

(حاشیة الطحطاوی علی الدر المختار ج ۲ ص ۴۴۷ ط دار المعرفة بیروت)

وجه الروایة الموافقة لقول العامة ان تخلیص المسلم اولی من قتل الکافر والانتفاع به لان حرمته عظیمة وما ذکر من الضرر الذی یعود الینا یدفعه الیهم یدفعه ظاهراً المسلم الذی یتخلص منهم لانه ضرر شخص واحد فیقوم بدفعه واحد مثله ظاهراً .

فیتکافان ثم یبقی فضیلة تخلیص المسلم وتمکینه من عبادة الله کما ینبغی زیادة ترجیح ثم انه قد ثبت ذلک عن رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اخرج مسلم فی صحیحه وابوداؤد والترمذی عن عمران بن حصین ان رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فدی رجلین من المسلمین برجل من المشرکین آهـ (فتح القدیر ج ۵ ص ۲۲۰) والله تعالی اعلم

مولوي نورمحمد (ثاقب)
سرپرست دارالافتاء مرکزي دولت اسلامي افغانستان
مولوي عبدالله مشهور به خطیب ، ولایت ارزگان
مولوي عبدالحکیم عفی الله عنه
مولوي احمد (نوري)

اوربند کول څه حکم لري ؟

پوښتنه : *جنگ بندی طلبه همراه مخالفین در گیر جنگ جواز دارد و یا خیر*

بيّنوا توجروا

(المستفتي : الحاج مولوي خليل الله فيروزي رئيس رياست عالي تمييز)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون ملهم الصواب

جنگ بندی طلبه کرام همراه مخالفین جائزاست بشرطیکه مصلحة و فائدۀ طلبه کرام باشد.

(ولو طلبوا الموادعة اجيبوا) اليها (ان خيراً للمسلمين) كما في اهل الحرب (و الا لا) يجابوا (بحر) (و لايؤخذ منهم شئ الخ) (الدرالمختار ، باب البُغاة)

(قوله ولو طلبوا الموادعة) اى الصلح على ترک قتالهم (قوله ان خيراً للمسلمين) كما اذا علم انهم لايتهيئون تلک المدة بالعَدَد والعُدَد لقتال المسلمين وان الميرة تمتنع عنهم لولاالصلح (قوله ولايؤخذ منهم شئ) اى لا هدية و لامال لاجل الصلح

(حاشية الطحطاوى على الدرالمختار ج ۲ ص ۴۹۴ ط دار المعرفة بيروت)

و در ردالمحتار *ذکراست* : (قوله ولايؤخذ منهم شئ) اى على الموادعة لانهم مسلمون و مثله فى المرتدين ، فتح (ردالمحتار ج ۳ ص ۳۴۱ ط رشيديه)

و در المبسوط للامام السّرَخْسي *آورده* : فان طلب اهل البغى الموادعة اجيبوا اليها اِنْ كان خيراً للمسلمين لما بينا انهم قد يحتاجون الى الموادعة لحفظ قوة انفسهم اذا لم يقووا على قتالهم

وكما يجوز ذلک فی حق المرتدين يجوز فی حق اهل البغی ولم يؤخذ منهم عليها شئ لانهم مسلمون و لايجوز اخذ الجزية من المسلمين آهـ (المبسوط للامام السّرَخْسي ج ۱۰ ص ۱۲۷ ط دارالمعرفة بيروت)

والله تعالى اعلم

مولوي نورمحمد (ثاقب)
سرپرست دارالافتاء مرکزي دولت اسلامي افغانستان
مولوي عبدالله مشهور به خطيب ، ولايت
مولوي عبدالحکيم عفی الله عنه
مولوي احمد (نوري)

په بنديانو کارونه کول څه حکم لري ؟

پوښتنه : کوم اشخاص چې زمونږ سره په مَحبس کې بنديان دي زمونږ لپاره په هغوی باندې دمَحبس ديوال جوړول جواز لري کيا ؟ اُجرة نه ورکوو خو ډوډۍ ورکوو.

(المستفتي : مولوي آغا لالی)

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجواب باسم ملهم الصواب

په مقدس دين او شريعت کې د بند اصل مقصد دا دی چې د بند په وخت کې بندي شخص د خپلو هغو تصرفاتو څخه بندشي چې ده مخکې تربند کول ، باقي حکومت دبندي څخه دمزدور کارنشي اخيستلای مګر که يې په خپله رضا څه خدمت کاؤ :

ان الحبس الشرعی فی اصله لیس هو الحبس فی مکان ضیق وانما هو تعویق الشخص ومنعه من التصرف بنفسه سواء اکان فی بیت ام مسجد الخ (الفقه الاسلامي ج ۲ ص ۴۲۳ ط دارالفکر)

لاینبغی للقاضی ان یضرب محبوسا فی دین ولاغیره ولایصفد ولایقید ولایغل ولایمد و لایجرد و لایقیمه فی الشمس (الفتاوی الهندیة ج ۳ ص ۴۱۴ ط دارالاشاعة قندهار)

لایضرب المدیون ولایقید و لایغل و لایجرد و لایواجر الخ (الفتاوی البزازیة علی هامش الهندیة ج ۵ ص ۲۲۴) و (الدرالمختار و ردالمحتار ج ۴ ص ۳۴۹ و ۳۵۰)

وفي کفالة الاصل لایضرب المدیون ولایغل و لایقید و لایخوف و لایقام بین یدي صاحب الحق و لایجرد اهانةً ولایؤاجر (خلاصة الفتاوی ج ۴ ص ۴۵) و (البحر الرائق ج ۲ ص ۲۸۳)

مولوي احمد (نوري) عفی عنه
مولوي ندامحمد (الحقانی)
مولوي محمود (میوندوال)

مولوي مفتی نورمحمد ثاقب
رئیس عمومي دارالافتاء مرکزي
دولت اسلامي طلباء افغانستان
۱۳۷۲/۲/۱۹ هـ ش

څوک چې د اسلامي تحريک په مقابل کې تبليغات کوي

پوښتنه : که يوڅوک د اسلامي تحريک په مقابل کې مخالف تبليغات وکړي ولوکه هرڅوک وي د دغسې چاسره څرنګه عمل بايد وشي؟

(المستفتي: د تحقيق مديريت د استخباراتو څانګه)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب باسم ملهم الصدق والصواب

څوک چې د اسلامي ډلې پر خلاف تبليغات کوي او خلک فاسدې لارې ته رابولي او جاسوسي کوي اول دې په وهلو او په بند سره تعزير ورکول شي چې تائب شي او که يې تر توبې وروسته دغه عمل بيا بيا مکرر کاؤ او په وهلو او بند يې نه پريښود نو يې قتل جائز دی.

وقال الداودي الجاسوس يقتل وانما نفى القتل عن حاطب لماعلم النبى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منه ولكن مذهب الشافعي وطائفة ان الجاسوس المسلم يعزر ولايجوز قتله وان كان

ذا هيئة عفى عنه لهذا الحديث و عن ابي حنيفة والاوزاعي يوجع عقوبة ويطال حبسه الخ (عمدة القاري شرح صحيح البخاري ج ۱۴ ص ۲۵۲ ط رشيديه)

و فى المجتبى الاصل ان كل شخص رأى مسلما يزنى ان يحل له قتله وانما يمتنع خوفا من ان لايصدّق انه زنى (وعلى هذا) القياس (المكابر بالظلم و قطاع الطريق و صاحب المكس و جميع الظلمة بادنى شئ له قيمة) وجميع الكبائر والاعونة والسعاة يباح قتل الكل ويثاب قاتلهم انتهى و افتى الناصحى بوجوب قتل كل مؤذٍ آهـ (الدرالمختار) (قوله يباح قتل الكل)

ای تعزیراً ان لم ینزجروا کما افاده صدر کلامه (حاشیة الطحطاوي علی الدر المختار ج ۲ ص ۴۱۱ ط دار المعرفة بیروت)

و من لم یندفع فساده فی الارض الا بالقتل قتل مثل المفرق لجماعة المسلمین والداعی الی البدع فی الدین ... والخلاصة انه یجوز القتل سیاسة لمعتادی الاجرام و مدمنی الخمر ودعاة الفساد ومجرمی امن الدولة ونحوهم (الفقه الاسلامی ج ۲ ص ۱۸۸ و ۱۸۹ ط دار الفکر)

سوال: جو مسلمان کافر حکومت کا جاسوس بن کر مسلمانوں کے خفیہ راز اس تک پہنچائے یا حکومت کافرہ کے تعاون سے وہاں کے مسلمانوں کو ستائے اور ان کی فوج کو ظلم پر آمادہ کرے، ایسے مسلمان کا شرعی حکم کیا ہے ؟ اس کا قتل کرنا جائز یا نہیں۔ بینوا وتوجروا

الجواب باسم ملہم الصواب اگر بدون قتل کوئی تدبیر اسکی فہمائش کے لئے کارگر نہ ہو تو اسے قتل کرنا جائز ہے (۱)

قال الامام القرطبی رَحِمَهُ اللَّهُ : فان کان الجاسوس کافرا فقال الاوزاعی رَحِمَهُ اللَّهُ یکون نقضاً لعهده و قال اصبغ الجاسوس الحربی یقتل والجاسوس المسلم والذمی یعاقبان الا ان تظاهرا علی الاسلام فیقتلان ، الجامع لاحکام القرآن ج ۱۸ ص ۵۳ (احسن الفتاوی ج ۲ ص ۲۹ و ۳۰)

مولوي عبدالحکیم عفی الله عنه
مولوي ندامحمد (الحقانی)
مولوي محمد اخلاص (برکتی)
مولوي نورمحمد (ثاقب)
رئیس دارالافتاء مرکزي دولت اسلامي افغانستان

(۱) **سوال**: کوم مسلمان چې د کافر حکومت جاسوس شي د مسلمانانو پټ رازونه هغوی ته ورسوي یا د کافر حکومت په مرسته د هغه ځای مسلمانان زوروي او د هغوی فوځ پر ظلم را پاروي ، د داسې مسلمان شرعي حکم څه دی ؟ دده وژل روا دي او که نه ؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب: که بې له وژلو کوم تدبیر دده د پوه کولو لپاره مؤثر نه وي نو دده وژل جائز دي.

له هزاره ګانوڅخه نیول شوي موټران څه حکم لري ؟

پوښتنه : د هزاره ګانو موټران چې مونږ نیولي دي د هغو استعمال مونږ ته جائز دی او کنه ؟

(المستفتي : مولوي آغا لالی)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب باسم ملهم الصواب

هزاره ګان دوه قسمه دي

اول : هغه هزاره ګان چې د طالبانو سره جنګ او مقابله کوي د هغوی حکم د باغیانو دی یعنې د هغو څخه که د بیت المال شی و نیول شي هغه به بیت المال ته تسلیم شي اوکه د هغوی شخصي ملکیت ونیول شي حکومت هغه بنا بر ضرورت استعمالولی شي ورنه ورته ساتي به یې کوم وخت چې دوی تسلیم شي بیرته به هغه ورته وسپارل شي .

دوهم : هغه هزاره ګان دي چې جنګ او بغاوت نه کوي نو که د هغوی موټران یا نور اموالِ شخصیه ونیول شي د هغو حکم داسې دی لکه د نورو اشخاصو د اموالو.

واما اموالهم فیحبسها عنهم الامام الی ان یزول بغیهم فاذا زال ردها الیهم لان اموالهم لاتحتمل التملک بالاستیلاء لکونهم مسلمین (الفقه الاسلامي و ادلته ج ۶ ص ۹۲ ط دارالفکر)

و ما اصاب المسلمون منهم من کراع اوسلاح ولیس لهم الیه حاجة قال اما الکراع فیباع ویحبس الثمن ... حتی یتفرق جمعهم فیرد ذلک علی صاحبه (المبسوط للامام السرخسي ج ۱۰ ص ۱۲۷ ط دارالمعرفة بیروت)

ولايؤخذ مال على سبيل التملک بطريق الاغتنام ... فان التملک بالقهر يخص بمحل ليس فيه عصمة الاحراز بدارالاسلام (المبسوط للامام السرخسي ج ۱۰ ص ۱۲۲)

والله اعلم وعلمه احكم

مولوي احمد (نوري) عفى عنه ۱۹ / ۲ / ۱۳۷۲ هـ ش
مولوي نداء محمد (الحقاني)
مولوي محمود (ميوندوال)
مولوي مفتي نورمحمد (ثاقب)
رئيس عمومی دارالافتاء مرکزي
دولت اسلامي طلباء افغانستان

د حربي يا مستامن په پاتې شوي مال بايدڅه وشي ؟

پوښتنه : تاريخ (۱۳۷۵/۲/۱۲) د دارالافتاء محترموعلماء کراموته !

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.

وبعد : د شوروي اتحاد د بندي پيلوتانو بعضې شخصي سامانونه لکه توسان يانورشيان پاته دي چې ددې شيانو په باب سور صليب والاهم پوښتنه کوي مونږ ته معلومات نسته چې آيا داشيان مونږ ورکړو که څه په وکړو ، په دې باب هيله مندیو چې دشريعت مقدس په رڼا کې مونږ ته فتوی راکړئ . والسلام

(المستفتي : الحاج ملا محمد حسن اخند دجنوبي ولايا تو تنظيمه رئيس)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملک الوهاب

که دا روسي پيلوټان زمونږ دې دار ته په امان او اجازه د طالبانو داخل شوي وي نو بيا چې دوې عود وکړلو خپل دارحرب ته او شخصي مالونه اوسامانونه يې پاتې شول داشيان د دوی دي په حال د ژوند د دوی کې اوکه دوې مړه وي نو بيا ددوی د ورثه وو دي او د دوی په خيانت کولو سره لکه دوی چې رباني ته مرمۍ راوړې وې ددوی داعهد نه ماتيږي او امان نه ختميږي ، البته که دا روسي پيلوټان بغير د امان او اجازې د طالبانو داخل شوي وي زمونږ دارته نوبيا دوی اوددوی ټول سامانونه فيئ ګرځي دمسلمانانو لپاره .

فان رجع الحربي المستأمن الى دارالحرب وترک وديعة عند مسلم او ذمی او دينا عليهما حل دمه بالعود الى دار الحرب وماكان فی ايدی المسلمين او الذميين من ماله فهوباقٍ على ماكان عليه حرام التناول (الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۲۳۵ ط دارالاشاعة قندهار)

(قوله ولو ان حربيا دخل دارنا بامان ثم عاد الى دار الحرب و ترک وديعة عند مسلم او ذمی او دينا فی ذمتهم فقد صار دمه مباحا بالعود و ما فی دارالاسلام من ماله) له ما دام حيا و ان مات فهو لورثته (فتح القدير ج ۵ ص ۲۷۲) (او مات فقط) بلاغلبة عليه (فديته و قرضه و وديعته لورثته) لان نفسه لم تصر مغنومة فكذا ماله كما لوظهر عليه فهرب فماله له (قوله فماله له) وكذا دينه ويلزم من ذلک انه لو ارسل من يأخذه وجب تسليمه كما لايخفى (الدرالمختار و ردالمحتار ج ۳ ص ۲۷۵ ط رشيديه)

او دا چې د دوی په خيانت کولو سره ددوی امان نه ختميږي په (ردالمحتار ج ۳ ص ۲۷۳) کې ليکلي دي : و ذكر فی موضع آخر ان المستأمن لو قتل

مسلمًا ولو عمداً اوقطع الطريق اوتجسّس اخبار نا فبعث بها اليهم او زنى بمسلمة اوذمية كرها اوسرق لا ينقض عهده آهـ ملخصا او همداسې په (الفتاوى السراجيّة ص ۶۵ ط ايچ - ايم - سعيد) کې هم ذکر شوي دي .

اوکه روسي پيلوټان بغير د امان څخه داخل شوي وي زمونږ دار ته مونږ وويل چې دوی او د دوی ټول سامانونه فيئ ګرځي په (ردالمحتار ج ۳ ص ۲۷۲) کې ليکلي دي : قيد بالمستأمن لانه لو دخل دارنا بلا امان كان ومامعه فيئًا و لو قال دخلت بامان الاان يثبت.
او په (الفتاوى التاتارخانية ج ۵ ص ۲۷۷ ط ادارة القرآن والعلوم الاسلامية) کې ليکلي دي :

اذا دخل الحربى دارنا بغير امان و اخذه واحد من المسلمين لايختص به الآخذ و يكون فيئًا لجماعة المسلمين هذا قول ابي حنيفة رَحِمَهُ ٱللَّهُ وفى الخانية يباع ويوضع ثمنه فى بيت مال المسلمين، وقال ابويوسف ومحمد هو للآخذ الخ .

او په (تحفة الفقهاء ج ۳ ص ۳۰۴ ط دارالكتب العلمية بيروت) کې ليکلي دي :

و لو ان حربيا دخل دارالاسلام بغير امان يصير فيئًا لجماعة المسلمين حتى لو اسلم قبل ان يأخذه واحد من المسلمين فانه لايعتق وهذا عندابي حنيفة فامّا عندهما فيصير ملكا للآخذ حتى لو اسلم قبل الاخذ يكون حراً .

او په الفتاوى السراجية ص ۶۵ کې ليکلي دي : حربي دخل الينا بغير امان فاخذه رجل منا فهو فيء لعامة المسلمين و قال ابويوسف و محمد رحمهما الله هو للّذى اخذه .

او د فيئ مصرف جميع المسلمين دي يعنې ټول پکې حصه لرلای شي او امام به يې په خلکو تقسيموي په تکمله د (فتح الملهم ج ۳ ص ۷۸ ط) کې ليکلي دي :

قال ابن رشد فی بداية المجتهد ۱ : ۳۸۹ قال قوم: الفيئ يصرف لجميع المسلمين الفقير والغني و يعطى الامام منه المقاتلة والولاة والحكام وينفق منه فی النوائب التی تنوب المسلمين كبناء القناطر و اصلاح المساجد و غير ذلک و لاخمس فی شئ منه وبه قال الجمهور وهوالثابت عن ابی بكر و عمر رضی الله عنهما الخ .

والله تعالى اعلم

مولوي عبدالحكيم عفى الله عنه

مولوي عبدالله مشهور به خطيب ، ولايت ارزگان

مولوي محمد مسلم (حقاني)

مولوي نورمحمد (ثاقب)

سرپرست دارالافتاء مركزي تحريک اسلامي طلباء افغانستان

د شیعه ګانو هزاره ؤ قتل څنګه دی؟

پوښتنه : محترمه ! دری نفره هزاره ګان چه اصلی ابائی وطن یې د افغانستان جاغوري ولسوالی ده چې د اسلامي امارت تابع ده ، د ایران مملکت ته تللي وو د هغه ځایه و کندهار ته راغلي وو ، دوی د کندهار په ښار کې څو نفرو طالبانو د نومورو درې تنو هزاره ګانو له جملې څخه دوه تنه قتل کړي دي او د درې نفرو هزاره ګانو څخه یې نقدې پیسې هم وړي دي په دغه اړه لاندنی استفتاء کوو :

اول سوال : آیا د شیعه ګانو هزاره وو قتل روا دی ؟

دوهم سوال : که چېرې شیعه وي خو په ډله او فرقه یې او په بغاوت او عدم بغاوت یې څوك علم و نه لري قتل یې روا دی او که نه ؟

دریم سوال : که چېرې د دغو مذکورو خلکو قتل روا وي نو د چا لپاره یې قتل جواز لري ؟

(الف) : په انفرادي ډول هر څوك کولای سي چې دغه کسان په قتل ورسوي

(ب) : که د دوی قتل د امیر اجازه غواړي یا به یو مسئول اورګان دغه مسئولیت په غاړه اخلي .

څلورم سوال : اوس د دغو ذکر شوو طالبانو سزاء څه ده چې دوه تنه هزاره ګان یې وژلي دي او هم یی ددوی څخه پیسې اخیستي دي ؟

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب حامداً ومصلیاً

د اول سوال جواب : که د مستفتي مراد د قتل څخه قتل په وجه د کفر وي نو باید په وضاحت سره ووایو چې د یوې فرقې یا طائفې یا یوشخص په کفر سره حکم کول ډیر عظیم خطر لري دهیڅ چالپاره داسې جرئت کول نه دي

پکار او د شیعه ګانو او نورو بالمثل طائفو په باب حکم دا دی چې ددوی د عقائدو تحقیق باید ددوی د خولې څخه وشي که چېرې د ضروریاتو د دین څخه یې انکار وکړ نو بالکل د شکه وتلې کافران او مرتدین او مباح القتل دي خو خامخا دا شرط دی چې هغه انکار دوی پخپله وکړي نه دا چې د خلکو د اوازو پر بناء وي او بل دا چې هغه شی واقعًا د ضروریاتو ددین څخه وي یعنې چې ثبوت یې هم قطعي وي او دلالت د آیت یا حدیث پر هغه هم قطعي وي لکه لمونځ ، روژه او داسی نور ، ډیر داسې موضوعات شته چې دوی ته منسوب شوي وي خو دوی پخپله د هغو سره موافق نه وي او په هغو موضوعاتو کې د هغه خرابې عقیدې څخه دوی ځان پاك بولي او بل داچې دوی په خپل مابین کې ډیرې مختلفې فرقې او طائفې دي چې د هرې یوې عقائد جلا جلا دي نو پر ټولو باندې یو حکم کول ډیر زیات خطر لري ، حاصل او خلاصه دا چې د اسلام بعضې احکام داسې دي چې انکار یې کفر وی او بعضې داسې دي چې انکار یې فسق او بدعت وي کفر ته نه رسیږي او بعضې داسې دي چې انکار یې فسق هم نه بلل کیږي لکه اختلاف په فروعاتوکې ، نو جواز د قتل بناء دی پر اباحة ددم او هغه بناء دی پر انکار د ضروریاتو څخه ددین ، مکمل تحقیق باید وشي چې دوی انکار کړی دی او کنه او هغه شی واقعًا د هغو ضروریاتو څخه دی چې منکر یې کافر کیږي او کنه ، یوازې د خلکو پراقوالو او دکتابونو پر حوالو باید اکتفاء ونشي حقیقت باید معلوم شي ځکه چې د کفر او قتل موضوع ډیره لویه او خطري ده .

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا ضَرَبْتُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَتَبَيَّنُوْا وَ لَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ اَلْقٰٓى اِلَيْكُمُ السَّلٰمَ لَسْتَ مُؤْمِنًا ۚ تَبْتَغُوْنَ عَرَضَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا... ادخال کافر فی الملة الاسلامیة او اخراج مسلم عنها عظیم فی الدین ، شرح شفاء لملاّ علي قاري. (جواهر الفقه ج ۱ ص ۲۰ و ۲۱)

لايجوز الحكم بكفر من قال لااله الاالله حتى يتبين امره ... و لايعجل فى قتله حتى يتبين امره (احكام القرآن للتهانوي ج ۲ ص ۳۲۸) الاترى انامتى شككنا فى ايمان رجل لانعرف حاله لم يجزلنا ان نحكم بايمانه ولابكفره ولكن نثبت حتى نعلم حاله (احكام القرآن للتهانوى ج ۲ ص ۳۲۹)
و ما يشك انه ردة لايحكم بها اذالاسلام الثابت لايزول بالشك مع ان الاسلام يعلو وينبغى للعالم اذا رفع اليه هذا ان لا يبادر بتكفير اهل الاسلام ... و فى الفتاوى الصغرى الكفر شئ عظيم فلا اجعل المؤمن كافرا متى وجدت رواية انه لايكفر آهـ و فى الخلاصة و غيرها اذا كان فى المسئلة وجوه توجب التكفير ووجه واحد يمنعه فعلى المفتى ان يميل الى الوجه الذى يمنع التكفير... ولقد الزمت نفسى ان لاافتى بشئٍ منها آهـ كلام البحر باختصار (ردالمحتار ج ۳ ص ۳۱۱ و ۳۱۲)

روافض واہل تشیع میں بہت سے مختلف العقائد فرقے ہیں، اور ہر فرقہ کے عقائد کو جُدا جُدا منضبط کرنا بھی دشوار ہے ایک دوسری مشکل یہ ہے کہ کسی فرقہ کی کتابوں میں اُن کے بعض عقائد معلوم ہوتے ہیں مگر جب وہ عقیدہ اُن کی طرف منسوب کیا جاتا ہے تو وہ اُس کا انکار کرتے ہیں، مثلاً کتب شیعہ میں جابجا اس قسم کی عبارتیں ملتی ہیں جن سے معلوم ہوتا ہے کہ وہ موجودہ قرآن کو محرّف ونا قابل اعتبار سمجھتے ہیں مگر جب کہا جاتا ہے کہ تم موجودہ قرآن پر ایمان نہیں رکھتے تو وہ شدت کے ساتھ اس سے تبرّی کرتے ہیں (۱) (جواہر الفقہ ج ۱ ص ۵۹)

---

(۱) **ترجمه**: په روافضو اوشیعه ګانو کې ډیرې بیلا بیلې ډلې دي اودهرې ډلې عقائد جداجدا بیانول هم مشکل دي یوبل مشکل دادی چې که دکومې ډلې په کتابونوکې ددوی ځینې عقیدې معلومې شي مګرکله چې دعقیدې نسبت دوی ته وشي نودوی د هغې انکارکوي ، مثلاً د شیعه ګانو په کتابونوکې ځای پرځای دا ډول عبارتونه ملاویږي چې ورځخه معلومیږي چې دوی موجوده قرآن محرف او ناقابل اعتبار بولي مګر کله چې ورته وویل شي چې تاسو پرموجوده قرآن ایمان نلری نودوی په شدت سره له دې ځخه خپله تبري بیانوي.

د دوهم سوال جواب : د چاچې فرقه او طائفه ، بغاوت او عدم بغاوت نه وي معلوم نو بناء پر وهم او ګمان به څنګه څوک د مسلمان پر قتل اقدام کوي او یا به څنګه څوك پر جواز فتویٰ ورکوي .

د دریم سوال جواب : د اول سوال د جواب څخه معلومه شوه چې د پوره معلوماتو څخه ترمخه ددوی قتل نه د امام لپاره جائز دی ، نه د قاضي لپاره او نه په انفرادي شکل .

د څلورم سوال جواب : دغه کسان چې دا قتل یې کړی او خاص د پیسو لپاره یې کړی دی باید محکمې ته پیش کړل شي چې هغوی د خپل تحقیق مطابق دوی محاکمه کړي او یا دې امام یا قاضي دوی ته سخت او انتهائي تعزیر ورکړي حتی امام لره دا جائز دي چې دغه کسان سیاسةً قتل کړي که چېرې تکراراً دوی داسې قتلونه کړي وو ، ځکه چې دوی مرتکبین د ډیر عظیم جُرم دي قتل یې کړی دی او پیسې یې اخیستي دي نو که تکراراً یې داسې قتلونه کړي وو دوی ساعین بالفساد دي او دداسې کسانو قتل ثواب لري ولې چې فتنه انګیزه خلک باید د ځمکې له مخ څخه ورک کړل شي .

و جمیع الکبائر والاعونة والسعاة یباح قتل الکل ویثاب قاتلهم انتهی وافتی الناصحی بوجوب قتل کل مؤذٍ الخ (الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج ۳ ص ۱۹۷ و ۱۹۸) و سیأتي ایضًا قُبیل کتاب الجهاد من تکرر الخنق منه فی المصر قتل به سیاسةً لسعیه بالفساد وکل من کان کذلك یدفع شره بالقتل (ردالمحتار ج ۳ ص ۱۹۲)

تنبیه : دغه مذکور احکام د هغو شیعه ګانو دي چې په قندهار یا نورو هغو ولایاتو کې وي چې جنګ نشته پکې او د باغیانو شیعه ګانو سره ارتباط ونلري . والله تعالیٰ اعلم

موټر چې له فراريانو ونيول شي

پوښتنه : محترمه ! د طالبانو کرامو د تحريك د پيروزۍ سره سم ټول موټران او نور اموالِ نقليه و غير نقليه د فراريانو چې مستقيم يې د طالبانو د تحريك سره جنګ او مخالفت کړی وو ، په نفع د بيت المال په حکم د علماؤ مصادره سول ، اوس يو کروزين موټر د يو فراري چې فعلاً په مخالفت کې ولاړ دی او په ايران کې فراري دی خو دغه موټر يو سړي د مخه تر پيروزۍ د تحريك ددغه فراري څخه رانيولی ، آيا د دغه موټر حکم څه دی دغه هم په نفع د بيت المال مصادره کيږي او که يا ؟

الجواب : دغه کروزين موټر چې ددغه مشتري په لاس کې دی هر څوك چې يې دعوه کوي حکومت وي او که رعيت دغه دعوه کوونکی به اول شرعي دلائل او اسناد وړاندی کوي محکمې ته بيا که قاضي دغه دلائل او اسناد قبول کړل او حکم يې وکړ نو بيا به مصادره کيږي او که د حکومت سره دلا ئل او اسناد نه وي بيا نو د مصادره کولو حق نلري او يوازی په دې نامه چې دا موټر توپکي پر دغه سړي خرڅ کړی بغير له نورو شرعي دلائلو او اسنادو دا موټر د بيت المال نشي ګرځيدلای او نه به دغه مشتري ته تکليف ورکول کيږي او نه به د مشتري څخه اسناد او دلائل غوښتل کيږي په داسې حال کې چې حکومت سره شرعي دلائل او معتبر اسناد نه وي .

و لايسبى لهم ذرية ولايقسم لهم مال لقول على رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يوم الجمل و لايقتل اسير و لايكشف ستر ولايؤخذ مال وهو القدوة فى هذا الباب (الهداية ج ۲ ص ۵۸۵ ط رشيديه) و كذا (الدرالمختار و ردالمحتار ج ۳ ص ۳۴۱) لايُعمل بالخط والختم وحدهما الااذا كان سالمًا من شبهة التزوير والتصنيع فيعمل به يعنى انه يكون مداراً للحكم الخ (المجلة - المـ ۱۷۳۲)

ولیس للامام ان یخرج شیئًا من ید احد الا بحقٍ ثابتٍ معروفٍ (ردالمحتار ج ۳ ص ۲۸۱) قال السبکی و لوجوزنا الحکم برفع الموجودالمحقق ای وهو الید بغیر بینة بل بمجرد اصل مستصحب لزم تسلیط الظلمة علی مافی ایدی الناس (ردالمحتار ج ۳ ص ۲۸۱)

واللہ تعالٰی اعلم

له مخالفینو اوجاسوسانو نه د نیول شویو موټرانو حکم؟

پوښتنه : امارت اسلامی افغانستان ریاست استخبارات هرات مدیریت تحقیق

بریاست محترم شوری علماء کرام ولایت قندهار ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاتهُ.

اول : یک عراده موتر سراچه از نزد اسامی محمد خراسانی ولد خان محمد تبعه ایران بدست امده که کیفیت آن ازین قرار است محمد خراسانی یکی از اتباع ایرانی بوده که غرض جاسوسی و بدستور اداره استخبارات ایران از طرف احمد نام وحسین که اعضای استخبارات ایران هستند برای افغانستان توظیف شده بود و یکی از افراد خیلی مهم و خطرناک اطلاعات ایران است از نام برده یک عراده موتر سراچه بدست امده که به پول اداره اطلاعات ایران خریداری شده و به غرض فعالیت های جاسوسی به اختیار محمد خراسانی گذاشته شده است ؟

دوم : یکعراده موتر سراچه از نزد اسامی سنگین ولد حاجی عبدالحق بدست امده که کیفیت ان قرار ذیل است تعداد ۳۵ میل سلاح مخالفین که از طریق اطلاعات ایران توسط شخص ایرانی بنام

انزلی معاون استخبارات تایباد ایران برای سنگین توزیع گردیده بود وتوسط سراچه متذکره سلاح ها به افغانستان انتقال گردیده چون سلاح ها در مرز ایران در یک جایسازی که در زیر فرش سراچه ساخته شده بود از ایران به افغانستان انتقال داده شده و به دسترس مخالفین قرار گرفته همچنین اسامیان هر یک سنگین وقومندان گلو که فعلاً قومندان مخالفین است باتعدادی افراد مسلح دیگر توسط همین سراچه از ایران به افغانستان امده اند؟

سوم : یک عراده موترکرولا از نزد اسامی حاجی کاظم بدست امده که حاجی کاظم یکی از افراد برجسته کودتای ناکام وشورش هزاره ها در هرات بوده در پلان شور شیان حاجی کاظم بصفت رئیس **استخبارات** هرات تعین شده بود حاجی کاظم از سازماندهندگان شورش بود و در شکست شورش از هرات فرار نمود بعد از چند وقت که ذریعه کرولای متذکره بطرف هرات می امد در عرض راه همرای موترش یکجا دستگیر شده است؟

سه مطلب فوق غرض صدور فتوی شرعی به شما تحریر شد که موترهای متذکره به بیت المال ضبط شود و یا به ورثه شان تسلیم داده شود.

(ریاست **استخبارات** ولایت هرات مدیریت تحقیق)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الله تعالى

محترما! دین مقدس اسلام دربارۂ اموال مردم و ملکیتها ایشان توجهی زیاد داده و در باب حفظ و تحفظ آنها بسیار اوامر جدی فرموده و هیچ کس را اجازه نداده تا بنوعی از انواع باموال مردم ناحق تعرض نماید مال زیاده باشد یا اندک و آن مردم مخالفین و بغاة باشند و یا مجرمین و عصاة باشند و یا دیگر افراد رعیت، دربارۂ اموال بغاة و مخالفین حکم اینست که اموال شخصیه و مملوکه ایشان از طرف حکومت بطور امانت ودیعت وحفظ شود هر وقت که مخالفین و بغاة از بغاوت و مخالفت دست بکشند، و یا بزور تسلیم شوند اموال ایشان بایشان تسلیم داده شود هیچ نوع تغییر و نقصان باموال ایشان باید رسیده نشود و اگر اموال از قسم حیوانات بود که محتاج بنفقات و مصارف بود آن اموال باید فروخته شود و قیمت اش برای ایشان نگهداری شود، و همچنان دربارۂ دیگر مجرمین باید گفته شود که تعرض باموال شخصی ایشان و موترهای شخصی ایشان و استفاده از ان بغیر اجازۂ ایشان حرام قطعی است، و تعزیر بالمال جائز نیست، جداً باید از ان احتراز شود. البته این حکم دربارۂ اموال شخصی ایشان است.

و لا یسبی لهم ذریة و لا یقسم لهم مال لقول علی رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ یوم الجمل و لایقتل اسیر و لایکشف ستر و لایوخذ مال و هو القدوة فی هذا الباب ... و لاتهم مسلمون و الاسلام یعصم النفس والمال ... و یحبس الامام اموالهم و لایردّها

علیهم و لایقسمها حتی یتوبوا فیردّها علیهم ... واماالردّ بعدالتوبة فلاندفاع الضرورة و لااستغنام فیها.

(الهدایة ج ۲ ص ۵۸۵ و ۵۸۶)

و تحبس اموالهم الی ظهور توبتهم (فتردّ علیهم و بیع الکراع اولی لانه انفع فتح و یقاس علیه العبید نهر و نقاتل بسلاحهم و خیلهم عند الحاجة و لاینتفع بغیرهما من اموالهم مطلقاً) و لو عندالحاجة سراج (الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج ۳ ص ۳۴۱) و هکذافی (الفتاوی الهندیة ج ۲ ص ۲۸۴)

و لنا ان علیًا قسم السلاح فیما بین اصحابه بالبصرة و کانت قسمته للحاجة لاللتملیک قال المحقق فی الفتح و لو لاان فیه اجماعًا لامکن التمسک ببعض الظواهر في تملکه ، ثم ذکر ما رواه ابن ابي شیبة عن ابي البحتري و فیه : و ماکان من دابة او سلاح فهو لکم ... و قد اشرتُ الی طریق الجمع بینه و بین مایخالفه بانه اعطاهم ماکان علیه سمة السلطان و علامة بیت المال و ردّ ماسواه الی اهله

(اعلاء السنن ج ۱۲ ص ۲۷۲ و ۲۷۳)

و فی شرح الاثار التعزیر بالمال کان فی ابتداء الاسلام ثم نسخ آهـ و الحاصل ان المذهب عدم التعزیر بأخذ المال (البحرالرائق ج ۵ ص ۴۱) و کذا في (الدرالمختار و ردالمحتار ج ۳ ص ۱۹۵ و ۱۹۶)

(**تنبیه**) باید گفته شود که اگر این موترها از طرف حکومت ایران به ایشان هبه شده باشد یا تملیکا بایشان داده شده باشد بطور ملکیت شخصی پس اخذ آن غیر از صورت ودیعت جائز نباشد چنانکه ذکر شد.

واگر تملیکا داده نشده باشد بلکه ایران فقط بخاطر استفاده برای ایشان داده باشد که پس از استفاده این موترها را برای حکومت ایران یا مخالفین امارت اسلامی تحویل دهند درین صورت اخذ این موترها برای امارت اسلامی وبیت المال افغانستان جائزاست چنانکه از حوالهای سابق فهمیده میشود.

واللہ تعالٰی اعلم.

فصل في مصارف بيت المال

امیرالمؤمنین ترکوم حده په بیت المال کې تصرف کولای شي؟

پوښتنه: محترموعلماء کرامو د دارالافتاء!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

قدرمنوعلماؤ! آیا امیرالمؤمنین د بیت المال په حصه کې خود مختار دی او کنه؟ یعنې زما مطلب دا دی که چېرې امیرالمؤمنین و غواړي و یو چا ته موټر ورکړي او هغه سړی په کورکې ناست وي د تحریک کار نکوي او یا د تحریک کارکوي وزیر وي او یا رئیس وي خو د موټر څخه خپل شخصي کار اخلي مثلاً چې دده زړه و غواړي هغه کوي خو په امر د امیرالمؤمنین آیا د اخروي ګرفت څخه خلاصیږي کیا؟

فقط. والسلام

(المستفتي: حافظ نوراحمد)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب

امیرالمؤمنین په بیت المال کې تصرفات کولای شي لکن تصرفات یې دوه قسمه دي : یو دا دی چې ددغه تصرف په وخت کې مصلحت او یو منفعت په نظر کې نیول شوی وي دا قسم تصرف یې جائز او صحیح دی اوبل دادی چې مصلحت اومنفعت په هغه تصرف کې نه وي او یا یې ضرر تر منفعت ډېر وي دا قسم تصرفات یې ناجائز دي ولې چې امیرالمؤمنین خومالک د بیت المال نه دی فقط متولّي دی نفع به ور رسوي اما ضرر رسول ورته حرام دي .

او موټر چې هرڅوک په شخصي کارو کې مصروف کوي نوکه امیرالمؤمنین اجازه د شخصي کارو ورته کړې وي نو پروا نه لري اوکه د هغه اجازه نه وي او یا یې منع کړې وي نو بیا یې شخصي چلول حرام دي او امیرالمؤمنین باید هغه وخت اجازه ورته وکړي چې مصلحت پکې وي نه عامه اجازه ، په بیت المال کې ډیر زیات اوانتهایي احتیاط پکاردی هم امیرالمؤمنین ته او هم نورو خلکو ته ، په بیت المال کې د عامو خلکو اشتراک اوحقوق شته چې ددې حساب ورکول په آخرت کې ډیر ګران دي.

وکل مارأیتَ - یا امیرالمؤمنین - ان اللہ یصلح به امرالرعیة فافعله ولاتؤخّره فانّی ارجولک بذلک اعظم الاجر وافضل الثواب (کتاب الخراج للامام ابي یوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ (رواتب العمال والقضاة) ص ۳۲۳)

والواجب علی الائمة ان یوصلوا الحقوق الی اربابها ولایحبسونها عنهم ولایحل للامام واعوانه من هذه الاموال الاما یکفیهم و عائلتهم ولا یجعلونها کنوزاً و ما فضل من هذه الاموال قسم بین المسلمین فان قصرالائمة فی ذلک فوباله علیهم .(الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۹۱)

و بعث (عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ) عثمان بن حنيف على مساحة الارضين ، و جعل بينهم شاة كل يوم فى بيت المال ... و قال انى انزلت نفسي واياكم من هذا المال بمنزلة ولي اليتيم فان الله تبارک وتعالى قال: وَمَنْ كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ ۚ وَمَنْ كَانَ فَقِيْرًا فَلْيَاْكُلْ بِالْمَعْرُوْفِ (الاشباه والنظائر مع شرحه غمز عيون البصائر ج ۱ ص ۳۷۰)

فهذا يدل على ان للامام ان يعطى المال حيث رأى المصلحة (الفتاوى المهدية ج ۲ ص ۲۴۲) لما تقرر فى كتب الفروع من ان تصرف الامام وكذا نائبه منوط بالمصلحة (الفتاوى المهدية ج۲ ص ۲۴۷)

اى ان تصرف الراعى فى امور الرعية يجب ان يكون مبنيًا على المصلحة و ما لم يكن كذلک لايكون صحيحًا ... وكذلک القاضي لاتعتبر تصرفاته في الامور العامة و احكامه ما لم تكن مبنيةً على المصلحة مثلاً لو امر القاضى شخصًا بان يستهلک مالاً من بيت المال او مالاً لشخصٍ اخر فاذنه غيرصحيح حتى ان القاضي نفسه لواستهلک المال يكون ضامنًا (درر الحكام شرح مجلة الاحكام ج ۱ ص ۵۷) و يجب على الامام ان يتقى الله تعالى ويصرف الى كل مستحق قدر حاجته من غير زيادة فان قصر فى ذلک كان الله عليه حسيبًا آهـ (شرح المجلة للاتاسى ج۱ ص ۱۴۳) و فعل الامام منوط بالمصلحة والظلم ليس بمصلحةٍ الخ (شرح المجلة للاتاسي ج ۱ ص ۱۴۳)

بیت المال میں امیر المؤمنین اور عام مسلمانوں کی مساوات ... بیت المال سے خلیفہ اسلام کی تنخواہ صرف پیٹ بھرائی کھانا اور جاڑے گرمی میں دو جوڑے کپڑے (۱) (جواہر الفقہ ج۲ ص۸۱و۸۲)

(۱) **ترجمه**: په بيت المال کې دامير المؤمنين اوعام مسلمانانو مساوات ... له بيت المال څخه د اسلام د خليفه تنخواه صرف دخيټې مړولو ډوډۍ او په يخۍ اوګرمۍ کې دوې جوړې جامې.

قانوناً ممنوع نیول شویو مالونومصرف بیت المال دی

پوښتنه : وحضورته د علماؤ د دارالافتاء مرکزي کندهار!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

و بعـد ! حکـم دهغـه مـوادو څـه دی چـې قانونـاً ممنوع دي او اوس یـې هـم مالکـان نه پیـداکیږي کـه څه هم اعـلان یې وشي نوبایـد حکومت څه پرې وکړي ؟ ستاسوڅخه یې جواب د شریعت له نظره غواړو. والسلام

بینوا توجروا

(المستفتي : د کابل اوسیدونکی)

الفتویٰ

بعون الملک العلی الاعلی

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

دغه اموال د هغو اموالو د قسمه څخه دي چې مالکان لري خومعلوم نه وي لکه هغه امـوال چې دقطـاع الطریـق سره ونیـول شي یـا نـور امـوالِ ضـائعه ، ددغه قسم اموالو حکم دا دی چې وروسته تر قطعې د طمعـې د پیـدا کیـدلو د مالک او یا د وارثانو د مالک ، بیت المال ته سپارل کیږي.

دغه اموال به پـه نفقـه او دواء د مریضـانواو عـاجزانو چې داسې څوک نلري چې د دوی نفقه پرې لازمه وي ، مصرف کیږي .

قال ابویوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ : واما ما سئلت عنه - یا امیرالمؤمنین - مما یصیبه ولاتک فی الامصار مع اللصوص اذا أُخِذوا ، من المال والمتاع والسلاح وغیر ذلک فما اصبت معهم من شئ فتقدم فی ان یُصیّر الی رجل من اهل

الامانة والصلاح فيُصيِّره فی موضع حريز فان جاء له طالب واقام بذلک بينةً و شهودًا لابأس بهم قومًا معروفين ردّ عليه متاعه واشهد عليه وضمنه المتاع اوقيمته ان جاء مستحق له وان لم يأت له طالب بيع المتاع والسلاح وصيرثمنه والمال الذی اصيب معهم الی بيت المال فان هذا وشبهه ممايذهب به الولاة ولايحل لهم ولايسعهم الاان يرفعوه اليک آهـ (کتاب الخراج للامام ابي يوسف رَحِمَهُ ٱللَّهُ (حکم ما يوجد مع اللصوص من المال والمتاع) ص ۳۵۷)

النوع الثالث : الاموال التی تؤول ملکيتها للدولة من الافراد او يکون للدولة عليها الولاية فالاولی مثل مايؤول الی بيت المال کالاموال الضائعة اوالتی لاوارث لها لان بيت المال وارث من لا وارث له آهـ (الفقه الاسلامي ج ۵ ص ۳۹۷ ط دارالفکر)

من الاموال الضائعة ای التي لها مستحق لکنه غير معلوم (تقريرات الرافعي لردالمحتار ج۱ ص ۱۳۹)

والرابع اللقطات هکذا فی محيط السرخسي وما اخذ من ترکة الميت الذي مات ولم يترک وارثا اوترک زوجا او زوجة وهذ النوع يصرف الی نفقة المرضی وادويتهم وهم فقراء والی کفن الموتی الذين لامال لهم والی اللقيط وعقل جنايته والی نفقة من هو عاجز عن الکسب وليس له من تجب عليه نفقته وما اشبه ذلک کذا فی شرح الطحاوي. (الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۹۱)

نوټ : اوکه چېرې پردغه شي نفعه نه اخيستل کيدله بيا دې خرڅ کړل شي او پر قيمت دې نفعه واخيستل شي لکه وړاندې چې ذکر شو :

و ان لم يأت له طالب بيع المتاع والسلاح وصيرثمنه والمال الذي اصيب معهم الی بيت المال (کتاب الخراج للامام ابي يوسف رَحِمَهُ ٱللَّهُ ۳۵۷)

د بیت المال په استعمال کې خیانت څنګه راځي ؟

پوښتنه : د بیت المال استعمالول په کوم ځای کې خیانت بلل کیږي؟
(دتحقیق مدیریت داستخباراتو څانګه)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب حامداً ومصلیاً

د بیت المال د استعمال ځایونه ډیر زیات دي ځکه بیت المال څلور قسمه دی ، د هر قسم لپاره خپل مصارف شته ، چې استعمال یې په خلاف ددغه مصارفو کې خیانت بلل کیږي ، ددغو اقسامو او مصارفو تفصیل دلته ضروري نه دی ، البته دا به ووایو: هر شی دبیت المال چې مستعملیږي باید اسلامي غرض او هدف پکې په نظر کې ونیسو.

مولوي محمد اخلاص (برکتي)
مولوي عبد الحکیم عفی الله عنه
مولوي ندا محمد (الحقاني)

مولوي نور محمد (ثاقب)
د افغانستان د اسلامي دولت د مرکزي دارالافتاء رئیس

سادات کرام او فاروقي حضرات په بیت المال کې حق لري کنه؟

پوښتنه : سادات کرام او فاروقي حضرات په بیت المال کې څه برخه لري او کنه ؟

بینوا توجروا

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب حامداً ومصلیاً

سادات کرام که چېرې فقراء وو نو د فقر په وجه په بیت المال کی حق لري او هغه په دې طریقه سره چې غنیمت د کفارو څخه ونیول شي نو د غنیمت پنځمه حصه به دري ځایه شي یوه برخه به د یتیمانو وي ، بله برخه به د مسافرینو وي او بله برخه به د عامو مساکینو وي ، لکن په مساکینو کی د ذوی القربی حق تر مخه دی او همدارنګه په یتیمانو او مسافرینو کې هم د ذوی القربیٰ حق تر مخه دی او اغنیاء د ساداتو حق نلري په بیت المال کې زمونږ په مذهب ، او مراد د ذوی القربی څخه بنوهاشم او بنوالمطلب دي نه نور .

اما الخمس فیقسم علی ثلاثة اسهم سهم للیتامی و سهم للمساکین و سهم لابن السبیل یدخل فقراء ذوی القربی فیهم و یُقدّمون و لایدفع الی اغنیائهم فاما ذکر الله تعالی فی الخمس فانه لافتتاح الکلام تبرکا باسمه (الفتاوی الهندیة ج ۲ ص ۲۱۴) قال الحنفیة : تقسم (ای خمس الغنیمة) علی ثلاثة اسهم سهم للیتامی و سهم للمساکین و سهم لابناء السبیل ... و سهم ذوی القربی کانوا یستحقونه فی زمن النبی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ بالنصرة له و بعد وفاته بالفقر لانقطاع النصرة. (الفقه الاسلامی ج ۳ ص ۷۲۲ ط دارالفکر)

و قدم فقراء ذوی القربی من بنی هاشم منهم ای من الاصناف الثلاثة علیهم لجواز الصدقات لغیر هم لالهم و لاحق لاغنیائهم عندنا (الدر المختار بهامش رد المحتار ج ۳ ص ۲۵۸) و حاصله انه کما سقط سهمه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بموته عندنا سقط سهم ذوی القربی بموته ایضًا لفقد علة استحقاقهم حتی قال الطحاوی لا یستحق فقیر هم ایضًا لکن الاول و هو قول الکرخی اظهر الخ (رد المحتار ج ۳ ص ۲۵۹) المراد بهم (ای بذوی القربی) هنا بنو هاشم و بنو المطلب (رد المحتار ج ۳ ص ۲۵۸) و هکذا فی (الفقه الاسلامی ج ۳ ص ۷۲۲)

اعلم ان عبد مناف و هو الاب الرابع للنبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اعقب اربعة و هم هاشم و المطلب و نوفل و عبد شمس ثم هاشم اعقب اربعة انقطع نسل الکل الا عبد المطلب فانه اعقب اثنی عشر تصرف الزکوة الی او لاد کل اذا کانوا مسلمین فقراء الا اولاد عباس و حارث و اولاد ابی طالب من علی و جعفر و عقیل قهستانی (رد المحتار ج ۲ ص ۷۲)

او حضرات نه بنوهاشم دي او نه بنومطلب :

و بنابرآن سلسله حضرت فاروق اعظم رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ به پشت هشتم به جناب رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ می پیوندند (الفاروق ص ۲۵ حصه اول)

واللہ تعالیٰ اعلم.

د يومصرف په نوم راغونډ ې کړې روپۍ په بل مصرف کې لګول

پوښتنه : طالبان په يوه او بل نامه استفاده کوي او هغه پيسې هم پرطالبانومصرفوي داکارثنګه دی ، غدر بلل کيږي او که نه ؟ يعنې د تعليم او تربيه يا امر بالمعروف او غيره په نامه راځي خو بيا په نظامي ارګان کې مصرفيږي حکم يې څرنګه دی ؟

فوق الذکر سوالونه که لطفًا دشريعت له لارې حل کړئ دا به ستاسو يوه لويه مهرباني وي. والسلام

(المستفتي: ملامحمدګل نيازی)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملک الوهاب

هرڅه پيسې چې د يو رياست لپاره تخصيص شي هغه بايد هغه ته ورسيږي او هلته مصرف شي او تخصيص چې هرمشر ته ورکول کيږي لپاره د يو رياست نو هغه مشر امين بلل کيږي او امين مکلف دی چې امانت به خپل اهل ته رسوي لکه څنګه چې ايت کريمه کې راغلي دي : {اِنَّ اللّٰهَ يَاۡمُرُكُمۡ اَنۡ تُؤَدُّوا الۡاَمٰنٰتِ اِلٰٓى اَهۡلِهَا}

او بل دا چې هغه پيسې که په بل ځاې کې مصرف شي نودامخالفت شو دامير اومخالفت دامير په غير د معصيت کې حرام دی اوبل داچې دبيت المال هره شعبه او هر بيت خپل مصارف او ځايونه د مصرف لري چې د يوې شعبې پيسې د بلې شعبې په مصارفو کې استعمالول جائز نه دي بغير له خاصو صورتونو.

فعلی الامام ان یجعل بیت المال اربعة لکل نوع بیتا لان لکل نوع حکمًا یختص به لایشارکه مال اخر فیه الخ (الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۹۱)

و هکذا فی (الدرالمختار و رد المحتار ج ۲ ص ۶۳) صرح الفقهاء بان طاعة الامام فیما لیس بمعصیة واجبة الخ (تکملة فتح الملهم ج۳ ص ۳۲۳)

والله تعالی اعلم

د ګمرک او ټرانسپورټ عوائد چاته باید ورکول شي؟

پوښتنه : یتیمانو او معیوبینو ته په قانوني شکل له ګمرک او ټرانسپورټ څخه تقسیم صحت لري اوکنه ؟

(المستفتي : حافظ عبدالمجید د شهداؤ او معلولینو رئیس)

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

نحمده ونصلي علی رسوله الکریم

الجواب باسم ملهم الصواب

د غنمیت پنځمه برخه او یا د معدن او رکاز مبلغ په یتیمانو باندې مصرف کیدلای شي او هغه شیان چې پیداشوې وي چې هغو ته اللقطات واېي او یا د داسې شخص ترکه چې د هغه وارث نه وي پاته شوې په معیوبینو باندې مصرف کیدلای شي .

نوکه د ګمرک او ترانسپورټ مبلغ د مذکوره اشیاؤ څخه وي په یتیمانو او معیوبینو مصرف کیدلای شي ، خو معیوبین به فقراء وي او هم د نفقې د برابرولو قریب به نه لري.

(والثاني) خُمس الغنائم والمعادن والركاز ويصرف اليوم الى ثلاثة اصناف اليتامى والمساكين وابن السبيل (الفتاوى الهندية ج ١ ص ١٩٠ ط دارالاشاعة العربية قندهار)
و (بدائع الصنائع ج ٧ ص ١٢٤ ط ايج - ايم - سعيد)

والمال المستخرج من الارض له اسام ثلاثة الكنز والمعدن والركاز، والكنز اسم لما دفنه بنوآدم والمعدن اسم لما خلقه الله تعالى فى الارض يوم خلق الارض والركاز اسم لهما جميعًا (العناية على هامش فتح القدير ج٢ ص ١٧٩)
(والرابع) اللقطا ت هكذا في محيط السرخسي و ما اخذ من تركة الميت الذي مات و لم يترک وارثًا ... وهذا النوع يصرف الى نفقة المرضى وادويتهم وهم فقراء ... والى نفقة من هو عاجز عن الكسب وليس له من تجب عليه نفقته (الفتاوى الهندية ج ١ص ١٩١ ط دارالاشاعة قندهار)
و (بدائع الصنائع ج ٢ ص ٢٩ ط ايج - ايم – سعيد)

والله اعلم بالصواب

مولوي مفتي نورمحمد (ثاقب)
رئيس عمومي دارالافتاء مركزي
دولت اسلامي طلباء افغانستان

العبد الاحقرندا محمد (الحقاني)
خريج وفاق المدارس

آیا پرعامو مساکینو ، معیوبینو ، د شهداؤ پر وارثانو د تحریک پرفقراؤ مسئولینو او پر تعلیم او تربیې بیت المال مصرفولای شي؟

پوښتنه : جناب محترم رئیس صاحب د دارالافتاء او ستاسو ملګرو علماء کراموڅخه ددې فتوی غوښتونکي یو چې کوم عشر او زکوة د بیت المال حق ده ، د بیت المال څخه مصرف پر دغو څلورو فریقو جواز لري اوکه یې نه لري ؟ :

۱- عام مساکین

۲- معیوبین د جهاد او وارثین د د شهداؤ د تحریک .

۳- مسئولین د تحریک چې فقیران وي.

۴ - تعلیم او تربیه .

(المستفتي : عبدالمجید د شهیدانو او معلولینو د ریاست رئیس)

۱۱/ ۵ / ۱۳۷۵ هـ ش

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب و هو ملهم الصواب

په استفتاء کې چې اول او دریم فریق دي یعنې عام مساکین او مسئولین د تحریک چې فقراء وي دوی مصرف د عشر او زکوة دي یعنې ورکول د عشر او د زکوة دوی ته بې له شکه صحیح دي ، او هر چې دویم او څلورم فریق دي یعنې معیوبین د جهاد او وارثان د شهیدانو د تحریک ، او تعلیم او تربیه دا مصرف د خراج (مالیې) او د جزیې دي ، که څه هم د امام (باچا) لپاره جائز دي چې د بیت العشر څخه قرض وکړي بیت د خراج او جزیې لره یې ورکړی

اوداسې بالعکس اودا قرض په څلورو واړو بیوت د مال کې صحیح کیږي ، زیات تفصیل به د لاندې عباراتو څخه معلوم شي :

په (الدرالمختار و ردالمحتار ج ۳ ص ۳۰۷ ط رشیدیه) کې په بیان د مصرف د خراج او جزیه و غیرهما کې لیکلي دي :

(وکفایة العلماء) والمتعلمین تجنیس وبه یدخل طلبة العلم - فتح (والقضاة و العمال) ککتبة قضاة وشهود قسمة ورقباء سواحل (ورزق المقاتلة وذراریهم) ای ذراري من ذکر - مسکین و اعتمده فی البحر (قوله وکفایة العلماء) هم اصحاب التفسیر والحدیث و الظاهر ان المراد بهم من یُعَلِّمُ العلوم الشرعیة فیشمل الصرف والنحو وغیرهما - حموی عن البرجندي ط و فی التعبیر بالکفایة اشعار بانه لایزاد علیها وسیأتي بیانه وکذا یُشْعِرُ باشتراط فقرهم لکن فی حظر الخانیة سئل علي الرازي عن بیت المال هل للاغنیاء فیه نصیب قال لاالاان یکون عاملاً اوقاضیًا ولیس للفقهاء فیه نصیب الافقیهٌ فرغ نفسه لتعلیم الناس الفقه أو القرآن آهـ قال فی البحر : ای بان صرف غالب اوقاته فی العلم ولیس مراد الرازي الاقتصار علی العامل اوالقاضي بل اشاربهما الی کل من فرغ نفسه لعمل المسلمین فیدخل فیه المفتي والجندي فیستحقان الکفایة مع الغنی آهـ ... وفسرالذراري فی شرح دررالبحار بالزوجة والاولاد ... نقل الشیخ عیسی السفطی فی رسالته مانصه قال ابویوسف فی کتاب الخراج ان من کان مستحقًا فی بیت المال وفرض له استحقاقه فیه فانه یفرض لذریته ایضًا تبعًا له و لایسقط بموته و قال صاحب الحاوي: الفتوی علی انه یفرض لذراري العلماء والفقهاء والمقاتلة و من کان مستحقًا فی بیت المال لایسقط ما فرض لذراریهم بموتهم آهـ ط قلت لکن قول المتون الآتي و من مات فی نصف الحول حرم من العطاء ینافي ذلک الا

ان يجاب بان مايجري على الذراري عطاء مستقل خاص بالذراري لاعطاء الميت بطريق الارث بين جميع الورثة تأمل لكن مامرّ عن الحاوي لم أره فى الحاوي القدسي و لافى الحاوي الزاهدي وراجعت مواضع كثيرة من كتاب الخراج فلم اره فيه والله اعلم نعم قال الحموي فى رسالته وقد ذكر علماؤنا انه يفرض لِأولادهم تبعًا ولايسقط بموت الاصل ترغيبًا آهـ و ذكر العلامة المقدسي ان اعطاء هم بالاولى لشدة احتياجهم سيمًا اذا كانوا يجتهدون فى سلوک طريق آبائهم آهـ

او په (ردالمحتار ج ۲ ص ۲۳ ط رشيديه) کې ذکر دي: و قال الشرنبلالي فى رسالته ذكروا انه يجب عليه (اى الامام) ان يجعل لكل نوع منها بيتًا يخصه ولا يخلط بعضه ببعض وانه اذا احتاج الى مصرف خزانة وليس فيها مايفي به يستقرض من خزانة غيرها ثم اذا حصل للّتي استقرض لها مال يرد الى المستقرض منها الاان يكون المصروف من الصدقات اوخمس الغنائم على اهل الخراج وهم فقراء فانه لايرد شيئًا لِإستحقاقهم للصدقات بالفقر وكذا فى غيره اذا صرفه الى المستحق آهـ

او دغه راز په (الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۹۱ دارالاشاعة العربية قندهار) کې او هم په (البحرالرائق ج ۵ ص ۱۱۹ ط ماجدية) کې ذکرشوي دي.

مولوي نورمحمد (ثاقب)
د افغانستان د مرکزي دارالافتاء سرپرست

مولوي عبدالحکيم عفى الله عنه
مولوي عبدالله مشهور په خطيب
مولوي محمد مسلم (حقاني)

د توپکیانوپه وخت کې مدرسې ته راوړي ګاډران چاته ورکړو؟

پوښتنه : محترم د دارالافتاء رئیس او معاونینو ته

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

وبعد: څرنګه چې زمونږ مدرسه ناجیه مشتمل پرلس اطاقه ده او د ټولو اطاقونو پرسرباندې چوبي ګاډردي ، د توپکیانو په وخت کې وطن ټوله تربمبارد لاندې ؤ په دغه وخت کې په نامه د ملا عزیزالله یو قومندان دا ګاډران د خپلې استوګنې لپاره د مدرسې پراطاقونو باندې ایښي دي ، چې اوس پاته دي ، زیات وَینو خوړلي دي او خوري ېې .

اوس زمونږ استاذان داهیله لري چې د شرعي لارې مونږ ته معلومات راکړئ چې دا ګاډران د بیت المال دي اوکه دوطن دخلکو دي ، راټول سوي د وطن څخه دي یو وایي زما دي اوبل وایي زما دي اوکه چېرې مونږ استاذان ږغ وکړو ټوله سر راپورته کوي اصلي مالک یې نه معلومیږي. والسلام.

(دکرز مدرسه ناجیه ، مولوي عبدالحکیم صاحب)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون المستعان

هغه مالونه چې د باغیانواویاغیانواویاقطاع الطریق څخه اهلِ عدلوته په لاس ورشي که د چا شخصي مال ورسره ګیرشي دغه مال د خپل مالک دی که یې شاهدان درلودل ، کفیل دې ورځنې واخیستل شي مال دې ورکړل شي او که یې شاهدان نه درلودل او معلوم معتبر عادل ثقه سړی ؤ که چېرې قسم ورکول شي او کفیل ورځنې واخیستل شي ، اعتبار پرې وکړل شي او مال یې ورکول شي پروا نه لري او که یې مالک معلوم نه ؤ بیا لُقطه ده اعلان دې وکړي او

وروسته تر قطع د امید چې مالک يې نشته بيادې دغه مال متاع اميرته حواله کړل شي چې په بيت المال د عامو مسلمانانو کې يې کښيږدي.

واما ما سألت عنه - يا اميرالمؤمنين - ممايصيبه ولاتک فی الامصار مع اللصوص اذا أُخِذوا، من المال والمتاع والسلاح و غيرذلک فما اصبت معهم من شئ فتقدم فی ان يُصيِّر الی رجل من اهل الامانة والصلاح فيُصيِّره فی موضع حريز فان جاء له طالب و اقام بذلک بينةً و شهوداً لاباس بهم قومًا معروفين ردّ عليه متاعه واشهد عليه و ضمنه المتاع او قيمته ان جاء مستحق له وان لم يات له طالب بيع المتاع والسلاح وصير ثمنه والمال الذي اصيب معهم الی بيت المال فان هذا و شبهه مما يذهب به الولاة و لايحل لهم ولايسعهم الاان يرفعوه اليک آهـ (کتاب الخراج للامام ابي يوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ (حكم ما يوجد مع اللصوص من المال والمتاع) ص ۳۵۷)

اما لو لم يثبت مدعيها بل اتی بالعلامات فالملتقط بالخيار ان شاء دفع اليه واخذ كفيلاً وان شاء طلب منه البينة (شرح المجلة لسليم باز ص ۴۲۷) و (تحفة الفقهاء ج ۳ ص ۳۵۵ و ۳۵۲) والخامسة ان يظفر بهم الامام قبل التوبة و ردّ الاموال الی اربابها كذا في التارتارخانية (الفتاوی الهندية ج ۲ ص ۱۸۲)

و تقدم اليه ان جاءه رجل فادعی شيئًا من المتاع او المال الذی يوجد مع اللصوص فسأله البينة فلم تكن له بينة وكان رجلاً ثقةً امينًا عدلاً ليس بِمُتّهمٍ علی ادعا ما ليس له ، ان يحلفه ما ادعی من ذلک ثم يدفعه اليه و ضمّنه اياه ان جاء مستحق لشئٍ مما كان دفع اليه وهذا استحسان لانه ربما

لايمكن الرجل البينة على متاع او مال انه له و هو فی نفسه ثقة ليس ممن يدعي ماليس له.

(كتاب الخراج للامام ابي يوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ (حكم ما يوجد مع اللصوص من المال والمتاع) ص ۳۵۷)

والله تعالى اعلم

مجاهد طالب ته که دلګی مشر
د امیرالمؤمنین بې اجازې د کورخرڅ ورکړي؟

پوښتنه : که یونفر په تحریک کې وي یعنې طالب وي مجاهد وي هغه نفر ته کـه چېرې خپـل دلګـی مشـر یـا والـي یـا قومنـدان یـا وزیـر د عالیقـدر امیرالمؤمنین بې اجازې پیسې د کور د خرڅ لپاره ورکوي، هغه مجاهد یا عسکر ته د هغه پیسې څنګه دي ؟ او مشر ته څومره مسئولیت دی ؟ که په دې هکله معلومات راکړئ ډېره همکاري به وي .

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب

که چېرې امیرالمؤمنین منعه کړي وي چې دغه شخص ته پیسې مه ورکوئ او بیا یې والي یا قومندان یا بل څوک ورته ورکړي او په دغه منع هم خبروي نودا دورکونکي لپاره حرام کاردی اوخیانت بلل کیږي څومره جزاء چې د حکومت په نزد مصلحت وه هغه جزا دې ورکړي او هغه اخیستونکی که چېرې په واقعي توګه مستحق ؤ په بیت المال کې نو د هغه لپاره پروا نه لري اوکه واقعي مستحق نه ؤ د هغه لپاره هم بیا دغه پیسې حرامې دي اوکه امیرالمؤمنین یا د دغه ورکونکي څخه ما فوق امیر منعه نه وه کړې او دغه

قومندان او يا والي و غيره دا اختيار درلود چې خپل ماتحت افرادوته تنخواه ورکړي نو بيا ورته دغه ورکړه جائز ده لکن په قدر د ضرورت نه کم او نه ډير زيات.

و من له حظ فی بيت المال ظفر بما هو وجه لبيت المال فله ان يأخذه ديانة و للإمام الخيار فی المنع والاعطاء فی الحكم كذا فی القنية (الفتاوى الهندية ج ۱ ص ۱۹۱) مخالفة الامير حرام (ردالمحتار ج ۳ ص ۲۵۲ ط رشيديه) و عزر كل مرتكب منكر الخ (الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج ۳ ص ۱۹۹ ط رشيديه)

ليس فی التعزير شئ مقدر و انما هو مفوض الى رأى الامام الخ (ردالمحتار ج ۳ ص ۱۹۲ ط رشيديه)

والله تعالى اعلم بالصواب

که يو دلګی مشر په چل له بيت المال ډېرې پيسې را اوباسي؟

پوښتنه : که يو ډلګی مشر يا قومندان په چل د لوړو مقاماتو لخوا څخه پيسې را باسي د مثال په ډول چې ډلګی مشر لس نفره انډيوالان لري او دی د پنځوسو نفرو اعاشه را باسي او يا يې په موټر شل لکه خرڅې کړې وې او دی وايي چې ما دوه سوه لکه افغانۍ پرې خرڅې کړي دي او د غه پيسې دی کور ته وړي او يا يې انډيوالانو ته ورکوي نو دغه پيسې د شريعت له نګاه څخه څنګه دي ؟

(المستفتي : ملا قدرت الله د امنيې قومندان)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الله المستعان

دا واضحه ده چې دا يو خيانت دی او دا پيسې ورته حرامې دي او که يې په ملګرو کې څوك پرې خبر وي د هغه لپاره هم د دغه پيسو څخه استفاده کول حرام دي .

و هكذا حرّم الاسلام كل اوجه الكسب غيرالمشروع مثل ما ذكر ، و نحوه من الرشوة والاختلاس وابتزاز اموال الغير بالباطل و استغلال الحاكم او المؤظف لمنصبه ليقتنص اموال الناس ظلمًا و عدوانًا (الفقه الاسلامی و ادلته ج ۴ ص ۲۹ ط دارالفكر)

والله تعالى اعلم

هندوان که دارالحرب ته لاړشي مالونه يې د چا دي؟

پوښتنه : هغه هندوان چې په دارالاسلام کې ژوند کوي او هلته جايداد ، سرايونه ، باغونه او دوکانونه ولري او دوی و دارالحرب ته په مجبوريت يا پخپله رضاء ولاړ شي . لکه د توپکيانو په وخت کې ، په دواړه حالته کې ددوی جايداد ددوی له تصرفه وزي او کنه ؟

(المستفتي : مولوي روح الله (روحاني)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الفتوى بعون الله تبارك وتعالى

هغه هندوان چې دارالحرب ته په مجبوريت او يا په خپله رضاء لاړ شي ملحق په دارالحرب پورې نه بلل کيږي تر څو چې قاضي حکم په الحاق سره نه وي کړی ، تر مخه د قضاء د قاضي د دوی جايداد د دوی له تصرفه نه وزي.

(واذا انقض الذمي العهد فهو بمنزلة المرتد) معناه في الحكم بموته باللحاق لانه التحق بالاموات (الهداية ج ۲ ص ۵۷۵ ط رشيديه) وكذا في (الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۲۵۲ و ۲۵۳) وكذا في (فتح القدير ج ۵ ص ۳۰۳) (قوله وحكم بلحاقه) فقضاء القاضي شرط لبطلان هذه الاحكام لان كون المرتد ميتًا باللحوق بدارالحرب مجتهد فيه اذالشافعي يخالف فلا بد من القضاء ليتأكد به - منح (حاشية الطحطاوي على الدرالمختار ج ۲ ص ۴۸۸) والله اعلم بالصواب

د هندوانو په دارالحرب کې د خپلو جائدادونو سودا کول رضا په دارالحرب نه ده

پوښتنه : دا چې وضع اوس ډيره نورماله ده اودارالحرب ته تللي هندوان نه راځي يا دوې هلته د خپلو جائدادونو کوم چې دوې ترک کړي دي خريد اوفروش کوي آيا دانه ځينې معلوميږي چې په هغه ځای يعنې دارالحرب راضي دی؟ والسلام

(المستفتي : مولوي روح الله (روحاني)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الفتوى بعون الله تبارک وتعالى

ددوی راتګ د وضعې ترنور مالې تعلق نه لري او ددوی ضمني رضاء شرعًا اعتبار نه لري حکم د لحاق غواړي لکه د مخکنۍ پوښتنې په جواب کې چې ذکر شو.

والله اعلم بالصواب

که هندوان د خپلو مالونو سودا په دارالحرب کې وکړي؟

پوښتنه: که چېرې دارالحرب ته تللي هندوان دلته پاته شوي خپل جائداد ونه هلته خرڅ کړي اوقباله یوچاته ورکړي دابیع اوخرڅلاو څنګه دی؟

والسلام

(المستفتي: مولوي روح الله (روحاني)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الفتوی بعون الله تبارک وتعالی

د دوی هلته په دارالحرب کې خرڅول او یا قباله چاته ورکول صحیح دي تر څو چې قضاء دقاضي په لحاق د دارالحرب سره نه وې شوي

و فـي السـراج لـو بعـث مـن يأخـذ الوديعـة و القـرض وجـب التسـليم اليـه ... وظاهر انه لافرق بين كونه قبل الحكم بكونه ذميًا او بعده الخ (البحرالرائق ج ۵ ص ۱۰۲ ط ماجديه)

والله اعلم بالصواب

دارالحرب ته د تلونکو هندوانو مالونه
که د دوی له ملک څخه و وزي

پوښتنه: دارالحرب ته د تلونکو هندوانو ملک لکه سرای یا دوکان په صور کې د (رضا په دارالحرب باندې) چې ددوی لـه تصرف څخه ووزي بیـا بـه بیت المال ته تسلیم کیږي او که به څه کیږي؟

والسلام

(المستفتي: مولوي روح الله (روحاني)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الفتوی بعون الله تبارک وتعالی

ددوې ملک په صورت د (رضاء په دارالحرب) ددوی د لاسه نه وزي حکم يې د نورو مسلمانانو د مالونو دی تر څو چې قاضي حکم په لحاق ددوی نه وي کړی .

(ومنها) عصمة المال لانها تابعة لعصمة النفس وعن سيدنا علی رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ انه قال انما قبلوا عقد الذمة لتكون اموالهم كاموالنا و دماؤهم كدمائنا (بدائع الصنائع ج ۷ ص ۱۱۱)

والله اعلم بالصواب

آیا امیر کولای شي چې دارالحرب ته د تلونکو هندوانو مالونه شخصًا چاته په ملک ورکړي ؟

پوښتنه : د وخت والي یا امیر دارالحرب ته د تلونکو هندوانو مالونه یو چا ته ورکولای شي که نشي ورکولای؟ اوکه یې ورکړي بیا یې ځینې اخیستلای شي که نه ؟ والي صاحب یا بل دعویٰ کیر؟ والسلام.

(المستفتي : مولوي روح الله (روحاني)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الفتوی بعون الله تبارک وتعالی

د وخت والي او یا امیر د چا شخصي مِلک دده له لاسه نشي ایستلای بې له معروفې طریقې .

و لیس للامام ان يُخرِج شيئًا من يد احدٍ الّا بحقٍ ثابتٍ معروفٍ .(ردالمحتار ج ۳ ص ۲۸۱).

والله اعلم بالصواب

کوم قوماندانان چې د مخالفینو په صف کې ولاړ دي د هغوی د مالونو حکم ؟
له بیت المال څخه ناروا استفاده کونکو قوماندانانو دمالونوحکم ؟
د طالبانو د تحریک په صفوفوکې دریدونکو قومندانانو د مالونو حکم ؟
کوم قومندانان چې د طالبانو له تحریک مخکې خارج ته تللي دي دهغوی د مالونوحکم ؟

پوښتنه:

دافغانستان اسلامي دولت
داحتســـــــاب وزارت
د کابل د احتساب ریاست
استفتاء

به مقام محترم رئیس صاحب دارالافتاء دولت اسلامی افغانستان !السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

بمنظور تحقق آرمانها ی دولت اسلامي افغانستان وملت مظلوم ومجاهد در پرتو قانون الهی و شریعت غرای محمدي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وتطبیق ان ، لطف نموده درمورد موادات اتی که مطابق به حکم خداوند جَلَّ جَلَالُهُ وشریعت نبوي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وقوانین نافذه دولت اسلامی باشد ، درمورد مصادره وضبط اموال منقول وغیر منقول اشخاص ذیل فتوی به چه شرح بوده تا برؤیت و با درنظرداشت معلومات شما اجراءات شرعی وقانونی بعمل آید ؟ :

۱۔ آنعده ازقوماندانان واراکین بلندرتبه دولت مخلوع که بعدازپیروزي طالبان کرام وفتح کابل فرار وفعلا علیه دولت اسلامی درصف مخالفین قرار دارند.

۲۔ آنعده ازقوماندانان واراکین بلند رتبه دولت وقتیکه در زمان قدرت خویش ازبیت المال سوء استفاده کرده وانراحیف ومیل به نفع خویش زراندوزی نموده اند.

۳۔ آنعده ازقوماندانان واراکین بلند رتبه دولت وقتیکه بعد ازپیروزي تحریک طلباء کرام با دولت اسلامی همکاری نمایند و در صف مخالفین قرارنداشته باشند.

٤۔ آنعده قوماندانان واراکین بلندرتبه دولت وقتیکه قبل ازتحریک طلبای کرام وفتح کابل به خارج ازکشور فرار نموده باشند وبادولت قبل ازتحریک طلبای کرام روابط نداشته باشند

بناءً مطالب فوق به شمانگاشته شد امید است غرض معلومات مزید واجراءات بعدی این اداره را مطابق فیصله شرعی در روشنی قرارداده ممنون سازید. والسلام

(رئیس احتساب کابل)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب

د اول سوال جواب : دغه قوماندانان چې فرار يې کړی دی او فعلاً د مخالفينو په صف کې ولاړدي اوخپل بغاوت ته ادامه ورکوي ددوی مالونه

دوه قسمه دي يوشخصي مالونه دي اوبل دبيت المال مالونه دي هغه مالونه چې دبيت المال دي هغه به بيت المال ته رسيږي اوهغه مالونه چې شخصي دي که اسلحه او يا حيوانات وو او د مجاهدينو فی الحال ورته ضرورت ؤ هغه به ددوی په مقابل کې استعمالوي اوکه ضرورت نه ؤ بلکه مجاهدينو خپله اسلحه اواسباب کامل درلودل نو داوب.

(حيوانات) به خرڅوي پيسې به پرې نقدې کړي بيا به هغه پيسې اوهغه دشخصي پيسو اسلحه اونور ټول مالونه ددوې چې شخصي وي ساتل کيږي څو چې ددوی بغاوت ختم شي او يا يې خپل قوت او جمعيت له منځه لاړ شي بيرته به دوی ته ورتسليږي .

او هغه مالونه دبيت المال او يا د نورو خلکو چې دوی اخيستي وي او په خپلو شخصي ګټو کې يې مصرف کړي وي د هغو ضمانت هم پر دوی د اينده لپاره نشته .

ولايملک عليهم اموالهم ومااصاب اهل العدل فی عسکر اهل البغی من کراع اوسلاح اوغير ذلک فانه لايردّ عليهم فی الحال ولکن ان کان اهل العدل يحتاجون الی سلاحهم وکراعهم فی قتالهم ينتفعون بها فالسلاح يوضع فی موضعه کسائر الاموال والکراع يباع ويحبس ثمنه لانه يحتاج الی النفقة ولاينفق اليه الامام من بيت المال لما فيه من الاحسان علی الباغی ولو انفق کان دينًا علی الباغي فاذا وضعت الحرب اوزارها وزالت منفعتهم يردّ عليهم و ما اتلف اهل البغی من اموالنا ودمائنا حالة الحرب فانهم لايضمنون اذا تابوا وزالت منعتهم ... ولکن ما اذا کان قائمًا يردّ علی اصحابه اذا تابوا آهـ. (الفتاوی الهندية ج ۲ ص ۲۸۴)

ظفر اهل العدل من كراع اهل البغى وسلاحهم فلابأس ان يستعينوا به على قتالهم (معين الحكام ص ۱۹۱ ط مطبعة مصطفى البابي الحلبي بمصر)
و هكذا فى (البحرالرائق ج ۵ ص ۱۴۲) و (بدائع الصنائع ج ۷ ص ۱۴۱)
و(فتح القدير ج ۵ ص ۳۳۷) و(الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج ۳ ص ۳۴۱)
او سِوا له اسلحې او حيواناتو څخه د نور شيانو اجازه نشته چې مجاهدين يې استعمال کړي که څه هم ضرورت ورته ولري :
(ونقاتل بسلاحهم و خيلهم عندالحاجة ولاينتفع بغيرهما من اموالهم مطلقًا) و لوعندالحاجة سراج (الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج ۳ ص ۳۴۱) و هكذا فى (البحر الرائق ج ۵ ص۱۴۲)
قلت و جمع بينهما ما رواه سيف عن محمد وطلحة انه انما اخذ من السلاح ماكان عليه من سمة السلطان قد اخذوه البغاة من بيت المال و ردّ ماسواه كما ذكرنا فى المتن (اعلاء السنن ج ۱۲ص ۲۶۸)
و ما اصاب كل واحد من الفريقين من الآخر من دم او جراحة او استهلاک مال فهو موضوع لادية فيه ولاضمان ولاقصاص وماكان قائمًا فى يد كل واحد من الفريقين للاخر فهولصاحبه لما روى الزهري الخ (الاختيار لتعليل المختار ج ۴ ص ۱۵۲)
د دوهم سؤال جواب : ددغو کسانوشخصي مالونه به ساتل کېږي څو چې دوی تسلميږي او يا يې قوت اوجمعيت له منځه ځي بيرته به ورکول کيږي او د بيت المال مالونه به بيت المال ته سپارل کېږي او هغه مالونه چې دبيت المال څخه يې اخيستي وي اوشخصي استفاده يې ورځنې کړې وي او يا يې ضائع کړې وي د هغوضمان نشته پردوې باندې ، لکه په پورته عباراتوکې چې صراحةً دا مسئله ذکرشوه .

د دریم سؤال جواب : ددغو کسانوشخصي مالونه به دوې ته بالفعل سپارل کیږي ولې چې بغاوت یې ختم شوی دی لکه چې وایي : وماکان قائمًا فی ید کل واحد من الفریقین للاخر فهو لصاحبه.

(الاختیار لتعلیل المختار ج ۴ ص ۱۵۲)

ان علیًّا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ قاتل اصحاب الجمل واهل الشام والنهروان و لم یتتبع بعد الاستیلاء ما اخذوه من الحقوق (اعلاء السنن ج ۱۲ ص ۲۷۴)

د څلورم سؤال جواب : دغه کسان چې فرار اوتیښته یې کړې ده او د مخالفینو په صف کې نه دي دریدلي دا کسان حکم د باغیانو نه لري ولې چې د باغیانو په صف کې نه دي دریدلي ، ددوی شخصي مالونه به ددوی ورثه وو او یا متعلقینو ته سپارل کیږي او که یې هیڅ څوک نشي پیدا ورته ساتل کیږي به او د بیت المال مالونه به بیت المال ته سپارل کیږي.

واللہ تعالی اعلم

مولوي عبدالحکیم عفی اللہ عنه
مولوي محمود (میوندوال)
مولوي نورمحمد (ثاقب)
د افغانستان د اسلامي دولت
د مرکزي دارالافتاء رئیس


كتاب
اللقطة

کتاب اللقطة

د حج و اوقافو په ریاست کې له حاجیانو د پاتې شوي اب زمزم او جاینمازو څه حکم دی ؟

پوښتنه: محترم جناب مسؤل ریاست دارالافتاء ولایت قندهار! استفتاء می گردد اینکه درسال قبل درموسم حج ازیکتعداد حجاج خارجی مثلا اندونیزیا و نیز از افغانستان یکمقدار آب زمزم و جایناز قالین و دیگر چیزهای معمولی بریاست حج واوقاف ولایت قندهار مانده است که صاحبانش تا امروز پیدانشده است، اکنون استفتاء میگردد ازمقام عالی درباره چه تصمیم بگیریم و چه باید شود؟ والسلام.

(المستفتی: مسؤل ریاست حج واوقاف ولایت قندهار)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجواب ومنه الصدق والصواب

هغه اشیاء چې پیدا یې کړي یوڅوک هغه دوه نوعې دي.

۱- هغه اشیاء دي چې مالک یې طلب نه کوي. لکه نواة، قشرالرمان، او بطیخ، او دغه اشیاء پیدا هم شي په مواضعو متفرقه وو کې نو ددغه پیدا کونکي لپاره دا شته چې وایې خلي او نفع پرې حاصله کړي.

۲- نوع هغه اشياء دي چې مالک يې طلب کوي لکه نقدين او عروض نو آخذ دې دغه اشياء واخلي او حفاظت دې وکړي ترهغه وخت چې مالک يې پيدا کړي ، او قشور او نواة چې مجتمع وي هم ددغه نوع څخه دي ، او چې مالک يې پيدا نشي پس د تعريف او اعلان څخه بيا مسئله دا ده چې افضل لپاره د پيدا کوونکي د لقطې دا ده چې امام د وخت ته به يې ورکړي او بيا هغه مخيردی که يې قبلوي اوکه يې نه قبلوي اوکه يې قبوله کړه نو بيا ده لره اختيار دی که يې فقيرانو ته ورکوي اوکه يې په قرض ورکوي يو ماړه اعتباري سړي ته او که يې په مضاربت ورکوي .

لکه په (الفتاوی البزازيه بهامش الفتاوی الهنديه ج ۲ ص ۲۱۹ ط دارالاشاعة قندهار) کې ليکلي دي :

ثم مايجده نوعان نوق لايطلبه مالکه کالنواة وقشر الرمان والبطيخ فی مواضع متفرقة له ان يأخذ وينتفع بها ولکن لايصير ملکا لاحد ولو وجدها مالکها فی يده له اخذها الااذاکان قال حالة الرمی من اخذه فهو له لقوم معلومين ولم يذکر السرخسي رَحِمَهُ اللّٰهُ هذا التفصيل وکذا الحکم فی التقاط السنابل بعد جمع غيره يعدّ دنائة وقال بعض المشايخ ليس للرامي اخذها وان لم يقل وقت الالقاء من اخذه فهو له لمعلومين ونوع يطلبه مالکه کالنقدين والعروض ونحوها فيأخذه ويحفظه الی ان يوجد صاحبه والقشور والنواة المجتمعة من هذا النوع الخ

او همدارنګه په (الفتاوی التاتارخانية ج ۵ ص ۵۸۵ ط ادارة القرآن والعلوم الاسلامية) کې ليکلي دي :

نوع منه يعلم ان صاحبه يطلبه کالذهب والفضة وسائر العروض واشباهها وفی هذا الوجه له ان يأ خذها ويحفظها ويعرّفها حتی يوصلها الی صاحبها الخ

او په همدې (الفتاوى التاتارخانية ج ۵ ص ۵۹۱) کې ليکلي دي :
وفی الذخيرة وفی السير الكبير يقول الافضل لمن وجد لقطة ان يدفعها الى الامام ... ثم اذا دفعها الى الامام كان للامام الخيار ان شاء قبل منه وان شاء لم يقبل فان قبل فهو بالخيار ان شاء صدقها على الفقراء و ان شاء اقرضها من رجل موثوق ملئ و ان شاء دفعه مضاربةً .

والله سبحانه وتعالى اعلم

مولوي مفتي نورمحمد (ثاقب)
رئيس عمومي دارالافتاء مركزي
و معاون قضائي ستره محكمه
دولت اسلامي افغانستان

مولوي نداء محمد (الحقاني)

کوم مالونه چې ونيول شي اومالکان يې معلوم نه وي

پوښتنه : د دارالافتاء محترمو علماء کرامو ته !

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

څرنګه چې عبدالخالق خان چې پيش په پاکستان کې وظيفه اجراء کوله دقنصل ګرۍ تقريبًا درې کاله ترمخ يې د حاجيانو څخه څه اندازه روپۍ اخيستې وې او ببرته خپل مالکانوته نه دي ورکړل شوي او فعلاً يې مالکان معلوميدل امکان نه لري نو په دغه روپو که د تعليم اوتربيې لپاره کتابونه رانيول شي څرنګه به وي ؟ او مشر ملا صاحب (اميرالمؤمنين) هم اجازه کړې ده اوکه نه وي نو څه بايد پرې وکړل شي. والسلام

المستفتي : الحاج ملا عبدالجليل آخند د افغانستان د اسلامي دولت
د خارجه چارو د وزارت مرسيتال

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملک الوهاب

دغه روپی چې عبدالخالق دحاجیانو څخه اخیستې دي او فعلاً یې مالکان معلومیدل امکان نه لري دقسم څخه د هغو اموالو دي چې مالکان لري خومعلوم نه وي لکه هغه اموال چې قطّاعُ الطریقو سره ونیول شي او یا نور اموالِ ضائعه ، د دغه قسم اموالو حکم دادی چې وروسته ترعدم دطمع دپیداکیدلو د مالک دغه اموال بیت المال ته سپارل کیږي او مصرف ددغه قسم د بیت المال نفقه د مریضانو او د عاجزانو ده چې داسې څوک و نلري چې ددوی نفقه پرې لازم وي او همدغه رنګه دواء د دغو مریضانو یې مصرف ده .

په کتاب الخراج د امام ابویوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ (ص **۳۵۷**) کې راغلي دي :

قال ابویوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ واما ماسألت عنه - یا امیرالمؤمنین - مما یصیبه ولاتک فی الامصار مع اللصوص اذا أُخِذوا ، من المال والمتاع والسلاح وغیر ذلک فما اصبت معهم من شئ فتقدم فی ان یُصیّر الی رجل من اهل الامانة والصلاح فیُصیّره فی موضع حریز فان جاء له طالب واقام بذلک بینةً و شهودًا لابأس بهم قومًا معروفین ردّ علیه متاعه و اشهد علیه وضمنه المتاع اوقیمته ان جاء مستحق له وان لم یأت له طالب بیع المتاع والسلاح وصیر ثمنه والمال الذی اصیب معهم الی بیت المال فان هذا وشبهه مما یذهب به الولاة ولایحل لهم ولایسعهم الاان یرفعوه الیک آهـ

او په (الفقه الاسلامي ج **۵** ص **۳۹۷** ط دارالفکر) کې راغلي دي :

النوع الثالث الاموال التي تؤول ملکیتها للدولة من الافراد او یکون للدولة علیها الولایة فالاولی مثل مایؤول الی بیت المال کالاموال الضائعة اوالتي لا وارث لها لان بیت المال وارث من لاوارث له آهـ

او په تقريرات الرافعي د ردالمحتار ج ۱ ص ۱۳۹ ط رشيديه کې تفسير د اموال ضائعه په دې عبارت شوی دی:ای التي لها مستحق لکنه غيرمعلوم .
او هم يې هلته ترکه د ميت چې وارث نه لري د اموال ضائعه څخه ګرځولې ده .
او په (الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۹۱ ط دارالاشاعة قندهار) کې په بيان د بيت المال کې راغلي دي :

والرابع اللقطات هكذا فی محيط السرخسي وما اخذ من تركة الميت الذی مات ولم يترک وارثًا اوترک زوجا اوزوجة وهذا النوع يصرف الی نفقة المرضی وادويتهم وهم فقراء والی كفن الموتٰی الذين لامال لهم والی اللقيط وعقل جنايته والی نفقة من هوعاجز عن الكسب وليس له من تجب عليه نفقته وما اشبه ذلک كذا فی شرح الطحاوي.

والله تعالی اعلم

مولوي عبدالحكيم عفی عنه
مولوي زمان شاه
مولوي محمد اخلاص (برکتي)
مولوي احمد (نوري)

مولوي نورمحمد (ثاقب)
رئيس دارالافتاء مرکزي
دولت اسلامي افغانستان

په لاره له موټرو لويدلي شيان

پوښتنه : د قندهار ولايت د دارالافتاء محترم مقام ته !

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

امابعد ! محترم مقام ته داسې عرض وړاندې کوو :

د دووکالو راهيسې يو پارسل بيک خود کار قلمان چې په طول کې دهرات د لارې د يوه موټرڅخه لوېدلي دي او مونږ ته يې راوړي دي لکن تراوسه پورې ددغه جنس مالک نه دی حاضر سوی او مونږ هم د راډيو له لارې اعلان وکړ لکن مالک تراوسه پورې نه دی حاضر سوی ، همدارنګه دغه قلمان تر ميعاد تيريږي او د استفادې څخه پاته کيږي ، نو په دغه باره کې مونږ طالب د هدايت يو چې په دغه مورد کې څه وکړو ؟ څرنګه چې ترانسپورت د حمل و نقل د اجناسو وظيفه په غاړه لري هميشه دغه رقم اجناس چې د موټرانوڅخه پر لارې پاته کيږي مونږ ته يې راوړي ، په دغه مورد کې مونږ شرعي هدايت غواړو چې مونږ څه وکړو؟ ستاسو د جواب په انتظار يو.

والسلام

(المُستفتي : د حمل ونقل عمومي مدير ملاعبيدالله اخند)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الله تعالى

محترم مستفتي صاحب ! کوم اجناس چې د موټرانوڅخه پر لارې پاته کيږي هغه ته په شريعت مقدّسه کې لقطه ويل کيږي اولقطه پردوه ډوله ده يو ډول هغه ده چې مالک يې په يقين سره طلب نه کوي د وجې د کموالي د قيمت او بل ډول هغه ده چې مالک يې په يقين سره طلب کوي د وجې د بيش قيمتۍ

د هغه جنس، داول قسم حکم دا دی چې اخیستونکی په خپله نفع پرې واخلي بې له طلب د مالک څخه دا جائز او روا دی ، د دوهم قسم حکم دا دی چې اول به اخیستونکی د جنس تعریف یعنې معلوم والی د مالک د جنس کوي په ځایونو د جمع د خلکو کې په موده او زمانه د تعریف دلقطه کې او بنا پرمُفتٰی به قول تعیین د وخت نشته بلکه مفوض دی رأې او فکر د اخیستونکي ته او کله چې پس له تعریف څخه مالک د لقطې پیدا نشي نو اخیستونکي د لقطې لره پرې نفع اخیستل روا دي که چېرې دی فقیر وي اوکه دی فقیر نه وي نو بیا دې بل فقیر ته خیرات کړي ، خو که چېرې مالک یې پیدا شو نو یې اخیستونکی یا فقیر ضامن دی .

په الذخیره او السیرالکبیر کتابونو کې وایي چې افضل دا دی چې لقطه دې امام ته وسپارل شي بیا نو د هغه اختیار دی چې خیراتوي یې اوکه یې یو چا ته په قرض ورکوي اوکه یې په مضاربت ورکوي.

وفی المضمرات (اللقطة) بفتح القاف وفی روایة : بتسکین القاف مال یوجد فی الطریق غیربني آدم وهی المال الواقع علی الارض وفی الشریعة عبارة عن مال یوجد ولایعرف له مالک ولیس بمباح.

(الفتاوی التاتارخانیة ج ۵ ص ۵۸۲)

ثم مایأخذ الرجل نوعان : نوع یعلم ان صاحبه لایطلبه کالنوی فی مواضع متفرقة وکقشورالرمان فی مواضع متفرقة وفی الملتقط و قشرالبطیخ و فی هذا الوجه له ان یأخذها و ینتفع بها الخ (الفتاوی التاتارخانیة ج ۵ ص ۵۸۳) نوع منه یعلم ان صاحبه یطلبه کالذهب والفضة وسائر العروض واشباهها وفی هذا الوجه له ان یأخذ ها و یحفظها ویعرّفها حتی یوصلها الی صاحبها (الفتاوی التاتارخانیة ج ۵ ص ۵۸۵) و هکذا فی (الفتاوی البزازیة علی هامش الهندیة ج ۲ ص ۲۱۹)

(قوله وفی المجامع) ای محلات الاجتماع کالاسواق وابواب المساجد (بحر) وکبیوت القهوات فی زماننا (قوله الی ان علم ان صاحبها لایطلبها) لم یجعل للتعریف مدة اتباعاً للسرخسي فانه بنی الحکم علی غالب الرأی فیعرّف القلیل والکثیر الی ان یغلب علی رأیه ان صاحبه لایطلبه و صححه فی الهدایة وفی المضمرات والجوهرة وعلیه الفتوی وهو خلاف ظاهر الروایة من التقدیر بالحول في القلیل والکثیر کما ذکره الاسبیجابي وعلیه قیل یعرّفها کل جمعة وقیل کل شهر و قیل کل ستة اشهر (بحر) قلت والمتون علی قول السرخسي والظاهر انه روایة او تخصیص لظاهر الروایة بالکثیر تأمل (ردالمحتار ج ۳ ص ۳۵۰) و هکذا فی
(الفتاوی التاتارخانیة ج ۵ ص ۵۹۰) (فینتفع) الرافع (بها لوفقیرا و الا تصدق بهاعلی فقیر... (فان جاء مالکها) بعد التصدق (خیر بین اجازة فعله ولو بعد هلاکها) وله ثوابها (اوتضمینه) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج ۳ ص ۳۵۱) و هکذا فی (تبیین الحقائق ج ۴ ص ۲۱۲)
ثم بعد مضی مدة التعریف اذا لم یظهر لها طالب دفعها الی الامام هکذا ذکر في النوادر و لم یذکر في المبسوط ان الملتقط یدفعها الی الامام ... و في الذخیرة و في السیرالکبیر یقول الافضل لمن وجد لقطةً ان یدفعها الی الامام ... ثم اذا دفعها الی الامام کان للامام الخیار ان شاء قبل منه وان شاء لم یقبل فان قبل فهو بالخیار ان شاء عجل صدقتها علی الفقراء وان شاء اقرضها من رجل موثوق ملئ وان شاء دفعه مضاربةً والحاصل ان الامام ینصب ناظراً فیفعل ما رآه اصلح فی حق صاحب اللقطة (الفتاوی التاتارخانیة ج ۵ ص ۵۹۱) و هکذا فی (الفتاوی البزازیة علی هامش الهندیة ج ۶ ص ۲۲۱)

واللہ اعلم وعلمه اتمّ واحکم

هغه مالونه چې مالکان يې پيدا نشي؟

پوښتنه : محترم رئيس صاحب د دارالافتاء !

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

هيله لرو چې سلامونه قبول کړئ وبعد ! لکه څرنګه چې زمونږ لاسوته ځنې داسې اجناس راځي چې دهغو شيانو مالکان هم نسي پيدا ، لکه ټيپ او د عکسونو کيمره او ساعت او تانونه او غيره ، هغه په داسې حال کې چې د سارق او يا بل داسې نفر د لاړې لاس ته راشي چې د شريعت محمدي لېرې وي او مونږ په شريعت ډېغ راډيو کې اعلان هم ورته وکړو خومالک يې پيدا نسي اجناس زمونږ سره پاته سي .

احترامًا غواړو چې لازم هدايات راکړئ . والسلام

(مستفتي: ولايت قندهار، قوماندانې امنيه ، د جنائي مديريت ، د تحقيق آمريت)

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الفتوى بعون الله تعالى

محترمه ! دغه مالونه چې ستاسو لاسوته درځي دا مالونه دخپلو مالکانو دي ، لکه ټيپ او د عکسونو کيمره اوساعت وغيره دغه اموال متقوّم دي بايد ضائع نشي او بايد ډير وخت يې تعريف او اعلان وشي ترڅو چې قطع د طمع د پيداکيدو د مالک يې کيږي او دا متيقنه شي چې اوس يې نو مالک هم طلب نکوي ، که يې مالک پيداشو ښښاني او شاهدان او تضمين دې

ورځنې واخیستل شي او بیا دې ورتسلیم کړل شي اوکه یې مالک پیدا نشو بیا دې په بیت المال کې کیښودل شي ، اموال ضائعه دي حکم یې د لقطې دی .

واما ماسئلت عنه - یا امیرالمؤمنین - ممایصیبه ولاتک فی الامصار مع اللصوص اذا اُخِذوا ، من المال والمتاع والسلاح وغیر ذلک فما اصبت معهم من شئ فتقدم فی ان یُصیِّر الی رجل من اهل الامانة والصلاح فیُصیِّره فی موضع حریز فان جاء له طالب واقام بذلک بینةً و شهودًا لابأس بهم قومًا معروفین ردّ علیه متاعه واشهد علیهم وضمنه المتاع اوقیمته ان جاء مستحق له وان لم یأت له طالب بیع المتاع والسلاح

و صیر ثمنه والمال الذی اصیب معهم الی بیت المال فان هذا وشبهه مما یذهب به الولاة ولایحل لهم ولایسعهم الاان یرفعوه الیک آهـ

(کتاب الخراج للامام ابي یوسف رَحِمَهُ ٱللَّهُ (حکم ما یوجد مع اللصوص من المال والمتاع) ص ۳۵۷)

و یُعرِّف الملتقط اللقطة فی الاسواق و الشوارع مدّةً یغلب علی ظنّه ان صاحبها لایطلبها بعد ذلک هو الصحیح کذا فی مجمع البحرین (الفتاوی الهندیة ج ۲ ص ۲۸۹)

النوع الثالث الاموال التي تؤول ملکیتها للدولة من الافراد اویکون للدولة علیها الولایة فالاولی مثل مایؤول الی بیت المال کالاموال الضائعة او التي لاوراث لها لان بیت المال وارث من لاوارث له آهـ (الفقه الاسلامي ج ۵ ص ۳۹۷ ط دارالفکر)

والله تعالی اعلم بالصواب


كتابُ
المفقُود

کتابُ المفقُود

د مفقُود د ښځې د نکاح په هکله

پوښتنه : د کندهار د دارالافتاء رئیس صاحب !

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

محترمه ! ستا صحت دلوی خدای جل جلاله څخه غواړو ، وروسته زمونږ یو مجاهد ورور طالب العلم ملا عبدالغفار دآب خرما په سیمه کې زخمي سو اوپاته سو سره له دوو ملګرو وروسته یو ملګری یې راخلاص سو ، وې ویل چې هغه ما ولیدل چې ټپیان سول او زه هم ټپي وم بیا مخالفین راغلل ماځان په مړي واچاوه زما څخه تیر سول چې هغوی طرف ته ورغلل ما ضربې واورېدې ، اوس د ملا عبدالغفار د خُسرګنۍ لخوا دا ویل کیږي چې دا د ورکو په مسئله کې ده او دغه مسئله هم سته :

لواخبرها واحد بموت الغائب واخبرها اثنان بحیاته ان کان المخبر بالموت شهد انه عاین موته اوشهد جنازته وکان عدلاً وسع المرأة ان تتزوج بآخر بعد انقضاء العدة الخ

(الفتاوی الکاملیة ص ۱۳۳)

(المستفتي : طالب العلم محمد سرور ، مسئول غنډ توپچي)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

نحمده ونصلي على رسوله الكريم

الجواب باسم ملهم الصواب

مذکوره مسئله د مفقود مسئله ده ، د مفقود په مسئله کې مفتي به قول دا دی چې د مفقود د ولادت څخه تر نوي (۹۰) کاله پورې به د هغه زوجه

انتظار کوي ، او مصنف د ردالمحتار د جامع الفتاوی په حواله لیکي که چېرې یو شخص په ځای د هلاکت کې ورک شو لکه د دښمن په ملاقات کې او یا د قُطّاع الطریقو سره او یا یې په داسې مرض کې سفر وکړ چې د هغه مرض څخه غالبا هلاکت راته او یا ېې په دریاب کې سفر وکړ نوحکم دې دده په موت سره وشي ځکه چې په داسې حالاتو کې غالبًا موت واقع کیږي، مګر بیاهم تیریدل ددرازې زمانې ضروري دي ددې لپاره چې دهغه په موت سره ظنِ غالب حاصل شي ، او صرف د دښمن په ملاقات او یا د دریاب په سفر او یا مثل ددې سره دې حکم د موت نه کیږي مګر په هغه صورت کې که دغه مفقود ملک عظیم ؤ .

او مستفتي چې کوم عبارت د الفتاوی الکاملیة ص ۱۳۳ را نقل کړی دی هغه صحیح دی مګر هلته ذکر د معاینې د موت او د جنازې د لمانځه د حضور شوی دی او په استفتاء کې معاینه یعنې په خپلو سترګو سره لیدل د موت نشته .

او د مفقود په مسئله کې علماء کرام کوشش کوي ان شاء الله په لنډه موده کې به یو متفقٌ علیه صورت د ټولو مفقودینو په باره کې اعلان کړي.

(قوله علی المذهب) وقیل یقدر بتسعین سنة بتقدیم التاء من حین ولادته واختاره فی الکنز وهو الارفق - هدایة وعلیه الفتوی - ذخیرة (ردالمحتار ج ۳ ص ۳۲۲ ط رشیدیه) وقال الزیلعي لانه یختلف... و علی هذا یبتني ما فی جامع الفتاوی حیث قال واذا فقد فی المهلکة فموته غالب فیحکم به کما اذا فقد فی وقت الملاقاة مع العدوّ اومع قطاع الطریق اوسافر علی المرض الغالب هلاکه اوکان سفره فی البحر وما اشبه ذلک حکم بموته لانه الغالب فی هذه الحالات وان کان بین احتمالین واحتمال موته ناشئ عن

دلیل لااحتمال حیاته ... لکن لایخفی انه لابد من مضی مدة طویلة حتی یغلب علی الظن موته لابمجرد فقده عند ملاقات العدوّ او سفر البحر و نحوه الا اذا کان ملکا عظیمًا الخ (ردالمحتار ج ۳ ص ۳۲۳ ط رشیدیه)
واللہ اعلم وعلمه اتم واحکم

مولوي مفتي نورمحمد (ثاقب)
رئیس عمومي دارالافتاء مرکزي
و معاون قضائي ستره محکمه
دولت اسلامي افغانستان

مولوي احمد (نوري) عفی عنه
مولوي محمود (میوندوال)
مولوي ندا محمد (الحقاني)

له شلوکلونو لادرکه سړي د بڼځې نکاح

پوښتنه : د دارالافتاء ریاست محترم مقام ته !

السلام علیکم ورحمة اللہ وبرکاته

محترمه ! زه نیاز محمد ولد عبدالشکور ستاسو محترم مقام ته داسې عرض لرم چې زما زوم عبدالجبار نامی د دروکسانوسره یوځای شورویانو یعنې روسانو دنغم څخه د یوه میل ثقیل سره را وه ایستی او هغه کسان چې د عبدالجبار نامي سر ه یې نیولي وو شهیدان کړل او زما زوم بې ژوندی ټانګ ته پورته کړ تقریبًا شل کاله یې کیږي چې تراوسه ورک دی نو زما لور اوس ناسته ده دا کولای سي چې بله نکاح وکړي اوکه نه ؟ هیله کوم چې ماته معلومات اوشرعي فتوی راکړئ .

والسلام

(المستفتي : نیاز محمد)

الفتوىٰ

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

محترم مستفتي صاحب ! بايد ووايو چې په دغه مذكوره مسئله كې كه څه هم قريني د مرګ د مذكور شخص موجودې دي خو د مرګ لپاره د يقين كفايت نشي كولاى بلكه دغه قرائن اعتبار لري امام او يا قاضي ته نوبايد ته رجوع امام او يا قاضي ته وكړئ هغه حكم په قرائنو سره كولاى شي چې دغه مفقود مړ دى ، هر وخت چې قاضي او يا امام حكم صادر كړي بيا ښځه بل ميړه كولاى شي.

(قوله واختار الزيلعي تفويضه للامام) قال فى الفتح فأى وقت رأى المصلحة حكم بموته ... ومقتضاه انه يجتهد ويحكم القرائن الظاهرة الدالة على موته وعلى هذا يبتني ما فى جامع الفتاوى حيث قال واذا فقد فى المهلكة فموته غالب فيحكم به كما اذا فقد فى وقت الملاقاة مع العدوّ او مع قطاع الطريق اوسافر على المرض الغالب هلاكه اوكان سفره فى البحر وما اشبه ذلک حكم بموته لانه الغالب فى هذه الحالات (ردالمحتار ج ۳ ص ۳۶۳)

فالمفتي به عندالحنفية تفويض الامر الى رأى الحاكم الخ (الفقه الاسلامي ج ۸ ص ۴۱۰ ط دارالفكر)

وفوّضه بعضهم الى القاضي فأى وقت رأى المصلحة حكم بموته قال الشارح وهوالمختار (البحر الرائق ج ۵ ص ۱۲۵) و كذا فى (الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۳۰۰) و هكذا فى (احسن الفتاوى ج ۵ ص ۴۱۸)

په بيان شويو قرائنو دمفقود د مرګ تصديق نشي کيدلای

پوښتنه : د افغانستان اسلامي امارت د دارالافتاء مرکزي رياست ته !

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

وبعد ! زه ملا محمد جمعه په قوم مليزی د ژوب د پښساو د تروپ چنګي د کلي اوسيدونکی غواړم چې په لاندې غوښتنه کې شرعي حکم اوفتوی راکړئ :

زما زوی د ملا جان محمد طالب العلم په نامه دخدای پاک درضا په منظور له طالبانو سره مزار ته تللی ؤ بيا يې د شهيدانو په لست کې نوم راغلی د فاتحې مراسم مو انجام کړل نوکله چې دليلې له دښت څخه دشهيدانو مبارکانو جسدونه کندهار ته راوړل کيدل نو د شهيد د پيژندنې په منظور يې له شهيدسره کالي هم راوړل چې ګوندې قريبان يې پر وپيژني چنانچه ما ملا جمعه دخپل شهيد زوی ملا جان محمد آخند صدری پرقبرپرته له نورو کالوسره د معاون صاحب عصمت الله دحاجي ارسلا خان مرحوم د زوی په حضورکې وپيژندله اوله ځان سره مې را واخيستل ژوب ته مې يوړل هلته دشهيد د مور اندينښنه زياته شوله نو اوس چې کندهار ته سره راغلو پر دين مښنو شهيدانو اودقرآن پتنګانو زيارتو ته ورغلو نو د ملا جان محمد شهيد مور د نوموړي پر قبر دده قميص وپيژاندی او راوابې خيست نو چې له يوې خوا يې نوم په لست دشهيدانو کې راغلی دی اوله بلې خوايې پرقبر صدری اوقميص پيژندل شوي او بل دښمن هم داسې ظالم ؤ چې په ډليزه توګه يې طالبان شهيدانوله نو په داسې حال کې د شهيدانو د زوجو او نورو داسې ضروري امرونو په اړوند شرعي جواز او امرځه دي؟ په پورتنی موضوع کې ستاسو خاصه توجه د مهربانی له مخې شرعًا غواړم . والسلام

(المستفتي : ملا جمعه آخند)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجواب حامداً ومصلياً

محترم مستفتي صاحب ! بايد ووايو چې په دغه مذکوره مسئله کې که څه هم قريني د مرګ ددې مذکور شخص موجودې دي خو د مرګ لپاره د يقين کفايت نشي کولای نو بايد په دغې مسئلې کې قاضي ته رجوع وکړئ چې هغه د شرعي اصولو او احکامو مطابق ستاسو د مشکل په هکله فيصله وکړي ځکه د مفقود موت او فسخ د نکاح وغيره رأي د حاکم ته مفوّض دي که مصلحت په حکم د موت سره وي نو يې حکم په موت سره کولای شي .

(قوله واختار الزيلعي تفويضه الى الامام) قال في الفتح فاىّ وقت رأى المصلحة حكم بموته ... و مقتضاه انه يجتهد و يحكم القرائن الظاهرة الدالة على موته وعلى هذا يبتني مافى جامع الفتاوى حيث قال واذا فقد فى المهلكة فموته غالب فيحكم به كما اذا فقد فى وقت الملاقاة مع العدوّ او قطاع الطريق اوسافر على المرض الغالب هلاكه اوكان سفره فى البحر و ما اشبه ذلک حكم بموته لانه الغالب فى هذه الحالات (ردالمحتار ج ۳ ص ۳۲۳) فالمفتي به عندالحنفية تفويض الامر الى رأى الحاكم الخ (الفقه الاسلامي ج ۸ ص ۴۱۰ ط دارالفكر)

و فوّضه بعضهم الى القاضي فاىّ وقت رأى المصلحة حكم بموته قال الشارح وهو المحتار (البحر الرائق ج ۵ ص ۱۲۵) و كذا فى (الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۳۰۰)

اس صورت میں باتفاق آئمہ جس وقت قاضی کو قرائن اوحالات سے اس کا ظن غالب ہو جائے کہ یہ لوگ جو معرکہ جنگ میں مفقود الخبر ہو گئے ہیں زندہ نہیں ہیں اسوقت ان پر موت کا حکم کر دیا جائے گا اور ان کی بیبیوں کو نکاح ثانی کی اجازت حکم قاضی کے بعد ہو جائے گی (۱)

(فتاوی دارالعلوم دیوبند یعنی امدادالمفتین ص ۲۲۳) و هکذا فی (احسن الفتاوی ج ۵ ص ۴۱۸) واللہ تعالی اعلم بالصواب

د شهیدانو په لست کې دنوم په راتلو دمفقود د مرګ یقین نشي کیدلای

پوښتنه : د افغانستان داسلامي امارت د دارالافتاء مرکزي ریاست ته !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

الغرض ! زه مولوي محمد فیض الله د خاک افغان د ولسوالۍ اوسېدونکی ستاسې په درانه حضورکې عرض وړاندې کوم اوغواړم چې په لاندې غوښتنه کې شرعي حکم اوفتوی وفرمایاست : زما یو قریب دملا عبدالاحد طالب العلم پنامه دخدای پاک عز وجل د رضا په منظورله طالبانو سره مزار ته تللی دی موږ چې هرځه تفتیش او تالاش وکړ صرف دا مو پیداکړه چې دوه واره یې نوم د محبس په کتاب کې راغلی دی او د محبس له مسئوله مو سوال وکړ چې دوه وار یې نوم ولې راغلی دی هغه په جواب کې راته وویله چې یوار یې نوم د دخول دی دوهم وار یې نوم د خروج دی لپاره د

(۱) **ترجمه** : په دې صورت کې د ائمه وو په اتفاق سره کله چې قاضي ته په قرائنو اوحالاتو ددې خبرې غالب ګمان و شي چې دغه خلک کوم چې دجنګ په ډګر کې مفقودالخبر شوي دي ژوندي نه دي هغه وخت پر دوې باندې د مرګ حکم کېږي او د دوی ښځو ته د دویمې نکاح اجازه د قاضي له حکم څخه وروسته ورکول کېږي.

شهادت او قندهارته يې هم پر هغه رقم نومونه راغلي وو ، نو چې له يوې خوا نوم يې په ليست د شهيدانو کې راغلی دی او له بلې خوا بلواهم داسې عامه ده اودبنمن هم ډ برظالم دی چې په ډ لييزه توګه به يې طالبان شهيدانوله نو په داسې حال کې د شهيدانو د زوجو او نورو داسې ضروري امرونو په اړوند شرعي جواز او امر څه دی ؟ په پورتنۍ موضوع کې شرعًا ستاسې توجه غواړم . والسلام

(المستفتي : مولوي فيض الله)

الفتوى

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

محترم مستفتي صاحب ! بايد ووايو چې په دغه مذکوره مسئله کې که څه هم قربني دمرګ ددې مذکور شخص موجودې دي خو د مرګ لپاره ديقين کفايت نشي کولای نو بايد په دغې مسئلې کې قاضي ته رجوع وکړئ چې د شرعي اصولو او احکامو مطابق ستاسو د مشکل په هکله فيصله وکړي ځکه د مفقود موت او فسخ د نکاح وغيره رأيې د حاکم ته مفوض دي که مصلحت په حکم د موت سره ؤ نويې په موت سره حکم کولای شي.

(قوله واختار الزيلعي تفويضه الى الامام) قال فى الفتح فاىّ وقت رأى المصلحة حكم بموته ... و مقتضاه انه يجتهد ويحكم القرائن الظاهرة الدالة على موته وعلى هذا يبتني ما فى جامع الفتاوى حيث قال واذا فقد فى المهلكة فموته غالب فيحكم به كما اذا فقد فى وقت الملاقاة مع العدوّ اوقطاع الطريق اوسافر على المرض الغالب هلاكه اوكان سفره فى البحر وما اشبه ذلک حكم بموته لانه الغالب فى هذه الحالات (ردالمحتار ج ۳ ص ۳۶۳)

فالمفتی به عند الحنفية تفويض الامر الی رأی الحاكم الخ (الفقه الاسلامي ج ۸ ص ۴۱۰)

و فوّضه بعضهم الی القاضي فایّ وقت رأی المصلحة حاكم بموته قال الشارح وهو المختار (البحر الرائق ج ۵ ص ۱۲۵) و كذا فی (الفتاوی الهندية ج ۲ ص ۳۰۰).

اس صورت میں باتفاق آئمہ جس وقت قاضی کو قرائن اور حالات سے اس کا ظن غالب ہو جائے کہ یہ لوگ جو معرکہ جنگ میں مفقود الخبر ہو گئے ہیں زندہ نہیں ہیں اسوقت ان پر موت کا حکم کردیا جائے گا اور ان کی بیبیوں کو نکاح ثانی کی اجازت حکم قاضی کے بعد ہو جائے گی (۱)

(فتاوی دار العلوم دیوبند یعنی امداد المفتین ص ۶۶۳) و ہکذا فی (احسن الفتاوی ج ۵ ص ۴۱۸)

واللہ تعالی اعلم بالصواب



(۱) **ترجمه**: په دې صورت کې د ائمه وو په اتفاق سره کله چې قاضي ته په قرائنو او حالاتو د دې خبرې غالب ګمان وشي چې د غه خلک کوم چې د جنګ په ډګر کې مفقود الخبر شوي دي ژوندي نه دي هغه وخت پر دوی باندې د مرګ حکم کېږي او د دوی ښځو ته د دویمې نکاح اجازه د قاضي له حکم څخه وروسته ورکول کېږي.


كتاب
الشركة

کتاب الشرکة

د پلار په ژوند کې د خپل کسب کوونکو زامنو ګټه د چا ده ؟

پوښتنه : بِاسمه تعالی و به نستعین محترمو د دارالافتاء اساتذه کراموته لومړی تحیه سلام وړاندې کېږي السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

وبعد! محترمو اساتذه کرامو ! زه عبدالحبیب دمستوفیت مسئول دیوې مسئلې پوښتنه په لاندې ډول کوم : مثلا د یو سړي (۲) زامن دي او غټان سي پلار یې مسکین وي ، شی نه لري او زامن یې څه اندازه دنیا کسب کړي بیا یو د زامنو وفات سي ترکه جوړه نسي او مال ډیر لږ کسب سوی وي بیا تقریباً (۱۰) کاله پس پاته (۵) ډېر مال وګټي اویو ددغه پنځو څخه وفات سي تقسیم خو په منځ د ورونو کې نه وي سوی ، اوس ځان پوه کوم چې پلارېې یوه حصه د حق پیدا کوي په ترکه د میت زوی کې او یا مال د پلار بلل کېږي ؟

(المستفتي : عبدالحبیب)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب و منه الصدق والصواب

مسئله دا ده چې په مذکوره صورت د استفتاء کې پلار د خپل دغه میت زوی په متروکه کې چې د هغه د خپل ځان کسب ؤ حق د میراث لري اوکل مال د پلار حق نه کېږي په الفتاوی تنقیح الحامدیة کې لیکلي دي :

واما قول علمائنا (أب) و(إبن) یکتسبان فی صنعة واحدة ولم یکن لهما شئ ثم اجتمع لهما مال یکون کله للاب اذا کان الابن فی عیاله فهو مشروط کما یعلم من عباراتهم بشروط منها اتحاد الصنعة وعدم مال سابق لهما

وکون الابن فی عیال ابیه فاذا عدم واحد منها لایکون کسب الابن للاب الخ (الفتاوی تنقیح الحامدیة ج ۲ ص ۱۷)

واللہ اعلم بالصواب

مولوي نورمحمد (ثاقب) رئیس دارالافتاء مرکزي
و معاون قضائي ستره محکمه امارت اسلامي افغانستان
مولوي احمد (نوري) عفی عنه

د نورو وارثانوبې اجازې په مشترکه ځمکه کې نهالان ایښودل

پوښتنه : محترم رئیس صاحب د دارالافتاء !

السلام علیکم ورحمة اللہ وبرکاته

امابعد : زمونږ موروثي ځمکه چې راپاتې ده پر هغې مونږ آبادي کړې اونهالان مو پکې ایښي دي نو اوس زمونږ عمه یعنې د پلار خور په دې آبادی او نهالانوکې چې مونږ پخپله کښینولي حق لري که یا ؟ هیله ده چې شرعي لارښوونه راته وکړئ .

والسلام

(المستفتي : ملا یارمحمد)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملک الوهاب

ځمکه چې میراث پاته شي د شریکانو ترمنځ چې ورثه دي مشترکه بلل کېږي ، اوس که ځینو شریکانو تصرف پکې وکړ نو که په اجازه د نورو شریکانو ؤ صحیح دی اوکه په اجازه د نورو شریکانو نه ؤ تصرف یې روا نه دی او هغه خونې چې بې له اجازې د شریکانو جوړې شوې دي او یا نهالان

کښينول شوي دي حکم يې دارنګه دی چې د تقسيم او ويش څخه وروسته که دغه شيان دده په حصه کې راغلل خو دده دي او د ځان ملک يې دی اوکه د بل شريک په خواه او طرف کې راغلل د خپلې بناء د نړيدلو حق لري :

سئلت فيمن بنى فى ارض مشتركة بينه وبين آخر بغير اذن شريكه فهل يكون ما بناه ملكا له فله هدمه والانتفاع بانقاضه ، فالجواب نعم كما فى تنقيح الحامدية (الفتاوى الكاملية ص ۵۰)

(سئل) فيما اذا بنى زيد قصراً بماله بنفسه في دار مشتركةٍ بينه و بين اخوته بدون اذنهم فهل يكون البناء ملكاً له (الجواب) نعم و اذا بنى فى الارض المشتركة بغير اذن الشريک له ان ينقض بنائه ذكره في التاتارخانية من متفرقات القمسة (سئل)

فى دار مشتركة بين جماعة بنى فيها بعضهم بناء لانفسهم ... (الجواب) حيث كانت قابلة للقسمة وينتفع كل بنصيبه بعد القسمة فلبقية الشركاء ذلک ثم البناء حيث كان بدون اذنهم ان وقع فى نصيب الباقين بعد قسمة الدار فبها ونعمت والاهدم البناء كما فى التنوير وغيره (الفتاوى تنقيح الحامدية ج ۱ ص ۱۰۰)

والله سبحانه وتعالى اعلم

مولوي نورمحمد (ثاقب)
رئيس دارالافتاء مركزي امارت اسلامي افغانستان
مولوي احمد (نوري) عفى عنه
مولوي محمود (ميوندوال)

ځپنې ورثه که مشترکه ځمکه خرڅه کړي نور وارثان ټوله راګرځولای شي که خپل حق ؟

پوښتنه : محترم عالیقدر د کندرها ولایت د دارالافتاء د ریاست مقام ته !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

محترمه ! په ډیر احترام سره خپله موضوع داسې روښانه کوو چې درې کاله دمخه مونږه یو دوکان چې په هرات بازار کې د اولې ناحیې مربوط موقعیت لري په سرقلفي د حاجي محمداسلم د ورثې څخه رانیولی دی چې عبارت دي د ګلالي ، ظاهرجان ، محمدهاشم ، عبدالسلام ، ګل غوټی نامه او ګل حرمه چې خویندې یې دي او مور یې بي بي خاتمو چې د دوی مشترک دوکان ؤ مونږ را نیوی په حضور د شاهدانو کې چې مونږ یې څلورم خریداران یو چې دغه ورثې پرې خرڅ کړی دی ، اوس د دوی دوو نورو وروڼو مخالفت کړی دی چې مونږ حقوق لرو په دې دوکان کې ستاسو د محترم مقام څخه هیله کوو چې د شریعت مطابق مونږ ته فتوی راکړئ مهرباني به مو وي . و من الله التوفیق

(المستفتي : حاجي عبدالله ولد محمدسرور)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب باسم ملهم الصواب :

په مذکوره صورت کې د ورثه وو له جملې څخه کومو اشخاصو (مور ، خویندو او څلورو وروڼو) چې موروثه د سرقلفي دوکان خرڅ کړی دی بناء پر تقسیم د مسئلې د میراث ددوی په حصه کې بیع صحیح او نافذه ده او کومو اشخاصو (نورو دوو وروڼو) چې اجازه نه وه کړې ، د بیع څخه مخکې

د مور ، څلورو وروڼو او دوه خويندو سره شريکان وو او اوس د مشتري سره شريکان دي ، ټول دوکان د خپلې حصې پر بنياد نشي را ګرزولی ځکه چې د خرڅوونکو له طرفه ملکيت مشتري ته نقل شوی دی او يو شريک د بل شريک بې له اجازې څخه خپله حصه پر اجنبي خرڅولی شي ، اوس دوکان چې هرڅه قيمت لري هغه به د ورثه وو پرحصو باندې تقسيم شي دغه دوه وروڼه چې دعوه کوي دوی د خپلې حصې حق داره دي .

اذا باع الرجل مال الغير عندنا يتوقف البيع على اجازة المالک الخ

(الفتاوی الهندية ج ۳ ص ۱۵۲)

وهي نوعان شركة اختيار ... وشركة جبرٍ وهي التي تثبت لشخصين فاكثر بغير فعلهما كأن يرث اثنان شيئًا فيكون الموروث مشتركًا بينهما شركة ملكٍ ، و حكم هذه الشركة بنوعيها هو ان كل واحدٍ من الشركين كأنه اجنبي في نصيب صاحبه فلايجوز له التصرف فيه بغير اذنه اذ لاولاية لاحدهما في نصيب الاخر .

(الفقه الاسلامي و ادلته ج ۴ ص ۵۸۹ ط دار الفكر)

بيع الفضولي موقوف على اجازة المالک (الفقه الاسلامي ج ۴ ص ۱۳۸ و ص ۱۴۰ و كذا ج ۹ ص ۱۲۴ ط دار الفكر)

(المادة : ۱۰۸۸) الشريک مخير ان شاء باع حصته من شريكه و ان شاء باعها من اجنبي بدون اذن شريكه راجع مادة ۲۵۰ الخ (شرح المجلة لسليم باز ص ۲۰۸)

د ميراث د تقسيم صورت يې داسې دی اصل مسئله د (۸) څخه ده او تصحيح يې د (۱۱۲) څخه کيږي په (۱۱۲) کې ټُمن د مور دی چې (۱۴)

دي او باقي (۹۸) للذكر مثل حظ الانثيين خويندو ته (۷-۷) رسيږي او ورونو ته (۱۴-۱۴) رسيږي.

والثالث ان لاتكون بين سهامهم ورؤسهم موافقة فيضرب كل عدد رؤس من انكسرت عليهم السهام فى اصل المسئلة (سراجي ص ۲۲)

مسئله ۸ ۱۱۲

ميت

زوجه	بنت	بنت	ابن	ابن	ابن	ابن	ابن	ابن
				۹۸				
۱۴	۷	۷	۱۴	۱۴	۱۴	۱۴	۱۴	۱۴

والله اعلم بالصواب

مولوي عبدالحكيم عفى الله عنه
مولوي احمد نوري عفى عنه
مولوي محمود ميوندوال

مولوي مفتى نورمحمد ثاقب
رئيس عمومي دارالافتاء مركزي
امارت اسلامي افغانستان

مشترک مال رانیول یا خرڅول

پوښتنه : که یوسړی مشترک مال خرڅ کړي او یا یې رانیسي اوخبرهم وي بغیر دشریک له اجازت اورضائیت څخه نوداسې سودا فاسده ده اوکه یا؟

(مستفتیه : بي بي روزي ګله)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملک الوهاب

کوم شخص چې داسې شئ خرڅ کړي چې د بل چا حق پکې وي نودغه خرڅوونکی شخص پخپله حصه کې اصل دی ، دده په خپله حصه کې بیعه صحیصح ده او د شریک په حصه کې فضولي دی که چېرې هغه شریک اجازه وکړي نوپه ټوله مبیعه کې دمشتري ملکیت ثابتیږي ، ورنه د شریک حصه به شریک ته تسلیمیږي نو د بیع نفاذ پراجازه موقوف دی :

اذا باع الرجل مال الغیر عندنا یتوقف البیع علی اجازة المالک ویشترط لصحة الاجازة قیام العاقدین والمعقود علیه (الفتاوی الهندیة ج ۳ ص ۱۵۲ ط دارالاشاعة قندهار)

(قوله وقف بیع مال الغیر) ای علی الاجازة (ردالمحتار ج ۴ ص ۱۵۲ ط رشیدیه) لنفاذ العقد شرطان ۱ - الملک ...۲ - ان لایکون فی المبیع حق لغیر البائع ...

ان کان فی المبیع حق لغیر البائع کان العقد موقوفًا غیرنافذ (الفقه الاسلامي ج ۴ ص ۱۳۸ و ص ۱۳۹) واللہ سبحانه وتعالی اعلم.

مولوي احمد (نوري) عفی عنه

مولوي مفتي نورمحمد ثاقب رئیس عمومي دارالافتاء مرکزي

امارت اسلامي افغانستان

که دوه شریکان له مشترک مال څخه حج وکړي نو دریم هم حق د حج لري او کنه ؟

پوښتنه : دري ورونه په ویش سره کډ دي د پلار میراث یې هم سته ، په دې کډ ویش کې دوو ورونوحجونه وکړل ، د هغه څخه وروسته ددوې په مابین کې تقسیم راغلی اوس دغه دریم ورور په دې کډ ویش کې د حج حق لري اوکه نه ؟ او په وخت د حج کې دغه یو ورور اجازه کړې وه چې دوی ولاړشي

والسلام

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب حامداً و مصلیاً

دغه ورور چې د مال مشترک څخه یې د حج کولو لپاره نورو ورونو ته اجازه کړې ده په دې صورت کې دی تر خپل حق پخپله تیر شوی دی اوس که د باقي ورثه وو اجازه وي د مال مشترک څخه حج کولی شي او که د ورثه وو اجازه نه وه بیا د مال مشترک څخه د حج حق نه لري

(المادة: **۱۰۷۵**) کل من الشركاء في شركة الملك اجنبي في حصة سائرهم فليس احدهم و كيلاً عن الآخر و لايجوز له من ثم ان يتصرف في حصة شريكه بدون اذنه الخ (شرح المجلة لسليم باز ص۶۰۱)

والله اعلم وعلمه اتم واحكم

مولوي نورمحمد (ثاقب) رئيس عمومي دارالافتاء مركزي

امارت اسلامي افغانستان

د مشترک مال بیع بې د شرکاؤ له اجازې څنګه ده ؟

پوښتنه : یوسړی مړسوی دی یوه ښځه ، پنځه زامن غټان ، دوه لونې غټانې ، یو زوی صغیر او یوه لور صغیره ټوله (۱۰) نفره سوله پاتې دي مړي د خپلې درېیمې وصي خپله ښځه کړې ده ، یو باغ چې مشترک دی ویشل سوی نه دی دورثه وو په مابین کې دغه باغ مشترک دی ، ددوی او د اکا د زامنو تقسیم نه دی سوی او د چا حصه نه ده معلومه ، دغه باغ غټانو زامنو او د اکا زامنو خرڅ کړی دی بې له اجازې د مور او د خویندو او د صغیر او د صغیرې ، دغه باغ کوچني او غټ تاکان لري تخمین پنځه مباشتې کېږي چې خرڅ کړی دی ، مور بې چې وصي ده او خویندې او صغیر او صغیره ټوله په ناراضه دي ، اوس شرعي فتوی غواړي چې ټوله باغ راګرځي اوکه درېیمه د مړي او د مور حق او د خویندو او صغیر او صغیرې حق راګرزي ؟

(مستفتي : ملا غلام محمد اخند)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملک المستعان

دغه باغ چې بعضې شرکاؤ خرڅ کړی دی بغیر د اجازې د نورو شرکاؤ یا به مشتري قبض کړی وي او یا به یې نه وي قبض کړی په دواړو صورتونو کې په هغه اندازه چې د ناراضه شرکاؤ حق دی بیع باطله ده اوکومه اندازه د باغ چې پاته شوه په صورت د نه قبض کې مشتري لره اختیار شته چې غواړي یې او که ېې بائع ته ور ردوي او په صورت د قبض کې به کتل کېږي چې هغه باقي پاته حصه قابل د استفادې دی او کنه ؟ که وه نو هغه د مشتري دی اوکه نه وه نو ده لره اختیار دی چې غواړي ېې او که یې بائع ته ور

مسترد کوي ، حاصل دا دی چې تول باغ نه راګرځي بلکه هغه حصې را ګرځي چې اصحاب ېې نا راضه وي او د دوی (یعنې خرڅونکو) د خپل حق په باره کې بیع صحیح ده.

ان استحق بعض المعقود علیه قبل القبض ولم یجز المستحق بطل العقد فی القدر المستحق ... وللمشتري الخیار فی الباقی ان شاء رضی به بحصته من الثمن وان شاء ردّه سواء احدث عیبًا فی الباقي ام لا ... وان کان الاستحقاق بعد قبض البعض دون البعض اوبعد قبض الکل بطل البیع فی القدر المستحق ثم ینظرفی حالة قبض الکل ان کان استحقاق ما استحق یوجب العیب فی الباقي بان کان المعقود علیه شیئًا واحدا کالدار و السیارة والدابة ونحوها فالمشتري بالخیار فی الباقی ... و ان کان استحقاق ما استحق لایوجب عیبا فی الباقي بان کان المعقود علیه شیئین کالدابتین ... فانه یلزم المشتري الباقی بحصته من الثمن لانه لاضرر فی تبعیضه فلم یکن له خیار الرد (الفقه الاسلامي و ادلته ج ۵ ص ۲۳۲ ط دارالفکر) و کذا فی (ردالمحتار ج ۴ ص ۲۲۴)

مولوي ندا محمد الحقانی
مولوي احمد نوري عفی عنه
مولوي محمود میوندوال
مولوي مفتي نور محمد ثاقب رئیس عمومي
دارالافتاء مرکزي دولت اسلامي طلباء افغانستان

آیا مور مشترک سرای خرڅولای شي ؟

پوښتنه : حضور ته د محترم رئیس صاحب د دارالافتاء !

السلام علیکم و رحمة الله وبرکاته

وبعد: هیله کوم چې مونږ ته دا رامعلومه کړئ چې د یوه وفات شوي شخص په وارثانو کې مور ، زوجه ،کوچنۍ لور او عیني خور دي ، آیا یوازې مور کولای شي چې مشترک سرای خرڅ کړي د باقي ورثه وو بې اجازې .

والسلام

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب

شرکت د شرکاؤ د مالِ موروث شرکتِ ملک بلل کېږي او په شرکتِ ملک کې شرعي قانون دا دی چې هر یو له شرکاؤ د دغه شرکت څخه اجنبي بلل کېږي په منع د تصرفِ مضر کې په مال د بل شریک کې ، نو مور نشي کولای چې د نورو ورثه وو حصې په دغه سرای کې بغیر د اجازت د هغوی څخه خرڅې کړي ، صرف خپله حصه خرڅولای شي بې د اجازت د نورو ورثه وو .

(وهی ضربان شرکة ملک وهی ان یملک متعدد) اثنان فاکثر (عینًا) او حفظًا کثوب هبه الریح فی دارهما فانهما شریکان فی الحفظ قهستاني (او دینًا) علی ماهوالحق فلودفع الخ (بارث اوبیع اوغیرهما) بایّ سبب کان جبریًا او اختیاریًا و لو متعاقبًا کما لو اشتری شیئًا ثم اشرک فیه آخر - منیة (کل) من شرکاء الملک (اجنبي) فی الامتناع عن تصرف مضرٍ فی (مال

صاحبه) لعدم تضمنها الوكالة (فصح له بيع حصته ولو من غير شريک بلا اذن الافی صورة الخلط) الخ

(الدالمختارعلی هامش حاشية الطحطاوي ج ۲ ص ۵۱۱ ط دارالمعرفة بيروت)

و كذا فی (الفتاوی الكاملية ص ۴۹ ط مكتبه حقانيه)

والله اعلم بالصواب.

مولوي عبدالحكيم عفی الله عنه

مولوي ندا محمد الحقانی

مولوي محمود ميوندوال

مولوي نورمحمد ثاقب رئيس عمومي دارالافتاء مركزي

دولت اسلامي طلباء افغانستان



یو وارث که خپل موروثي دوکان په دعویٰ وګټي نو نورحق په کې لري؟

پوښتنه : که یو له ورثه وو څخه پرخپل موروثي دوکان د یواجنبي سړي سره دعوی وکړي او له اجنبي څخه یې وګټي او مصرف ددعوی له مشترک مال څخه وکړي اوس دغه ګټل سوی دوکان مشترک د ټولو ورثه وو دی اوکه تنها ددعویٰ کوونکي؟

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون ملهم الصواب

دغه دوکان مشترک دی د ټولو ورثه وو ترمنځ ځکه چې په دې ځای کې وارث په عوض د مورث دی او حکم د وارث لپاره او یا پر وارث باندې بعینه حکم دی د مورث لپاره او یا پر مورث باندې.

احدالورثة ینتصب خصمًا عن المورث فیما له وعلیه و یظهر ذلک فی حق الکل الاان له قبض حصته فقط اذا ثبت حق الکل وانما یثبت لو ادعاه وقضی به اما لو ادعی حصته فقط وقضی بها لایثبت حق الباقین (جامع الفصولین ج ۲ ص ۳۴ ط المطبعة الازهریة)

مولوي ندامحمد الحقاني

مولوي محمود میوندوال

مولوي مفتي نورمحمد (ثاقب)

رئیس عمومي دارالافتاء مرکزي دولت اسلامي افغانستان

په مشترکو پیسو رانیول شوې ځمکه د چا حق کېږي ؟

پوښتنه : یوه سړي د پلار ترمرګ وروسته په مشترک مال ځمکه رانیوله او قباله یې پر خپل نامه ولیکله او پیسې یې له مشترک مال څخه ورکړې دتقسیم پروخت آیا دغه رانیول شوې ځمکه درانیوونکي ده اوکه دټولو ورثه وو مشترکه ده ؟ او که قیمت د ځمکې له شخصي پیسوڅخه ورکړي بیا دغه رانیول شوې ځمکه د چا ده ؟

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون ملهم الصواب

که مشتري په وخت د رانیولو ددغه ځمکې کې نسبت ځان ته وکړي چې زه یې رانیسم او یا یې مطلق وویل یعنې نسبت یې ورثه وو ته و نه کړ نو دغه ځمکه یوازې د مشتري ده مشترکه نه ده اوکه یې داسې وویل چې زه یې د ټولو ورثه وو لپاره رانیسم او بائع وویل چې زه یې د هغو لپاره درباندې خرڅوم نو بیا د ورثه وو اجازه غواړي که د هغوی خوښه شوه نو د ټولو مشترکه ده اوکه یې نه شوه خوښه یوازې دده ده ځکه ورثه ټول یو د بل په مال کې فضولي ګرځي او شراء د فضولي دغه حکم لري چې ذکر شو، او قباله پر خپل نامه جوړول حجت نه دی :

شرکة الاملاک ... و هی نوعان شرکة اختیار ... و شرکة جبر و هي التي تثبت لشخصین فاکثر بغیر فعلهما کأن یرث اثنان شیئًا فیکون الموروث مشترکًا بینهما شرکة ملک وحکم هذه الشرکة بنوعیها هو ان کل واحد من الشرکین کانه اجنبي فی نصیب صاحبه فلایجوز له التصرف فیه بغیر اذنه اذ لاولایة لاحدهما فی نصیب الاخر (الفقه الاسلامي ج ۴ ص ۵۸۹ ط دارالفکر) و هکذا فی (بدائع الصنائع ج ۲ ص ۲۵ ط ایچ - ایم - سعید) (وکل اجنبي فی قسط صاحبه) ای کل واحد منهما اجنبي في نصیب

صاحبه حتي لايجوز له ان يتصرف فيه الا باذنه كما لغيره من الاجانب (تبيين الحقايق شرح كنزالدقائق ج ۴ ص ۲۳۵ ط ايج - ايم - سعيد)
واما حكم شراء الفضولي فجملة الكلام فيه ... فان اضافه الى نفسه كان المشتري له سواء وجدت الاجازة من الذى اشترى له اولم توجد ... وان اضاف العقد الى الذى اشترى له بان قال الفضولي للبائع ...اوقال البائع بعت هذا العبد من فلان بكذا وقبل المشتري الشراء منه لاجل فلان فانه يتوقف على اجازة المشتري له (بدائع الصنائع ج ۵ ص ۱۵۰ ط ايج - ايم - سعيد)
اوكه يوطرف نسبت مشتري ته وكړي اوبل طرف يې ونكړي هم يوازې دمشتري ګرځي ځكه چې نسبت په طرفينوكې غواړي:
اوقال البائع للفضولى بعت منک هذا العبد بكذا لفلان فقال اشتريت لايتوقف وينفذ الشراء عليه لانه لم توجد الاضافة الى فلان فى الايجاب والقبول وانما وجدت فى احدهما ، و احدهما شطرالعقد فلا يتوقف لما ذكرنا الخ (بدائع الصنائع ج ۵ ص ۱۵۰ ط ايج - ايم - سعيد)
يادونه: كه چېرې دغه رانيوونكي د رانيولو ترمخه اجازه د نورو ورثه وو ځخه اخيستې وه نودغه ځمكه مشتركه ده اوكه يې د هغوى بې اجازې رانيولې وه نو حكم يې هغه دى چې تير شو ، او يوازې داخبره چې د مشترک مال ځخه يې پيسې وركړي دي د دې حجت نه ګرځي چې ځمكه دې مشتركه شي بلكه يوازې د هغه مصرف شوي مال ضمان پر ده دى:
وما اشتراه احدهم لنفسه يكون له ويضمن حصة شركائه من ثمنه اذا دفعه من المال المشترک (الفتاوى الكاملية ص ۵۰)

مولوي محمود ميوندوال مولوي ندامحمد الحقاني
مولوي نورمحمد (ثاقب)
رئيس عمومي دارالافتاء مركزي دولت اسلامي افغانستان

که د ځمکې رانیونکی یو وي اوقباله د ټولو وروڼو په نامه وي نو د شراکت په باب څه حکم لري ؟

پوښتنه : که یوله وروڼو ځمکه په قیمت رانیسي او قباله د ټولو وروڼو پرنامه واخلي آیا دغه ځمکه مشترکه ده اوکه یواځې د رانیونکي ده ؟

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون ملهم الصواب

که دغه رانیونکی د هغه نورو په وکالت او یا په اجازه دغه ځمکه رانیسي نو مشترکه ګرځي اوکه یې د هغوی بې اجازې د ځان لپاره رانیسي یوازې دده ګرځي او که یې د هغوی بې اجازې د هغوی لپاره رانیسي نو بیا هغه تفصیل پکې دی لکه د مخکې سوال په جواب کې چې تېرشو.

وما اشتراه احدهم لنفسه یکون له ویضمن حصة شرکائه من ثمنه اذا دفعه من المال المشترک (الفتاوی الکاملیة ص ۵۰)

مولوي ندا محمد الحقاني
مولوي محمود میوندوال

مولوي نورمحمد (ثاقب)
رئیس عمومي دارالافتاء مرکزي
دولت اسلامي افغانستان

که له مشترکې ځمکې څخه هر ورور څه برخه خرڅه کړي

پوښتنه : که له ورونو څخه هر یود هغې ځمکې څخه چې رانېولې او قِباله پرخپل نامه لري څه قدر ځمکه خرڅه کړي دغه بیع صحیح ده اوکنه ؟ او که صحیح شي نو دغه د ځمکې قیمت مشترک دی او کنه ؟

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون ملهم الصواب

که دغه ځمکه د رانېولو په وخت کې مشترکه ګرځېدلې وي نو هر ورور خپله حصه خرڅولای شي او قیمت یې دده کېږي او د ورونو په حق کې فضولي ګرځي چې تفصیل یې د مخکې سوال په جواب کې تېر شو ، او که د رانېولو په وخت کې یوه ورور یوازې د خپل ځان لپاره رانېولې وه نو هغه نور ورونه ټول فضولي بلل کېږي او قیمت هم یوازې د هغه یوه ورور کېږي.

فکل اجنبي فی مال صاحبه فصح له بیع حصته ولو من غیر شریکه الخ

(الفتاوی الکاملیة ص ۴۹)

مولوي ندا محمد الحقاني
مولوي محمود میوندوال
مولوي مفتي نورمحمد (ثاقب)
رئیس عمومي دارالافتاء مرکزي
دولت اسلامي افغانستان

په مشترک مال کې د شریک بې اجازې تصرف کول

پوښتنه : عرض دا دی چې یو شخص چې د پلار میراث ورته پاته دی او یوه خور لري او هغې ته یې حق نه دی ورجلاکړی دغه شخص د پلار د مالِ متروکه څخه یوې ښځې ته په مهر کې یو سرای چې حدود یې هم معلوم کړي دي سره ده پنځوس زره کالداري ورکړي ، سوال دا دی چې دغه مشترکه سرای ملکیت یې هغې ښځی ته ثابتېږی کیا ؟ او دغه ښځه دغه مذکور سرای چاته هبه کولای سي کیا ؟ او که یې هبه کړي او موهوب له څه شی په عوض کې واهبې ته ورکړي څه حکم یې دی ؟

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجواب بعون الملک الوهاب

مسئله داده چې په مشترك مال کې که هر څوك تصرف کوي د هغه بل شریك څخه به حتمًا اجازه اخلي ، یوازې په خپله حصه کې تصرف کولای شي په دې شرط چې د هغه بل شریك حصې ته به ضرر نه رسوي او یو شریك د بل شریك په حصه کې بیګانه دی که یې د شریك اجازه وه نو وکالةً د هغه په حصه کې تصرف کولای شي او که یې اجازه نه وه نو تصرف کول ورته حرام دي .

او د غه سرای او نقدې کالداري چې د مشترك مال څخه یوه شریك په مهر کی ښځې ته ورکړي دي دده د خپلې حصې په اندازه یې ورکړه صحیح ده او ښځه هم د هغې حصې مالکه ګرځېدلای شي او که یې د خور حصه هم پکې ورکړې وه د خور بې اجازې نو د خور د حصې په اندازه یې ورکړه نه ده صحیح او نه هغه ښځه د خور د حصې مالکه ګرځېدلای شي ، فلهذا د هغې حصې بیع او هبه د هغې ښځې لخوا حرامه ده او که د خور حصه د خور بې اجازې

دغه سړي په مهر کې ورکړي وي او د هغې بنځې څخه هلاکه شوې وي نو دغه ورور د هغومره مقدار ضامن دی خپلې خور ته به يې قيمت ورکوي :

کیفما یتصرف صاحب الملك المستقل بملکه یتصرف ایضًا فی الملك المشترك اصحابه بالاتفاق کذلك (المادة : ۱۰۲۹) التقیید باتفاق الشرکاء لافادة انه لیس لاحد هم التصرف فی المال المشترك بلا إذن الباقین لان شرکة الملك لاتتضمن الوکالة فکان کل واحد منهم اجنبیًا فی حصة غیره (شرح المجلة للاتاسی ج ۴ ص ۱۱) لاحد اصحاب الحصص التصرف مستقلا فی الملك المشترك باذن الاخر لکن لایجوز له ان یتصرف تصرفًا مضرًا بالشریك (المجلة - المادة : ۱۰۷۱)

کل من الشرکاء فی شرکة الملك اجنبيٌ فی حصة سائر هم فلیس احد هم وکیلاً عن الاخر لایجوز له من ثم ان یتصرف فی حصة شریکه بدون اذنه الخ (المجلة - المـ ۱۰۷۵) و هکذا فی الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج ۳ ص ۳۲۵)

حصة احد الشریکین فی حکم الودیعة فی ید الاخر فاذا او دع احد هما المال المشترك عند آخر بدون إذن فتلف کان ضامنا حصة شریکه راجع مادة ۷۹۰ (المجلة - المـ ۱۰۸۷)

او د هبې په هکله باید ووایو هغه حصه چې دغې بنځې ته په مهر کې رسیدلي ده دهغه حصې هبه کولای شي بل چاته په دې شرط چې تقسیم به کوي په موهوب له کې یعنې که دغه واهبه بنځه په دغه سراې کې خپله تقسیم وکړي یا موهوب له ته اجازه وکړي دتقسیم او هغه هم تقسیم وکړي نو هبه صحیح ده او که نه واهب تقسیم وکړي او نه موهوب له ته دتقسیم اجازه ورکړي بیا دغه هبه صحت نه لري ، موهوب له تقسیم کړی وي او که نه وي ، او که موهوب له څه شی په عوض کې واهب ته ورکړي نو که دغه

عوض په هبه کې شرط شوی ؤ او هبه صحیح شوې وه په وجه د تقسیم او موهوبٌ لَهُ موهوب شی قبض کړي او واهب عوض قبض کړي نو هبه تامه شوه نه واهب حق د رجوع لری نه موهوب له ، او که هبه نه وه صحیح شوې نو واهب ته باید خپل موهوب ورسیږي او موهوب له ته خپل عوض تسلیم شي ، او که دغه عوض په هبه کې نه ؤ شرط شوی بلکه د هبې د تمام وروسته یې ورکړي او په دې یې تصریح کړی وي چې دا ستا د هبې عوض دی نو دغه عوض حکم دنوې هبې لري ټول هغه شروط دهبې پکې معتبر دی لکن د اولې هبې صاحب یعنې واهب ته حق درجوع شته او د دوهمې هبې واهب ته حق درجوع نشته .

(و) شرائط صحتها (فی الموهوب انیکون مقبوضاً غیر مشاع) (الدرالمختار)

(قوله غیر مشاع) ای فیما یقسم کما یاتي (ردالمحتار ج ۴ ص ۵۲۷) و هکذا فی (الفتاوی الهندیة ج ۴ ص ۳۷۴) و (بدائع الصنائع ج ۶ ص ۱۱۹) و یشترط ان یکون الموهوب مقسوما ومفرزا وقت القبض لاوقت الهبة (الفتاوی الهندیة ج ۴ ص ۳۷۶) .

لکن ان قسم الواهب الجزء الموهوب المشاع بنفسه او بو اسطة نائبه وسلمه الی الموهوب له صح العقد لزوال المانع وکذا لو امر الموهوب له ان یقسم مع شریکه (ردالمحتار) اما لو سلمه شائعا فلا یملکه الموهوب له ولاینفذ تصرفه فیه بل یکون مضمونا علیه وینفذ فیه تصرف الواهب درر (شرح المجلة لسلیم باز ص۴۷۳)

فان کانت الهبة بشرط العوض شرط لها شرائط الهبة فی الابتداء ... و بعد التقابض یثبت لها حکم البیع فلایکون لاحد هما ان یرجع فیما کان له (الفتاوی الهندیة ج ۴ ص ۳۹۴)

و في الخانية بعث الى امرأ ته هدايا وعوضته المرأة وزفت اليه ثم فارقها فادعى الزوج ان مابعثه عارية واراد ان يستردّ و ارادت المرأة ان تستردّ العوض فالقول للزوج فى متاعه لانه انكر التمليك وللمرأة ان تستردّ ما بعثته اذ تزعم انه عوض للهبة فاذا لم يكن ذلك هبة لم يكن هذا عوضًا فلكل منهما استرداد متاعه (ردالمحتار ج ۴ ص ۵۷۲)

اما العوض المتاخر عن العقد ... فله شرائط ثلاثة الاول مقابلة العوض بالهبة وهو ان يكون التعويض بلفظ يدل على المقابلة نحوان يقول هذا عوض عن هبتك ... فالتعويض المتاخرعن الهبة هبة مبتدأة بلا خلاف بين اصحابنا يصح بما تصح به الهبة و يبطل بما تبطل به الهبة لايخالفها الافى اسقاط الرجوع على معنى انه يثبت حق الرجوع فى الاولى ولايثبت فى الثانية فاما فيما وراء ذلك فهو فى حكم هبة مبتدأة (الفتاوى الهندية ج ۴ ص ۳۹۳ و ۳۹۴) والله تعالى اعلم

په مشترک مال کې د بې اجازته تجارت ګټه د چا ده؟

پوښتنه : زما عمه وايي چې زه ستا د پلار سره حق لرم دا وايي چې زما د پلار څخه چې ستا نيکه کيږی يو باغ ، يوه سراچه ، جايداد منقوله او نقدی پيسې پاته سوي دي چې پيسې خوړل سوي دي باغ او سراچه زما په إذن او اجازه حاجي دادمحمد خرڅ کړي دي چې ستا پلار او زما ورور دی او د جايداد غير منقول چې خرڅ سوی دی پيسې په تجارت کې ډېرې سوي دي ، پوښتنه داسې ده چې اوس د دې حق د جايداد ، باغ ، او سراچې په دريمه حصه کې کېږي او که د اوس په پيسوکې ؟

(**دوهم سوال**) که بالفرض ددې حق داوس په پښو کې سي زما پلار حاجي دادمحمد مذکور تخمین ۱۹ کال کېږي چې فوت سوی دی او د باغ او سراچې د خرڅ تخمین ۴۵ کاله کیږي مونږ د حاجي دادمحمد مرحوم اولاده ۱۲ تنه حصص حقداري لرو دپورته تجارت مال چې زما مرحوم پلار په چلاؤ او ګردش باندې اچولی دی او هم ۱۹ کاله مونږ دخپل پلار تر وفات وروسته په ګردش او چلاو اچولی دی ددې په درښمه کې زمونږ د ۱۲ تنو وارثانو حق څنګه دی آیا سته او که نه؟ که چېرې سته نو په کوم حصص باندې حقداري زمونږ د ورثه وو کېږي ، هیله ده چې محترم مقام پورته معلومات د مسئلې په خط راته ولیکئ ؟

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب حامداً و مصلیاً

د اول سوال جواب : دغه تجارت که چېرې ستا پلار بې اجازې د عمه کړی ؤ نو هر څه ګټه چې پلار کړې ده عمه په هغې کې اشتراك نه لري بلکه یواځې په هغو شیانو کې چې د پلار څخه پاته دي که نقدي دي او که خرڅ شوي شیان په هغو کې د خپلې حصې حقداره ده ، لکن دغه ګټه چې پلار کړې ده پلار ته ښه نه ده بلکه خیراتوي به یې په نزد د امام ابوحنیفه او امام محمد رَحِمَهُمَاٱللّٰهُ، او که یې تجارت د عمه په اجازه کړی وي او پلار دغه تجارت یعنې بیع او شراء یوازې د ځان لپاره کړې وي نو بیا ګټه دده لپاره ښه ده.

سئلت عن ورثة لهم مال ورثوه من مورثهم فعمل فيه احد هم بدون إذن الباقين فربح فهل لايكون الربح بينه وبين سائر الورثة ، فالجواب نعم لايكون لهم فيه حظ و لا يطيب له الربح و يتصدق به عندهما وعند ابى

یوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ یطیب له الربح (الفتاوی الکاملیة ص۵۳) (و) کل اجنبي فی قسط صاحبه) ای کل واحد منهما اجنبي فی نصیب صاحبه حتی لایجوز له ان یتصرف فیه الا بإذنه .

(تبیین الحقائق ج ۴ ص ۲۳۵ ط ایج - ایم - سعید)

د دوهم سوال جواب : د اول سوال څخه دا معلومه شوه چې عمه د اوس په پېسو کې حق نلري نو ځکه نور تفصیل ته ضرورت نشته .

واللہ تعالیٰ اعلم

که قباله د څلورو زامنو په نوم وي پنځم زوی حق پکې لري او کنه؟

پوښتنه : یو سړی پنځه زامن لري دخپل سرای قباله یې د څلورو زامنو پر نامه کړې ده پنځم زوی یې د حقه ایستلی دی نورڅلور زامن یې اسناد او شاهدان لري یا نه لري اوس دغه پنځم زوی د پلار په جایداد کې پس د پلار له مرګه حق لري او کنه؟

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجواب حامداً ومصلیاً

دلته دوه خبرې دي :

اوله خبر دا ده چې قباله د یو چاپر نامه جوړول بغیر له قبض څخه دلیل د هبی نه ګرځي یعنې که څوك د خپل زوی ، یا زوجې او یا د بل چا پرنامه قباله جوړه کړي او بیا هغه هبه شوی سرای او یا ځمکه ورته تسلیم کړي او هغه یې قبض کړي او مالکانه تصرف پکې وکړي نو هبه تامه شوه او د هغه چا ملکیت ګرځي چې قباله یې پرنامه جوړه شوې ده ، او که هغه موهوب له دغه مذکور مال نه وي قبض کړی نو دا ملکیت نه ثابتېږي ، حاصل داچې

دغه څلور زامن چې مستفتي ذکر کړي دي که يې خپل سرای د پلار په ژوند کې قبض کړی وي او مالکانه تصرف يې پکې کړی وي نو دوی د دغه سرای مالکان ګرځي او که نه وي نو سرای به د ميراث په ډول د ټولو ورثه وو تر مابين تقسيميږي .

دويمه خبره دا ده چې د يوه زوی محرومول که چېرې دغه زوی فاسق او ظالم وی نو روا کار دی ، چې اعانت پر معصيت رانشي او که دغه زوی صالح وي نو بيا د پلار لپاره دا ګناه ده چې محروموي ېې خو سره له دې چې ګناه ده بيا هم دی په سرای کې حق نه لري که هغه نورو زامنو مالکانه تصرف د پلار په ژوند کې پکې کړی وي .

دفع لابنه مالاً ليتصرف فيه ففعل وكثر ذلك فمات الاب ان اعطاه هبة فالكل له والافميراث (الدرالمختار بهامش ردالمحتارج ۴ ص ۵۸۲)

يملك الموهوب له الموهوب بالقبض فالقبض شرط لثبوت الملك (شرح المجلة لسليم باز ص۴۷۳)

رجل وهب فی صحته كل المال للولد جاز فی القضاء ويكون آثما فيما صنع كذافی فتاوی قاضيخان وان كان فی ولده فاسق لاينبغی ان يعطيه اكثر من قوته كيلا يصير معينًا فی المعصية كذافی خزانة المفتيين ولو كان ولده فاسقا و اراد ان يصرف ماله الی وجوه الخير ويحرمه عن الميراث هذا خير من تركه كذافی الخلاصة (الفتاوی الهندية ج ۴ ص ۳۹۱) وكذا فی (امداد الفتاوی ج ۳ ص ۴۷۱)

والله تعالی اعلم

په قرارداد کې امضاء نه کوونکي شریکان له قرار داد څخه استفاده کولای شي کنه؟

پوښتنه : د قندهار ولایت د دارالافتاء محترم رئیس صاحب !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

لطفاً د لاندې موضوع په هکله شرعي فتوی راکړئ :

که چېرې دوه یاڅوکسان دامارت سره یا دیوچا سره معامله وکړي خوقرار داد دیوه نفر لخوا امضاء شي یعنې طرف دمعاملې یو نفر وګرځي دغه باقي شریکان کولای شي چې په دغه قرار داد سره په داسې حال کې چې په تعهد کې یې هیڅ نوم نه وي ذکر شوی استفاده وکړي که یا ؟ والسلام

(المستفتي : دکانو او صنائعو رئیس ملا اکبر شاه جمالي)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب

باید و وایو چې دغه یو نفر شریک چې قرار داد یې امضاء کړی دی که څه هم یوازې دده امضاء موجود ده لکن هغه نور شریکان هم په دغه قرارداد کې شریک بلل کېږي اوهغوی ټول په دغه معامله کې دخیل بلل کېږي ځکه چې په شرکت کې یو شریک دهغه بل شریک وکیل بلل کیږي ، لکن دغه قرار داد که داسې شوی وي چې دغه شریک مشتري وي او امارت بائع وي نو رأس المال د شرکت به د همدغه شریک سره وي چا چې عقد او امضاء کړې ده او که رأس المال دده سره نه ؤ نو دا دده شخصي معامله بلل کېږي نه د ټولو شریکانو.

او بله خبـره دا ده کوم سړي چې عقد کړی دی حقوق د عقد به هم هغه سړی پوره کوي يعنې قبض د مال ، اداء د ثمن ، وخت مقررول لپاره د اداء کولو د ثمن او داسې نور ، او نور شريکان چې عقد يې نه وي ترسره کړی د هغوی څخه دا مطالبه نشي کيدلای چې دغه امور سرته ورسوي اوکه په وخت د قرار داد کې دواړه شريکان يا ټول ناست وو او ايجاب او قبول ټولو وکړ لکن خط بيا يوه شريک امضاء کړ نو په دې صورت کې بيا عاقد يوشريک نشو بلکه ټولو ته نسبت د قرار داد کېږي ولې چې شرعًا الفاظ د ايجاب او قبول معتبر دي نه قرار داد خط :

كل قسم من شركة العقد يتضمن الوكالة ... فكل واحد من الشريكين فى تصرفه يعنې فى البيع و الشراء و تقبل العمل بالاجرة وكيل عن الآخر (المجلة - المادة : ۱۳۳۳) ليس لاحد الشركين اذا لم يكن رأس مال الشركة في يده ان يشتري مالاًللشركة فاذا اشترى يكون ذلک المال له (المجلة - المادة : ۱۳۷۵) حقوق العقد انما تعود الى العاقد فاذا اشترى احد الشريكين مالاً كان عليه وحده قبض المبيع و اداء ثمنه فثمن الذي اشتراه احدهما انما يطالب به هو و لايطالب به شريكه و كذا لو باع احد الشريكين مالاًفقبض ثمنه له وحده (المجلة - المادة : ۱۳۷۷)

و اذا وجدا (اى الإيجاب والقبول) لزم البيع بلا خيار الالعيب او رؤية (الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج ۴ ص ۲۲)

والله تعالى اعلم

یو ورور چې ځپنې شیان پرخپل نامه کړي

پوښتنه : محترم رئیس صاحب د دارالافتاء لوړ مقام ته !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

محترمه ! زمونږ پلار یو دوکان اوسرای درلود پلار موخپل موټر چلاوه اکثر وخت به په سفرکې ؤ او مونږ شپږ ورونو ټولو پردغه دوکان په مشترک ډول کارونه کول څوک پر پاکستان ؤ مالونه به یې را استول ، څوک پر دوکان ؤ او څوک په نورو کارو اخته ؤ چې یو نفر زمونږ د ورونو څخه چې کشرهم ؤ مشر کړی ؤ او حاجي محمد چې د ټولو مشر ؤ هغه په پاکستان کې مالونه را استول اوس چې خبریږو ده اکثره شیان پرخپل نامه کړي دي ، نو ځکه ستاسو لوړ مقام ته مې عرض وکړ چې لطفاً په دغه باره کې مونږ ته معلومات راکړئ ستاسو به لویه مهرباني وي.

په ډیر احترام

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الفتوی بتوفیق المستعان

جواب د استفتاء دارنګه دی په مذکورصورت کې چې یوه ورور یوځه شیان په خپل نامه کړي دي هغه شیان دده دي او دغه ورور به خپلو ورونو ته تاوان او ضمان ورکوي د خپل هغه مال څخه چې دغه ورور ته په تقسیم کې ورسیږي د مثال په ډول یوشی چې یو ورور په خپل نامه کړي او دوی ټول دري ورونه وي او د دغه شی قیمت مثلاً دري لکه کلداري وي دغه ورور به خپلو ورونوته دوه لکه کلداري دخپلې حصې څخه ورکوي او هغه شی ددغه یوه ورور دی .

بل هي شركة ملک كما حررته في تنقيح الحامدية ثم رايت التصريح به بعينه فی فتاوی الحانوتي فاذا كان سعيهم واحداً ولم يتميز ما حصله كل واحد منهم بعمله يكون ماجمعوه مشتركًا بينهم بالسوية وان اختلفوا فی العمل والرأی كثرةً وصوابًا كما افتی به فی الخيرية وما اشتراه احدهم لنفسه يكون له ويضمن حصة شركائه من ثمنه اذا دفعه من المال المشترک آهـ (ردالمحتار علی الدرالمختار ج ۳ ص ۳۷۰)

و كذا في (الفتاوی الكاملية ص ۵۰ نقلاً عن ردالمحتار)

والله اعلم بالصواب

یو شریک چې د شریکانو ترمنځ د یوال ووهي مصرف یې پرچا دی؟

پوښتنه : دکندهار ولایت د دارالافتاء ریاست ته !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

په احترام عرض کوم چې زما اوزما دهمسایه دسرایو په منځ کې یو د یوال دی چې نیم یې ده په شل لکه (۲۰۰۰۰۰۰) افغانۍ درې کاله مخکې زما په اجازه جوړکړی دی او نور نیم یې ماپه دیرش لکه (۳۰۰۰۰۰۰) افغانۍ درې کاله وروسته دده په اجازه جوړ کړی دی ، دی راته وایي چې نیم دیوال زما سره په نیم دیوال مجراء کړه مګر زه ورته وایم چې زما داضافه پیسو مجراء راکړه ، ستاسې د لوړ حضور څخه هیله کوم چې مهرباني وکړئ او په دغه موضوع کې خپله شرعي فتوی او مشوره راکړئ.

په احترام و من الله التوفیق

(مستفتي : نورمحمد اخندزاده)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الفتوی بعون الملک الوهاب

هغه شریک چې په دیرش لکه افغانۍ یې د ډوال جوړ کړی دی که دا په اجازه د خپل شریک ؤ او په اندازه د عرف او اصطلاح یې مصرف کړی ؤ حق د تاوان لري چې د خپل شریک څخه نیمایې واخلي اوکه ترعُرف او اصطلاح یې زیادت کړی ؤ بیا په هغه اندازه د زیادت حق د تاوان نه لري مثلاً که په عُرف کې دغه دیوال په شل لکه جوړبده او ده په دیرش لکه جوړ کړی ؤ د لس لکه د تاوان حق د خپل شریک څخه نشي اخیستلای بلکه هغه شل لکه افغانۍ د دوی په مابین کې نیمې دي ، لس لکه پر یوه باندې دي او لس لکه پر بل باندې دي او هغه دیوال چې په شل لکه درې کاله مخکې جوړ شوی دی د هغه وخت دکلدارو او یا د زرو موافق اندازه معتبره ده چې دغه شل لکه افغانۍ درې کاله مخکې څومره کلدارې او یا زر کېدلې اوس به د هغې نیمایي خپل شریک ته ورکوي :

المِلک المشترک متی احتاج الی الاصلاح والترمیم یصلحه اصحابه بالاشتراک علی قدر حصصهم (المجلة - المادة : ۱۳۰۸) اذا اصلح احدالشریکین الملک المشترک بإذن الآخر وانفق من ماله قدراً معروفًا فله الرجوع بحصة شریکه آهـ (المجلة - المادة ۱۳۰۹)

قیده بالقدر المعروف لانه لوانفق اکثر من المتعارف فلایرجع بالزیادة آهـ (شرح المجلة لسلیم باز ص ۲۹۸)

وقد نظمت هذا الحاصل لتسهیل حفظه فقلت : وان یعمر الشریک المشترک ، بدون اذن للرجوع ما ملک ، ان لم یکن لذاک مضطراً بان ، امکنه قسمة ذلک السکن ، اما اذا اضطر لذا وکان من ، ابي علی التعمیر یجبر فان ، باذنه او اذن قاض یرجع ، و فعله بدون ذا تبرع ، (الدرالمختار ج ۳ ص ۳۸۹)

بخلاف النقود النحاسية والغالبة الغش كالبشلک فی زماننا فانها اذا انقطعت عن ايدي الناس فی السوق او كسدت بنهی السلطان عن التعامل بها او رخصت كما وقع فی زماننا فی البشلک والزهراوی فمذهب ابي يوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ المفتٰی به ان البيع بها يبقی صحيحا ويجب علی المشتري ان يدفع قيمتها من الذهب اوالفضة يوم وقع البيع والقرض فاذا كان كل عشرين بشلكًا قيمتها يوم البيع ذهب مجيدي مثلاً و قد رخص البشلک او كسد او انقطع فعلی المشتري ان يدفع عن كل عشرين بشلكا ذهبًا مجيديًا لانه قيمتها يوم البيع ، افاده فی ردالمحتار(شرح المجلة للاتاسي ج ۲ ص ۱۲۳)

شريک چې د شراکت روپۍ ورکې کړي

پوښتنه : دکندهار د دارالافتاء د محترمو علماؤ حضور ته !

السلام عليكم ورحمة الله و بركاته

زه حاجي جلال الدين ولد حاجي سيد محمد دناحيه (۵) اوسېدونکی ستاسو محترم حضور ته د خپل عرض صورتِ حال وړاندې کوم .

محترمينو ! زما شريک چې فتح محمد نومېږي دکاکوزي زوی دناحيه ۵ اوسېدونکی دی ، ما اوده دمعاملو لپاره پيسې په شراکت کې سره واچولې هرات ولايت ته دواړه تللو مال مو رانيوی او بيا به مو په کندهارکې خرڅاوه، خو اخيري پلا ماته ضروري کار را پيښ سو نو ما شريک ته وويل چې يوازې ولاړ سه په هرات کې مې د يو سړي ځای ور وښو وی چې پېسې هلته وساته بيا نو په بازارکې مال پيداکړه چې سودا دې صحيح کړه راسه پيسې ور وړه ، زما شريک چې حرکت وکړ هرات ته رسېدلی ؤ هغه ځای چې ما ور ښو ولی ؤ هلته نه ؤ ورغلی بل چې نابلد ځای ؤ هلته يې شپې کولې خو روپۍ يې د ځانه نه وې جلا کړې هغه مشترکه پېسې چې زما دشريک په

لاس کې وې هغه زما شریک وایي زما څخه ورکې سوې او دا بهانه کوي چې ماته نورو خلکو په چا یوکې نشه راکړه زه نشه سوی وم هغو ټولې پیسې راڅخه وړې وې ، نو زما شریک په هرات کې عرض کړی ؤ پر مسافرخانه والا ، دعوی محکمې ته راجع سوې وه د هرات قاضي ورته ویلي ؤ چې ستا غل نه دی معلوم ، ته پسې ګوره چې غل دې پیدا کړ بیا محکمې ته مراجعه وکړه دا خو دده قضیه وه ، ما د خپل شریک څخه د خپلو پیسو غوښتنه وکړه زما او د شریک موضوع مې دلته علماؤ ته راجع کړه ځینې علماؤ و ویل چې ته نه وې ورسره ملګری ، نو ستا پیسې په طور د امانت وې حق پرې لرې دا یوه نظریه ده ، ځینې علماؤ وویل چې حق د قسم پرې لرې دا بله نظریه ده او ځینې علماء وایي چې ستا شریک خائن دی خائن ته قسم نسته ، اوس تاسو محترمو علماؤ ته خپله موضوع او قضیه وړاندې کوم چې دقرآن او شریعت د حکم په مطابق زمونږ مسئله راحل اوفصل کړئ. زما شریک پراقرار دی چې مابل ځای کې شپې کولې. والسلام

(مستفتي : حاجي جلال الدين)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الفتوی بعون الله تعالی

یو شریک چې بل شریک ته روپۍ د شرکت ورکړي او ورته ووایي چې په فلانۍ کورنۍ کې به دغه پیسې کښډې وروسته به په بازارکې قیمت د شیانو معلوم کړې بیا به پیسې ور وړې بازار ته ، دغه شریک چې لاړ هغه کورته نه دی ورغلی ، په یو ځای او یا هوټل کې یې چای د یو شناخته سړه خوړلی او دغه روپۍ یې له ځان څخه هم نه وې جلا کړې یا یې په جیب کې وې او یا بې په ملا پورې ترلې وې یوغله ده ته د نشې مواد د چای سړه

ورکړل او دی نشه شو او دغه روپۍ یې ورځنې یووړې ، اوس دا یو شریک حق د تاوان نه لري چې د شریک څخه یې واخلي او قسم ورکولی شي ځکه چې دغه شریک تعدی او تجاوز نه دی کړی ولې چې روپۍ یې د خپل ځان څخه نه دي جلا کړي او په بل کور یا ځای کې یې نه دي ایښي.

(و یده فی المال امانة) لانه قبضه بإذن صاحبه لاعلی وجه المبادلة و الوثیقة فصار کالودیعة والعاریة (تبیین الحقائق ج ۴ ص ۲۵۰ ط ایج - ایم - سعید)

اتفق الفقهاؤ علی ان ید الشریک فی المال ید امانة کالودیعة ... و بناء علیه فانه اذا هلک المال فی ید الشریک من غیر تفریط لم یضمن ... و یقبل قوله بیمینه فی مقدار الربح والخسران وضیاع بعض المال او کله ولو من غیر تجارة ویضمن بالتعدي او التقصیر کما فی سائر الامانات (الفقه الاسلامي ج ۴ ص ۲۲۰ و ۲۲۱ ط دارالفکر دمشق و بیروت)

لیس لاحدهما السفر بغیر إذن الآخر فان سافر فهلک لم یضمن فیما لاحمل له و لامؤنة (الاشباه والنظائر، کتاب الشرکة ص ۱۰۳ ط ایج - ایم - سعید)

و هکذا في (مجمع الضمانات ص ۲۸۲)

وان امر بحفظها فی دار فحفظ فی غیرها ضمن لتفاوتهما (الدرالمنتقی بهامش مجمع الانهر ج ۲ ص ۳۴۳) و (مجمع الضمانات ص ۲۹)

و (ردالمحتار ج ۳ ص ۳۷۹) و (العقود الدریة في تنقیح الفتاوی الحامدیة ج ۲ ص ۷۴ و کذا ج ۲ ص ۹۰)

آيا د وروڼو په ګټه کې خويندې حق لري ؟

پوښتنه : محترمو علماؤ ته د دارالافتاء!

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

تمنا کوم چې تفضلاً ددغه شرعي مسئلې حکم په حواله د معتبرو کتابونو راته وليکئ : يو سړی مړ سي لونې او زامن يې پاته سي ، يوه لړه اندازه ځمکه يې پاته سي او نقدې روپۍ يې پاته نسي وروسته دغه زامن په تجارت سره پيسې پيدا کړي نوآيا دغه لونې په دغه پيسو کې حق لري او کنه ؟ جواب راکړئ ثواب مو روزي شه.

(المستفتي : حاجي محمدجان)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب باسم ملهم الصدق والصواب

په صورت مذکوره کې چونکې د پلار يواځې ځمکه پاته ده او نقد مبلغ يې نه دی پاته شوی نو په دغسې صورت کې چې هر چا په تجارت او يا بل کار اوکسب سره پيسې پيدا کړي هغه پيسې د هغه شخصي ملکيت دی بل څوک ورسره حق نلري.

وما حصله احدهما فله وما حصلاه معا فلهما نصفين ان لم يعلم مالكل و ما حصله احدهما باعانة صاحبه فله ولصاحبه اجرمثله بالغًا مابلغ عند محمد وعندابي يوسف لايجاوز به نصف ثمن ذلک (الدرالمختار) و نقل ط عن الحموي عن المفتاح ان قول محمد هوالمختار للفتوى (ردالمحتار ج ۳ ص ۳۸۳)

(**سئل**) فی ابن كبير له عيال وكسب ما ابوه عنه وعن ورثة يدعون ان ماحصله من كسبه مخلف عن ابيهم ويريدون ادخاله فی التركة فهل حيث

کان له کسب مستقل یختص بما انشأه من کسبه ولیس للورثة مقاسمته فی ذلک ولاادخاله فی الترکة.

(الجواب) نعم (العقود الدریة في تنقیح الفتاوی الحامدیة ج ۲ ص ۱۷) و کذا الحکم في الزوجین اذا لم یکن لهما شئ ثم اجتمع بسعیهما اموال کثیرة فهي للزوج و تکون المرأة معینة له الااذا کان لها کسب علی حدة فهو لها کذا فی القنیة (الفتاوی الهندیة ج ۲ ص ۳۲۹) وکذا فی (احسن الفتاوی ج ۲ ص ۳۹۴)

واللہ سبحانه وتعالی اعلم بالصواب

د مشترک دیوال جوړونه

پوښتنه: محترم د دارالافتاء رئیس صاحب !

السلام علیکم ورحمة اللہ وبرکاته

څرنګه چې زه محمد رفیق دکندهار د پنځمې ناحیې اوسېدونکی ستا لوړ حضورته دارنګه عرض لرم چې مندیسارکې زما یوباغ دی زما د باغ د شمال خواته د حاجي جمعه ګل او حاجي سلطان محمد باغونه دي مونږ او دوی سره همسایګان یو اوپندل شریکه یو، زه محمد رفیق اوجمعه ګل سره کښیناستو د دیوال د وهلو په باره کې موخبرې سره وکړې حاجي جمعه ګل راته وویل چې دیوال و وهه نیم دیوال ستا د باغ په ځمکه کې او نیم دیوال زما دباغ په ځمکه کې ووهه یوتعدای به ته وهې او یو تعدای به زه وهم هرمصرف چې ددیوال په وهلوکې وسو زما اوستا په مابین کې نیمایي دی او حاجي سلطان محمد وایي چې زه دې نه په دیوال کارلرم اونه دې ددیوال نیمه حصه مځکه په باغ کې درکوم اونه دې مصرف درکوم تاسې پوه سي او دیوال مو پوه

سه او دی وایي چې دغه دیوال وهی زه یوه سانتي ځمکه د دیوال دپاره نه درکوم چې دیوال زما وخواته ووهئ زه هیڅ ضرورت نه ورته لرم .
نوستاسې دلوړ حضور څخه زموږ هیله دا ده چې موږ ته په دې باره کې شرعي او قرآني مسئله راکړئ چې مونږ پر دغه حاجي سلطان محمد باندې د دغه دیوال د ځمکې نیمه حصه او مصرف حق لرو اوکه یې نه پرې لرو ؟

و من الله التوفیق

(محمد رفیق د پنځمې ناحیې او سیدونکی)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب

محترم محمد رفیق وروره په مذکوره صورت کې چې حاجي جمعه ګل په خپله حصه د باغ کې د دیوال لپاره نیمه ځمکه او نیم مصرف درکوي او دیوال په شراکت درسره جوړوي دا د هغه تاسو سره کومک بلل کېږي او حاجي سلطان محمد چې نه د دیوال ځمکه درکوي او نه د دیوال نیم مصرف درکوي تاسو شرعًا پر هغه باندې حق نه لری چې په نیمه حصه د دیوال د ځمکې اویا په نیم مصرف د دیوال د جوړیدو یې مجبور کړئ ځکه چې شرعي مسئله دا ده چې یو شخص بل شخص د هغه په ملک کې په بناء سره نشي مجبور کولای مګر د ضرورت په وخت کې حتی که مشترک دیوال ونړیږي او د دیوال په ځمکه کې دومره صلاحیت ؤ چې یو د شریکینو پرخپله حصه باندې دیوال جوړ کړي بیا هم یو شریک بل شریک نشي مجبور کولای د دیوال په جوړیدوسره .

حکم الملک اومقتضاه عندالحنفیة : هو ان یثبت لصاحبه ولایة التصرف فی الشئ المملوک بمطلق اختیاره دون ان یکون لاحد علیه حق الاجبار علی التصرف الالضرورة ... وبناء علیه للمالک ان یتصرف فی ملکه ایّ تصرف شاء الخ
(الفقه الاسلامي و ادلته ج ۲ ص ۴۷۱ و ۴۷۲ ط دارالفکر د مشق و بیروت)
(خانیه) و فیها اشتری حجرة سطحها وسطح جاره مستویان فآخذه جاره حتی یتخذ حائطاً بینه و بین جاره لیس له ذلک لان الانسان لایجبر علی البناء فی ملکه (شرح المادة - ۱۲۰۵ - لسلیم باز ص ۲۲۲)
المشترک اذا انهدم فابی احدهما العمارة فان احتمل القسمة لاجبر وقسم والابنی ثم اجره لیرجع (الاشباه والنظائر، کتاب القسمة ص ۱۵۲ ط ایچ - ایم - سعید) والظاهر انه لایجبر علی بنائه لان الانسان لایجبر علی بناء ملکه (شرح المجلة لمحمد خالد الاتاسي ج ۴ ص ۱۵۲)

د مشر زوی په ګټه که د پلار ملک ګډ شي

پوښتنه : یوسړی دوه زامن ولري او دنیا و نلري یو زوی کشر او بل مشر وي دا مشر غواړي په یوکار پیل وکړي او بیا څو روپۍ وګټي په مقدار د (۱۲۰۰) کلدارو او بیا یو دوکان کیږدي وروسته پلار او کشر ورور هم په کار ورسره لګیا سي (۲-۳) کاله وروسته بیا دوکان خدای پاک ډیر پرمخ بوزي زیاته ګټه وکړي او دغه ورونه دوه واده شوې خویندې هم ولري اوس غواړي تقسیم وکړي او د دوکانداری د پیل څخه (۱۵) کاله وروسته پلار هم وفات شوی وي او د نورمحمدتره کي د پاچاهۍ وروسته د ملک روپۍ هم راتلې اوپه دوکان ګډې دي ، مراد د ملک څخه د پلار مملوکه ځمکه ده چې اولادوته په میراث پاته شوې ده او تقسیم شوې نه ده. والسلام
(مستفتي : د حاجي ګل شبر ورور)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب

دا مسئله څوشکلونه او صورتونه لري :

اول دا چې دکور ټول مصارف اونفقه په دغه مشر زوی پورې اړه ولري اوکشر زوی او پلار یوازې دکومکیو په صفت ورسره وي نه د مستقل کارکوونکو په صفت ، په دې صورت کې ټولې پېسې د دغه مشر ورور دي او تقسیم ته ضرورت نشته او هغه د ځمکې د حصول پېسې چې په دوکان ګډې شوې دي هغه ټولې دې راجمعه کړل شي نورو ورثه وو ته دې خپلې حصې ورکول شي او د مشر زوی حصه دې په دوکان کې پاته شي .

دویم دا چې پلار اوکشر ورور هم د پوره کارکوونکو په صفت کار کړی وي او د کور مصارف د دوکان څخه شوي وي په دې صورت کې دې د پلار د وفات په وخت کې دوکان ته حساب وشي او ټول مال دې درې مساوي حصې شي دوه حصې دې ورونه واخلي او د پلار حصه دې د میراث په ډول پر ټولو ورثه وو تقسیم شي او په تیرو کلونو کې د ځمکې د حصول د پیسو څخه دې د خویندو حق جُدا او خویندو ته ورکول شي.

دریم دا چې پلار د مستقل کارکوونکي په صفت اوکشر ورور د یو شاګرد په صفت کار کړی وي نود پلار د مرګ په وخت کې چې څومره مال ؤ هغه دې نیمایي شي نیم به میراث شي او نیم به د مشر ورور شي.

څلورم دا چې دواړو ورونو د مستقل کارکوونکو په صفت کارکړی وي او پلار په مکلّف ډول په کارکې برخه نه وي اخیستي نو هر څه مال چې وي هغه د ورونو دی خو د ځمکې په تېرو حاصلا توکې خویندې حتمًا حق لري او د

مشر ورور هغه اوله سرمایه (۱۲۰۰) کالداري به اول مستثنٰی کېږي هغه به مشر ورور ځان ته اخلي وروسته به د تیر بیان مطابق اجراءات کېږي.

(سُئل) فی ابنٍ کبیرٍ ذی زوجة وعیال له کسب مستقل حصّل بسببه اموالاً و مات هل هی لوالده خاصة ام تقسم بین ورثته (اجاب) هی للإبن تقسیم بین ورثة علی فرائض الله تعالی حیث کان له کسب مستقل بنفسه واما قول علمائنا اب وابن یکتسبان فی صنعة واحدة ولم یکن لهما شئ ثم اجتمع لهما مال یکون کله للاب اذا کان الابن فی عیاله فهو مشروط کما یعلم من عباراتهم بشروط منها اتحاد الصنعة وعدم مال سابق لهما وکون الابن في عیال ابیه ... فمدار الحکم علی ثبوت کونه معینا له فیه فاعلم ذلک ... وان لم یکونوا بهذا الوصف بل کان کل مستقلا بنفسه واشترکوا فی الاعمال فهو بین الاربعة سویة بلا إشکال وان کان ابنه فقط هوالمعین والاخوة الثلاثة بانفسهم مستقلین فهو بینهم اثلاثا بیقین والحکم دائر مع علته باجماع اهل الدین الحاملین لحکمته (تنقیح الفتاوی الحامدیة ج ۲ ص ۱۷)

قال فی التنویر و شرحه : وما حصله احدهما فله وما حصلاه معا فلهما نصفین ان لم یعلم مالکل وماحصله احدهما باعانة صاحبه فله ولصاحبه اجر مثله بالغاً مابلغ الخ (احسن الفتاوی ج ۲ ص ۳۹۴)

(سُئل) فی اخوَیْنِ سعیهما واحد وعائلتهما واحدة حصّلا بسعیهما اموالاً من مواش وغیرها والآن یرید احدهما مفارقة الاخر و مقاسمة المال مناصفة ویأبٰی الاخر فهل والحالة هذه جمیع ماحصلاه بسعیهما وکسبهما مشترک بینهما تجب قسمته بینهما مناصفة ام لا (اجاب) نعم ما حصلاه بکسبهما مشترک بینهما لایجوز ان یختص به احدهما دون الاخر . والله اعلم.

(الفتاوی الخیریة علی هامش تنقیح الفتاوی الحامدیة ج ۱ ص ۱۸۵)

آیا پاته ورور هم له مشترک مال څخه ودونه کړېو ورونو باندې د ولور حق لري؟

پوښتنه : د دارالافتاء محترم مقام ته ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته وبعد: زه ستاسو څخه فتویٰ غواړم په دې مسئله کې مور څلور ورونه یو دوه له یوې مورە او دوه له بلې مورە یو زمور پلار په ژوند کې دوه مشران ورونه جلاکړي وو بیا زمور پلار چا قتل کړ چې مور دوه د عمر په لحاظ کم وو نو زمونږ هغه دوه مشران ورونه راکړه سول بیا دیت د والد صاحب مونږ تولو څلور سوه مېږې ځني راوستې بیا زمور مشرانو ورونو په مال مشترک کې ښځې وکړې یعنې مالونه او ولورونه یې د مال مشترک څخه ورکړل خو دغه یوه ورور یوه لور ورکړه او نیم یې ولور ورکړ او زما دا مورني ورور ته یې هم ښځه په مال مشترک کې وکړه زه پاکستان ته لاړم د سبق لپاره (۲۵) کاله بعد راغلم چې دوی تقسیمونه کړي وو یو تقسیم یې زما مور او ورور ته ورکړی وو او بل تقسیم هغه دوو مشرانو ورونو اخیستی وو بیا زما مورني ورور ماته ښځه وکړه او نیم ولور یې هم ورکړ د خپل مال څخه نو اوس زه په دغه دوؤ مشرانو ورونو حق د نیم ولور لرم کیا ؟ د شریعت په رڼا کې فتویٰ راکړئ. والسلام

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب

که چېرې واقعه داسې وي لکه تاسو چې لیکلې ده نو دغه مستفتي ته باید ووایو چې په هغه وخت کې چې مشرانو ورونو ودونه کول او پېسې یې د پلار د پاته شوي مال څخه چې تقسیم شوی نه ؤ مصرفولې نو په دغه حال کې که

ته بالغ وي او ستاپه خوښه دوی دغه مصرف کړي وي نواوس ته شرعًا حق د ولور اخیستلو نه لري خو که دوی پخپلې رضاء او رغبت درکاوه پروا نه لري اوکه تا اجازه نه وي ورته کړي او یا یې ستاپه غیاب کې پخپل سر دا کار کړی وي او یا ته په هغه وخت کې صغیر وې او پس له بلوغ دې هم اجازه نه وي کړي نو په دې صورت کې حکم دا دی چې هغه ولورونه چې د مشترک مال څخه ستا بې اجازې او یا په حالت د کوچني والي کې اخیستل شوي دي هغو ته دې حساب وشي او د میراث د مال په طریقه دې د ټولو وارثانوحصې معلومې شي هر څومره حصه چې تا ته ورسیدله ته د هغومره پیسو حق لرې چې مشران به یې تا ته درکوي خو دا ټول په هغه وخت کې کېدای شي چې هغه تقسیم چې دوی ستا په غیاب کې کړی دی هغه تقسیم یې د باقي مانده پیسو کړی وي او ولورونو ته یې حساب نه وي پکې کړی او نه یې د ودونو مصارف په تقسیم کې داخل کړي وي.

کل من الشرکاء فی شرکة الملک اجنبي فی حصة سائرهم فلیس احدهم وکیلا عن الاخر ولایجوز له من ثم ان یتصرف فی حصة شریکه بدون اذنه (المجلة - المادة : (۱۰۷۵)

والاذن نوعان صریح و دلالة ففی الاول یتصرف الشریک بحصة شریکه کما اذنه سواء اضر اولم یضر فله ان یرهن ویبیع اویهب اما فی الثاني فانما یتصرف بها علی ماهو معروف ومعتاد الخ (شرح المجلة لسلیم باز ص ۲۰۰) الخلاصة للشریک ان یتصرف بجمیع انواع التصرف من التصرفات المضرة وغیرالمضرة باذن شریکه الصریح (دررالحکام ج ۳ ص ۲۴)

د پلار پرځمکه د یو ورور جوړ کړي سرای کې د نوروحق

پوښتنه : دکندهار ولایت دعلماؤ د عالي شوری د دارالافتاء محترم رئیس صاحب ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

محترمه ! مونږ د یو پلار (۲) تنه ورونه پاته سوي یو هغه وخت چې زمونږ پلار حیات ؤ محمدخان چې زمونږ ورور دی زمونږ څخه جلا سو زمونږ یونږیدلی سرای ؤ هغه زمونږ نوموړي ورور محمدخان جوړاوه زما په مخ کې زما پلار محمدخان ته داسې وویل چې دغه سرای چې ته جوړوي ستا سره دغه نور پنځه ورونه هر وخت شراکت پکې لري چې بله ورځ بیا دغه سرای یوازې دخپل ځان شخصي ملکیت ونه بولي څرنګه چې زمونږ پلار وفات سوی دی اوس زمونږ ورور محمدخان مونږ ته په دغه سرای کې حق نه راکوي ، نو په دې اړه دشرعي فتوی غوښتونکی یم چې آیا مونږ باقي ورونه په دغه سرای کې حق درلودلای سو ؟ ، که د شرعي فتوی پر بناء معلومات راکړئ مهرباني به مو وي اوکه بیا هم شریعت مونږ ته په دغه ذکر سوي سرای کې حق رانکړي زمونږ په نورو سرایوکې چې مونږ پکې اوسیږو محمدخان حق پیداکولای سي که یا ؟ پدې باب شرعي معلومات راکړئ.

والسلام (المستفتي : شیرمحمدخان)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون المستعان

محترم مستفتي صاحب ! دغه سرای چې محمدخان جوړکړی دی اوهمدارنګه دا نور سرایونه او نور مال که ستاسو د پلار څخه پاته شوی وي دا ټول مشترک دي د ورونو او که نور ورثه وي هغوی هم ورسره شریک دي.

ثم يقسم الباقي بين ورثته بالكتاب والسنة واجماع الامة فيبدأ باصحاب الفرائض (السراجي ص ۳) والمستحقون للتركة عشرة اصناف مرتّبة كذا في الاختيار شرح المختار فيبدأ بذى الفرض آهـ (الفتاوى الهندية ج ۶ ص ۴۴۷) (يبدأ من تركة الميت بتجهيزه) المراد من التركة ماتركه الميت آهـ (ثم يقسم بين ورثته وهم ذوفرض اى ذوسهم مقدر) لما تلونا ولقوله عليه الصلوة والسلام الحقوا الفرائض باهلها. (البحرالرائق ج ۸ ص ۴۸۹) ثم يقسم الباقي بعد ذلک (بين ورثته) اى الذين ثبت ارثهم بالكتاب اوالسنة (الدرالمختار على هامش حاشية الطحطاوي ج ۴ ص ۳۲۹)

نوټ : که دغه د سرای د مصرف مبلغ د محمدخان شخصي ملک وي او د پلار اجازه ورته وه او پلار مذکور مبلغ تادیه کړې نه وي او د محمدخان له طرفه تبرع هم نه وي ثابت نو مذکور مبلغ دې محمدخان ته د ټولې ترکې څخه ورکول شي.

ثم تقضى ديونه من جميع مابقى من ماله (السراجي ص ۳)

د پور په وجه شراکت نشي راتلای

پوښتنه : د مرکزي دارالافتاء محترم رئیس صاحب !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

وبعد: محترمه ! ځمکه چې دیوه ورور وي بیا هغه ورور نورو دوو ورونو ته ووایې چې پردغه ځمکه سرای راجوړکړئ هغو دوه ورونو پیسې په قرض ورنکړې مګر دسرای دجوړیدو ټوله مصارف پر غاړه واخلي اوپس دسرای له جوړیدو خط ولیکي چې دغه پیسې په درومیاشتوکې درکوم که مې درنه کړې زه دغه سرای خرڅوم ستاسو حق به درکوم بیا دغه د ځمکې خاوند مړ

سو آیا دغه دوه وروڼه په دغه سرای کې حق د شراکت لري اوکه د خپل مصرف سوو پیسو حق لري اوکه د سرای دنړېدو اودخپلو لرګوحق داره دي؟، که په دغه باره کې شرعي فتوی راکړئ ډیره مهرباني به مو وي.

والسلام. (المستفتي : حبیب الله)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب باسم ملهم الصدق والصواب

په مذکوره صورت کې چې دسرای اصلي مالک مړ شوی دی او پرده باندې دَیْن او پور پاته شوی دی نواوس به لومړی ددغو دوه وروڼو حق یعنې مصرف شوې پیسې د دغه مړي د مالِ متروکه څخه ادا کېږي پس له دفن د مېت څخه ، هغه که سرای څخه وي اوکه نورمال څخه او وروسته له اداء کولو د دَیْن که مال پاته شو هغه به پر ورثه وو تقسیم کېږي اودغه دوه وروڼه په سرای کې شراکت نه لري.

یری اغلب العلماء ان الدین یبقی فی ذمة المیت کما کان ویتعلق بعین ماله کتعلق حقوق الغرماء بمال المفلس عندالحجر علیه الخ (الفقه الاسلامي ج ۵ ص ۳۵۵ دارالفکر) الترکة تعلق بها حقوق اربعة جهازالمیت ودفنه والدین والوصیة والمیراث فیبدأ اولاً بجهازه آهـ ... ثم بالدین (الفتاوی الهندیة ج ۲ ص ۴۴۷)

و کذا فی (تبیین الحقائق ج ۷ ص ۴۷۲) وکذا فی (الدرالمختار ج ۵ ص ۵۳۲) وکذا فی (البحرالرائق ج ۸ ص ۴۸۹)

آیا دوارثانو په رانیولو ځمکو کې کونډه هم حق لري؟

پوښتنه : حضور ته د حاجي مولوي صاحب

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

امابعد ! ددوو وروڼو ملک دی په ویش سره ګډ دي ، یو ورور یې وفات سو بل یې ژوندی دی دمړه ورور څخه یې یوه لور پاته ده ملک یې سره مشترک او د ورور د مرګ وروسته یې نور ملک رانیوی پس له خریداری دغه بل ورور یې هم وفات سو دیوه ورور زوی پاته دی دبل ورور لور پاته ده دغه ښځه را ولاړه سوه خپل د اکا زوی یې په نکاح کی ، په دغه ګډ ویش کې ددې د اکا زوی چې میړه یې هم دی نور ملک رانیوی اوس دغه ښځه هم وفات سوه ددغې ښځې زامن د خپل پلار څخه د خپلې مور حق غواړي نودغه ښځه په دغه نوي ملک او خریداري کې چې اکا یې کړې ده او مېړه یې کړې ده چې د اکا زوی یې هم دی او ددغې وفات سوې ښځې زامن په نوې خریداری کې حق لري اوکه نه ؟ د ملک مالیات هم ددغې ښځې پرنامه تحویلیږي د پخوا څخه بیا تر نن . والسلام.

(عبدالباقي آغا)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب

دغه مړ ورور چې د زوی پلار کېږي اودغه دښځې مېړه چې کومې ځمکې رانیولې دي. دا ددوی شخصي ملک ګرځي اوپه مشترک مال کې نه ګډیږي نوکه دغې ښځې د خپل اکا په شخصي ځمکه کې حق نه درلود نو په دغه رانیول شوې ځمکه کې هم حق نه لري ، او مېړه خویې ژوندی دی دهغه په ځمکه کې خو بالکل حق نه لري ، یوازې په هغه صورت کې رانیول شوی ملک په مشترک ملک ګډ ګڼل کېږي چې دغه مشتري او بائع دواړه په وخت د

رانیولو کې نسبت خپلو شریکانوته وکړي یعنې مشتري ووایې چې زه یې دشریکانو لپاره رانیسم او بائع ووایې زه یې د هغو لپاره خرڅوم او بیا یې دشریکانو خوښه هم شي نو په دغه صورت د استفتاء کې ښځه د خپل اکا په شخصي ملک کې هیڅ حق نه لري ولې چې د هغه زوی ژوندی دی نو کله چې ښځې په هغه شخصي ملک کې حق پیدا نکړ د ښځې زامن په طریق اولیٰ حق پکې نلري.

وکلُّ اجنبي فی قسط صاحبه) ای کل واحد منهما اجنبي في نصیب صاحبه حتی لایجوز له ان یتصرف فیه الاباذنه (تبیین الحقائق ج ۴ ص ۲۳۵ ط ایج - ایم - سعید)

و هکذا فی (بدائع الصنائع ج ۲ ص ۲۵ ط ایج - ایم - سعید) و (الفقه الاسلامي ج ۴ ص ۵۸۹ ط دارالفکر)

واما حکم شراء الفضولي فجملة الکلام فیه ... فان اضافه الی نفسه کان المشتري له سواء وجدت الاجازة من الذي اشتری له اولم توجد وان اضاف العقد الی الذي اشتری له بان قال الفضولي للبائع بع عبدک هذا من فلان بکذا فقال بعت و قبل الفضولي البیع فیه لاجل فلان او قال البائع بعت هذا العبد من فلان بکذا وقبل المشتري الشراء منه لاجل فلان فانه یتوقف علی اجازة المشتري له الخ (بدائع الصنائع ج ۵ ص ۱۵۰) او قال البائع للفضولي بعت منک هذا العبد بکذا لفلان فقال اشتریت لایتوقف وینفذ الشراء علیه لانه لم توجد الاضافة الی فلان فی الإیجاب والقبول وانما وجدت فی احدهما ، واحدهما شطر العقد فلایتوقف الخ (بدائع الصنائع ج ۵ ص ۱۵۰) و ما اشتراه احدهم لنفسه یکون له ویضمن حصة شرکائه من ثمنه اذا دفعه من المال المشترک (الفتاوی الکاملیة ص ۵۰) والمستحقون للترکة عشرة اصناف مرتبة کذا في الاختیار شرح المختار فیبدء بذي الفرض ثم بالعصبة ...ثم ذوی الارحام الخ (الفتاوی الهندیة ج ۲ ص ۴۴۷)


كتاب
المضاربة

کتاب المضاربة

په مضاربة کې انتهاءً کوم قیمت د کالدارې ورکول کېږي ؟

پوښتنه : محترما ! زه حاجي ولي جان ستاسو له محترم حضور څخه دا هیله کوم زما او د یو سړي سره معامله د مضاربة وه او دوې مېاشتې مخکې ما حساب ځېنې وغوښتی چې کالداره په (۱۲۸۵) وه دی نسو حاضر اوس دې حاضر دی اوکالداره په (۱۰۲۵) ده ، اوس زه د هغې ورځې د کالدارو افغانۍ ځېنې غوښتلای سم که د نن ورځې ، سره له دې چې معامله مو شپږ مېاشتې مخکې پای ته رسولې او بس کړې ده.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

الفتوی بعون الله سبحانه وتعالی

محترم مستفتي صاحب ! تاسې چې یوسړي ته کالدارې او یا افغانۍ په مضاربة ورکړي دي او اوس مو مضاربة پای ته رسیدلی دی غواړئ چې حساب سره وکړئ نو ته حق د هغه مال لري چې تا ده ته ورکړی دی کالدارې وي او که افغانۍ او پر مضارب دا واجب ده چې هغه تا ورکړې کالدارې اویا افغانۍ به تاته درکوي اوکه تا کالدارې ورکړې وي اوس افغانۍ غواړې او یا بالعکس نو هغه کالدارې او یا افغانۍ به د دغه اوس ورځې د ستاسو د تقسیم او جُدا والي درکوي ، او دغه ستاحق دی.

قال فی القنیة اعطاه دنانیر مضاربة ثم اراد القسمة له ان یستوفی دنانیر وله ان یاخذ من المال بقیمتها و تعتبر قیمتها یوم القسمة لا یوم الدفع آهـ

وعليه فلو علم عدد المدفوع ونوعه فله اخذه ولو اراد ان يأخذ قيمته من نوع آخر ياخذه بالقيمة الواقعة يوم الخلاف وهو يوم القسمة.

(شرح المجلة للاتاسي ج ۴ ص ۳۲۱)

سئلت فيمن دفع لرجل دنانير معلومة مضاربة ثم ارادا القسمة هل يستوفيها دنانير كما دفعها ، فالجواب نقل فی ردالمحتار عن القنية ما نصّه اعطاه دنانير مضاربة ثم ارادا القسمة له ان يستوفی دنانير وله ان يأخذ من المال بقيمتها و تعتبر قيمتها يوم القسمة آهـ و فی شرح الطحطاوي من المضاربة ويضمن لرب المال مثل ماله وقت الخلاف - بيرى وهذه فائدة طالما توقفت فيها فان رب المال يدفع دنانير مثلاً بعدد مخصوص ثم تغلو قيمتها ويريد اخذها عدداً لابالقيمة تأمل والذي يظهر من هذا انه لوعلم عدد المدفوع ونوعه فله اخذه ولو اراد ان يأخذ قيمته من نوع اخر ياخذه بالقيمة الواقعة يوم الخلاف ای يوم النزاع والخصام آهـ (الفتاوی الكاملية ص ۱۲۲ و ص ۱۲۷) و (ردالمحتار ج ۴ ص ۵۴۵)

(و ان) كان المال (من غير جنسه) ای غير جنس رأس المال (فله) ای للمضارب (تبديله بجنسه) ای اذا كان رأس المال دراهم وهو معزول ومعه دنانير له بيعها بالدراهم (استحسانًا) لان الواجب للمضارب ان يردّ مثل رأس المال وهو يتحقق بردّ جنسه فكان له تبديل بجنسه ضرورة آهـ (مجمع الانهر ج ۲ ص ۳۳۱) و كذا فی (الدرالمنتقی بهامش مجمع الانهر ج ۲ ص ۳۳۱) و (الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج ۴ ص ۵۴۵)

رب المال د مضارب سره د تفصيلي حساب حق نه لري

پوښتنه : ما حاجي محمد نسيم مشهور په حاجي لالک يوه نفر ته (۱۲) لکه پاکستانۍ کالداري په طور د مضاربة ورکړې وې همدغه نومورې شخص په هغو کالدارو د صرافۍ کار او بار په کندهار کې شروع کړی ؤ او په چمن کې يې خپل زوی د کار او بار لپاره کښينولی ؤ ، تخمينًا د دوو مياشتو په شاوخوا کې چې يې کار وکړ زه دده په خريد او فروش او نورو اجراءاتو اشتباهي سوم نو ما دغه نفر ته خبر ورکړ چې کار او بار دې پر رونق برابر نه دی بند يې کړه او حساب راوړه هغه زما له دغې وينا وروسته بيا په خپل سر تخمينًا څلور مياشتې زما د اجازې پرته خپل کار او بار ته ادامه ورکړه او وروسته تر شپږنيمو مياشتو چې راغی او حساب يې راوړ ويل يې چې ما پورته سرمايه ټوله تاوان کړې ما ورته وويل چې زه دغه حساب نه منم زه بيا يو صحي حساب در څخه غواړم هغه ؤ چې اوس يې حساب اختصاصي محکمې ته راوړی هغه حساب چې زما ميرزا ملاحظه کړ د ۱۸۳-۱۴ ورکې په ميزان کې شپږ لکه او ديرش زره کالداري تفاوت ؤ او په ۱۹۲-۲۳ ورکې په ميزان کې بيا دوه لکه او پنځه ويشت زره کالداري تفاوت ؤ چې دغه دوه ورکې ستاسو محترمو علماء کرامو په حضور کې هم په مشاهده رسوم چې تاسې محترم علماء پر هغې غلطۍ او تفاوتونو خپل علم آوري راولئ او د اختصاصي محکمې هيئت هم و فرمايل چې دغه موضوع دارالافتاء ته ور وړئ چې مسئله درکړي ، نو زه حاجي محمد نسيم پر دغه خپل مضارب د يو صحي حساب حق لرم او که نه ؟ په دغه هکله لطفًا فتوىٰ را کړئ .

(حاجی محمد نسیم)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجواب بعون الله تعالى

رب المال دا حق نه لري چې د مضارب څخه مکمّل او مفصل حساب و غواړي بلکه د مضارب قول معتبر دی په مقدار د ګټې او د تاوان کې یوازې رب المال دا حق لري چې مضارب ته قسم ورکړي لکن که رب المال دا ثابته کړه چې څلور میاشتې تر مخه ما دغه مضارب عزل کړی ؤ نو بیا د دغه څلور میاشتو ګټه او تاوان په مضارب پورې اړه لري نه په رب المال پورې ، خو دري شرطونه لري :

(**اول**) دا چې مضارب ته به خبر د عزل رسیدلی وي.

(**دوهم**) دا چې د مضارب سره به رأس المال یعنې سرمایه په نقدی ډول موجوده وي.

(**دریم**) دا چې رب المال به دغه عزل پس له دوو میاشتو ثابتوي یا په اقرار د مضارب او یا په بله طریقه سره .

سئلت عن مضارب طلب منه رب المال المحاسبة تفصيلا هل يجبر على ذلك ، فالجواب ان قارئ الهداية سئل عن شريك طلب من شريكه او من العامل فى المضاربة حساب ماباعه او ماصرفه فقال لااعلم حسابا و انما بعت و تصرّفت و بقى هذا القدر هل يلزم بعمل محاسبته اجاب القول قول الشريك و المضارب فى مقدار الربح و الخسران مع يمينه و لايلزمه ان يذكر الامر مفصّلا و القول قوله فى الضياع و الردّ الى الشريک (الفتاوى الكاملية ص ۱۲۹) و هكذا فى (الفتاوى الانقروية ج ۲ ص ۲۲۲) و هكذا في (شرح المجلة لسليم باز ص ۷۵۷)

تبطل المضاربة بالفسخ و بالنهی عن التصرف او العزل اذا وجد شرط الفسخ و النهی و هو علم صاحبه بالفسخ و النهی و ان یکون رأس المال ناضًا ای نقدا وقت الفسخ ... فان کان متاعا لم یصح العزل ... و هذا متفق علیه بین فقهاء المذاهب الاربعة الخ

(الفقه الاسلامی وادلته ج ۴ ص ۲۲۳ ط دارالفکر)

اذا تجاوز المضارب حدّ ما ذونیته و خالف الشرط کان غاصبًا (المجلة – المادة : ۱۴۲۱) و لایخرج عن کونه غاصبًا و لواجاز رب المال بعده حتی لوا شتری المضارب ما نهی عنه ثم باعَه و تصرّف فیه ثم اجاز رب المال لم یجز - منح (شرح المجلة لسلیم باز ص ۷۵۴)

واللہ تعالٰی اعلم


كتاب
الوقف

کتاب الوقف

وقف کوونکی باید جوړ او روغ وي لېونی نه وي

پوښتنه : یوشخص چې نه خالص لیونی ؤ او نه جوړ ؤ په خپل اختیار یې په خپلو روپو دوه دانې کمبلې رانیولې او په یومسجد کې یې هوارې کړې نور یې چاته څه نه دي ویلي بیا دغه شخص خالص لیونی سو اوس عرض دا دی چې دغه مذکورې کمبلې ددغه مسجد په حجره کې هوارېدلای سي او کنه ؟ او ددغه لیوني والِدین په دغو کمبلو کې څه تصرف کولای سي او کیا ؟

والسلام .

(المستفتي : حاجي حميدالله)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون ملهم الصواب

محترم مستفتي صاحب ! مذکور شخص چې په خپل اختیار په مسجد کې کمبلې هوارې کړې دي اوپردغه سړي یوڅه اثرات دلېوتتوب وو په دغه وخت کې دده وقف صحت نه لري ځکه چې دوقف د صحت لپاره دواقف سالم والی دجنون او د نقصان د عقل څخه شرط دی .

او که یوشخص په دغو دوه حالتوکې یوشی وقف کړي وقف ورته نه ویل کېږي تصرف او تولی ددغه شي او نور مال یې د پلار او د ولي دی په دغه صورت کې چې داسړی بیا خالص لیونی شوی دی نو والِدین ددغه لیوني په دغوکمبلو کې تصرف کولای شي.

یشترط فی الواقف لصحة الوقف ونفاذه ما یاتي ...ان یکون عاقلا فلایصح وقف المجنون لانه فاقدالعقل ولاوقف المعتوه لانه ناقص العقل ولاوقف

مختل العقل بسبب مرض اوكبر لانه غير سليم العقل الخ (الفقه الاسلامي ج ۸ ص ۱۷۵ ط دارالفكر)

و كذا فی (بدائع الصنائع ج ۲ ص ۲۱۹)

و اما الولاية على المجنون اوالمعتوه اذا بلغ على هذه الحالة فانها تكون لمن كان وليه قبل البلوغ من ابّ اوجدّ او وصی باتفاق المذاهب الاربعة كما تقدم فان بلغ الشخص رشيداً ثم طرأ عليه الجنون اوالعته عادت اليه ولاية من كان وليه قبل البلوغ على الرأی الراجح عند الحنفية والشافعية (الفقه الاسلامي و ادلته ج ۹ ص ۱۴۳ و ص ۱۴۴ ط دارالفكر دمشق و بيروت)

و فی الفتاوی فی باب العين ولاية الاب على الابن فی ماله بالبيع والشراء وفی نفسه بالنكاح اذا بلغ مجنونًا اومعتوهًا الخ (خلاصة الفتاوی ج ۲ ص ۲۱)

والله تعالى اعلم بالصواب

د ځمکې وقف پر یو شخص څنګه دی
اوموقوف علیه کوم تصرف پکې کولای شي؟

پوښتنه : د افغانستان د اسلامي امارت دکندهار ولایت د دارالافتاء مقام ته !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

سناتورعبدالقدوس خان کندهارته راغی په کندهارکې دپوره دارایې خاوند دی دعبدالقدوس خان عمر (۲۰) کالو په شا وخوا کې دی کله چې کندهارته راغی زما عبدالاحد سره یې شپې کولې مایې پوره خدمت کوی عبدالقدوس خان زما دپلار دعمه زوی هم دی کله چې واپس امریکا ته د تګ په حال کې ؤ عبدالقدوس خان ما عبدالاحد ته وویل چې ته زما قریب یې او ته مسکین یې زه ستاسو سره کومک کوم په میرویس کې زما یوه قطعه ځمکه ده ما

ستا دپاره وقف کړي ده زما د آخرت توښه به وي ته خپل کور پرې جوړکړه عبدالقدوس خان ماته خط د شاهدانو په حضور راکړی دعبدالقدوس خان زوی په دغه عمل باندې راضي نه ؤ عبدالقدوس خان وویل چې زما په ملک کې زما زوی ته اختیار نسته او راته یې وویل فَاِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ او خپل زوی ته یې وویل چې اللہ جَلَّجَلَالُهٗ فرمایي اَنِ اشْكُرْ لِيْ وَلِوَالِدَيْكَ

آیا زه ملا عبدالاحد د بناء حق لرم اوکه نه؟ او د فروش حق لرم اوکه نه ؟ او زه ملا عبدالاحد خیاط یم عبدالقدوس خان ته مې دوې دانې صدری وربخشش کړې.

(المستفتي : ملا عبدالاحد خیاط)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجواب بعون المستعان

وقف په نزد داحنافو صحیح اولازم دی بناء پرقول د امام ابویوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ او فتوی هم پر قول دامام ابویوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ ده او وقف شوې ځمکه د واقف له ملکه وزي لکن د موقوف علیه په ملک کې نه داخلیږي خو منافع به یې پرموقوف علیه مصرفیږي ترڅو چې دغه مصرف موجود وي اوکه دغه مصرف معدوم شو آخر امر به یې دپاره د خیر دکارو وي او دا مذکور بیان هلته دی که موقوف علیه عام ؤ اوکه موقوف علیه معین ؤ بیا وقف پر دغه معین دی لکه په استفتاء کې چې د واقف د تعیین څخه معلومیږي او موقوف علیه نه وقف خرڅولای شي او نه یې هبه کولای شي البته بناء پرې کولای شي او فایده پرې اخیستلای شي او د ظاهر عبارت د استفتاء څخه معلومیږي چې واقف دغه موقوف علیه متولي ګرزولی دی.

واذا كان الملک يزول عند هما يزول بالقول عند ابي يوسف رَحِمَهُ ٱللَّهُ وهو قول الأئمة الثلاثة وهوقول اكثر اهل العلم وعلى هذا مشائخ بلخ وفى المنية وعليه الفتوى كذا فى فتح القدير وعليه الفتوى كذا فى السراج الوهاج (الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۳۵۱)

قال الحنفية : ركن الوقف هي الصيغة و هي الالفاظ الدالة على معنى الوقف ... عملاً بقول ابي يوسف ، و به يُفتٰى للعرف (الفقه الاسلامي ج ۸ ص ۱۵۷ ط دارالفكر) و كذا فى (ردالمحتار ج ۳ ص ۳۹۳)

اما القبول من الموقوف عليه فليس ركنًا فى الوقف عندالحنفية على المفتى به ... لانه ازالة ملک يمنع البيع والهبة والميراث فلم يطلب فيه القبول كالعتق ... و لكن لايبطل الوقف بردّه ويكون ردّه و قبولهما وعدمهما واحداً كالعتق لان ركن الوقف وهو ايجاب الواقف قد تحقق (الفقه الاسلامي ج ۸ ص ۱۵۷ و ص ۱۵۸)

و عندهما حبس العين على حكم ملک الله تعالى على وجه تعود منفعته الى العباد فيلزم و لايباع ولايوهب ولايورث كذا فى الهداية وفى العيون واليتيمة ان الفتوى على قولهما كذا فى شرح الشيخ ابى المكارم للنقاية (الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۳۵۰)

والله اعلم بالصواب

واقف د وقف باطلولو حق نه لري

پوښتنه : د افغانستان د علماؤ د مرکزي شوری د دارالافتاء ریاست ته !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

محترمه ! که چېرې یونفر خپل شخصي ملکیت یوشي ته وقف کړي. اوپه هغه وقف شوې ځاې کې تصرف هم وشي ، پس له څه وخته لومړی نفر چې دغه ځای یې وقف کړی دا حق لري چې بېرته تر وقف تیر شي او خپل ملکیت یې وګرځوي او که نه ؟ والسلام

مولوي دین محمد (حق بین) دکندهار ښاروال

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب

شخصي ملک چې یوڅوک وقف کړي نو د دغه وقف واقف بیا هیڅکله نشي کولای چې دغه وقف خپل ملکیت وګرځوي اونه د بل چاشخصي ملک ګرځیدلای شي او نه یې د وارثانو ، بنا پر مفتی به قول .

فلایجوزله (ای للواقف) ابطاله (ای الوقف) ولایورث عنه وعلیه الفتوی (الدر المختار) (قوله وعلیه الفتوی) ای علی قولهما یلزمه قال فی الفتح والحق ترجیح قول عامة العلماء بلزومه لان الاحادیث والآثار متظافرة علی ذلک واستمرعمل الصحابة والتابعین ومن بعدهم علی ذلک فلذا ترجح خلاف قوله آهـ ملخصًا (ردالمحتار ج ۳ ص ۳۹۲) و هکذا فی (الفقه الاسلامي ج ۸ ص ۱۵۳) و (الفتاوی الهندیة ج ۲ ص ۳۵۰) و (مجمع الانهر والدرالمنتقي بهامش مجمع الانهر ج ۱ ص ۷۳۲ و ص ۷۳۳)

والله تعالی اعلم

وقف شوي شيان خرڅول

پوښتنه :

۱ - د دارالافتاء محترم رياست ته ! السلام عليكم ورحمة الله وبركاته
کوم قسم املاک منقولي او يا غيرمنقولي چې وقف شوي وي وروسته بيا خرڅ کړل شي يا اولاً ، يا ثانيًا او يا ثالثًا بيع يې جائز ده کيا ؟ اواحکام د بيع پر وارد ږيي کيا ؟
۲ – يو شخص خپل املاک غير منقولي وقف کړل نارينه اولاد لره ، بيع ددوی دمخه تر تقسيم او يا وروسته ترتقسيم جائز ده کيا ؟
(المستفتي : الحقير الخادم عماد)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب حامداً ومصلياً

د اول سوال جواب : موقوف شی که چېرې غير منقول ؤ وقف يې صحيح دی اوکه منقول ؤ بيا که په وخت د وقف کې يې تابع د غيرمنقول کړی ؤ بيا يې وقف صحيح دی او که چېرې يې نه ؤ تابع کړی مستقل يې منقول وقف کړی ؤ که چېرې پر وقف باندې يې تعامل ؤ بيا يې وقف صحيح دی اوکه تعامل نه ؤ وربانديې راغلی د منقول وقف بيا نه صحيح کېږي .
او حکم ددواړو يو دی که منقول وي او که غير منقول يعنې بيع يې نه ده صحيح .

ددوهم سوال جواب : کوم شخص چې خپل ملک غير منقول پرخپلو اولادونو باندې وقف کړي د دغه موقوف بيع دوې ته نه صحيح کېږي اونه هم ملکيت قبلوي تر تقسيم د مخه وي او که وروسته .

(قوله وصح وقف العقار ببقره واكرته) اما العقار منفردا فلان جماعة من الصحابة رضی اللہ عنہم وقفوه واما جواز وقف المنقول تبعًا للعقار فاطلاق قول الامام انه لايجوز وقف المنقول يمنعه كوقفه قصداً وقال ابويوسف اذا وقف ضيعة ببقرها واكرتها وهم عبيده جاز وكذلک فی سائر آلات الحراثة لانها تبع للارض في تحصيل ماهو المقصود الخ ...و محمد معه فيه لانه لما جاز افراد بعض المنقول بالوقف عنده فلان يجوز الوقف فيه تبعا اولی- (البحرالرائق ج ۵ ص ۲۰۰) (قوله ومنقول فيه تعامل) ای و صح وقف المنقول مقصودا اذا تعامل الناس وقفه (البحرالرائق ج ۵ ص ۲۰۲) (قوله و لايملک الوقف) باجماع الفقهاء كما نقله فی فتح القدير ولقوله علیہ السلام لعمر رضی اللہ عنہ تصدق باصلها لاتباع ولاتورث ولانه باللزوم خرج عن ملک الواقف وبلا ملک لايتمكن من البيع (البحرالرائق ج ۵ ص ۲۰۵) (قوله ولايقسم وان وقفه علی اولاده) ای لايقسم الموقوف بين مستحقيه ولو كانوا اولاد الواقف لانه لاحق لهم في العين و انما حقهم فی الغلة. (البحرالرائق ج ۵ ص ۲۰۷)

سئلت عن بيع الوقف هل يجوز ام لا، فالجواب، انه لايجوز آهـ (الفتاوی الكاملية ص ۵۲)

تكلموا فی وقف الكتب والمختار جوازه لمكان العرف وبه اخذ ابوالليث آهـ (الفتاوی الانقروية ج ۱ ص ۲۰۴)



هغه تکیه ګانې چې د مشائخو په نوم وقف شوي وي

پوښتنه : کومه ځمکه چې وقف شوې وي او صرف وقف یې تعیین و نه لري او تعیین یې په داسې شان سره وي د تکیې په نامه د فلانکي آغا په نامه وقف ده او هلته د میلې لپاره د پخوا څخه کار ځنې اخیستل کیږي او اوس یو تعداد خلکو خود سرانه په خپل سر او یا بعضو د حکومت له خوا پر هغه ځای دوکانونه جوړ کړي دي او خپل مصرفونه یې پرې کړي دي ، نوکوم وخت چې د اوقافو اداره فعاله شوه غواړي چې د دارالافتاء د فتوی سره سم د هغو عواید په بانک کې د امانت په توګه کښیږدي او په هغه ځای مصرف شي که ضرورت وي او یا د بل مسجد لپاره ترې کار ځنې واخیستل شي نو د نومورو دوکانو معلومات مونږ ته راکړئ چې کرایه ځنې واخیستل شي او په هغه خپله مستحقه لار کې مصرف شي او که نومورې دوکانونه خراب او و نړول شي چې حتی په هر دوکان تقریبًا زر (۱۰۰۰) لکه افغانی مصرف شوی په پاخه طور ؟

(المستفتي : ملا طالب آغا مسئول حج و اوقاف ولایت هلمند)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجواب باسم ملهم الصدق والصواب

په وقفي ځمکه کې چې هر چا دوکانونه جوړ کړي وي د متولي بې اجازې او نیت د وقف یې نه وي پکې کړی نو دغه دوکانونه د جوړونکي ملکیت دی او جوړونکي ته به امر کیږي چې فورًا دوکانونه ونړوي او هغه شیان چې جوړونکي مصرف کړې وي هغه دې یوسي او وقفي ځمکه دې فارغه کړي .

او عوائد د وقف په دوه قسمه دي يو هغه عوائد دي چې د دوکانو د جوړولو په وجه حاصل شوي دي او يو هغه مفروضه او ذهني عوائد دی يعنې څومره موده چې غاصب تېره کړې ده د هغومره مودې کرايه يعنې اُجرة مثل دی ، اول قسم عوائد د غاصب او دوکان جوړونکي دي او دويم قسم عوائدو ته به حساب کيږي ، د غاصب څخه به اخيستل کيږي او په دغه وقفي ځای به مصرفيږي.

الوجه الخامس أن يبني أحد غير المتولى ابنيةً او يغرس اشجاراً فى عرصة الوقف مصرِّحًا بانها لنفسه او مطلقًا ذلك اى لم يذكر كونها لنفسه او للوقف فتكون الابنية و الاشجار ملكاً لذلك الشخص (دررالحكام ج ۲ ص ۵۸۱)

اما اذا كانت (اى الارض الموقوفة المغصوبة التى بنى فيها) وقفًا فيؤمر بالقلع والردّ مطلقًا اتفاقًا كما صرح به فى مجمع الانهر لان الارض لا يجوز تملكها .

(شرح المجلة للاتاسى ج ۳ ص ۴۴۲) و هكذافى (دررالحكام ج ۲ ص ۵۷۲) لو سكن واحد فى دار آخر مدة بدون عقد اجارة لاتلزمه الاجرة لكن ان كانت تلك الدار وقفاً او مال صغير لزمه أجرة مثل المدة التى سكنها فى كل حال اى سواء كان ثمة تأويل ملك او عقد او لم يكن (المجلة - المادة : ۵۹۲) و لا فرق فيما اذاكان الوقف موقوفا للسُكنى او للاستغلال او لغيرهما كالمسجد فقد افتى العلامة المقدسى فى مسجد تعدى عليه رجل و جعله بيت قهوة بلزوم اجر مثله مدة شغله كذافى الخيرية و الحامدية (شرح المجلة لسليم باز ص ۳۱۹)

په وقف شوې تکیه کې محبس جوړول

پوښتنه : دګرشک په ولسوالۍ کې یوه تکیه د داؤد آغا په نامه وقف ده د ګرشک مسئولین وایي چې مونږ محبس پکې جوړوو ، جواز لري اوکنه ؟

(المستفتي : ملا طالب آغا مسئول حج واوقاف ولایت هلمند)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الله سبحانه وتعالى

دا عمل یعنی محبس جوړول په دغه تکیه کې ناجائز عمل دی ، هغه ځای د مصرف چې د دغه وقف لپاره معلوم شوی دی هلته به مصرف کېږي پس له ترمیم د دغه تکیې ، چې مراد ورځنې هغه آغا صاحب دی چې ځمکه د هغه په نامه وقف شوې ده

فان کان الوقف معینًا علی شئ یصرف الیه بعد عمارة البناء کذا فی الحاوي القدسی (الفتاوی الهندیة ج ۲ ص ۳۶۸) و هکذافی (مجمع الانهر ج ۱ ص ۷۴۲)

(**نوټ**) د وقفي اموالوسره ډیر احتیاط پکار دی او ډیر اهتمام یې باید وشي ولې چې د وقف مال د یتیم د مال سره په حکم کی مساوي دی .

ثم ان ارض الیتیم فی حکم أرض الوقف کما ذکره فی الجوهرة وافتی به صاحب البحر و المصنف الخ (ردالمحتار ج ۳ ص ۴۳۵ ط رشیدیه)

واللہ تعالی اعلم

د دوکان مخ ته ځمکه د لارې وقف ده که شخصي ده؟

پوښتنه : یو سړی چې په خپله شخصي ځمکه باندې دوکان جوړ کړي او دروازه پکې کښېږدي تر دروازې او چارچوب د باندې یو څه ځمکه پاته سي چې د دغه سړي شخصي ملکیت دی خو اوس د دوکان مخې ته تر دروازی او چارچوب د باندې خواته پاته سوه عامې لاری ته یا په اصطلاح راستې او دري ګزي ته نو اوس دغه سړی چې دغه ځمکه خو دده شخصي ملکیت ؤ خو د دوکان تر چارچوب د باندې پاته سوه .

آیا دی پر دغه ځمکه خپل تصرف کولای سي چې یا خپل سامان پر کښېږدي او یا یې په کرایه بل چاته ورکړي او یا بل څوك استفاده ځنې کوي او دی یې منع کړي او که دغه ځمکه اوس عامه لار بلل کیږي او وقف ده ، حکم یې څنګه دی ؟

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجواب باسم ملهم الصدق والصواب

دغه شخصي ځمکه چې د دوکان څخه د باندې پاته ده هغه وخت لار کېدلای شي چې مالك یې لاري ته وقف کړي او یوسړی پکې تیر شي پر قول د امام محمد رَحِمَهُ اللّٰهُ او بغیر دده له وقف کولو څخه لار نشي کېدلای فلهذا دغه مالك لره ترمخه د لارکیدو دهر قسم تصرفاتو جواز شته په شرط د عدم ضرر فاحش نورو خلکو ته .

واذا کان الملك یزول عندهما یزول بالقول عند ابی یوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ وهو قول الائمة الثلاثة وهو قول اکثر اهل العلم وعلی هذا مشائخ بلخ وفی المنیة وعلیه الفتویٰ کذافی فتح القدیر وعلیه الفتویٰ کذافی السراج الوهاج وقال محمد رَحِمَهُ اللّٰهُ لایزول حتی یجعل للوقف ولیا ویسلم الیه وعلیه الفتوی کذا

في السراجية و بقول محمد رَحِمَهُ اللّٰهُ يفتى كذا في الخلاصة (الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۳۵۱) فاما ركنه فالالفاظ الخاصة الدالة عليه كذا في البحرالرائق (الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۳۵۲) واذا اشترى الرجل موضعًا وجعله طريقًا للمسلمين و اشهد عليه فانه يصح ويشترط لتمامه مرور احد من المسلمين على قول من يشترط التسليم فى الاوقاف كذافى الظهيرية (الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۴۶۸)

لايمنع احد من التصرف فى ملكه ابداً الااذا اضرّ بغيره ضررًا فاحشًا كما ياتى تفصيله (المجلة - المادة : ۱۱۹۷)

وقف شوی سرای چې د استفادې وړ نه وي څه حکم لري ؟

پوښتنه : محترم د دارالافتاء رئیس صاحب !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

وبعد : زمونږ یو سرای د مسجد د امام لپاره زما نیکه وقف کړی دی اوس فعلاً دګذارې څخه و تلی دی او زه ددغه سرای په عوض بل سرای په دغه اندازه جوړول غواړم چې دمسجد لپاره یې وقف کړم چې امام د مسجد به پکې ګذاره کوي ، نو زه ددغه سابقه سرای څخه شخصي استفاده کولای سم کیا ؟

(المستفتي : الحاج عبدالقاهر خان امیر مخصوص)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجواب و منه الصدق و الصواب

محترمو ! واقف چې په وخت د وقف کولو د سرای کې شرط د بدلیدو نه وي ذکر کړی او شرط د نه بدلیدو یې ویلی وي او یا یې سکوت کړی وي او اوس دا وقفي سرای په داسې حال کې وي چې بالکل نفع نه پرې اخیستل کېږي او

نه له دغه سرای څخه کوم شئ او عائد حاصلېږي چې د دغه سرای موقوفه ترمیم پرې وشي نو په دغه وخت کې یې هم تبدیل په بل سرای او یا ځمکه روادي چې په اذن د قاضي سره وي چې هغه صاحب د علم او عمل وي او دا تبدیل هغه وخت جائز دی چې دغه دواړه موقوفه سرایونه په یوه محله کې وي اویا دغه سرای چې په بدل د هغه بل سرای کې دی دابه په اعلی محله کې وي نه په ادونه محله کې اوکه په ادونه محله کې وي بیا دا تبدیل جائز نه دی.

والثاني ان لايشترطه سواء شرط عدمه اوسكت لكن صار بحيث لاينتفع به بالكلية بان لايحصل منه شئ اصلا اولايفي بمؤنته فهو ايضًا جائز على الاصح اذا كان بإذن القاضي ورأيه المصلحة فيه. (ردالمحتار ج ۳ ص ۴۲۴ ط رشيديه)

والمعتمد انه بلاشرط يجوز للقاضي بشرط ان يخرج عن الانتفاع بالكلية وان لايكون هناك ريع للوقف يعمر به وان لايكون البيع بغبن فاحش وشرط فى الاسعاف ان يكون المستبدل قاضي الجنة المفسّر بذى العلم والعمل لئلا يحصل التطرق الى ابطال اوقاف المسلمين كما هو الغالب فى زماننا آهـ ويجب ان يزاد آخر في زماننا وهو ان يستبدل بعقار لابدراهم ودنانير فانا قد شاهدنا النظار يأكلونها وقل ان يشتري بها بدلاولم نر احدا من القضاة فتش على ذلک مع كثرة الاستبدال فى زماننا آهـ ... وفي القنية مبادلة دار الوقف بدار اخرى انما يجوز اذا كانتا في محلة واحدة اومحلة اخرى خيراً و بالعكس لايجوز وان كانت المملوكة اكثر مساحة وقيمة و اجرة لاحتمال خرابها فى ادون المحلتين لدناءتها وقلة الرغبة فيها آهـ (ردالمحتار ج ۳ ص ۴۲۵ ط رشيديه)

والمعتمد انه يجوز للقاضي بشرط ان يخرج عن الانتفاع بالكلية وان لايكون هناك ريع للوقف يعمر به وان لايكون البيع بغبن فاحش كذا فى

البحر الرائق وشرط فی الاسعاف ان یکون المستبدل قاضي الجنة المفسّر بذی العمل والعلم.

کذا فی النهر الفائق (الفتاوی الهندیة ج ۲ ص ۴۰۱)

واللہ تعالی اعلم وعلمه اتم و احکم

مولوي نورمحمد (ثاقب)

رئیس دارالافتاء مرکزي دولت اسلامي افغانستان

مولوي احمد نوري عفی عنه

مولوي ندا محمد الحقاني

وقف یوازې پر ذکورو ورثه وو څه حکم لري اوتسلیم ته اړتیا شته او کنه ؟

پوښتنه : یوه سړي خپل مال په داسې ډول وقف کړ چې زما مال او جایداد زما ترمرګ وروسته پر ذکورو ورثه وو باندې وقف دی اوتصرف دمال اوملک به مشر د ذکورو کوي اواناث یې ورڅخه محروم کړل ، آیا دغه وقف صحیح دی اوکنه چې په ژوند کې یې نه وي ورتسلیم کړی اوکه په ژوند کې یې ورتسلیم کړي څه حکم لري؟

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب

دغه وقف پردغه طریقه چې مستفتي ذکرکړی دی صحیح دی د دریمې د مال دمیت څخه او هغه نورې دوه حصې هم صحیح دي که نورو ورثه وو اجازه کوله او که یې اجازه نه کوله بیا صحت نه لري بلکه هغه دوه حصې

میراث دی ، خو چې واقف دغه وقف په حال د صحت کې کړی وي ځکه چې وقف په مرض الموت کې حکم د وصیت لري او وصیت د وارث لپاره نه صحیح کیږي .

او د تسلیم په باره کې د امام محمد او امام ابویوسف رحمهما الله اختلاف دی امام محمد رَحِمَهُ ٱللَّهُ تسلیم متولي ته شرط دوقف بولي او امام ابویوسف رَحِمَهُ ٱللَّهُ صرف الفاظ دوقف کافي بولي تسلیم شرط نه بولي خواکثر علماء دامام ابویوسف رَحِمَهُ ٱللَّهُ قول ته ترجیح ورکوي ولې چې په دې کې هم احتیاط دی او هم سهولت.

و لوعلق الوقف بموته بان قال اذا مت فقد وقفت داري على كذا ثم مات صحّ و لزم اذا خرج من الثلث و ان لم يخرج من الثلث يجوز بقدر الثلث و يبقى الباقي الى ان يظهر له مال اخر او تجيز الورثة فان لم يظهر له مال اخر و لم تجز الورثة تقسم الغلة بينهما اثلاثًا ثلثها للوقف و الثلثان للورثة (الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۳۵۱ ط دارالاشاعة قندهار)

لو وقف ارضه على ولده الذكور يدخل فيه الذكور دون الاناث الخ (الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۳۷۳) و هكذا في (مجمع الانهر ج ۱ ص ۷۳۷ ط دار احياء التراث العربي) و (الجوهرة النيرة ج ۱ ص ۴۳۳ طبع مصر) و (درر الحكام في شرح غرر الاحكام ج ۲ ص ۱۴۰)

ولاشک ان الوقف فی مرض الموت وصية (ردالمحتار ج ۳ ص ۳۹۸ ط رشيديه) و هكذا فی (الفتاوى تنقيح الحامدية ج ۱ ص ۱۱۲ ط حبيبيه) و (الفقه الاسلامي ج ۸ ص ۲۲۷ ط دارالفكر دمشق و بيروت) و (الاختيار لتعليل المختار ج ۳ ص ۴۵) و (امدادالفتاوى ج ۲ ص ۵۶۸)

و قال ابو يوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ يزول الملک بمجرد القول وقال محمد رَحِمَهُ اللّٰهُ لايزول حتى يجعل للوقف وليًا و يسلمه اليه كذا فى الهداية (لسان الحكام بذيل معين الحكام ص ۲۹۳) قال الصدر الشهيد ومشايخ بلخ يفتون بقول ابي يوسف ونحن نفتي بقوله ايضاً لمكان العرف (البحرالرائق ج ۵ ص ۱۹۰) والمختار فيهاماذكرنا من قول ابي يوسف (الفتاوى التاتارخانية ج ۵ ص ۲۸۹ ط ادارة القرآن و العلوم الاسلامية) و هكذا في (الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۳۵۱) و (دررالحكام ج ۳ ص ۱۳۴) فلذا كان قول ابي يوسف اوجه عندالمحققين وفى المنية الفتوى على قول ابي يوسف وهذا قول مشايخ بلخ (فتح القدير ج ۵ ص ۴۲۴) و هكذا فى (ردالمحتار ج ۳ ص ۳۹۳ ط رشيديه) والاخذ بقول الثاني (اى قول الامام ابي يوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ) احوط واسهل - بحر و في الدرر و صدرالشريعة و به يفتى و اقره المصنف (الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج ۳ ص ۴۰۱) و هكذا فى (البحر الرائق ج ۵ ص ۱۹۷ ط المكتبة الماجدية) (وكذا) يفتى (بكل ما هو انفع للوقف فيما اختلف العلماء فيه) (الدرالمختار بهامش ردالمحتارج ۳ ص ۴۴۰) و هكذا فى (الفقه الاسلامي ج ۸ ص ۲۳۳ ط دارالفكر)

مولوي ندا محمد الحقاني
مولوي محمود ميوندوال

مولوي مفتي نورمحمد (ثاقب)
رئيس عمومي دارالافتاء مركزي
دولت اسلامي افغانستان

باب احکام المساجد

الفصل الاول فی بناء المسجد وتعمیره
پرمشترکه ځمکه مسجد جوړول

پوښتنه : شریف مقام د رئیس صاحب مقام عالي دارالافتاء ته احترامانه او صمیمانه السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

امابعد: محترمه ! زه نورعلي د حاجي عبدالصمد زوی د هلمند ولایت دباغران ولسوالۍ اوسېدو نکی یوه پوښتنه لرم هغه داچې زمونږ دکلي ټول خلک څه اندازه په تشویش کې دي څرنګه چې زمونږ مسجد شریف پر مشترکه ځمکه جوړ او بناء دی څه خلک مو په پاکستان کې دي او څه خلکو مو په شمال یعنې په مزارشریف کې ځمکې پیداکړي دي ، اما اکثریت خلک مو دلته دي که مونږ ته یوه فتوىٰ راکړئ چې زمونږ لمونځ خوبه په خطرکې نه سي کېدای ، زمونږ طرف ته که یو رحمتي نظر وکړې عین مهرباني به دې وي . په زیات احترام.

(مستفتي : نورعلي)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب و منه الصدق والصواب

مسئله دا ده چې پرمشترکه ځمکه باندې تصرف کول د مسجد د بناء لپاره بغیر د رضاء د شریکانو صحیح نه دی او دا مسجد شرعي مسجد نه بلل کیږي او لمونځ پکې مکروه دی ، لکه په (البحرالرائق ج ۵ ص ۱۹۷ ط المکتبة الماجدیة) کې لیکلي دي :

والحاصل انّ وقف المُشاع مسجداً او مقبرةً غیر جائز مطلقًا اتفاقًا الخ

اوهمدارنګه په (الفتاوی الهندیة ج ۲ ص ۳۶۵) کې لیکلي دي :

واتفقا علی عدم جعل المشاع مسجداً او مقبرةً مطلقاً سواء کان مما لایحتمل القسمة او یحتملها هکذا فی فتح القدیر. او همدارنګه په امداد المفتین ص ۸۱۳ کې لیکلي دي :

یه جګه مشترک ہے دونوں بھائیوں کے اولاد میں لہٰذا کسی ایک شریک کے وقف کرنے سے اور مسجد بنادینے سے یہ جګه مسجد شرعی نہیں ہوئی جب تک تمام شرکاء بعد بالغ ہونے کے اپنی خوشی سے مسجد بنانے کی اجازت نہ دیں اسوقت تک یہ جګه مسجد شرعی نہیں ہوسکتی (۱) لما في البحرالرائق من الوقف والحاصل ان وقف المشاع مسجداً اومقبرةً غیر جائز مطلقا اتفاقا الخ.

وهکذا في کفایت المفتي ج ۷ ص ۵۳ ط مکتبه حقانیه ملتان)

لایجوز التصرف فی مال غیره بلا اذنه ولاولایته الاّفي مسائل مذکورة فی الاشباه (الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج ۵ ص ۱۴۰ ط رشیدیه)

واللہ تعالی اعلم

مولوي احمد نوري عفی عنه
مولوي ندا محمدالحقاني
مولوي محمود میوندوال

مولوي مفتي نورمحمد (ثاقب)
رئیس عمومي دارالافتاء مرکزي
امارت اسلامي افغانستان

---

(۱) **ژباړه**: داځای مشترک دی ددواړو وروڼو په اولاده کې ځکه نو دکوم یو شریک په وقف کولو اومسجد جوړولو داځای شرعي مسجد نه شو ترڅو ټول شریکان وروسته تربالغیدو پخپله خوښه دمسجد جوړولو اجازه ونکړي ترهغو داځای شرعي مسجد نه شي کیدای.

عارضي مسجد څه حکم لري ؟

د صحت عامي محترم رياست ته ! السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته
د مور اوماشوم کلينک چې دباقي تعمير کار شروع کړی دی خوځو اطاقونه چې دخلقيانو په وخت کې برای نام مسجد سوي ؤ د هغو باره کې د صحت عامي د مقام څخه دا هيله کوو چې تعمير بيرته پرهغه خپل پخواني حالت جوړسي ، البته ستاسې د خبرتيا لپاره مو دغه مکتوب در واستوی چې مورِ ته لازم هدايت وکړئ .

ومن الله التوفيق

پوښتنه : جناب محترم رئيس دارالافتاء مولوي نورمحمد ثاقب صاحب
السلام عليکم و رحمة الله و برکاته.
موضوع اصلاً په تاسې پورې اړه لري لطفًا که ځای د نژدې څخه وګورئ او د خپل نظر د ليک په واسطه د کلينک مسئولينو ته خبر ورکړئ . په احترام.
(محمد معصوم افغاني دعامي روغتيا مرکزي رئيس)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب وهو ملهم الصواب

په عارضي مسجد جوړولوسره هغه ځای مسجد نه ګرځي او دا داسې وي لکه مسجد دبيت (کور) اوپه اتفاق دامت سره مساجد د بيوتو يعنې هغه ځايونه چې په کورونو کې دننه دلمانځه لپاره جوړ شوی وي په حکم د مساجدو کې نه دي .
د مرکزي دارالافتاء يوهيئت دمور اوماشوم کلينک ته ورغلی ؤ او په خپله يې هغه اطاقونه وليدل چې دخلقيانو په وخت کې ترينه برای نام اوبرای

نمایش مسجد جوړ شوی ؤ هلته صرف یوه نیمه دروازه بنده شوې او یوه نیمه خلاصه شوې وه او نور هیڅ آثار د مسجد نه وو ، علاوه پردې دا کلینک د زنانه وو ده چې دلته د مسجد هیڅ ضرورت نشته اوکه څوک سړي لمونځ کوي نو د هغوی لپاره د کلینک ترڅنګ یوه لویه جامع شته اوبل هلته چې کوم خلک دترمیم په کار اخته ول هغوی وویل چې که د مسجد ضرورت پیښ شي نو بیا مونږ اراده لرو چې په دې لویه ساحه دکلینک کې یو مستقل مسجد جوړ کړو ، نو لهذا که دکلینک تعمیر پر هغه پخواني حالت باندې جوړ شي هیڅ مضائقه اوباک نشته.

ولو اتخذ فی بیته موضعا للصلوة فلیس له حکم المسجد اصلا (غنیة المستملي في شرح منیة المصلي المعروف بالکبیري للشیخ ابراهیم الحلبي ص ۵۲۸ ط مطبع محمدي واقع لاهور)

عارضی طور پر مسجد بنانے سے وہ جگہ مسجد نہ ہوگی... اور یہ ایسی مسجد ہو جائے گی جیسی حدیث میں ہے کہ حضور ﷺ نے حکم فرمایا کہ اپنے گھروں میں مسجدیں بناؤ۔ مشکوۃ - لیکن باتفاق اُمت جو جگہ گھروں کے اندر نماز کے لئے بنائی جاتی ہے وہ احکام مسجد میں نہیں ہوتی لیکن اہتمام نماز اور پاکی وصفائی وغیرہ ان سے بھی حاصل ہو جاتا ہے... جب ضرورت نہ رہے گے منہدم کر دی جائے گے(۱) وهذا الذي ذکرناه ملخص مافی الشامي . والله تعالی اعلم

(فتاوی دارالعلوم دیوبند یعني امدادالمفتین ص ۷۷۱)

---

(۱) **ترجمه**: په عارضي توګه مسجد جوړولوسره هغه ځای مسجد نه ګرځي اودابه داسې مسجد شي لکه چې په حدیث کې دي چې رسول الله ﷺ حکم وفرمایه چې په خپلوکورونو کې مسجدونه جوړکړئ - مشکوة - خودامت په اتفاق سره کوم ځای چې په کورونوکې دلمانځه لپاره جوړپرې دهغه احکام دمسجد نه وي خو د لمانځه اهتمام او پاکي او نور له هغه څخه هم حاصلپرې... کله چې ضرورت نشي پاتې رنګول کېږي.

اوپه ردالمحتار دابن عابدين الشامي ج ۳ ص ۴۰۵ ط رشيديه) کې داسې عبارت هم شته چې وايي : ولاهل المحلة تحويل باب المسجد - خانية - وفی جامع الفتاوی لهم تحويل المسجد الی مکان اخر ان ترکوه بحيث لايصلي فيه ... الخ

مولوي عبدالله مشهور به خطيب ، ولايت ارزګان
مولوي عبدالحکيم عفی الله عنه
مولوي محمد مسلم حقاني
مولوي نورمحمد (ثاقب) سرپرست دارالافتاء مرکزي
تحريک اسلامي طلباء افغانستان

نژدې يوه مسجد ته بل مسجد جوړول

پوښتنه : په يوه کلي کې د يوه شخص له خوا مسجد جوړ شوی اونسبت يې ځان ته کوي خونور مقتديان ورسره مخالفت لري مسجد ته نه ورځي ، آيا مخالفين بل مسجد په نژدې حدودو کې جوړولای شي ياخير؟

(رياست ارشاد و اوقاف)

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب

که په څه وجه د مقتديانو ترمابين اختلاف پيښ وي نوبايد خلک داکوشش وکړي چې ددوی تر مابين صلح وکړي اوکه صلحې امکان نه درلود نو بيا داجائز ده چې بل مسجد جوړ کړي ، البته د مسجد جوړول لپاره دفخر اومباهات او يا لپاره ددې چې د هغه بل مسجد جماعت لړ شي اويا په بل فاسد نيت وي ثواب خو بالکل نه لري آن تردې چې په بعضې ځايونو کې مستلزم د ګناه دی ، خو بيا هم که يو مسجد په دغسي فاسد نيت جوړ شي

هم دغه مسجد داسې حکم لري لکه په صحیح نیت چې جوړ شوی وي احترام يې واجب دی او لمونځ کول پکې د هر چا لپاره صحیح دی ، که څه هم د جوړونکي لپاره ثواب نه لري .

البتہ اگر مسجد کے نمازیوں میں کسی وجہ سے اختلاف ہو تو بہتر اس وقت یہی ہے کہ آپس میں صلح کی کوشش کی جائے اور ایک ہی مسجد میں سب نماز پڑھیں لیکن اگر یہ صورت نہ ہو سکے تو پھر دوسری مسجد قرب میں بھی بنالینا درست ہے۔ (۱)

(امداد المفتین ص ۷۲۲)

اور اگر بلاوجہ شرعی پہلی مسجد کی جماعت کم کرنے یا محض فخر ومباہات کے لئے دوسری مسجدیں بنائی ہیں تو بنانے والوں کو بجائے ثواب کے گناہ ہو گا لیکن جو مسجدیں بنی ہیں وہ بھر حال واجب الاحترام اور تمام احکام میں مساجد کا حکم رکھتی ہیں (۲)

(امداد المفتین ص ۷۲۵)

مولوي احمد نوري عفی عنه
مولوي محمود میوندوال
مولوي ندا محمد الحقاني
مولوي نور محمد ثاقب رئیس دارالافتاء مرکزي
دولت اسلامي افغانستان

---

(۱) **ژباړه**: خوکه د مسجد دلمونځ کونکو ترمنځ په کومه وجه اختلاف وي نوغوره خوپه دغه وخت همدغه دی چې په منځ کې د صلحې کوشش وشي او په یوه مسجد کې ټول لمونځونه وکړي خوکه داسې صورت نشي کیدلای نوبیا نژدې بل مسجد جوړول صحیح دي.

(۲) **ترجمه**: که بې له شرعي وجې دلومړي مسجد دجماعت کمولو یاصرف دفخر اونامه لپاره یې نور مسجدونه جوړکړي وي نو جوړونکو ته به د ثواب پرځای ګناه وي خوکوم مسجدونه چې جوړ شوي دي هغه په هرحال واجب الاحترام اوپه ټولو احکاموکې دمسجدونوحکم لري.

په يوه محله يا کلي کې څومره نژدې مسجد جوړېدای شي ؟

پوښتنه : په يوه محله يا کلي کې په څومره اندازه کې مسجد جوړېدای شي.
(رياست ارشاد و اوقاف)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب

په يوه مجله کې بايد دومره مسجدونه جوړشي چې په واقع کې ورته د خلکو ضرورت وي ، معينه اندازه نه لري اوکه ضرورت شرعي د بل مسجد لپاره نه وي نوجوړول يې مناسب نه دي هکذا فی (امداد المفتين ص ۷۲۲)

مولوي احمد نوري عفی عنه
مولوي ندامحمد الحقاني
مولوي محمود ميوندوال
مولوي نورمحمدثاقب رئيس دارالافتاء مرکزي
دولت اسلامي افغانستان

آيا د مسجد لپاره نوې بناء ضروري ده ؟

پوښتنه : دکندهار ولايت د دارالافتاء رياست محترمو علماء کراموته !
السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

څرنګه چې زمونږ دقوماندو مسجد جامع چې مخ کې هوټل ؤ او ملا محمدحسن اخوند چې په هغه وخت کې دقندهار والي ؤ د نوموړي په هدايت باندې او د عالي قدر اميرالمؤمنين صاحب په هدايت اودمولوي کوکو صاحب په فتوی باندې دغه هوټل مسجد جامع سو او محراب مو ورکړی اوس ځيني علماء کرام وايي چې دابتداء خښته يې د مسجد په نامه

نه وي ايښودل سوي هغه مسجد نه بلل کېږي ، هيله ده چې په دغه باره کې مونږ ته معلومات راکړئ ډيره مهرباني به مو وي .

والسلام

(دوهم نمبر قول اردو (۴۲۲) غنډ کمانډو)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الله تعالى

محترم مستفتي صاحب ! يوځای د مسجد حکم هله پيدا کوي چې مالک يې د مسجد لپاره وقف کړي او يا ددغه ځای د وقف متصرف ووايي چې دا مسجد دی او لمونځ د جماعت هم پکې ادا کړل شي نو پر دغه ځای باندې زړه بناء وي او که نه وي بلکه خالي ځای وي او يا زړه بناء وي خو باني يې ونړوي نوې بناء د مسجد لپاره پرې جوړه کړي .

اوس چې دغه حکومتي هوټل زړه بناء وه اوپه امر دامیرالمؤمنین باندې محراب ورکړل شو د مسجد جامع لپاره او ډير وخت لمونځونه پکې شوي دي نو اوس نوې بناء دمسجد لپاره نه غواړي بلکه دغه مسجد بلل کيږي اوحکم د مسجد لري.

باب الرجل يجعل داره مسجداً او خانًا اوسقايةً اومقبرةً قال محمد رَحِمَهُ ٱللَّهُ وهو قياس قول ابي حنيفة رَحِمَهُ ٱللَّهُ لايزول ملكه قبل التسليم و به اخذ شمس الائمة السرخسي رَحِمَهُ ٱللَّهُ ثم التسليم في المسجد ان يصلي فيه بالجماعة بإذنه الخ

(فتاوی قاضيخان بهامش الهندية ج ۳ ص ۲۸۹ و ۲۹۰)

و ذكر الصدر الشهيد فی واقعاته : رجل له ارض ساحة لابناء فيها امر قومًا ان يصلوا فيها بالجماعة فهذا على ثلاثة اوجه : اما ان امرهم بالصلاة فيها

ابداً نصًا بان قال صلوا فيها ابداً او امرهم بالصلوة مطلقا ونوى الابد وفى هذين الوجهين صارت الساحة مسجدا لومات لايورث عنه الخ (الفتاوى التاتارخانية ج ۵ ص ۸۴۱)

(ويزول ملكه عن المسجد والمصلي) بالفعل و (بقوله جعلته مسجدا) عندالثاني.

(وشرط محمد) والامام (الصلاة فيه) بجماعة وقيل يكفي واحد و جعله فى الخانية ظاهر الرواية. (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج ۳ ص ۴۰۴ و ۴۰۵)

(واذا بنى مسجداً لم يزل ملكه عنه حتى يُفْرِزه عن ملكه بطريقه ويأذن الناس بالصلوة فيه ... اما الافراز فلانه لايخلص لله تعالى الابه واما الصلوة فيه فلانه لابد من التسليم عندابي حنيفة و محمد و يشترط تسليم نوعه و ذلک فى المسجد بالصلوة فيه الخ (الهداية ج ۲ ص ۲۱۹ ط رشيديه)

و سئل ابو القاسم عن اهل مسجد اراد بعضهم ان يجعلوا المسجد رحبةً اوالرحبة مسجداً او يحدثوا له باباً اويحولوا بابه عن موضعه وابى البعض ذلک ؟ قال : اذا اجتمع اكثرهم وافضلهم على ذلک فليس للاقل منعهم عنه (الفتاوى التاتارخانية ج ۵ ص ۸۴۱)

ولو اشترى رجل داراً شراءً فاسداً وقبضها ثم وقفها على الفقراء والمساكين جاز... ولو اتخذها مسجداً قال هلال رَحِمَهُ ٱللَّهُ تصير مسجداً فى قول علمائنا رحمهم الله تعالى (الفتاوى الخانية على هامش الهندية ج ۳ ص ۳۱۲)

ان للامام ولاية عامة وله ان يتصرف فى مصالح المسلمين الخ (ردالمحتار ج ۳ ص ۲۸۲) (قوله لان للامام ولاية ذلک) اذ له التصرف فى حق الكافة فيما فيه نظر للمسلمين فاذا رأى ذلک مصلحة لهم كان له ان يفعله من غير ان يلحق ضرراً باحد الخ (ردالمحتار ج ۵ ص ۵۲۲)

شیعه گان د مسجد جوړولو اجازه غواړي

پوښتنه : اهل تشیع د مساجدو د جوړولو درخواستي کوي چې مسجد ونه کړو په دې حصه کې معلومات غواړو چې څه وکړو؟

(المستفتي: الحاج ملا طالب آغا
مسئول حج و اوقاف ولایت هلمند)

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجواب حامداً و مصلیاً

دولتي ځمکه شیعه ګانوته ورکول لپاره د مسجد جوړولو دامیرالمؤمنین تر هدایت پورې اړه لري په دې هکله دهغه څخه هدایت وغواړئ.

التصرف علی الرعیة منوط بالمصلحة (المجلة - المادة : ۵۸)

په مرعی ځمکه کې مسجد جوړول او ورسره ټرلې نورې پوښتنې

پوښتنه : *مسئله اول مرعی است مایان علماء حکم نمودیم چنانکه اگر در زمین مرعی مسجد جامع ودوکان وحمام بناء شود لاباس بهابدلیل این مسئله* : قال ابو یوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ اذا غصب ارضا فبنی فیها مسجداً او حمامًا او حانوتًا فلا بأس بالصلوة فی المسجد والدخول فی الحمام للاغتسال وفی الحانوت للشراء (فتاوی هندیه ج ۵ ص ۳۲۰)

مسئله دوم انکه لو وقف انسان في اقصی العامر و صاح باعلی صوته لم یسمع منه فانه موات و ان کان یسمع فلیس بموات لانه فناء العامر فینتفعون به لرعی المواشی وطرح الحصائد (حاشیة کنزالدقائق ص ۴۲۹)

لو ضبط واحد المرعى المختص بقرية وتصرف فيه خمسين سنة بلانزاع ثم ادعاه اهل القرية تسمع دعواهم (شرح المجلة لسليم باز ص ۹۹۷)

واین مسجد وبازار در وقت حکومت ربانی جور شده وبیع مرعی جائزاست یانه؟

وشفع دران جاری میشود یانه؟

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون ملهم الصواب

ددغو پوښتنو په جواب کې باید څو مهمې نکتې ذکر کړو :

(**اول**) که دغه ځمکه واقعًا مرعیٰ وي نو دغه مسجد حکم د مسجد نه لري ولې چې په وقفي ځمکه کې ملکیت د واقف شرط دی غیر مملوکه ځمکه نه وقف کیږي ، که څه هم په دغه مسجد کې لمونځ صحت لري لکن مسجد چونکه شرعاً مسجد نه دی نو باید ونړول شي او دغه ځمکه بیرته د خلکو مرعیٰ وګرځي ځکه چې د مرعیٰ احیاء جائز نه ده .

ولایجوز احیاء ماقرب من العامر بل یترك مرعی لاهل قریة ومطرحًا لحصائدهم لتحقق حاجتهم الیه تحقیقًا او تقدیراً الخ (شرح المجلة للاتاسی ج ۴ ص ۲۰۳) و (مجمع الانهر ج ۲ ص ۵۵۸) و کذا في (الدرالمختار و ردالمحتار ج ۵ ص ۳۰۸) و تفسیر الاحیاء ان یبنی علیها او یغرس فیها او یکربها او یسقیها کذافی الخلاصة (الفتاوی الهندیة ج ۵ ص ۳۸۲)

ومنها الملك وقت الوقف حتی لوغصب ارضا فوقفها ثم اشترا هامن مالکها ودفع الثمن الیه ... لاتکون وقفاکذا فی البحرالرائق (الفتاوی الهندیة ج ۲ ص ۳۵۳)

و هکذا فی (مجمع الانهر ج ۱ ص ۷۳۰) و (ردالمحتار ج ۳ ص ۳۹۴ ط رشیدیه)

وهل تصح الصلاة فی المکان المغصوب ؟ قال الجمهور غیرالحنابلة : الصلاة صحیحة... و یسقط بها الفرض مع الاثم ویحصل بها الثواب فیکون مثابًا علی فعله ، عاصیًا بمقامه ، و اثمه اذن للمکث في مکان مغصوب (الفقه الاسلامی ج ۱ ص ۸۱۸ ط دارالفکر) و هکذا فی (البدائع ج ۱ ص ۱۱۲)

(**دوهم**) مرعیٰ هغه ځمکې ته ویل کیږي چې د حکومت او رعیت مملوکه نه وي او دخلکو منافع پکې وي لکه دحیواناتو چراګاه ، یا د بوټو کولو ځای ، یا د حاصلاتو اینبوولوځای ، یا دکلي مقبره او یا د کوچنیانو د لوبو ځای ، د کلي په مابین کې وي او یا د کلي او بنار څخه دومره لیرې وي چې یو لوړ اوازه شخص ودریږي او ناره وکړي نو ترکومه ځایه چې یې ناره رسیږي هغه اندازه به د مرعیٰ حد بلل کیږي .

چې همد غه تعریف او اندازه دامیر المؤمنین په صادر شوي فرمان کې هم تاکلې شوې ده .

ماکان من مرافق اهل بلدة تستعمل مرعی للمو اشی ومحتطبًا لهم او مقبرةً لموتا هم اوملعبًا لصغارهم سواء اکانت داخل البلدة ام خار جها فیکون حقا لهم لامواتا . (الفقه الاسلامی ج ۵ ص ۴۱۲ ط دارالفکر) و (مجمع الانهر ج ۲ ص ۵۵۸) و (الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۵ ص ۳۰۸)

قال القدوری فماکان عادیا... وهو بعید عن القریة بحیث اذا وقف انسان من اقصی العا مر فصاح لم یسمع الصوت فیه فهو موات و قال القاضی فخرالدین واصح ماقیل فیه ان یقوم الرجل علی طرف عمران القریة فینادي باعلی صوته الی ایّ موضع ینتهی الیه صوته یکون من فناء العمران لان اهل القریة یحتاجون الی ذلک الموضع لرعي المواشي او غیره و ما وراء ذلک یکون من الموات الخ (الفتاوی الهندیة ج ۵ ص ۳۸۲)

(**دریم**) د مرعی او همدارنګه په دعوی کی د نورو حقوقو عامه وو مرور د زمان اعتبار نلری ځکه چې په عامو خلکو کی حتمًا کوچنیان ، غائبین او

نور اصحاب العذر موجود وي او كله چې د هغوی دعوی صحت ولري نو د هغو کسانو دعوی چې اصحاب العذر نه وي هم صحت لري .

لااعتبار لمرورالزمان فی دعاوی المحال التي يعود نفعها للعامة كالطريق العام و النهر والمرعى. مثلاً لوضبط واحد المرعى المختص بقرية وتصرف فيه خمسين سنة بلا نزاع ثم ادعاه اهل القرية تسمع دعواهم (المجلة - المادة : ۱۲۷۵)

والحال ان ترك الدعوى بدون عذر لايتصور فی دعاوی المحال المخصصة لمنافع العامة لان العامة لاتخلوا من الصغار والمجانين والمعتوهين والغيب ... واذا لم تسقط دعواه لاتسقط ايضا دعوی غيره ممن لاعذر له فی ترك الدعوی لانه ليس لكل واحد من العامة فی الطريق ونحوه حق معلوم يقبل التجزئة لتسقط دعوی بعضهم وتبقی دعوی الاخر وقد ذكر فی المادة ۲۳ بان ذكر بعض ما لايتجزأ كذكر كله الخ (شرح المجلة لسليم باز ص ۹۹۷ و ص ۹۹۸)

(**څلورم**) بيع د مرعىٰ باطله ده :

وبطل ايضا بيع المراعی واجارتها اما بطلان بيعها فلعدم الملك الخ (شرح المجلة لسليم باز ص ۱۰۱) و هكذا في (بدائع الصنائع ج **۵** ص **۱۴۲**)

نو كله چې بيع يې باطله شوه نو شُفعه هم نه پكې جاري كيږي ولې چې شُفعه په مبيعه كې وي فقط :

الشفعة هی حق تملك العقار المبيع جبرا عن المشتری الخ (الفقه الاسلامی ج **۵** ص **۲۵۷** ط دارالفكر) و (تبيين الحقائق ج **۲** ص **۳۴۹** ط ايچ - ايم - سعيد)

(**پنځم**) لمونځ په ارض مغصوبه كې صحيح دی فرضيت او ثواب ته يې ضرر نه رسيږی لكن اقامة او سكونت په ارض مغصوبه كې حرام دی لهذا لمونځ په ارض مغصوبه كې كه څه هم صحيح دی لكن ګناه پكې شته له وجې د مكث نه په ارض مغصوبه كې او په فتاوی هنديه كې چې لابأس راغلی دی

نو هغه د لايسع دعبارة سره منافي نه دی ولې چې د لاباًس استعمال اکثر هلته وي چې ترك دهغه فعل اولی وي او بل دا چې لاباًس دلته متوجه صحت د لمانځه ته دی نه اقامت ته په ارض مغصوبه کې او همدارنګه باید و وایو چې مرعی حکم د ارض مغصوبه نه لری ځکه په مرعی کې هر څوك د مؤقت اقامة او سکونت حق لري نه په ارض مغصوبه کې ، حاصل دا چې مسجد په مرعی کې حکم دمسجد نه لری باید ونړول شي لکن لمونځ پکې صحیح ده او ثواب یې شته.

الصلاة فی الارض المغصوبة حرام بالاجماع لان اللبث فیها یحرم فی غیر الصلوة فلأن یحرم فی الصلاة اولی ... ویسقط بها الفرض مع الاثم ویحصل بها الثواب فیکون مثابًا علی فعله عاصیًا بمقامه و اثمه اذن للمکث في مکان مغصوب .

(الفقه الاسلامی ج ۱ ص ۸۱۸ ط دارالفکر) و (بدائع الصنائع ج ۱ ص ۱۱۲) فکلمة لاباًس وان کان الغالب استعمالها فیما ترکه اولی لکنها قد تستعمل فی المندوب کما صرح به في البحر من الجنائز و الجهاد فافهم

(ردالمحتار ج ۱ ص ۸۸ ط رشیدیه)

والظاهر انه لامخالفة (ای بین لاباًس بالصلاة فیها و لاینبغی ان یصلی فیها) لان لاباًس عند عدم القرینة یدل علی خلاف الاولی ویمکن حمل لاینبغی علیه (غنیة المستملي في شرح منیة المصلي ص ۵۲۹ ط مطبع محمدي واقع لاهور)

یجوز لکل واحد الانتفاع بالمباح لکنه یشترط ان لایضر بالعامة (المجلة - المادة : ۱۲۵۴)

واللہ تعالی اعلم

الفصل الثاني فی التصرف والتعمیر فی المسجد

د مسجد په نوم رانیولې نیمه ځمکه کې خپل کور جوړول

پوښتنه : امارت اسلامی افغانستان ریاست مرافعه ولایت نیمروز

بدارالافتاء محترم مقیم قندهار ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ، محترما ! چونکه اسباب فتوی در دسترست مایان کمتر قرار دارد درمورد زمین مقدار نیم جریب شخص ابتداءً بنام مسجد از شاروالی ولایت نیمروز خریداری نموده بعداً شخص مذکور زمین مورد بحث را دوحصه نموده دریک حصه مسجد اعمار نموده ودیگر برای خودش خانه نشیمن اعمار نموده آیا همین زمین وابادی که شخص مذکور برای خودش تیار نموده میتواند استفاده شخصی نماید و در ملکیت خودگرداند ؟ ویا هردوحصه از جمله وقف میباشد؟ درین باره طالب هدایت هستیم . والسلام

(المستفتي : الحاج مولوي داد محمد رئیس مرافعه ولایت نیمروز)

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجواب و منه الصدق والصواب

محترم مستفتي صاحب ! دغه مذکوره بیع چې په شرط د مسجد جوړولو شوې ده دا بیع فاسده واجب الفسخ ده خو کله چې مشتري تصرفات پکې وکړل حق د فسخ ساقط شو ، لهذا دغه مشتري ته اوس جائز ده چې په اخیستل شوې ځمکه کې هر قسم تصرف وکړي او د مسجد لپاره وقف نه بلل کېږي ترڅو چې مسجد یې نه وي پرې جوړ کړی اوپرکومه حصه چې

مسجد جوړکړی هغه اندازه دمشتري له تصرف وزي اوپه متباقي کې شخصي تصرف کولای شي .

و لوباع داراً علی ان یتخذها مسجداً للمسلمین فسد البیع (الفتاوی الهندیة ج ۳ ص ۱۳۵)

وکذا اذا کانت المنفعة لغیر العاقدین ومنه اذا باع ساحة علی ان یبني بها مسجد او طعامًا علی ان یتصدق به فهوفاسد .

(فتح القدیر ج ۲ ص ۷۸) و (ردالمحتار ج ۴ ص ۱۳۷ ط رشیدیه)

ولو کان المبیع فضاء فبنی المشتري فیه بناءً او غرس اشجاراً بطل حق الفسخ عندهما . (الفتاوی الهندیة ج ۳ ص ۱۴۷)

(بنی اوغرس فیما اشتراه فاسدا) شروع فیما یقطع حق الاسترداد ... وامتنع الفسخ (الدرالمختار) لان البناء والغرس یقصد بهما الدوام وقد حصلا بتسلیط من البائع فینقطع بهما حق الاسترادد (ردالمحتارج ۴ ص ۱۴۶)

و فی الصورالتالیة لایفسخ تیها البیع الفاسد ... اذا حملت زیادة فی المبیع متصلة غیر متولدة منه بان کان المبیع دارا فعمرت اوعرصة فغرست اشجاراً ... اذا کان المبیع عرسةً و غرس فیها المشتري اشجاراً او انشأ ابنیةً کان ذلک مانعًا للفسخ اذ یتضرر المشتري باجباره علی القلع او الهدم راجع المادة ۱۹) دررالحکام ج ۱ ص ۳۹۲-۳۹۹) و هکذا فی (شرح المجلة للاتاسي ج ۲ ص ۳۲۷)

و اذا بنی مسجداً لم یزل ملکه عنه حتی یُفْرِزه عن ملکه بطریقه (ای مع طریق المسجد) ویأذن للناس بالصلوة فیه فاذا صلی فیه واحد زال عندابي حنیفة رَحِمَهُ اللَّهُ عن ملکه اما الافراز فلانه لایخلص لله تعالی الابه الخ (الهدایة ج ۲ ص ۲۱۹) و هکذا فی (الفتاوی الهندیة ج ۲ ص ۴۵۴) و (فتح

القدیر ج ۵ ص ۴۴۳) و (مجمع الانهر ج ۱ ص ۷۴۷) قلت وفی الذخیرة و بالصلاة بجماعةٍ یقع التسلیم بلاخلاف حتی انه اذا بنی مسجداً و اذن للناس بالصلاة فیه جماعةً فانه یصیر مسجداً آهـ
(ردالمحتار ج ۳ ص ۴۰۵ ط رشیدیه)

د زاړه مسجد پرځای کتابتون جوړول

پوښتنه : د دینِ متین علماء کرام او مفتیان صاحبان څه فرمایي.
مسئله : د هندو په قلعچه کې چې د قندهار د لوې محبس پر برابر دجنوب ولورته موقعیت لري په پخوا زمانه کې یو کوچنی محلي مسجدآباد ؤ چې د وخت په تیریدو او تحولاتو په راتلوسره اوس بالکل ویران دی بلکه هغه محل اوکلی لامخروبه دی بله د خوشحالیِ اونېکبختیِ خبره لادا چې اسلامي امارت د هغه مسجد څخه تقریبًا پر (۱۰۰) متره فاصله باندې د محبس و بغل ته یو لوی مسجد جامع تعمیر کړی دی ، نو زما سوال دا دی چې د پخواني مخروبه مسجد پرځای یوعام کتابتون د متدینو انسانانو په مرسته اوتعاون سره جوړ کړل سي ؟ ترڅو ټول مسلمانان استفاده ترې وکړای سي دغه رنګه د مسلمانانو دبي اتفاقیِ مخه هم ونیول سي اوټول په دغه نوي اولوي مسجد جامع کې دلمانځه فریضه ادا کړي هیله ده چې دشریعت مطهره په روښنایي کې جواب راکړئ .

جزاکم الله فی الدارین احسن الجزاء

(مستفتي : سیدجان د سلطان زوی)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الفتویٰ بعون الملک العلی الاعلی

محترم مستفتي صاحب ! کومه ځمکه چې دیو مسجد لپاره وقف شي نوبیا جائز نه ده چې سیوا له مسجد څخه نوره استفاده ورځنې وشي اګرکه د کتابتون جوړول هم وي بلکه ترقیامت پورې به دا مسجد وي.

واتّفق العلماء فی وقف المساجد انها من باب الإسقاط والعتق لاملک لاحد فیها وان المسجد لله تعالی (الفقه الاسلامي ج ۸ ص ۱۵۴ ط دارالفکر) وقف لایصح الامؤبداً وتوقیته باطل وهو وقف المسجد والوقف علی المسجد وهذا رأی الجمهور غیر المالکیة (الفقه الاسلامي ج ۸ ص ۲۰۲ ط دارالفکر)

مسجد سابق کی زمین ابد الآباد تک مسجد ہی رہے گی... وقال ابویوسف هو مسجد ابداً الی قیام الساعة لایعود میراثاً ولایجوز نقله ونقل ماله الی مسجدآخر ... و به علم ان الفتویٰ علی قول محمد فی آلات المسجد وعلی قول ابي یوسف فی تابید المسجد - شامي جلد ثالث کتاب الوقف (عزیزالفتاوی ص ۵۹۲)

(قوله و لوخرب ماحوله) ای ولو مع بقائه عامراً وکذا لوخرب ولیس له مایعمر به وقد استغنٰی الناس عنه لبناء مسجدآخر (قوله عندالامام و الثاني) فلایعود میراثًا ولایجوز نقله ونقل ماله الی مسجد آخر سواء کانوا یصلونه فیه او لا و هوالفتوی - حاوي القدسي - و اکثر المشایخ علیه - مجتبی - وهو الاوجه - فتح آهـ بحر.

(ردالمحتار ج ۳ ص ۴۰۲ ط رشیدیه)

۴/ ذوالحجه/ ۱۴۱۸ هجري قمري

د مسجد لپاره وقف شوې ځمکې څخه نوره استفاده کول

پوښتنه : دکندهار ولایت د دارالافتاء د محترم رئیس صاحب حضور ته

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

محترمه ! دلوې ویالې په منطقه کې یوه خالصه ځمکه چې اصلاً دولتي وه دپخوا څخه دمسجد په نیت پاته سوې ده او (۸) مباشتې کیږي چې پرهمدغه ځای باندې دجماعت لمونځ ادا کیږي فعلاً زمور دمحل خلک غواړي چې دمسجد تعمیر جوړ کړي مګر اوس یوسړی پیدا سوی دی دعوی کوي چې دغه ځمکه زما ده اوزه سرای پرجوړوم اودی هم په خپله اقرار کوي چې ما دغه ځمکه د مسجد لپاره پرې یښې ده او دیوال هم پرې راګرځیدلی او باقاعده محراب هم لري موضوع موستاسې محترم حضورته عرض کړه چې آیا پردغه ځمکه چې دمسجد په نیت پاته سوې ده او پر دغه ځمکه د مسجد په نیت لمونځونه هم فعلاً کیږي پر دغه ځای سرای جوړیدای شي او کیا ؟ . والسلام

(المستفتي : حاجي مولوي آغا لالی)

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجواب ومنه الاستعانة على الصواب

کومه ځمکه چې د یوچا شخصي وي او بیایې وقف کړي د مسجد لپاره پس د وقف څخه بیا دا جائز نه ده چې سوا له مسجد څخه نوره استفاده ورځنې وشي بلکه ترقیامت پورې به دا مسجد وي اوکه یې نیت ددې کړیوي چې داځای اودغه ځمکه به مسجد کوم او تر اوسه یې لاوقف کړې نه وي اوبیرته یې دانیت پریښودی وي نو بیا دا مسجد نه دی نوره استفاده ورځنې کیدای شي.

واتّفق العلماء فی وقف المساجد انها من باب الاسقاط والعتق لاملک لِأحد فیها وانّ المساجد لله تعالی (الفقه الاسلامي ج ۸ ص ۱۵۴ ط دارالفکر) وقف لایصح الامؤبدا وتوقیته باطل وهو وقف المسجد والوقف علی المسجد وهذا رأی الجمهور غیر المالیکیة. (الفقه الاسلامي ج ۸ ص ۲۰۲ ط دارالفکر)

وقال ابویوسف هو مسجد ابداً الی قیام الساعة لایعود میراثا ولایجوز نقله ونقل ماله الی مسجد آخر ... و به علم ان الفتوی علی قول محمد فی آلات المسجد وعلی قول ابي یوسف فی تابید المسجد - شامي جلد ثالث کتاب الوقف (عزیزالفتاوی ص ۵۹۲)

اگراس زمین کو جوبرائے تعمیر مسجد خرید کی تھی ابھی وقف نہیں کیا تھاتو اس کوفروخت کرکے دوسری زمین مسجد کے لئے خرید سکتے ہیں الخ(۱)(عزیزالفتاوی ص ۵۹۴)

اوکه یو څه زمانه په یوځای کې څوک لمونځ وکړي بغیر له دې چې داځای دمسجد لپاره وقف شوی وي نو په دې سره دغه ځای حکم د مسجدنه پیداکوي بلکه شخصي استفاده ترینه کیدلای شي ، حاصل دا چې د مسجد لپاره وقف کیدل شرط دي.

عارضی طور پر مسجد بنانے سے وہ جگہ مسجد نہ ہوگی الخ (۲) (امدادالمفتین ص ۷۷۱)

واللہ تعالی اعلم

مولوي احمد نوري عفی عنه
مولوي ندامحمد الحقاني

مولوي نورمحمد (ثاقب) رئیس عمومي
دارالافتاء مرکزي دولت اسلامي طلباء افغانستان

---

(۱) **ترجمه**: که دغه ځمکه چې د مسجدودانولو لپاره یې رانیولې وه تر اوسه وقف کړې نه وه نو چې دا خرڅه کړي بله ځمکه د مسجد لپاره رانیولای شي.

(۲) **ترجمه**: په عارضي توګه مسجد جوړولو سره هغه ځای مسجدنه ګرځي

د مسجد په حریم کې د دوکانونو جوړولو حکم

پوښتنه : ډیر معزز اوقدردان مقام ته د دارالافتاء مرکزي کندهار !
السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

امابعد : حفظکم الله تعالی محترمه ! د مطلق مسجد او خصوصًا د هغه مسجد جامع چې ایریا اوحریم یې ډیر کم وي چې دهغه مسجد لوازم نسي پکې تهیه کیدلای مګر په ډیرکم اوناقص ډول سره لکه د اودسونو ځای او غسل خانې وغیره ، ددغه مسجد دحریم څه حکم دی خلک چې دغه حریم قبضه کړي او دوکانونه ورباندې جوړکړي لکه څنګه چې په مخکې رژیم کې ددغه مسجد نیمه حصه قبضه شوې ده او دوکانونه یې ورباندې جوړ کړي دي په ملحوظ دبعضې واسطو سره ، ستاسو د عالي حضور څخه په دې هکله دشرعي فتوی په هیله یو چې د مسلمانانو لپاره د قناعت وړ او دلیل وبرهان وګرځي. و ما اجرکم الاّ علی الله والسلام

(مولوي عبدالرحمٰن مسئول ولسوالي بندکجکي)
۴ / ۱۰ / ۱۳۷۵ هـ ش

بریاست محترم درالافتاء محتویات خط ارسالي ولسوالي بندکجکي را ملاحظه فرموده از روی اصول شرعي جواب بدهید . با احترام

(مولوي خلیل الله فیروزي رئیس عالي تمییز)

بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب

د مسجد د حریم حکم د مسجد دی لکن مسجد ته جُنُب نشي داخلیدای اوحریم د مسجد ته داخلیدای شي .

لکه مولانا مفتي محمد کفایت الله رَحِمَهُ اللّٰهُ په کفایت المفتي ج ۳ ص ۱۰۷ کې ویلي دي ، پر دغه حریم قبضه کول او دوکانونه وربانديې جوړول جائز نه دي نه دپاره د غاصب جائز دي او نه د پاره د متولّي او دغه جوړول دپاره د متولي هغه وخت جائز دي که د اول څخه واقف دپاره د دوکانونو یوه حصه د ځمکې جلا کړې وي او که یې د اول څخه نه وي جلا کړې بلکه اول وار ېې ټول مسجد کړی وي بیا وروسته د دوکانونو جوړول جائز نه دي که څه هم واقف و وایي چې زما نیت دا ؤ چې څه حصه به دوکانونه کوم دپاره د مصرف د مسجد لکن جلا کړې یې نه وي .

نو ددغه محترم مستفتي د مسئلې په صورت کې دغه دوکانونه نړول کیږي او حق د قرار نه لري او دغه حکم د لاندې معتبرو کتابونو د عباراتو څخه معلوم دی لکه په فتاوی دارالعلوم دیوبند یعنې امدادالمفتین ص ۷۲۰ کې ذکر دي او دلیل یې دغه لاندې عبارت د (البحرالرائق ج ۵ ص ۲۵۱ ط ماجدیه) ګرزولی دی :

لو بنی بیتًا علی سطح المسجد لسُکنٰی الامام فانه لایضر في کونه مسجداً لانه من المصالح فان قلت لوجعل مسجداً ثم اراد ان یبني فوقه بیتًا للامام او غیره هل له ذلک قلت قال فی التتارخانیة اذا بنی مسجداً وبنی غرفةً و هو (ای المسجد) في یده فله ذلک وان کان حین بناه خلی بینه وبین الناس ثم جاء بعد ذلک یبنی لایترکه وفی جامع الفتاوی اذا قال عنیت ذلک فانه لا

یصدّق آھ فاذا کان ھذا في الواقف فکیف بغیرہ فمن بنی بیتًا علی جدارالمسجد وجب ھدمہ و لایجوز اخذ الاجرۃ وفي البزازیۃ ولایجوز للقیم ان یجعل شیئًا من المسجد مستغلا ولامسکنًا وقدمناہ و ھکذا في (الدرالمختار علی ھامش ردالمحتار ج ۳ ص ۴۰۲ ط رشیدیہ)

والمراد بالمستغل ان یؤجرمنہ شئ لاجل عمارتہ وبالسُکنی محلھا و عبارۃ البزازیۃ علی مافی البحر ولامسکنًا وقد ردّ فی الفتح مابحثہ فی الخلاصۃ من انہ لواحتاج المسجد الی نفقۃ تؤجر قطعۃ منہ بقدر ماینفق علیہ بانہ غیر صحیح قلت وبھذا علم ایضًا حرمۃ إحداث الخلوات فی المساجد کالّتي فی رواق المسجد الاموي ولاسیّما ما یترتب علی ذلک من تقذیرالمسجد بسبب الطبخ والغسل ونحوہ ورأیت تألیفًا مستقلاً فی المنع من ذلک (ردالمحتار ج ۳ ص ۴۰۲ ط رشیدیہ)

وقال الفقیہ ابواللیث لایجوز لقیّم المسجد ان یجعل شیئاً من المسجد سکنا ومستغلا.

(الفتاوی المھدیۃ فی الوقائع المصریۃ ۴۷۲۲ ط المکتبۃ العربیۃ)

واللہ تعالی اعلم.

مولوي احمد نوري عفی عنہ
مولوي محمداخلاص برکتي
مولوي نورمحمدثاقب
رئیس دارالافتاء مرکزي دولت اسلامي افغانستان

د مسجد پرحُجره باندې د مسجد د امام کورجوړول

پوښتنه : محترم د کندهار ولایت د دارالافتاء ریاست ته

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

دکندهار ولایت په دریمه ناحیه کې زمونږ مسجد جامع چې دمرحوم حاجې نورالحق خان په نامه ده یوه حجره مربوط دنوموړي مسجد جامع په داخل دیوه سرای کې ده د حجرې چت ډیر کښته دی نو مونږ قصد لرو چې د نوموړې حجرې چت یوه اندازه لوړ کړو او وروسته ترهغه د حجرې پر سرباندې بله خونه جوړه کړو چې د مسجدجامع دامام لپاره د کور کار ځنې واخلو چې دا به دمسجد جامع دآینده لپاره یوشئ سي ستاسو د محترم حضور څخه غوښتنه کوو چې شرعي فتوىٰ راته راکړئ چې دجوړیدو په وخت کې موځوک مانع ونه ګرځي ډیره مهرباني به مو وي. والسلام

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون ملهم الصواب

د نوموړې حجرې د چت جوړول په ښه طریقه سره بالکل جائز بلکه ښه کار دی ځکه چې حجره هم وقف ده او فتوی پر هغه شي ورکول کیږي چې وقف ته ښه منفعت رسوي او د هغې سربیره د ملا امام دپاره ځای جوړول که په نیت د وقف وي او لاندې حجرې ته ضرر و نلري هم جائز ده .

و (کذا) یُفتٰی (بکل ماهو انفع للوقف فیما اختلف العلماء فیه) حاوي القدسي (الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج ۳ ص ۴۴۰ ط رشیدیه و کذا في (الفقه الاسلامي ج ۸ ص ۲۳۳ ط دارالفکر)

لیکن البحر الرائق وغیرہ سے معلوم ہوتا ہے کہ حجرات متعلقہ مسجد بعرض سکونت امام ومؤذن یا طلبائے علم وغیرہ کے بنائے جاتے ہیں ان کو کرایہ پر دینا جائز نہیں (۱)(عزیز الفتاوی ص ۶۱۱) کیونکہ یہ حجرے فناء مسجد میں داخل ہیں اور عادۃً فنا مسجد کے حجرے خاص مصالح مسجد کے لئے بنائے جاتے ہیں جیسے امام، مؤذن یا طالب العلم وغیرہ لوگوں کی رہائش کے لئے (۲) (امداد المفتین ص ۷۷۳)

په دوه نژدې مسجدونوکې یو بندول او یا پر یو د امام کور جوړول

پوښتنه : د مرکزي دارالافتاء د ریاست عالي مقام ته

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

څرنګه چې تاسې ته هم بهتره معلومه ده چې په تیرو وختونو کې دخلکو لخوا دشخصي خصومتونو اوعنادونو اودضد اوضدبازۍ په اساس چې یومسجد به جوړ ؤ په خوا کې به یې په ډېره نزدې فاصله کې یوبل مسجد جوړکړی وو او د پخوانیو حکومتونو لخوا به پرې پابندي هم نه وه ، نو مونږ د لاندې درو (۳) موضوع ګانو په باب ستاسې څخه استفتاء کوو :

۱ - که ددغه راز همجوارو مسجدونو څخه یو مسجد وترل سي او بل مسجد پاته سي جواز لري اوکه نه؟

---

(۱) **ترجمه**: لیکن له البحر الرائق اونوروڅخه معلومیږي چې دمسجد اړوندې کومې حجرې چې د امام ، مؤذن یاطالبانو اونور دهستوګنې لپاره جوړېږي دهغو په کرایه ورکول جائز نه دي. (عزیزالفتاوی)

(۲) **ترجمه**: ځکه چې دا حجرې په فناء د مسجد کې داخلې دي اوعادةً د مسجد د فناء حجرې خاص دمسجد دمصالحولپاره جوړیږي لکه دامام ، مؤذن یا طالب العلم او نورو د هستوګنې لپاره . (امداد المفتین)

۲- که یو مسجد د ملا دکور لپاره او یا بل داسې کار لپاره جوړکړل سي جواز لري اوکه نه ؟

۳- کوم یو له دغو دوو مسجدونو څخه دې مسجد پاته سي او کوم یو دې کور سي ؟

چون دغه ډول مسجدونه صرف ددوه یا درې کورونو لپاره وي او ښه مُلا په دې خاطر چې زکاة یې کم وي نه ورته راځي نوداسې مُلایان چې بالکل لمونځ ورپسې نه صحیح کېږي په دغه راز مسجدونوکې مُلایي کوي او نور اضرار یې هم ډېر دي چې تاسې ته بهتره معلوم دي ، هیله ده چې د پورتنیو درې موضوعاتو په هکله فتوی راکړئ . والسلام بیّنوا توجروا

(المستفتي : ملا نورالدین تُرابي سرپرست وزارت عدلیه)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الفتوی بعون الملک العلیّ الاعلٰی

محترم مستفتي صاحب ! ستاسو ددرې وارو موضوع ګانو په هکله باید ووایو چې د همجوارو مسجدونو په کوم صفت سره چې تاسو په استفتاء کې ذکرکړي دي د دغسي مسجدونو څخه د یوه مسجد هم ټړل او یا نړول د مُلا د کور لپاره او یا دبل شي لپاره جائز او روا نه دي ځکه چې دمسجد لپاره څه حد او خاصه اندازه او فاصله په شریعت کې مقرره نه ده بلکه دمسجد دجوړولو دار ومدار پرنیک نیتې اوضرورت باندې دی ، په دې باره کې دمسلمانانو لپاره دا هم په خیال کې درلودل پکار دي چې د دغسې همجوارو او په نزدې فاصله کې د مسجدونو پر جوړونکو باندې په عمومي طور بدګماني کول چې دابه یې د ضد اوعناد پربناء جوړ کړي وي ، ښه کار نه دی ، کیدای شي چې د ضرورت اوخلوص پر بناء او د خلکو د اسانتیا

لپاره يي جوړ کړي وي ځکه چې په مُرور د زمانې ضروريات ډېريږي او نوي پيدا کيږي اوبالفرض که ديوچا په باره کې په يقين سره دامعلومه هم شي چې ده دغه مسجد د ضد او عناد او د تفرقې د مسلمانانو لپاره جوړ کړی دی بيا هم دا د مسجد شرعي حيثيت ته هيڅ تاوان نه رسوي او نه يې نړول جائز دي بلکه د نورو مسجدونو په شان يې احترام ضروري دی او هم لمونځ پکې روا دی اګرکه اَولیٰ اوغوره نه دی اوپه بعضې کتابونوکې چې دی قسم مسجد ته مسجد ضرار ويل شوی دی او يا يې نړول روا کړي دي دا حکم علماؤ د مذهب احوط نه دی بللی ، لکن هغه جوړونکی يې په دې نيت اوعمل سره ګناه کاردی اوکه دغسې مسجد ته عين مسجد ضرار نه بلکه مثل د مسجد ضرار وويل شي نو دا به لاډ بره بعيده نه وي ځکه چې په بعضې صفاتوکې د هغه سره مشابه دی ، نوکله چې داقسم مسجد شرعي مسجد دی د شرعي مسجد حکم دا دی چې ترقيام قيامت پورې مسجد دی او نورکار ورځنې اخيستل جائز نه دي . والله اعلم وعلمه اتم واحکم .

(تفسير معارف القرآن پښتو پاره (۱۱) ص/۲۹-۳۰) و هکذا في (التفسير، الكشاف عن حقائق التنزيل لجارالله الزمخشري ج ۲ ص ۳۱۰)

و لو خرب ما حوله واستغنى عنه يبقى مسجدا عندالامام والثاني ابدا الى قيام الساعة وبه يُفتٰى حاوي القدوسي (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج ۳ ص ۴۰۲)

و فی السيرالكبير اذا خربت القرية التي فيها المسجدوجعلت مزارع وخرب المسجدفلايصلي فيه احد فلابأس بان يأخذه صاحبه ويبيعه ممن يجعله مزرعة لنفسه وهو قول محمد وقال ابويوسف لايعود الى ملک الباني إن كان حيّا ولاالى ورثته إن كان ميّتًا وهومسجد ابداً على حاله الخ (الفتاوى

التاتارخانیة ج ۵ ص ۸۴۲) قال فی البحر و به علم ان الفتویٰ علی قول محمّد في آلات المسجد و علی قول ابي یوسف في تابید المسجد آهـ . (ردالمحتار ج ۳ ص ۴۰۷) و هکذا في (حاشیة الطحطاوي علی الدرالمختار ج ۲ ص ۵۳۸)

سوال:(۱۰۸۰) ایک قریہ میں چار مسجدیں ہیں اور ہر ایک مسجد میں نماز پنج وقتہ و نماز جمعہ ادا کی جاتی۔ چند روز ہوئے کہ پندرہ بیس آدمیوں نے ایک مسجد جدید تین سو ہاتھ کے فاصلہ پر مسجد قدیم کے تیار کی ہے اور اس میں نماز جمعہ و پنجوقتہ ادا ہوتی ہے۔ اور بانیان مسجد جدید کی نیت تفریق جماعت وضرر رسانی مؤمنین مسجد قدیم مقصود نہیں ہے یہاں کے مولوی صاحبان فرماتے ہیں کہ یہ مسجد درست نہیں ہے کیونکہ قریب مسجد قدیم کے ہے۔ اگر یہ کچھ اور دور فاصلہ پر ہو تو درست ہے. ایسی صورت میں مسجد جدید کا انتقال درست ہے یا نہیں؟

الجواب: باہم مساجد کی دوری کے لئے کوئی شرعی تحدید نہیں ہے۔ حسب ضرورت قریب وبعید ہر طرح بناء مسجد درست ہے۔ پس جبکہ بانیان مسجد جدید کی نیت تفریق جماعت واضرار مؤمنین کی نہیں ہے تو بانیان ماجور ہیں اور وہ مسجد بحکم مسجد ضرار نہیں ہے۔ نماز جمعہ و پنجوقتہ ادا کرنا اس میں درست ہے اور جب کہ وہ بقاعدہ شرعیہ مسجد ہو گئی تو اب تبدیل اس کی جائز نہیں ہے۔ کیونکہ جو جگہ ایک دفعہ مسجد ہو جاتی ہے وہ ہمیشہ ہمیشہ کو مسجد رہتی ہے (۱)

---

(۱) **ترجمه**: **سوال**: (۱۰۸۰) په یو کلي کې څلور مسجدونه دي اوپه هریو مسجد کې پنځه وخته اودجمعې لمونځ اداکېږي څو ورځې کېږي چې پنځلس ، شلو کسانو یو نوی مسجد ددې سوه لاسه (گزه) په فاصله کې له زاړه مسجد څخه جوړکړی دی او پکې جمعه او پنځه وخته لمونځ اداء کیږي او د نوي مسجدجوړونکو نیت دمسلمانانو ترمنځ دبیلتون او زاړه مسجد مؤمنانو ته دضرر رسولونه دی ددې ځای ملایان وایي چې دا مسجد صحیح نه دی ځکه چې قدیم مسجدته نژدې دی که داڅه نورهم په لیرې فاصله وي نوصحیح دی په داسې صورت کې دجدید مسجد انتقال صحیح دی اوکنه؟

الجواب: دمسجدونو ترمنځ د لېرې والي لپاره کوم شرعي تحدید نشته دضرورت په اندازه لرې او نژدې هر ډول جوړول د مسجد صحیح دي، نوکله چې دنوي مسجد دجوړونکو نیت دمسلمانانو ترمنځ دتفریق

کماصرح فی الشامي ان الفتوی علی قول ابي یوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ فی تابید المسجد واللہ اعلم . (فتاوی دارالعلوم دیوبند یعني عزیزالفتاوی ص ۵۹۲ و۵۹۳) و هکذا في ص ۲۰۲ و في ص ۲۰۳ و في ص ۲۰۴ و ۲۰۵ و هکذا في (امدادالفتاوی ج ۲ ص ۲۲۹ و ۲۷۰)

د مسجد په احاطه کې دوکان جوړول

پوښتنه : که څوک دیوه مسجد د اودس تازه کولو په ځای کې یعنې چې دتوله دائرې د مسجد په احاطه محاط وي دوکان جور کړي وقف ګرځیږي یا نه ؟

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجواب بعون الملک الوهاب

که دغه دوکان په اول وخت کی د تعمیرولو ددغه مسجد او د اودسونو د ځای بناء سوی وي نو پروا نه لري جائز دی او که هغه ځای ټول یو وار د مسجد اویا د اودسو تازه کولو لپاره وقف شوی وي او اوس یو څوك دوکان پکې جوړوي نو دا بیا جواز نلری.

لو بنی فوقه بیتًا للامام لایضر لانه من المصالح اما لو تمت المسجدیة ثم اراد البناء منع ولو قال عنیت ذلك لم یصدّق - تاتارخانیة (الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج ۳ ص ۴۰۲)

بقیه صفحه نمبر (۳۹۲)

اومؤمنانوته دضرر رسولونه دی نو جوړونکو ته ثواب ورکول کیږي اوداسې مسجد دضرار مسجد په حکم کې نه دی د جمعې لمونځ اوپنځه وخته لمونځونه پکې اداکول صحیح دي اوکله چې هغه په شرعي قاعده مسجدشو نواوس تبدیلول دده جائزنه دي ځکه چې کوم ځای یوځل مسجد وګرځي هغه دهمیشه همیشه لپاره مسجدپاتې کیږي .

والفناء تبع المسجد فيكون حكمه حكم المسجد كذافی محيط السر خسی (الفتاوی الهندية ج ۲ ص ۴۲۲) قيم المسجد اذا اراد ان يبنی حوانيت فی حدّ المسجد او في فنائه لايجوز (الفتاوی التاتارخانية ج ۵ ص ۸۲۰) و هكذا فی (الفتاوی الهندية ج ۲ ص ۴۲۲) و (امداد المفتين ص ۷۹۴) و فی البحر الرائق : وفی المجتبی لايجوز لقيم المسجد ان يبنی حوانيت فی حد المسجد او فنائه (ج ۵ ص ۲۴۹ ط ماجديه)

وفی فتح القدير عن المصنف من كتاب التجنيس : قيم المسجد اذا اراد ان يبنی حوانيت فی المسجد او فی فنائه لايجوز له ان يفعل لانه اذا جعل المسجد سكنا تسقط حرمة المسجد واما الفناء فلانه تبع للمسجد (ج ۵ ص ۴۴۲)

ان روایات سے ثابت ہوا کہ مسجد میں بھی او رفناء مسجد (یعنی حصہ متعلقہ مسجد مثل وضوخانہ وغیرہ) میں بھی دکانیں بنانا جائز نہیں... البتہ ابتداء میں مسجد کی تعمیر کے ساتھ قبل مسجد ہونے کے اوپر یا نیچے عمارات متعلقہ مصالح مسجد بنانے کا فقہاء نے ذکر کیا ہے (۱) (امداد الفتاوی ج ۲ ص ۶۸۸)

(**نوټ**) او داخبره چې دغه دوکان وقف ګرځي او که نه ؟ دا د واقف په نيت پورې تعلق لري .

(۱) **ترجمه**: له دغو روایاتوڅخه ثابت شو چې په مسجد کې هم اوپه فناء (یعنې دمسجد سره اړونده برخه لکه د اودسونوڅای اونور) دمسجد کې هم دوکانونه جوړول جائزنه دی... اما په ابتداء کې د مسجد د ودانولو سره ، مخکې تر مسجد ګرځیدلو پورته یا لاندې د مسجد د مصالحو اړوندې ودانۍ جوړولو فقهاؤ یادونه کړې ده.

آيا له مسجدڅخه زياته ځمکه هم تبعاً اوضمناً وقف ګرځي؟

پوښتنه : يو څوك چې په خپله شخصي ځمکه کې مسجد جامع جوړکړي ، د جماعت د ځای نه ماورا هغه ځمکه چې په اصطلاح زائده ورته ويل کيږی چې په احاطه کې محاطه وي بلا اختياره د هغه مسجد جوړونکي ، هم په تبعه د مسجد کې وقف کيږي يا نه ؟

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجواب بعون الله سبحانه وتعالٰی

تبعاً او ضمنًا بلا اختياره ځمکه نه وقف کيږي او نه د چا د ملکيت څخه خارجيږي ولې چې په وقف کې قضاء د قاضي په وقفيت باندې ضروري ده په نزد د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ او الفاظ د وقف ضروري دي په نزد دامام ابويوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ او الفاظ د وقف او تسليمول متولي ته دواړه ضروري دي په نزد د امام محمد رَحِمَهُ اللّٰهُ او فتوی پر قول د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ ده ، خو په دې سره قولونو کې الفاظ د وقف رکن د وقف بلل کيږي .

وانما يزول ملك الواقف عن الوقف عند أبی حنيفة رَحِمَهُ اللّٰهُ بالقضاء ... و اذا كان الملك يزول عندهما يزول بالقول عند ابی يوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ وهو قول الائمة الثلاثة وهو قول اكثر اهل العلم وعلى هذا مشائخ بلخ وفی المنية وعليه الفتوى كذافی فتح القدير وعليه الفتوى كذا فی السراج الوهاج وقال محمد رَحِمَهُ اللّٰهُ لايزول حتى يجعل للوقف وليًا ويسلم اليه الخ (الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۳۵۰ و ۳۵۱) و هكذافی (الدرالمختار و ردالمحتار ج ۳ ص ۳۹۵) فاما ركنه فالالفاظ الخاصة الدالة عليه كذا في البحرالرائق (الفتاوى الهندية ج ۲ ص ۳۵۲) والله تعالٰی اعلم .

په مسجد کې به متصرف باني وي که کلي وال؟

پوښتنه : حضورته دمرکزي دارالافتاء السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته یوشخص چې دیو مسجد بناء وکړي مسجد جوړ کړي او تولی هم په لاس کې لري ، ددغه مسجد د امام مقرر کولو یامعزول کولو کې یوازې ددغه مسجد باني اومتولي حق لري اوکه داحق ددغه مسجد ټولو مقتدیانوته حاصل دی ؟ بیّنوا توجروا.

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب

دامام او مؤذن په مقررکولو کې د مسجد باني اعني د مسجد جوړونکی تر اهلِ محلې اولی او حقدار دی مګر که اهل د محلې داسې امام مقرر کړي چې هغه دباني ترمقرر شوي امام اصلح وي بیا د باني حق ساقط دی او د مسجد د باني د اولاد او قریبانو حکم هم دغسې دی لکه د مسجد دباني اوکه دباني اواهلِ محلې مقرر شوي امامان دواړه سره برابر وو بیا د باني مقرر شوي امام اولی دی .

الباني للمسجد اولی من القوم بنصب الامام والمؤذن فی المختار الااذا عیّن القوم اصلح ممن عیّنه الباني (قوله الباني اولی) وکذا ولده وعشیرته اولی من غیرهم -اشباه (قوله الااذا عیّن القوم اصلح ممن عیّنه) لان منفعة ذلک ترجع الیهم (الدرالمختار و ردالمحتار ج ۳ ص ۴۵۴) و (حاشیة الطحطاوي علی الدرالمختار ج ۲ ص ۵۵۸)

الباني اولی بنصب الامام والمؤذن وولدالباني وعشیرته اولی من غیرهم بنی مسجدا فی محلة فنازعه بعض اهل المحلة فی العمارة فالباني اولی مطلقًا وان

تنازعوا في نصب الامام والمؤذن مع اهل المحلة ان كان ما اختاره اهل المحلة اولى من الذي اختاره الباني فما اختاره اهل المحلة اولى وان كانا سواء فمنصوب الباني اولى. (الاشباه والنظائر للامام ابن نجيم ص ۱۰۴ ط ايچ - ايم - سعيد) (قوله فالباني اولى مطلقا) قيل: يجوز ان يكون قيد الاطلاق كونه باذنهم او بدونه (غمز عيون البصائر شرح الاشباه والنظائر ج ۲ ص ۲۳۳ ط ادارة القرآن والعلوم الاسلامية)

والله سبحانه و تعالى اعلم وعلمه اتمّ واحكم

د مسجد ځمکه په بله ځمکه بدلول

پوښتنه: حضور ته د محترمو علماء كرامو د دارالافتاء !

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

تمنا كوو چې د يوې شرعي پوښتنې جواب راكړئ ثواب مو روزي شه: يوكلى چې آبائي او اجدادي مسجد يي تنګ سي وغواړي چې پر يوه بله شخصي ځمكه يې بدل كړي چې پرهغه شخصي ځمكه مسجد جوړ كړي آيا دغه جواز لري كه يا ؟ دغه د زاړه مسجد ځمكه شخصي ګرځي كه يا ؟

والسلام

(مستفتي: مولوي محمد اسلم)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

هو الله المستعان في كل شئ

امابعد! فنقول وبالله التوفق: مسجد چې يو وار جوړ شو او حكم د مسجد پرې جاري شو نو دغه دمسجد ځمكه ترقيامته پورې حكم د مسجد لري. كه څه هم قوم د مسجد څخه لاړ شي او بل مسجد جوړ كړي او مسجد اول

خرابه شي ونړيږي ، نو د مسجد ځمکه نه ميراث کيږي او نه نقل کيږي بل ځای ته ، څوک لمونځ پکې کوي او که نه او بنا پر مُفتٰی به قول مال يې بل مسجد ته نقل کيږي.

(ولوخرب ما حوله واستغني عنه يبقى مسجدا عندالامام والثاني) ابدا الى قيام الساعة (وبه يُفتٰى) - حاوي القدسي (قوله عندالامام و الثاني) فلايعود ميراثًا و لايجوز نقله ونقل ماله الى مسجدآخر سواء كانوا يصلون فيه اولاوهو الفتوى - حاوي القدسي - واكثر المشائخ عليه - مجتبى - وهوالاوجه - فتح آهـ بحر .

(وعاد الى الملک) اى ملک الباني او ورثته (عندمحمد) وعن الثاني ينقل الى مسجدآخر بإذن القاضي (قوله و عن الثاني الخ) جزم به في الاسعاف حيث قال ولو خرب المسجد وماحوله وتفرق الناس عنه لايعود الى ملک الواقف عندابي يوسف فيباع نقضه بإذن القاضي ويصرف ثمنه الى بعض المساجد آهـ (قوله ومثله حشيش المسجدالخ) اى الحشيش الذي يفرش بدل الحصير كما يفعل في بعض البلاد كبلاد الصعيد كما اخبرني به بعضهم قال الزيلعي وعلى هذا حصير المسجد وحشيشه اذا استغنىٰ عنهما يرجع الى مالكه عندمحمد وعندابي يوسف ينقل الى مسجدآخر و على هذا الخلاف الرباط والبئر اذا لم ينتفع بهما آهـ و صرح في الخانية بان الفتوىٰ على قول محمد قال فى البحر و به علم ان الفتوى على قول محمد فى آلات المسجد وعلى قول ابي يوسف في تابيدالمسجد آهـ والمراد بآلات المسجد نحو القنديل والحصير بخلاف انقاضه لما قدمنا عنه قريبًا من ان الفتوى على ان المسجد لايعود ميراثًا ولايجوز نقله ونقل ماله الى مسجدآخر (ردالمحتار ج۳ ص ۴۰۲ و ص ۴۰۷)

واللہ تعالی اعلم بالصواب

له لمانځه نه پس دمسجد دروازې تړل

پوښتنه : د مسجد بنديدل چې لمونځ وشي څه حکم لري ؟ په دې نيت چې طالبان د خوبه باسي او مسجد خيرنه وي يا خبرې په مسجد کې کوي اودايې عادت ګرځي چې ناوخته به بې له جماعته لمونځ کوي. والسلام

(المستفتي : شاه محمد)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الفتوی : محترم مستفتي صاحب ! بايد ووايو ترڅو چې مسجد ته خلک د لمانځه لپاره ورځي که څه هم دجماعت لمونځ شوی وي خو وخت باقي وي د مسجد بنديدل جواز نه لري ، که څه هم لمونځ کوونکي طالبان د خوبه باسي او يا مسجد خيرنه وي ځکه مسجد خاص د الله جل جلاله دعبادت او د لمانځه لپاره جوړ وي ، البته که د مسجد د سامانو دغلا کيدو او يا د مسجد د بې حرمتۍ او بې ادبۍ خطره وي نو چې خلکو د جماعت لمونځ وکړ او نور خلک د لمانځه د راتګ لپاره نه وي بيا په دغه وخت کې که اهل محله مناسب وبولي د مسجد بندول ورته جائز دي .

لابأس باغلاق المسجد فی غير وقت الصلاة لصيانته اولحفظ آلاته فاذا لم يخف من فتحها مفسدة ولاانتهاک حرمتها وکان فی فتحها رفق بالناس فالسنة فتحها کما لم يغلق مسجد رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في زمنه ولابعده (الفقه الاسلامي ج ۱ ص ۴۷۴ ط دارالفکر) و هکذا فی (الفتاوی الهندية ج ۱ ص ۱۰۹)

(و) كما كره (غلق باب المسجد) الالخوف على متاعه به يُفتٰى (قوله و كما كره غلق باب المسجد) الغلق بالسكون اسم من الاغلاق مصدر اغلق و بفتحتين مايغلق به الباب وانما كره لانه يشبه المنع عن العبادة.

وقال تعالى: وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ مَّنَعَ مَسٰجِدَ اللّٰهِ اَنْ يُّذْكَرَ فِيْهَا اسْمُهٗ ... (قوله الالخوف على متاعه) فلابأس به فى غير اوان الصلاة والمدار على خشية الضرر ولا فرق بين زماننا وغيره وفي نفى البأس اشارة الى انه لايجب فعله وقال تاج الشريعة بل يجب ذلک صيانة للقناديل والمصاحف شرنبلالية والتدبيرفى الغلق لاهل المحلة الخ (حاشية الطحطاوي على الدرالمختار ج ۱ ص ۲۷۶ و ۲۷۷) و هكذا فى (البحرالرائق ج ۲ ص ۳۳ و ۳۴) و كذا فى (ردالمحتار ج ۱ ص ۴۸۵)

اصل حکم تو یہ ہے کہ مسجد کو چوبیس گھنٹہ کُھلا رکھا جائے تا کہ کوئی مسلمان کسی وقت بھی عبادت کے لئے آئے تو اسے دشواری نہ ہو، مگر آجکل کُھلا رکھنے میں کئی مفاسد ہیں مثلاً :

۱-مسجد کا سامان چوری ہو جاتا ہے.

۲-لوگ مسجد کا پانی بھر کر لے جاتے ہیں.

۳-کئی بیکار لوگ مسجد میں آکر لیٹ جاتے ہیں اور پنکھے چلا کر کئی کئی گھنٹے پڑے رہتے ہیں.

۴-کئی لوگ فارغ بیٹھ کر دُنیوی باتیں شروع کر دیتے ہیں .

ان مفاسد کا سدباب اس کے بغیر ممکن نہیں کہ نمازوں کے سوا بقیہ اوقات میں مسجد کو بند رکھا

جائے. بحالت اضطرار و مجبوری یہ اقدام جائز ہے الخ. (۱) (احسن الفتاوی ج۶ ص۴۶۸)

فلایجوز لأحد مطلقا ان یمنع مؤمنًا من عبادةٍ یاتي بها فی المسجد لان المسجد مابنی الالها من صلاة واعتکاف الخ (البحرالرائق ج ۲ ص۳۴)

سوال: زید ایک مسجد کا امام ہے وہ بعد نماز عشاء نو بجے مسجد کے کواڑ بند کرلیتا ہے اور جو نمازی کواڑ بند کرنے کے بعد آتا ہے تو زید کواڑ نہیں کھولتا، کیا کسی حدیث میں ہے کہ مسجد کے کواڑ بند کرکے پھر نہ کھولے جائیں.

الجواب: درمختار میں ہے کہ دروازہ مسجد کا بند کرنا مکروہ ہے لیکن اگر اسباب مسجد کے گم ہو جانے کا اندیشہ ہے تو سوائے اوقات نماز کے دروازہ مسجد کا بند کرنا درست ہے اور شامی میں ہے کہ یہ امر اہل محلہ کی رائے پر ہے جس وقت وہ مناسب سمجھیں سوائے اوقات نماز کے دروازہ بند کرادیا کریں(۲) (فتاوی دارالعلوم دیوبند ج۴ ص۱۴۹)

---

(۱) **ترجمه**: اصل حکم خودادی چې مسجد څلور ویشت ساعته خلاص وي ترڅو کوم مسلمان چې هر وخت هم د عبادت لپاره راشي نوڅه مشکل ورته نه وي ، مګر نن صبا په خلاص ساتلوکې څو تاوانه دي مثلاً :

۱- د مسجد سامان غلاکېږي.

۲- خلک دمسجد اوبه وړي.

۳- ډېر بې کاره خلک راشي په مسجد کې پرېوزي او(بادپکي) چلوي څوڅو ساعته پراته وي.

۴- ډېرخلک دغسې ناست وي ددنیا خبرې پېل کړي.

ددغه تاوانونو لاربندول بې له دې ممکن نه دي چې له لمونځونو پرته په نورو وختونوکې مسجد وتړل شي .

د اضطراراو مجبوری په حالت کې داسې کول جائز دي.

(۲) **ترجمه**: **سوال**: زید د یو مسجد امام دی ، دی د ماخوستن له لمانځه وروسته پرنهه بجې دمسجد دروازې وتړي اوکوم خلک چې له دروازو بندولو وروسته راځي نوزید دروازه نه ورخلاصوي آیا په کوم حدیث کې راغلي دي چې دمسجد دروازې وتړئ بیا یې مه خلاصوئ.

الجواب: په درمختارکې راغلي دي چې دمسجد دروازه تړل مکروه دي خوکه د مسجد د سامان د ورکیدو خطر وي نودلمونځونو له وختونو پرته دمسجد دروازه بندول صحیح دي اوپه شامي کې راغلي دي چې دا کار دکلیوالو د رأیې سره اړه لري کله چې دوی مناسب وبولي دلمانځه له وختونو پرته دې دروازې وتړي.

د مسجد د ونو د مېوې مصرف

پوښتنه : په مسجد کې چې درخته ولاړه وي حاصل یا میوه وکړي څه به کېږي. والسلام (المستفتي : شاه محمد)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجواب بعون الملک الرحمٰن

محترم مستفتي صاحب ! که د درختې ایښوونکي درخته دعامو مسلمانانو لپاره شنه کړې وه بیا یې میوه هرمسلمان خوړلی شي اوکه یې په نیت د ځان او یا د مسجد شنه کړې وه او یا یې نیت نه ؤ معلوم بیا درخته د مسجد ده ، د حاصل قیمت به یې په مصالحو د مسجد صرف کیږي.

غرض فی المسجد اشجاراً تثمر ان غرس للسبیل فلکل مسلم الاکل والا فتباع لصالح المسجد ، (الدرالمختار) (قوله والا) ای وان لم یغرسها للسبیل بان غرسهاللمسجد اولم یعلم غرضه - بحر عن الحاوي (ردالمحتار ج ۳ ص ۴۵۵) وهکذا فی (عزیزالفتاوی ص ۲۰۴)

غرس الاشجار فی المسجد لاباس به اذا کان فیه نفع للمسجد... و ان کان لنفع نفسه بورقه اوثمره...یکره (ردالمحتار ج ۱ ص ۴۸۹)

سئل نجم الدین عن رجل غرس نالة فی المسجد ... والغارس یقول هی لي فاني ماوقفتها علی المسجد قال الظاهر ان الغارس جعلها للمسجد... ولا یجوز للغارس صرفها الی حاجة نفسه (الفتاوی التاتارخانیة ج ۵ ص ۸۷۶) و کذا فی (الفتاوی الهندیة ج ۲ ص ۴۷۷) و (خلاصة الفتاوی ج ۴ ص ۴۲۰) و (کفایة المفتي ج ۷ ص ۹۷)

و اذا غرس شجراً فی المسجد فالشجر للمسجد (الفتاوی الهندیة ج ۲ ص ۴۷۴) و کذا فی (خلاصة الفتاوی ج ۴ ص ۴۲۰)
وفی فتاوی اهل ثمرقند: مسجد فیه شجرة تفاح ایباح للقوم ان یفطروا بهذا التفاح ؟ قال الصدر الشهید المختار انه لایباح (الفتاوی التاتارخانیة ج ۵ ص ۸۷۲) و کذا فی (کفایة المفتي ج ۷ ص ۹۸) و (الفتاوی الهندیة ج ۲ ص ۴۷۷)

امام که د مسجد له ونو استفاده کوي؟

پوښتنه: په مسجد کې چې خارج د لمانځه له ځایه یعنې په فناء کې توت ولاړ وي او بیا د څه ضرورت په خاطر هغه توت وخیژي امام د مذکور مسجد د هغه بوټي څخه نفعه اخیستلای سي که یا؟

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الفتوی: محترم مستفتي صاحب ! دغه توت او یا بله درخته چې د مسجد په فناء کې وي او پر مسجد وقف وي او اوس د یو ضرورت په خاطر خیژي ، باید اول د مسجد په ضروري عمارت صرف کړل شي.او بیا په هغه شي صرف کړل شي چې هغه نژدې وي عمارت د مسجد ته په مصالحو کې لکه امام د مسجد ، یا مؤذن او یا بل د مصالحو د مسجد څخه او یا دې خرڅ کړل شي او پیسې دې په مسجد کې مصرف کړل شي.
واذا غرس شجراً فی المسجد فالشجرة للمسجدآه (الفتاوی العالمکیریة المعروفة بالفتاوی الهندیة ج ۲ ص ۴۷۴) وکذلک لو وقف شجرة باصلها علی مسجد فیبست اویبس بعضها یقطع الیابس و یترک الباقي کذا فی محیط السرخسي (الفتاوی العالمکیریة ج ۲ ص ۴۷۵)

غرس فی المسجد اشجاراً تثمر ان غرس للسبیل فلکل مسلم الاکل والافتباع لمصالح المسجد (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار ج ۳ ص ۴۵۵)
و یبدأ من غلته بعمارته ثم ماهو اقرب لعمارته کامام مسجد... ثم السراج والبساط کذلک الی اخر المصالح و تمامه في البحر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج ۳ ص ۴۱۲ ط رشیدیه)
الذی یبدأ به من ارتفاع الوقف عمارته شرط الواقف ام لاثم ما هو اقرب الی العمارة و اعمّ للمصلحة کالامام للمسجد... ثم السراج و البساط کذلک آهـ (الاشباه والنظائر ص ۱۰۲ ط ایج - ایم - سعید) و کذا في (ردالمحتار ج ۳ ص ۴۱۲ ط رشیدیه) و کذا فی (امداد الفتاوی ج ۲ ص ۷۰۲) و کذا في (احسن الفتاوی ج ۲ ص ۴۳۵)

د مسجد حجرې د امام په کور بدلول

پوښتنه : د مرکزي دارالافتاء محترم ریاست ته !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

وبعد : نستهدیکم حضرات العلماء الشرع الشریف عن حکم المسئلة الاتیة بالاحالة علی الکتب الفقهیة لیشفي هدیکم الکریم قلق قلب هذالعبد السائل ویدفع تردده حسبةً لله تعالی ، ما قولکم رحمکم ربکم ؟

په دې مسئله کې چې د مسجد په محوطه کې د بعضوحجرو څخه دضرورت پربنسټ دامام د فامیل هستوګنځای جوړسي په نوموړو حجرو کې د هیڅ شخص ملکیت اوحقیت نه ؤ اونه سته .

بینوا بحوالة الکتاب توجروا یوم الحساب والله اعلم بالصواب والیه المرجع والماب. (المستفتي : ملاعبدالرحمٰن آخند)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب : محترم مستفتي صاحب ! ستاسو د پوښتنې جواب دا دی چې د نوموړو حجرو څخه د امام د فامیل د سکونت لپاره ځای جوړول جائز دي او هیڅ ممانعت پکې نشته ځکه دغه حجرې وقف دي لکه د استفتاء څخه چې معلومیږي چې دغه حجرې د چاشخصي ملکیت نه دي او صرف کول د وقف انفع د وقف ته ضروري دي او امام د اهموضروریاتو د مسجد څخه دی ، لکن د کور د عام عبور او مرور دروازه او دغه رنګه تشناب به یې د مسجد طرف ته نه وي .

ویفتی بکل ما هو انفع للوقف الخ (الفقه الاسلامي ج ۸ ص ۲۳۳ ط دارالفکر) وکذا في (الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج ۳ ص ۴۴۰ ط رشیدیه)

سوال: مسجد کی چہار دیواری کے اندر حجرہ مع صحن پختہ امام صاحب کے لئے واقع ہے، حجرہ مذکورہ کے صحن میں کبھی کبھی بوجہ زیاتی نمازیوں کے نماز بھی ادا کی گئی ہے ، حجرہ مذکورہ مع صحن بذریعہ دیوار مسجد سے علیحدہ کرکے امام صاحب کے لئے زنانہ مکان بنانا مقصود ہے جس کا داخلہ کا دروازہ او رپاخانہ علیحدہ گلی میں ہوگا، کیا بصورت بالا مکان بنانا جائز ہے؟

جواب: جبکہ حجرہ اور اس کا صحن مسجد سے جداگانہ اور ممتاز طریق پر اب بھی واقع ہے صرف پردہ نہیں ہے تو پردہ کی دیوار اٹھا کر اس کو علیحدہ کر دینا جائز ہے ، حجرہ کے جنوبی جانب گلی میں کھلتا ہوا پاخانہ بھی بنانا جائز ہے(۱) (کفایت المفتی ج ۱ ص ۲۶) وہکذا فی (امداد المفتین ج ۲ ص ۷۷۳ احکام المساجد)

---

(۱) **ترجمه** : **سوال** : د مسجد په څلور دیوالې کې دننه دامام صاحب لپاره حجره سره د پاخه صحن واقع ده ، ددغه حجرې په صحن کې کله ناکله دخلکو د ډیریښت په وجه لمونځونه هم ادا کړل شوې دي، دغه حجره سره له صحنه د دیوال په ذریعه د مسجد څخه جلا کوؤ د امام صاحب لپاره پکې د کور جوړولو اراده لرو چې د نتوتلو دروازه او تشناب به یې په جلا کوڅه کې وي آیا داسې مکان جوړول جائز دي؟

جواب : کله چې حجره او ددې صحن له مسجد څخه جدا او په ممتاز ډول اوس هم واقع دي صرف پرده نشته نود پردې د دیوال په پورته کولوددې جدا کول جائز دي ، د حجرې جنوب طرف ته کوڅه کې دروازې لرونکی تشناب (ټټۍ) جوړول هم جائز دي .

وظاهره ان المقدم فی الصرف (ای فی صرف وقف المساجد) الامام والمدرس والوقاد والفراش وما کان بمعنا هم ... وظاهر مافی الحاوي تقدیم الامام علی بقیة الشعائر الخ (الاشباه والنظائرص ۱۰۲ و ۱۰۷ ط ایج - ایم - سعید)

واللہ تعالی اعلم بالصواب

د دوو مسجدونو ترمنځ فاصله

پوښتنه : ستاسو محترمو څخه هیله او امید لرو چې د لاندې استفتاء په هکله معلومات راکړئ : بعضې خلک د مسجد د جوړولو داسې دلیل وایي که چېرې زه دغه مسجد ته ورسم نو زه دشر او فتنې سره مخامخ کیږم آیا دغه خبره یو شرعي دلیل ګرځیدلای سي او که نه ؟ او که چېرې دغه خبره دلیل سي نو باید څومره مسافه دغه نوی مسجد او دغه بل مسجد ولري؟

(محمد معصوم المعتصم

دافغانستان اسلامي امارت دحج اواوقافو یاست)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملک الوهاب

که چېرې په مابین د قوم کې واقعي اختلاف پیښ وي او سره دډیرې سعې او کوشش بیا هم اختلاف رفع نشي او صلح و نشي نو بیا جائز ده چې بل مسجد جوړ کړي ، د زاړه او نوي مسجد تر مابین مسافه متعینه نه ده او یوه خاصه تاکلې اندازه نه لري حتی دډیر ضرورت په وخت کې که یو مسجد دوه حصې کړل شي او په هره حصه کې جلا جلا امام او مؤذن مقررشي نو هم بناء په ضرورت جواز لري.

البتہ اگر مسجد کے نمازیوں میں کسی وجہ سے اختلاف ہو تو بہتر تو اس وقت یہی ہے کہ آپس میں صلح کی کوشش کی جائے اور ایک ہی مسجد میں سب نماز پڑھیں لیکن اگر یہ صورت نہ ہو سکے تو پھر دوسری مسجد قرب میں بھی بنالینا درست ہے (۱) (امداد المفتین ص ۷۶۶)

اهل المحلة قسموا المسجد وضربوا فيه حائطا ولكل منهم امام على حدة ومؤذنهم واحد لاباس به والاولى ان يكون لكل طائفة مؤذن ، كما يجوز لاهل المحلة ان يجعلوا المسجد الو احد مسجدين فلهم ان يجعلوا المسجدين واحداً لاقامة الجماعة (البحر الرائق ج ۵ ص ۲۵۰) والله تعالى اعلم

مسجد یا مدرسې ته وقف کړې ځمکه کې ذاتي تصرف کول

پوښتنه : محترمه ! زما مرحوم پلار یوه اندازه ځمکه په خپل ژوند کې لپاره د مدرسې وقف کړې وه چې زما د پلار په ژوند دغه مدرسه مورِ جوړه کړه او زما پلارخپل وصیت کړی دی چې دغه ځمکه د مدرسې، په میراث کې زما د ورثې نه راځي او د دغه مدرسې پالنه به زما خپل زوی ملانبایسته ګل کوي ، چې فعلاً پر دغه ځمکه مدرسه جوړه تیاره ده ، لکن فعلاً زما یو میریزی ورور چې عبدالحمید نومیږي غواړي چې دغه مدرسه هم په میراث کې داخله کړي او په مابین کې د ورثې یې تقسیم کړي ، نو زه ستا د مقام څخه هیله کوم چې له رویه د شریعت معلومات راکړې چې دغه وقف سوې مدرسه په میراث کې داخلیږي او کیا؟ چې مورِ ستا د هدایت سره سم هغه کار و کړو او زمورِ مشکل حل سي ؟ (ملانبایسته ګل)

---

(۱) **ترجمه**: اما که د مسجد دلمونځ کوونکو ترمنځ په کومه وجه اختلاف وي نو په داسې وخت کې بهترهمدا دی چې ترخپل منځ د صلحې کوشش وکړي اوپه یومسجد کې ټول لمونځونه وکړي لیکن که داسې صورت نه شوای کیدلاې نوبیا بل مسجد ورته نژدې جوړول هم صحیح دي.

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملک الوهاب

کله چې یو څوك یوه ځمکه د مدرسې او یا مسجد لپاره وقف کړي نو دغه ځمکه بیا په میراث کې نه حسابیږی او چا لره شخصي مالکانه تصرف کول پکې جائز نه دي او بیع ددغسې موقوفه ځمکې هم صحیح نه ده .

واما حکمه فعندهما زوال العین عن ملکه الی الله تعالی وعندابی حنیفة رَحِمَهُ ٱللَّهُ حکمه صیرورة العین محبوسة علی ملکه بحیث لاتقبل النقل عن ملك الی ملك والتصدق بالغلة المعدومة متی صح الوقف بان قال جعلت ارضی هذه صدقة موقوفة مؤبدة اواوصیت بها بعد موتی فانه یصح حتی لایملك بیعه ولایورث عنه الخ (الفتاوی الهندیة ج ۲ ص ۳۵۲) و هکذا فی (الفتاوی التاتارخانیة ج ۵ ص ۲۸۸)

و (الاختیار لتعلیل المختار ج ۳ ص ۴۰ و ۴۱)

موقوفہ زمین کے مشتری سے اس کو خریدنے کا عدم جواز... (۱)(امداد الفتاوی ج ۲ ص ۵۸۶)

وقف میں ذاتی تصرف حرام ہے... (۲) (احسن الفتاوی ج ۶ ص ۴۱۴)واللہ تعالی اعلم.

پر مسجد د خرڅ کړي سرای بیرته غوښتنه کول

پوښتنه : د کندهار د دارالافتاء رئیس صاحب ته ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته د سلام مسنون څخه وروسته د علي احمدنامي په اقرار او د شواهدو په حضور کې د والي علومي له طرفه خریداري شوی سرای او بیا

(۱) **ترجمه**: د موقوفه ځمکې له مشتري څخه ددې درانیولوناجائزوالی... (امدادالفتاوی)

(۲) **ترجمه**: په وقف کې ذاتي تصرف حرام دی... (احسن الفتاوی)

په زړه جامع ګډ شوی دی په ۱۸ / ۵ / ۱۳۷۰ هـ ش کې ، او وروسته زمونږ سره ثبت نام شوی هم دی په جلد نمبر ۲ صفحه ۱۴ باندې ، اوس بیا نوموړی علي احمد غواړي چې سرای د جامع څخه جلا کړي ، د عارض د اطمنان لپاره مدلل شرعي حیثیت ولیکئ مهرباني به مو وي

والسلام

(مولوي صبغت الله رئیس حج و اوقاف کندهار)

الجواب : یو څوک چې په خپله رضا او رغبت سره خپل شخصي سرای او یا ځمکه یو مسجد ته ورکړي په مقابل د پیسو کې وي او یا نه وي او هغه ځای په مسجد کې ورګډ شي او خلک لمونځ پکې شروع کړي نو دا ځای د ابد لپاره مسجد ګرځي هیڅ وخت حکم د مسجدیت نه ورځني زائلیږي او نه د شخصي کور استفاده ورځني کیدلی شي .

اما علی قول ابي یوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ فلان المسجد و ان خرب و استغنی اهله لایعود الی ملک الباني ... والفتوی علی قول ابي یوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ انه لایعود الی ملک مالکٍ ابداً کذا في المضمرات (الفتاوی الهندیة ج ۲ ص ۴۵۸) واتفق العلماء في وقف المساجد انها من باب الاسقاط والعتق لاملک لاحد فیها و ان المساجد لله تعالی (الفقه الاسلامي ج ۸ ص ۱۵۴ ط دارالفکر) قال في شرح التنویر ولو خرب ماحوله واستغنی عنه یبقی مسجداً عندالامام والثاني ابداً الی قیام الساعة و به یُفتی. (احسن الفتاوی ج ۲ ص ۴۳۲) قلت وفي الذخیرة و بالصلوة بجماعة یقع التسلیم بلاخلاف حتی انه اذا بنی مسجداً و اذن للناس بالصلوة فیه جماعةً فانه یصیر مسجداً آهـ (ردالمحتار ج ۳ ص ۴۰۵ ط رشیدیه) و هکذا في (امدادالفتاوی ج ۲ ص ۷۲۵)

والله تعالی اعلم

الفصل الثالث في المسجد القديم

د خرابه شوي مسجد څه حکم دی ؟

پوښتنه : حضورعالیقدر فضیلت پناه محترم رئیس صاحب مقام عالی دارالافتاء ! احتراما السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته .

امابعد: مایان اهالی قریه گاری مربوط ولسوالی دند ولایت قندهار هریک حاجی شیر علی ودر محمد ومحمد تاج حضور ممدوحی بعرض میرسانیم اینکه مهربانا بشما بهتر معلوم است که دهات ولایت قندهار باثر تصادمات تمام خرابه وحریق شدند خانه های مردم ومساجد خرابه است مایان اهالی قبلا درقریه متذکره دو باب مساجد داشتیم اکنون به اتفاق اراء اهالی مسجد میخواهیم برای نماز دریکجاکه وسعت داشته باشد بناء واعمارنمایم ، ازمقام محترم دارالافتاء استفتاء مینمایم که درباب مساجد سابقه که بالکل ازبین رفته وخرابه است شریعت غراء محمدی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چه حکم میکند وبرای مایان چه میفرمایند هرآنچه امر میفرمایند موجب تعمیل است . والسلام

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجواب بعون الملک العلی الا علی

محترم مستفتی صاحب ! این باب مسجد که درموردآن استفتاء نمودید تاهرچندکه اززمین رفته خراب و ویران شده باشد حتی که صرف وخالی زمین مانده باشد هم ازحکم مسجد خارج وبیرون نمیشود وتاقیام

روز قیامت مسجد میماند بناء برقول مفتی به از اقوال مجتهدین ما رحمهم الله تعالی ونه هیچ وقت ازان بغیر از مسجد کار دیگر صورت بندد و نه خرید وفروخت آن جائز است:

ولم يذكر المصنف حكم المسجد بعد خرابه وقد اختلف فيه الشيخان فقال محمد اذا خرب وليس له مايعمر به وقد استغنى الناس عنه لبناء مسجد آخر اولخراب القرية اولم يخرب لكن خربت القرية بنقل اهلها واستغنوا عنه فانه يعود الى ملك الواقف او ورثته وقال ابويوسف هومسجد ابدا الى قيام الساعة لايعود ميراثًا ولايجوز نقله ونقل ماله الى مسجد آخر سواء كانوا يصلون فيه اولا وهوالفتوى كذا فى الحاوي القدسي وفى المجتبى واكثر المشايخ على قول ابي يوسف ورجح فى فتح القدير قول ابي يوسف بانه الاوجه (البحرالرائق ج ۵ ص ۲۵۱ ط ماجديه) وهكذا في (الفتاوى التاتارخانية ج ۵ ص ۸۴۶ ط ادارة القرآن والعلوم الاسلامية)

و به علم ان الفتوى على قول محمد فى آلات المسجد و على قول ابي يوسف فى تابيد المسجد الخ (البحرالرائق ج ۵ ص ۲۵۲ و ص ۲۵۳) و هكذا فى (ردالمحتار ج۳ ص ۴۰۲ و ص ۴۰۷) و هكذا فى (احسن الفتاوى ج ۶ ص ۴۵۶) فى ضمن السوال والجواب و هكذا فى (عزيزالفتاوى ص ۲۰۴) فى ضمن السوال والجواب. والله تعالى اعلم وعلمه اتم و احكم

مولوي محمود ميوندوال
مولوي ندامحمد الحقاني
مولوي احمد نوري عفى عنه
مولوي مفتي نورمحمد ثاقب رئيس عمومي دارالافتاء مركزي
ومعاون قضائي ستره محكمه دولت اسلامي طلباء افغانستان

د معطل شوي مسجدحکم

پوښتنه : کوم مسجد چې معطل شي د نوي مسجد د جوړيدو په وجه ، زوړ مسجد تنګ وي ، پاته شوی مسجد څه حکم لري ، بايد کومه استفاده ورڅنې وکړل شي او که يا ؟ د ظروفو او د عين ذات د مسجد څخه ؟

(المستفتي : الحاج ملا طالب آغا مسئول حج واوقاف ولايت هلمند)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب : پاته شوی مسجد د أبد لپاره د قيامت تر ورځې حکم د مسجد لري له مسجد سِوٰی نوره استفاده ورڅنې نشي کيدلای او همدا رنګه اَنقاض يعنی اموال د مسجد به په دغه مسجد کی پاته کيږي حتٰی چې نقل کول يې بل مسجد ته هم جائز نه دي .

ولو خرب ماحوله واستنعني عنه يبقى مسجداً عند الامام و الثانی ابدا الی قيام الساعة و به يُفتٰی (الدرالمختار) (قوله عند الامام و الثانی) فلا يعود ميراثا و لايجوز نقله و نقل ماله الی مسجد آخر سواء کانوا يصلون فيه اولاوهو الفتوی - حاوی القدسی - و اکثرالمشايخ عليه - مجتبی- و هو الاوجه فتح آهـ بحر (ردالمحتار ج ۳ ص ۴۰۲) و هکذا فی (البحرالرائق ج ۵ ص ۲۵۱) و (الفتاوی التاتارخانية ج ۵ ص ۸۴۲)

نوټ : د زيات وضاحت لپاره بايد ووايو چې يو اَنقاض د مسجد دي او بل آلات د مسجد دي انقاض د مسجد لکه خاورې ، خښتې ، لرګي ، ګاډر او داسې نور، حکم يې دا دی چې دغه شيان حکم د مسجد لري د أبد لپاره به په دغه مسجد کې وي نقل يې بل مسجد ته هم جائز نه دی او آلات د مسجد لکه څراغ ، ګروپ ، پنکهه ، غالۍ ، بوريا ، فرش او داسی نور ، حکم يی

دا دی چې هر کله مسجد یا د هغه شاوخوا خراب شي او خلک بل مسجد بناء کړي او د دغه مسجد څخه استغناء راشي نو دغه شیان او آلات بیرته ملکیت ګرځی او شخصي استفاده ورځني کیدلای شي بناء پر مُفتٰی به قول. ولو خرب ماحوله واستغني عنه یبقی مسجداً عند الامام والثانی ابدا الی قیام الساعة و به یفتی (الدرالمختار) قال الزیلعی و علی هذا حصیر المسجد و حشیشه اذا استغني عنهما یرجع الی مالکه عند محمد و عند ابی یوسف ینقل الی مسجد آخر... و به علم ان الفتویٰ علی قول محمد فی آلات المسجد و علی قول ابی یوسف فی تأبید المسجد آهـ و المراد بآلات المسجد نحو القندیل و الحصیر بخلاف انقاضه لما قد منا عنه قریبا من ان الفتوی علی ان المسجد لایعود میراثا و لایجوز نقله و نقل ماله الی مسجد آخر (ردالمحتار ج ۳ ص ۴۰۷ ط رشیدیه) و هکذا فی (الفقه الاسلامی ج ۸ ص ۲۱۸ ط دارالفکر) و (مجمع الانهر ج ۱ ص ۷۴۸) انقاضه من حجر و طوب و خشب الخ (الفقه الاسلامی ج ۸ ص ۲۱۸)

واللہ تعالٰی اعلم.



الفصل الرابع في مسجدالضرار

د مسجد ضرار تعريف

پوښتنه : مسجد ضرار کوم مسجد ته ويل کيږي او په څومره اندازه به وي ؟

(المستفتي : الحاج ملا طالب آغا

مسئول حج واوقاف ولايت هلمند)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملک الوهاب

که څلور شيان په يو مسجد کې جمع شي نو هغه ته مسجد ضرار ويل کيږي

(۱) د مسلمانانو جماعت ته ضرر رسول.

(۲) د کفر حمايت کول

(۳) په مؤمنانو کې تفرقه اچول .

(۴) د خدای او رسول پر خلاف جنګ کوونکو ته کومك ورکول .

د دغسی مسجد نړول ضروري دي او لمونځ پکې ناجائز دی او هغه مسجد چې په فاسد نيت جوړ شوی وي خو پورته څلور شرطونه پکې جمع نه وي هغه ته مسجد ضرار نه ويل کيږي حکم يې د صحيح او شرعي مسجد دی که څه هم په آخرت کې يې جوړونکي ته اجر او ثواب نشته .

او د دوه مسجدونو په مابين کې شرعي فاصله متعينه نه ده او په هغه صورت کې چې په قوم کې اختلاف پيښ شي او د اختلاف رفع کول ممکن نه وي يو مسجد هم نيم کيدلای او دوه حصې کيدلای شي چې هره حصه به جلا مؤذن او امام ولري .

وَ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مَسْجِدًا ضِرَارًا وَّ كُفْرًا وَّ تَفْرِيْقًۢا بَيْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَ اِرْصَادًا لِّمَنْ حَارَبَ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ مِنْ قَبْلُ. الاية (سورة التوبة : ۱۰۷)

مسجد ضرار کی تعریف خود قرآن مجید میں چار قیدوں کی ساتھ مذکور ہے الخ (۱)(امداد المفتین ص ۸۰۸)و (عزیز الفتاوی ص ۶۰۹) بغض وعناد کی وجہ سے بنائی ہوئی مسجد، مسجد ضرار نہیں... اس مسجد کے بنانے والوں کو مسجد بنانے کا ثواب نہ ملے گا بلکہ گناہ گار ہونگے لیکن یہ جگہ مسجد شرعی ہوگئی اس کے تمام احکام مثل دیگر مساجد کے ہوگئے الخ(۲) (امداد المفتین ص ۸۰۸ وص ۸۰۹)

اهل المحلة قسموا المسجد وضربوا فيه حائطا و لكل منهم امام على حدة و مؤذنهم واحد لابأس به والاولى ان يكون لكل طائفة مؤذن ، كما يجوز لاهل المحلة ان يجعلوا المسجد الواحد مسجدين فلهم ان يجعلوا المسجدين واحداً لاقامة الجماعة (البحر الرائق ج ۵ ص ۲۵۰)

والله اعلم بالصواب

---

(۱) **ترجمه**: د مسجد ضرار تعریف پخپله په قرآن کریم کې په څلورو قیدونوسره بیان شوی دی.

(۲) **ترجمه**: د بغض اوعناد له کبله جوړکړی مسجد ، مسجد ضرار نه دی ... د دغه مسجد جوړونکو ته د مسجد جوړلو ثواب نه ورکول کېږي بلکه ګنهګار دي لیکن داځای شرعي مسجد شو د دې ټول حکمونه د نورو مسجدونو په څېر شول.

د مسجد ضرار حکم

پوښتنه : مسجدضرار کوم مسجدته ویل کېږي؟ اوحکم يې څه دی؟

(المستفتي : محمد معصوم المعتصم

دافغانستان داسلامي امارت دحج او اوقافو رياست)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب باسم ملهم الصدق والصواب

مسجد ضرار هغه مسجد ته ویل کیږی چې لاندی څلور شیان پکې وي.

۱ - د مسلمانانوجماعت ته ضرر رسول.

۲ - دکُفرحمایت کول.

۳ - په مؤمنانو کی تفریق اچول .

۴ - د خدای او رسول پر خلاف جنګ کوونکوته کومك ورکول .

لکه چې په آیة کریمه کې راځي وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مَسْجِدًا ضِرَارًا وَّ كُفْرًا وَّ تَفْرِيْقًا بَيْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَ اِرْصَادًا لِّمَنْ حَارَبَ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ مِنْ قَبْلُ. الاية (سورة التوبة : ۱۰۷)

مسجد ضرار کی تعریف خود قرآن مجید میں چار قیدوں کی ساتھ مذکور ہے اول مسلمانوں کی جماعت کو ضرر پہنچانا الخ(۱) (امداد المفتین ص۸۰۸)و(عزیز الفتاوی ص۶۰۹)

حکم د مسجد ضرار دا دی چې لمونځ کول پکې جائز نه دي او نړول يې لازم دي او حکم د مسجد نه لري او هغه مسجد چې پورتني څلورشرطونه پکې

(۱) **ترجمه**: د مسجد ضرار تعریف پخپله په قرآن کریم کې په څلورو قیدونوسره بیان شوی دی اول د مسلمانانو جماعت ته ضرر رسول الخ.

موجود نه وي لكن په فاسد نيت جوړشوی وي هغه حكم د صحيح اوشرعي مسجد لري نړول يې جائز نه دي لمونځ پكې صحيح دی البته جوړونكي لره يې په آخرت كې ثواب نشته بلكه ګنهګار دی .

بغض وعناد کی وجہ سے بنائی ہوئی مسجد، مسجد ضرار نہیں... اس مسجد کے بنانے والوں کو مسجد بنانے کا ثواب نہ ملے گا بلکہ گناہ گار ہونگے لیکن یہ جگہ مسجد شرعی ہوگئی اس کے تمام احکام مثل دیگر مساجد کے ہوگئے الخ(۱)

(امداد المفتین ص۸۰۸وص۸۰۹)

(۱) **ترجمہ**: د بغض اوعناد له كبله جوړكړی مسجد ، مسجدضرار نه دی ... ددغه مسجد جوړونكوته دمسجد جوړولو ثواب نه وركول كېږي بلكه ګنهګار دي ليكن دا ځای شرعي مسجد شو ددې ټول حكمونه د نورو مسجدونو په څيرشول .

الفصل الخامس فی المتفرقات

د قبله نما څه حکم دی؟ مسجدکه له قبله نماڅخه بدل وي ؟

پوښتنه : محترم مقام ته دریاست د دارالافتاء !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

وبعد: محترمه ! د شاه ولي کوټ په ولسوالۍ کې زمونږ یومسجد دی د قِبله نمای د معلوماتو له مخې د قبلې څخه کوږدی چې په قبله نمای کې د قندهار قبله پردیارلس ده او زمونږ مسجد پر یولس دی چې دکوږوالي نقشه پورته لیکل سوې ده نو اولاً مونږ د قبله نمای په باب معلومات غواړو چې په فقه حنفي کې معتبر دی اوکه نه دی معتبر؟

دوهم که معتبر وي نودغه پردیارلس(۱۳) چې یې دقندهار قبله مقرره کړې ده دغه صحیح ده اوکه نه ؟ ځکه چې بعضې علماء وایي چې دقندهارقبله پریولس نیمې یا دولس ده اوحال داچې دقبله نمای په کتابچه کې یې پردیارلس لیکلي ده.

دریمه خبره دا ده که چېرې د قندهار قبله پر دیارلس معتبره سي په مذکورکاږه مسجد کې دمسجد دکوږوالي پرطریقه لمونځ صحت لري اوکه یې نه لري ؟ اودغه مذکورمسجد نړول غواړي اوکه یې نه غواړي؟

والسلام.

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب

محترم مستفتي صاحب ته باید وویل شي چې بناء داحکامو شرعیه وو پرسهولت او آسانۍ ده ، دغه تفاوت چې مستفتي لیکلی دی په دومره

تفاوت سره انحراف د قبلې څخه نه راځي بلکه علماء وايي چې پنځه څلويښت (۴۵) درجې کوږوالی هم انحراف نه بلل کېږي ، نوکه يو څوک نوی مسجد جوړوي او د نورو مساجدو د محرابونو سره مقايسه وکړي او په يوې صحيحې قبله نما يې برابر کړي نښه خبره ده لکن کله چې مسجد جوړ وي او دومره لږ تفاوت د قبله نما سره ولري لکه مستفتي چې ليکلی دی نودا هيڅکله سبب د خرابۍ د مسجد نه شي کېدلای ، مهم استقبال دی جهت دکعبې بلکه جهت د مسجدحرام ته : فَوَلُّوْا وُجُوهَكُمْ شَطْرَ المسجد الحرام ، نه معينې نقطې د کعبې ته .

اوکه څوک د فقهې فتاوی وګوري خصوصاً (ردالمحتار) نو د قبلې په جهت کې به ډيره توسع و وينې .

وجهتها ان يصل الخط الخارج من جبين المصلي الى الخط المار بالكعبة على استقامةٍ بحيث يحصل قائمتان او نقول هو ان تقع الكعبة فيما بين خطين يلتقيان فى الدماغ فيخرجان الى العينين كساقى مثلثٍ .



كذا قال النحرير التفتازاني في شرح الكشاف ... لكن وقع في كلامهم مايدل على ان الانحراف لايضرّ ففي القهستاني و لاباس بالانحراف انحرافاً لاتزول به المقابلة بالكلية بان يبقى شي من سطح الوجه مسامتًا للكعبة آهـ و قال في شرح زاد الفقير و في بعض الكتب المعتمدة في استقبال القبلة

الی الجهة اقاویل کثیرة و اقربها الی الصواب قولان الاول ان ینظر فی مغرب الصیف فی اطول ایامه ومغرب الشتاء فی اقصر ایامه فلیدع الثلثین فی الجانب الایمن والثلث فی الایسر والقبلة عند ذلک ولو لم یفعل هکذا وصلی فیما بین المغربین یجوز واذا وقع خارجًا منها لایجوز بالاتفاق آهـ ملخصاً (ردالمحتار ج ۱ ص ۳۱۵ و ۳۱۶)

و تعرف (ای القبلة) بالدلیل و هو فی القری والامصار محاریب الصحابة والتابعین و في المفاوز والبحار النجوم کالقطب و الاّ فمن الاهل العالم بها ممن لو صاح به سمع (الدرالمختار بهامش ردالمحتار ج ۱ ص ۳۱۷)

بیت اللہ سے پینتالیس درجہ تک انحراف مفسد نہیں، اس سے زیادہ ہو تو مفسد ہے (۱)(احسن الفتاوی ج ۲ ص ۳۱۳)

حسابات ریاضیہ وآلات رصدیہ کے ذریعہ بھی عینِ کعبہ تو درکنار مسجد حرام بلکہ مکّہ مکرمہ کے استقبال کا بھی یقین نہیں ہو سکتا مندرجہ ذیل وجوہ کی بناء پر... (۲) (احسن الفتاوی ج ۲ ص ۳۲۷)

سمت قبلہ او جہت قبلہ میں شرعاً بہت وسعت ہے... اور مساجد جو اس طریق سے بنی ہوئی ہیں وہ صحیح رخ پر ہیں اس میں زیادہ کنج وکاؤ کی ضرورت نہیں ہے کیونکہ آلات سمت قبلہ کے دریافت کرنے کے لئے مہیا و میسر نہیں ہیں، اور پھر وہ بھی ظنی ہیں اور عام لوگوں کو اس کی تکلیف دینا

---

(۱) **ترجمه**: له بیت الله شریف څخه ترپنځه څلویښتو درجو انحراف فساد نه راولي له دې څخه که زیات وي نوفساد راولي.

(۲) **ترجمه**: د ریاضي حساباتو او رصدي آلاتو په ذریعه هم عین کعبه خو لاڅه چې د مسجد حرام بلکه د مکې مکرمې د استقبال هم یقین نشي کیدلای د لاندې لیکل شویو وجوهو پر بناء ...

دشوار ہے اور مساجد قدیمہ خود اس بارہ میں حجۃ صحیحہ ہیں اور تغیر کرنا ان میں تھوڑے سے انحراف مظنون کی وجہ سے مناسب نہیں ہے الخ (۱) (فتاوی دارالعلوم دیوبند، ج ۲ ص ۱۴۵ و ص ۱۴۶)

په مسجدکې سلام اچول

پوښتنه : د دارالافتاء دریاست محترم رئیس صاحب !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

سلام ویل په مسجدکې څه حکم لري ؟ یعنې چې سلام څوک په مسجد کې وایي سنت دی که مکروه اوکه بل حکم لري ؟ جزاک الله خیراً والسلام

(المستفتي : حاجي محمد قاسم)

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجواب بعون ملهم الصدق والصواب

که چېرې په مسجدکې ذاکرین ، یا د قرآن تلاوت کوونکي ، یا د علم مذاکره کوونکي ناست وي او یا نورکسان چې جماعت ته منتظروي نو د امام صاحب رحمة الله تعالی علیه پرمذهب که یوسړی مسجدته راشي نو د ده لپاره سلام ویل مکروه دي ځکه چې دده دسلام په وجه د بعضې کسانو په شغل او حضورکې خلل واقع کېږي اوکه بیاهم یوځوک سلام ووایي نو پر دغو کسانو یې جواب نه واجبیږي.

---

(۱) **ترجمه** : په سمت قبله اوجهت قبله کې شرعًا ډیروسعت دی ... او مسجدونه چې په دې طریقه جوړشوي دي هغه په صحیح رُخ باندې دي په دې کې ډیر پس اوپیش ته اړتیا نشته ځکه چې د قبلې د سمت معلومولو لپاره آلات دستیاب نه دي ، او بیا هغه هم ظني دي او عاموخلکوته ددې تکلیف ورکول مشکل دي اوقدیم مسجدونه پخپله په دې اړه صحیح حجت دی اودلږ ظني انحراف له کبله په دوی کې بدلون راوستل مناسب نه دي.

السلام تحية الزائرين والذين جلسوا فى المسجد للقراءة والتسبيح اولانتظار الصلاة ما جلسوا فيه لدخول الزائرين عليهم فليس هذا اَوَان السلام فلايسلّم عليهم ولهذا قالوا لوسلّم عليهم الداخل وسعهم ان لايجيبوه كذا فى القنية ، يكره السلام عند قراءة القرآن جهراً وكذا عند مذاكرة العلم وعندالاذان والاقامة والصحيح انه لايردّ فى هذه المواضع ايضاً كذا فى الغياثية (الفتاوى الهندية ج ۵ ص ۳۲۵)

فيكره السلام على مشتغل بذكرالله تعالى بائ وجه كان - رحمتي (ردالمحتارج ۱ ص ۴۵۶)

و مفاده ان كل محل لايشرع فيه السلام لايجب ردّه وفى شرح الشرعة صرّح الفقهاء بعدم وجوب الردّ فى بعض المواضع القاضي اذاسلم عليه الخصمان...والجالسين فى المسجد لتسبيح او قراءة او ذكر حال التذكير (ردالمحتارج ۱ص ۴۵۷) وهكذا فى (الفقه الاسلامي ج ۳ ص ۵۸۲ ط دارالفكر دمشق) و هكذا في (امداد الفتاوى ج ۴ ص ۲۷۸) و (احسن الفتاوى ج ۸ ص ۱۳۶ و ۱۳۷)

واللہ تعالی اعلم بالصواب .

باب المُصلّی (عیدگاه)

پر عیدگاه دیوال را گرځول او منبر پکې جوړول څنګه دي ؟

پوښتنه : پر عیدګاه دیوال راګرځول او منبر پکې جوړول جائز دي او کنه ؟

(المستفتي : الحاج ملا محمد حسن اخند
معاون دولت اسلامي افغانستان)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملک الوهاب

دیوال را ګرځول پرعیدګاه جائز دي او هم بناء د منبر پکې جائز ده بناء پر راجح قول باندې .

په (الفتاوی التاتارخانیة ج ۲ ص ۹۸ ط ادارة القرآن والعلوم الاسلامیة) کې راغلي دي : واما مصلي العید فقد اختلف المشایخ والصحیح ان له حکم المسجد فی یوم العید الی ان یصلّی العید حتی انها لولم تکن الصفوف متصلة جازت صلوتهم ثم اذا صلي العید خرج عن حکم المسجد حتی لو دخل الناس فی الجبانة والمرأة فی الحیض فی المحوط لابأس والمراد بالمصلی والجبانة داخل الجدران المبنیة لصلوة العید آهـ

او په (صلاة مسعودي ج ۲ ص ۱۹۴) کې راغلي دي : و نمازگاه عید راحکم چیست خواجه امام زاهد فخرالدین گفته است که حکم مسجد دارد از برای انکه مسجد جای را گویند که ویرا چار دیوار بود و در جدا بود و در وی جماعت گذارند ویرا محراب بود این همه در نمازگاه عید موجود است پس حکم مسجد دارد الخ

او په (الدرالمختار و ردالمحتار ج ۱ ص ۲۱۳ ط رشيديه) کې راغلي دي :
(ولابأس باخراج منبر اليها) لكن فى الخلاصة لابأس ببنائه دون اخراجه (قوله لكن فى الخلاصة الخ) ومثله فى الخانية فانهما قالا و لايخرج المنبر الى الجبانة يوم العيد واختلف المشايخ فى بنائه فى الجبانة ... وفى الخلاصة عن خواهرزاده هذا اى بناؤه حسن فى زماننا .
و هكذا فى (البحر الرائق ج۲ ص ۱۵۹ ط ماجدية)

او په (الفتاوى الهنديه ج ۱ ص ۱۵۰ ط دارالاشاعة قندهار) کې راغلي دي :
و لايخرج المنبر الى الجبانة يوم العيد واختلف المشايخ فى بناء المنبر فى الجبانة
قال بعضهم لايكره وقال بعضهم يكره كذا فى فتاوى قاضيخان والصحيح انه لايكره كذا فى الغرائب.

مولوي عبدالحكيم عفى الله عنه
مولوي احمدنوري عفى عنه
مولوي محمداخلاص بركتي
مولوي ندامحمد الحقاني فاضل وفاق المدارس
مولوي نورمحمدثاقب
رئيس دارالافتاء مركزي دولت اسلامي افغانستان

د عیدګاه لپاره د سرایونو نړولو څه حکم دی ؟

پوښتنه : سرایونه چې خلکو پر دښت ځمکه جوړکړي وي ، لپاره د عیدګاه یې نړیدل حکومت ته جائز دي او کنه؟

(المستفتي : الحاج ملامحمد حسن اخند معاون دولت اسلامي افغانستان)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملک الوهاب

سرایونه چې پرسرکاري ځمکه جوړشوي وي که چېرې په اجازه د امام وي که څه هم امام متغلب وي نو جوړونکی یې مالک دی او امام د نړولو حق نلري اوکه په اجازه د امام نه وي بیا امام لره حق د نړولو شته ځکه چې دامام ابوحنیفة رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد د احیاء لپاره اذن او اجازه د امام شرط ده اوکه امام او سلطان نه ؤ نو امیر چې غلبه یې پر یوځای کړې وي او مستقل وي په حکم کې اویاخلکو اتفاق پرې کړی وي پرمنزله دسلطان دی .

په (فتاوی هندیه ج **۵** ص **۳۸۶** ط دارالاشاعة قندهار) کې راغلي دي :

ومن احیا ارضاً میتةً بغیر اذن الامام لایملکها في قول ابي حنیفة رَحِمَهُ اللّٰهُ الخ وکذافی (فتاوی قاضیخان علی هامش الهندیة ج ۱ ص **۲۷۹**)

او په (ردالمحتار ج **۴** ص **۳۴۲** ط رشیدیه) کې راغلي دي :

ثم ان الظاهر ان البلاد التي لیست تحت حکم سلطان بل لهم امیر منهم مستقل بالحکم علیهم بالتغلب اوباتفاقهم علیه یکون ذلک الامیر فی حکم السلطان فیصح منه تولیة القاضي علیهم . واللہ تعالی اعلم

مولوي محمداخلاص برکتي مولوي عبدالحکیم عفی اللہ عنه

مولوي نداء محمد الحقاني مولوي احمد نوري عفی عنه

مولوي نورمحمدثاقب رئیس دارالافتاء مرکزي دولت اسلامي افغانستان

باب فی احکام المقابر

پر مقبره بناء یا زراعت کول څه حکم لري ؟

پوښتنه : دکندهار د دارالافتاء محترم مسئول ته !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

محترمه ! دمیرویس روغتون په محوطه کې د پخوا څخه یو څوقبرونه موجود دي او اوس د (F.R.F) مؤسسې لخوا په میرویس روغتون کې دمنطقه پاکې اوهموار کارې کار شروع دی نو دا دی د پورته قبرونو د شرعي حکم په خاطر مو تاسوته خبر درکړ هیله ده چې هدایت وکړئ چې نومورې مقبرې هموارې کړو که یا ؟ والسلام

(دمیرویس روغتون رئیس ملا اکبرشاه اخند)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملک الوهاب

که چېرې یوه ځمکه وقف شوې وي لپاره د مقبرې نو یې تحول بل شي ته جائز نه دی ، که څه هم مردګان خاورې شوي وي اوکه ځمکه لپاره د مقبرې وقف شوې نه وي نو یې تحول بل شي ته لکه بناء ، زراعت وغیره ته جائز دی خو هغه وخت چې مردګان زاړه او خاورې شوي وي .

ولوبلی المیت وصار ترابًا جاز دفن غیره فی قبره و زرعه والبناء علیه (تبیین الحقائق ج ۱ ص ۵۸۹ ط ایچ - ایم - سعید)

سئل القاضی الامام شمس الائمة محمود الازوجندي عن المقبرة فی القری اذا اندرست ولم یبق فیها اثر الموتی لاالعظم ولاغیره هل یجوز زرعها

واستغلالها قال لاولها حکم المقبرة کذا فی المحیط (الفتاوی الهندیة ج ۲ ص ۴۷۰ و ص ۴۷۱ ط دارالاشاعة قندهار)

قال المصحّح تحت هذه العبارة (قوله قال لا) هذا لاینافي ماقاله الزیلعي فی باب الجنائز من ان المیت اذا بلی وصارترابًا جاز زرعه والبناء علیه آهـ لان المانع هنا کون المحل موقوفا علی الدفن فلایجوز استعماله فی غیره فلیتأمل ولیحرر آهـ

او دغه مضمون په (فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۵ ص ۳۷۹) کې هم ذکر شوی دی.

وقال الزیلعی و لو بلی المیت و صار ترابا جاز دفن غیره فی قبره وزرعه والبناء علیه آهـ قال فی الامداد و یخالفه ما فی التاترخانیة اذا صار المیت ترابا فی القبر یکره دفن غیره فی قبره لان الحرمة باقیة وان جمعوا عظامه فی ناحیة ثم دفن غیره فیه تبرکا بالجیران الصالحین ویوجد موضع فارغ یکره ذلک آهـ قلت لکن فی هذا مشقة عظیمة فالاولی اناطة الجواز بالبلا اذا لایمکن ان یعدّ لکل میت قبر لایدفن فیه غیره وان صار الاول ترابا لاسیّما فی الامصار الکبیرة الجامعة والالزم ان تعم القبور السهل والوعر علی ان المنع من الحفر الی ان لایبقی عظم عسر جداً وان امکن ذلک لبعض الناس لکن الکلام فی جعله حکمًا عامًا لکل احد فتأمل (ردالمحتار ج ۱ ص ۶۵۹ ط رشیدیه)

حاصل دادی که چېرې دغه ځمکه لپاره د مقبرې وقف نه وي نو د هغو قبرونو چې مردګان یې خاورې وي همواري جائز ده او هغه قبرونه چې مردګان یې خاورې نه وي همواري یې جائز نه ده.

البته دار و مدار د خاورې کیدوپه غالب ظن ده نوکه غالب ګمان داوي چې مردګان خاورې شوي دي بیا همواري د قبرونو جائز ده. (کفایت المفتي ج ۷ ص ۱۱۸)

مولوي عبدالله مشهور به خطیب ، ولایت ارزګان

مولوي عبدالحکیم عفی الله عنه

مولوي محمد مسلم حقاني

مولوي نورمحمد (ثاقب) سرپرست دارالافتاء مرکزي

تحریک اسلامي طلباء افغانستان

۲۴ / ۵ / ۱۳۷۵ هـ ش



په عامه هديره کې مؤمنان له دفن څخه منع کول

پوښتنه : بحضور محترمین علماء کرامِ شوری مرکزي علماء! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته عرض اینکه مایان چندین نفر که بطور رسمی حصه تعین شده درقبرستان شهر قندهار نداریم وبرای تدفین مردگان مردم ممانعت مینمایند، امید واریم که برای مایان یک راه حل پیداشود اگر شرعا مایان درمقبره مسلمانان حق داشته باشیم امید است که ازطریق اعلان مردم فهمانده شوند که مایان را ازدفن مردگان درمقابرمانع نشوند واگرکدام مانع شرعی وجود داشته باشد امیداست که برای مایان یک راه حل دیگر سنجیده ومایان را ازمشکل خلاص نمائید، بعید ازمرحمت شما نخواهد بود والسلام.

(عارضین: حمیدالله وحاجی سردار محمد وحاجی عبدالله وغیره)

ملاحظه شد : بریاست محترم دارالافتاء مرکزي! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته درباره موارد فوق ابراز نظر شرعی بفرمائید. والسلام

(الحاج مولوي عبدالودود بنوري رئیس شوری مرکزي علماء)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب ومنه الصدق والصواب

هغه مقبره چې وقف شوې وي لپاره د عامو مسلمانانو هیڅ څوک نشي کولای چې دهغې مقبرې څخه د چا مړي منع کړي ځکه چې په هغې کې

دعامو مسلمانانو حق ثابت دی اوکه داسې مقبره وي چې هغه د يو خاص قوم ، يا يوې خاصې کورنۍ او يا يوې خاصې محلې لپاره وقف وي نو په هغې کې يوازې د هغه قوم يا کورنۍ يا محلې حق دی بل څوک نشي کولای چې بې اجازې هلته خپل مړي ښخ کړي بلکه خپله واقف لره هم دا حق نشته چې مقبره يې عامه وقف کړې وي او بيا څوک منع کړي.

فان شرائط الواقف معتبرة اذا لم تخالف الشرع وهو مالک فله ان يجعل ماله حيث شاء مالم يکن معصية وله ان يخص صنفًا من الفقراء ولوکان الوضع فی کلهم قربة الخ (ردالمحتارج ۳ ص ۳۹۵ ط رشيديه)

ابتداءً وقف میں جب زمین کو عام مسلمین کے دفنِ اموات کے لئے وقف کر دیا گیا تو اب اس کے کسی حصّہ کو واقف اپنے خاندان یا اور مخصوص لوگوں کے لئے معین نہیں کر سکتا، کیونکہ اب تمام زمین کے ساتھ حق عامہ متعلق ہو گیا اور سلبِ حق کا خود واقف کو بھی بعد تمامی وقف کے اختیار نہیں رہتا (۱)

وفی فتاوی الشيخ قاسم وماکان من شرط معتبرفی الوقف فليس للواقف تغييره ولاتخصيصه بعد تقريره ولاسيما بعد الحکم آهـ فقد ثبت ان الرجوع عن الشروط لايصح الاالتولية مالم يشرط ذلک لنفسه.(ردالمحتار)

(کفایت المفتی ج ۷ ص ۱۲۹)

---

(۱) **ترجمه**: په پيل کې په وقف کې چې کله ځمکه د عامومسلمانانو دمړو ددفن لپاره وقف کړل شوه نو اوس ددې کومه برخه واقف دخپلې کورنۍ او يا د نورو خاصو خلکولپاره نشي معينولای ، ځکه چې اوس د ټولې ځمکې سره عام حق ترون ومونډ او د حق سلبولو واک دوقف تربشپړکېدو وروسته پخپله واقف ته هم نه پاته کېږي.

قبرستان وقف میں کسی کو دفن کرنے سے روکنا درست نہیں ہے (۱)(عزیز الفتاوی ص ۳۴۳)
واللہ تعالی اعلم بالصواب

مولوي احمد نوري عفی عنه
مولوي محمود ميوندوال
مولوي نداء محمد الحقاني

مولوي نورمحمد (ثاقب)
رئيس عمومي دارالافتاء مرکزي
دولت اسلامي افغانستان

د مقبرې خرڅول

پوښتنه : جناب محترم رئيس صاحب د دارالافتاء!
السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

عزت منده ! زمونږ هديره چې تقريبًا (۹۰) کاله سابقه لري اومونږ ديوال هم پر راګرزولی دی د توپکيانو په وخت کې دغه زمونږ هديره پرخپل سر يوه توپکي پر بل توپکي خرڅه کړې ده چې اوس يې رانيونکی دعوه کوي ، په دې موردکې ستاسو د لوړ حضورڅخه هيله لرو چې شرعًا معلومات راکړئ ډيره مهرباني به مو وي. والسلام.

(المستفتي : غلام نبي د عبدالقادر زوی)

(۱) **ترجمه**: په وقف هديره کې څوک له دفن کولو څخه منع کول صحيح نه دي.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

الجواب بعون ملهم الصواب

مقبره په دوه قسمه ده يوه عامه مقبره ده او بله خاصه ده.

۱- عامه مقبره هغه ده چې هرڅوک کولای شي چې خپل مړي پکې ښخ کړي او په داسې مقبره کې بايد لاندې درې شروط مراعات شوي وي:

اول : دا چې دغه ځمکه به يې د مقبرې لپاره متعينه کړې وي .

دويم : دا چې يومتولي ته به يې سپارلې وي.

دريم : داچې وقف ددغه ځمکې به ابدي وي په يو وخت سره به يې نه وي مقيد کړې .

د داسې مقبرې حکم دا دی چې نه يې څوک دعویٰ کولای شي او نه يې څوک مالک کيدلای شي ځکه چې وقف يې ابدي دی او تصرف به يې د متولي په لاس کې وي .

۲- خاصه مقبره هغه ده چې يو څوک خپله يوه ټوټه ځمکه متعينه کړي لپاره د ښخولو د مړو د خپلو اقرباؤ او وقف کړې يې نه وي او بيګانه چاته اجازه نه وي چې خپل مړي پکې ښخ کړي

د داسې مقبرې حکم د شخصي ملک دی هم يې بيع صحيح کېږي او هم يې يوڅوک مالک کيدلای شي ، داسې مقبره که يو چا پر بل چا په خپل سر خرڅه کړې وي خرڅوونکی يې غاصب بلل کيږي اودغه بيع چې غاصب کړې ده موقوفه ده پر اجازه د مالک که مالک اجازه وکړي نو ځمکه د مشتري ده او غاصب به هغه قيمت مالک ته ورکوي اوکه يې اجازه و نکړه ځمکه به مالک ته ورکوي اوبائع به هغه اخيستل شوی قيمت مشتري ته ور

ردوي اوکه د سره غاصب دغه ځمکه خرڅه کړي نه وه نو پرده لازمه ده چې اصل مالک ته به يې ردوي.

وشرائطه (اى الوقف) ثلث منها ان يكون مقسوما ومنها ان يكون مخرجا عن يده مسلّمًا الى المتولي وان يشترط فيه التابيد الخ (خلاصة الفتاوى ج ۴ ص ۴۰۸ ط رشيديه)

المغصوب ان كان عقاراً يلزم الغاصب ردّه الى صاحبه من دون ان يغيره وينقصه (شرح المجلة لسليم رستم باز - المادة : ۹۰۵ - ص ۵۰۱)

ان اثبت المستحق ملكية المبيع كله بالبينة فقضي له به لاينفسخ البيع بل يصبح متوقفًا على اجازة المستحق الخ (الفقه الاسلامي ج ۵ ص ۲۳۷ ط دارالفكر دمشق) و فى الجملة : ان تصرفات الفضولي جائزة موقوفة على اجازة صاحب الشان عند الحنفية وتصرفات الفضولي مثل بيع المسلم فيه والمغصوب وبيع الوكيل الخ (الفقه الاسلامي ج ۴ ص ۱۴۱ ط دارالفكر) و هكذا في (خلاصة الفتاوىٰ ج ۴ ص ۲۷۱) واللہ تعالى اعلم

مولوي مفتي نورمحمد (ثاقب) رئيس عمومي
دارالافتاء مركزي دولت اسلامي افغانستان
مولوي نداء محمد الحقاني
مولوي احمد نوري عفى عنه

قبرونه چې په سرای کې پیدا شي

پوښتنه : د کندهار ولایت د دارالافتاء رئیس صاحب حضورته !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

محترمه ! دامارت دمقام دامر سره سم موږ دیوه سرای دجوړیدو کار شروع کړی دی چې ددغه سرای په تهدابوکې قبرونه پیداسوي دي چې د انسانانو جسدونه پکې پراته او دغه قبرونه تعدادیې (۱۰) ته رسیږي اومخکې هم پردغه ځای باندې سرای جوړ ؤ ، موضوع مو ستاسې حضورته عرض کړه تر څو په دغه حصه کې موږ ته شرعي فتوی راکړئ چې موږ خپل کارته ادامه ورکړو اوکه یې بندکړو. والسلام

(الحاج مولوي اغا لالی)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الفتوی بعون الملک العلی الاعلی

که چېرې ددغه سرای ځمکه وقف شوې وه لپاره د مقبرې نو یې تحول بل شي او جهت ته جائز نه ده که څه هم مردګان خاورې شوي وي اوکه ددغه سرای ځمکه لپاره د مقبرې وقف شوې نه وي نو یې تحول بل شي ته لکه بناء ، زراعت وغیره ته جائز دی خو هغه وخت چې مردګان زاړه اوخاورې شوي وي .

او چونکه ستاسو په استفتاء کې دا ذکر شوي دي چې د انسانانو جسدونه پکې پراته وو که واقعي حقیقي جسدونه وي داسې نه چې ددوی د بدنونو خاورې په قبرونو کې پرتې وي نو بناء د سرای پر دغه قبرونو جائز نه دی.

ولوبلی المیت وصارترابًا جاز دفن غیره فی قبره وزرعه والبناء علیه (تبیین الحقائق) ج ۱ ص ۵۸۹ ط ایچ - ایم - سعید)

سئل القاضی الامام شمس الائمة محمود الاوزجندي عن المقبرة فی القری اذا اندرست ولم یبق فیها اثرالموتٰی لاالعظم و لاغیره هل یجوز زرعها واستغلالها قال لاولها حکم المقبرة کذا فی المحیط (الفتاوی الهندیة ج ۲ ص ۴۷۰ و ص ۴۷۱)

قال المصحّح تحت هذه العبارة (قوله قال لا) هذا لاینافی ماقاله الزیلعی فی باب الجنائز من ان المیت اذا بلی وصارترابًا جاز زرعه والبناء علیه آهـ لان المانع هنا کون المحل موقوفًا علی الدفن فلایجوز استعماله فی غیره فلیتأمل ولیحرر آهـ

او دغه مضمون په (فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۵ ص ۳۷۹) کې هم ذکر شوی دی.

و قال الزیلعی و لو بلی المیت و صارترابا جاز دفن غیره فی قبره وزرعه والبناء علیه آهـ (ردالمحتار ج ۱ ص ۶۵۹)

البته دار و مدار د خاورې کیدو په غالب ظن ده نوکه غالب ګمان دا وي چې مردګان خاورې شوي دي بیا بناء وغیره جائز دي (کفایت المفتي ج ۷ ص ۱۱۸)

واللہ تعالی اعلم و علمه اتم.

په مقبره کې ودانۍ جوړول

پوښتنه : بمقام محترم ریاست شوریٰ علماء و دارالافتاء ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

محترما ! چون در نواحی ولایت قندهار بالای قبور مرده گان مسلمین تعمیرات جور میکنند که ازهر حیث توهین و تحقیر و تخریب قبور مرده گان می شوند، فلهذا طی کتیبه هذا بآن مقام عالی ارقام تا ازطریق دارالافتاء در همچو قضایا فتویٰ شرعی صادر نمایند زیراکه دور و زمان شریعت است باید هرکار و هرامر درچوکات شریعت انجام آرد.

توضیح دربعضی اوقات شکایت کننده گان نیز موجود میشوند که بالای اقارب مایان خانه ها جور میکنند که هرگونه ناپاکی ها بالای مرده گانیم تحمیل میشود. والسلام

(امارت اسلامی افغانستان ، ریاست عمومی حج واوقاف)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الفتوی بعون الله العلی الاعلی

اگرزمین وقف شده باشد برای مقبره پس تحویلش برای چیز دیگر جائزنه باشد اگرچه مرده گانش کهنه وخاک شده باشد. واگر وقف نشده باشد برای مقبره ، لکن مقبره جورشده بغیر وقف پس تحویلش برای چیز دیگر مثل بناء و زراعت وغیره جائزاست در زمین شخصی خود بشرط که اجساد واجسام

مرده گان کهنه وخاک شده باشد، البته دار و مدار خاک شدن مرده برغلبه ظن است چنانچه از کفایت المفتی ظاهر و واضح است.

ولو بلی المیت وصار تراباً جاز دفن غیره فی قبره وزرعه والبناء علیه (تبیین الحقائق ج ۱ص ۵۸۹) وسئل القاضي الامام شمس الائمة محمود الاوزجندي عن المقبرة فی القریٰ اذا اندرست ولم یبق فیها اثر الموتی لا العظم ولاغیره هل یجوز زرعها واستغلالها قال لاولها حکم المقبرة کذا فی المحیط (الفتاوی الهنیدیة ج ۲ ص ۴۷۰)

مصحح تحت این عبارت گفته (قوله قال لا) هذا لاینافی ما قاله الزیلعي فی باب الجنائز من المیت اذا بلی وصار ترابًا جاز زرعه والبناء علیه آهـ لان المانع هنا کون المحل موقوفاً علی الدفن فلایجوز استعماله فی غیره فلیتأمل ولیحرر آهـ.

واین مضمون در (فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۵ ص ۳۷۹) نیز ذکر شده.

و قال الزیلعي و لو بلی المیت و صار ترابًا جاز دفن غیره في قبره و زرعه و البناء علیه آهـ قال فی الامداد ویخالفه ما فی التاترخانیة اذا صار المیت ترابًا فی القبر یکره دفن غیره فی قبره لان الحرمة باقیة وان جمعوا عظامه فی ناحیة ثم دفن غیره فیه تبرکًا بالجیران الصالحین ویوجد موضوع فارغ یکره ذالک آهـ قلت لکن فی هذا مشقة عظیمة فالاولی اناطة الجواز بالبلا اذا لایمکن ان یعدّ لکل میتٍ قبر لایدفن فیه غیره وان صار الاول ترابًا لاسیّما فی الامصار الکبیرة الجامعة والالزم ان تعم القبور السهل والوعر علی ان المنع

من الحفر الی ان لایبقی عظم عسر جدا وان امکن ذلک لبعض الناس لکن الکلام فی جعله حکمًا عامًا لکل احد فتأمل (ردالمحتار ج ۱ ص ۶۵۹) و (کفایت المفتي ج ۷ ص ۱۱۸) واللہ اعلم بالصواب

په مقبره کې مسجد ودانول

پوښتنه : ریاست محترم دارالافتاء ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

ریاست قضایای امارت دوموضوع ذیل را طالب فتویٰ شرعی میباشد:

۱ـ تعمیر مسجد در قبرستان چه حکم دارد ؟

۲ـ تعمیر مسجد که بسر رسیده باشد واشخاص درآن نماز خوان باشند وموقعیت آن در قبرستان باشد که وقفی قبرستان باشد آیا مسجد متوقف گردد و یا ادامه بطور مسجد ونماز ها درآن ادا گردد؟ و تخریب آن جواز دارد و یا خیر؟ حکم شرعی آنرا فتویٰ داده ممنون سازند . بااحترام

(امارت اسلامی افغانستان ، وزارت عدلیه ، ریاست قضایای امارت

مولوی عبدالولی رئیس قضایای امارت)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب حامداً ومصلیاً

مسجد چې نوی جوړېږي په هغه قبرستان کې چې د نورو مردګانو د دفن کولود ځای ضرورت نه وي نوکه چېرې د قبرونو دپاسه نه ؤ هیڅ پروا نه لري جوړ دې شي اوکه چېرې د قبرونو د پاسه ؤ نو بیا که چېرې مردګان یې خاورې شوي وو بیا هم هیڅ پروا نه لري او که چېرې مردګان یې نه وو خاورې شوي بیا جوړېدل د مسجد ناروا دي .

او هغه مسجد چې له وړاندې جوړ شوی وي که چېرې په هغه قبرستان کې ؤ چې د نورو مردګانو د دفن کولو د ځای ضرورت نه وي نوکه چېرې د قبرونو دپاسه وي بیاکه چېرې مردګان یې خاورې شوي وي نو هم هیڅ پروا نه لري او که چېرې مردګان یې نه وي خاورې او یا ضرورت د ځای د دفن کولو د نورو مردګانو وي بیا حکم د هغه مسجد دا دی چې لمونځ پکې ښه نه دی باید مسجد بند شي ځکه چې وقف د ځای خاص د قبرستان لپاره شوی ده او ضرورت هم ورته شته .

او دا چې مردګان یې خاورې شوي دي دا تر غالب ظن پورې تعلق لري .

سوال: ایک قبرستان عرصہ (۲۵) سال سے ویران پڑا ہے اور اس میں موتیٰ بھی دفن نہیں ہوتے اب اس میں ایک مکان انجمن اسلام بنانا چاہتے ہیں تو یہ جائز ہے یا نہیں۔

الجواب : عینی شرح بخاری میں ہے : قال ابن القاسم لو ان مقبرة من مقابر المسلمين عفت فبني فيها مسجد لم ارى بذلک بأسًا و ذلک لان المقابر وقف من اوقاف المسلمين لدفن موتاهم لايجوز لاحد ان يملكها فاذا درست واستغني عن الدفن فيها جاز صرفها الى المسجد لان المسجد ايضًا وقف من اوقاف المسلمين لايجوز تمليكه لأحد فمعناهما على هذا واحد اهـ

جواب مذکور سے بوجہ اشتراک علت معلوم ہوا کہ انجمن کا مکان وقفی نفع عام کیلئے اس مقبرہ کی جگہ بنانا جائز ہے۔ واللہ تعالیٰ اعلم۔ اور مفتی اعظم حضرت مولانا عزیز الرحمٰن صاحب کے فتاوی میں ہے۔

سوال (۹۱۰) اگر بوجہ اشد ضرورت قبروں کو مسجد کے صحن میں ڈال لیا جاوے تو درست ہے یا نہیں۔

الجواب: قبروں کو برابر کر کے فرش مسجد میں لیا جاوے اس میں کچھ حرج نہیں اور کچھ کراہت نماز میں نہ ہوگی۔ (۱)

کتبہ عزیز الرحمن، فتاوی دارالعلوم جلد ششم ص ۷، ومثلہ فی مجموعۃ الفتاویٰ لمولانا اللکھنوی (امداد المفتین، کتاب المساجد ص ۷۸۶) وہکذا فی (احسن الفتاوی ج ۶ ص ۴۱۴)

و لو بلی المیت وصار ترابًا جاز دفن غیرہ فی قبرہ و زرعہ والبناء علیہ (تبیین الحقائق ج ۱ ص ۵۸۹) و ھکذا فی (ردالمحتار ج ۱ ص ۶۵۹) فان شرائط الواقف معتبرۃ اذا لم تخالف الشرع و ھو مالک فلہ ان یجعل مالہ حیث شاء ما لم یکن معصیۃ الخ (ردالمحتار ج ۳ ص ۳۹۵)

واللہ تعالی اعلم بالصواب

---

(۱) **ترجمہ**: **سوال**: یوہ مقبرہ لہ پنځویشتو کلونو څخہ ویرانہ پرتہ دہ اومړي هم پکې نہ ښخیږي اوس پہ دې کې یومکان انجمن اسلام جوړول غواړي نوداجائز دی اوکنہ؟

الجواب: پہ عیني شرح دبخاري کې راغلې دي: قال ابن القاسم لوان مقبرۃ الخ، لہ ذکرشوي جواب څخہ دعلت داشتراک پہ وجہ معلوم شو چې دانجمن مکان وقفي دعامې نفعې لپارہ ددغہ مقبرې پرځای جوړول جائز دي. واللہ تعالی اعلم

او د مفتي اعظم حضرت مولانا عزیزالرحمن صاحب پہ فتاوی کې راغلې دي.سوال (۹۱۰) کہ داشد ضرورت پہ وجہ قبرونہ د مسجد پہ صحن کې واچول شي نوصحیح دی اوکہ نہ؟

الجواب: قبرونہ هوارکړل پہ فرش د مسجد کې ورګډ کړل شي داهیڅ باک نلري او پہ لمانځہ کې هیڅ کراهت نہ راځي.

د املاکو په دفترکې د قبرستان په نوم ځمکو باندې سرایونه (کورونه) جوړول

پوښتنه : داسی ځمکی چې د املاکو په دفاترو کې د قبرستان په نامه وي ، هغه محدوده اندازه خلکو اشغال کړې وي یعنی سرایونه یې پر جوړ کړي وي ، آیا هغه سرایونه باید دفعةً خراب کړل شي ؟ او که د ادیرې د را رسیدلو تر وخته پورې معطل کړل شي او یوه محدوده اندازه کرایه پرې ولګیږي او که یا ؟

(المستفتي: الحاج ملا طالب آغا مسئول حج و اوقاف ولایت هلمند)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الجواب حامداً ومصلیاً

دغه ځمکه چې د قبرستان په نامه قیدیت لري معلومات یې باید وشي که چېرې وقف وي د ادیرې لپاره نو د وقف د ساحې څخه دې فوراً سرایونه ونړول شي اوکه د یو چا مملوکه وي نو د خپل مالک سره یې باید مشوره وشي.

الوجه الخامس : أن يبني أحد غير المتولي ابنيةً او يغرس اشجاراً فی عرصة الوقف مصرّحًا بانها لنفسه او مطلقا ذلك ای لم يذكر كونها لنفسه او للوقف فتكون الابنية و الاشجار ملكًا لذلك الشخص (دررالحكام ج ۲ ص ۵۸۱)

اما اذا كانت (ای الارض الموقوفة المغصوبة التی بنی فيها) وقفا فيؤمر بالقلع والردّ مطلقا اتفاقا كما صرح به فی مجمع الانهر لان الارض لا يجوز تملكها (شرح مجلة الاحكام للاتاسي ج ۳ ص ۴۴۲) و هكذا فی (دررالحكام ج ۲ ص ۵۷۲)

لو سكن واحد فی دارآخر مدة بدون عقد اجارة لاتلزمه الاجرة لكن ان كانت تلك الدار وقفا او مال صغير لزمه أجر مثل المدة التی سكنها فی كل حال

ای سواء کان ثمة تأویل ملك او عقد او لم یکن (المجلة – المادة : ۵۹۲) و لافرق فیما اذاکان الوقف موقوفا للسکنی او للاستغلال او لغیرهما کالمسجد فقد افتی العلامة المقدسی فی مسجد تعدی علیه رجل و جعله بیت قهوة بلزوم اجر مثله مدة شغله کذافی الخیریة و الحامدیة الخ (شرح مجلة الاحکام لسلیم باز، ص ۳۱۹)

واللہ اعلم بالصواب

مقبره حریم لري او کنه؟

پوښتنه : بعضي ادیري دي چې په دفاتروکې قید یت نه لري خلك ورنزدې کېږي قبرونه خرابوي او هلته آبادي پرې جوړوي ، دغه ادیرې ته حریم په کومه اندازه ورکولای شو ؟ ، منع یې کولای شو او که یا ؟

(المستفتي: الحاج ملا طالب آغا مسئول حج و اوقاف ولایت هلمند)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملک الوهاب

د ادیرې لپاره د حریم اندازه کتابونو نه ده ذکر کړې بلکه هر څومره ځمکه چې وقفې وي هغه باید ادیرې ته په پوره ډول فارغه کړل شي او په حدودو کې چې د هر چا شخصي ځمکه وي هغه په خپله ځمکه کې د پوره تصرف کولو حق لري .

لایجوز لاحد ان یتصرف فی ملك غیره بلا إذنه (مجلة الاحکام – المادة : ۹۲)

واللہ اعلم بالصواب .

پر زړه هديره مسجد يا مدرسه جوړول

پوښتنه : داسې اديرې چې آثار يې له منځه تللي وي په ښکاره توګه ، نو پر دغه ځای د مدرسې او يا مسجد جوړيدل څه حکم لري؟

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملک الوهاب

داسې اديرې چې د قبرونو لپاره وقف شوې وي او بيا د قبرونو آثار له منځه تللي وي او د مړو هډوکي خاورې شوي وي نو په داسې مقبره کې مسجد جوړول جائز دي .

قال ابن القاسم لو ان مقبرة من مقابر المسلمين عفت فبني فيها مسجد لم أر بذلك بأسًا و ذلك لان المقابر وقف من اوقاف المسلمين لدفن موتا هم لا يجوز لاحد ان يملكها فاذا درست واستغني عن الدفن فيها جاز صرفها الى المسجد لان المسجد ايضًا وقف من اوقاف المسلمين لا يجوز تمليكه لاحد فمعنا هما على هذا واحد آهـ عمدة القاري للعيني شرح صحيح البخاري (امداد المفتين ص ۷۸۲) و هكذا في (احسن الفتاوى ج ۲ ص ۴۰۹) و هكذا في (امداد الفتاوى ج ۲ ص ۵۷۹)

والله اعلم بالصواب

د هديرې ونې او شين غزيان کښل څنګه دي؟

پوښتنه : په هديره کې چې شين غزيان ولاړوي دهغو کښل حکومت يا رعيت ته جائز دی او که يا؟

(المستفتي: حافظ مولوي عبدالستار)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

الجواب بعون الملک الوهاب

دلته څو صورتونه دي : که دغه درختې او شين غزيان د دغه ځمکې تر هديره کېدو د مخه شنه شوي وو او په هغه وخت کې ځمکه د يو چا مملوکه وه نو درختې او شين غزيان د مالك دي او که تر هديره کيدو وروسته يې شنه کړي وو نو بيا هم د دغه سړي بلل کيږي او که د دغه درختو اينبودونکی معلوم نه ؤ نو بيا اختيار قاضي لره دی هغه کولای شي چې دغه درختې خرڅې کړي او پيسې يې پر دغه مقبره مصرف کړي .

مقبرة عليها اشجار عظيمة فهذا على وجهين إما أن كانت الاشجار نابتةً قبل اتخاذ الارض مقبرة او نبتت بعد اتخاذالارض مقبرة ففى الوجه الاول المسألة على قسمين إما أن كانت الارض مملوكة لها مالك او كانت مواتا لا مالك لها و اتخذها اهل القرية مقبرة ففى القسم الاول الاشجار باصلها على ملك رب الارض يصنع بالاشجار و اصلها ماشاء و فى القسم الثانى الاشجار باصلها على حالها القديم ، و فى الوجه الثانى المسئلة على قسمين إما أن علم لها غارس او لم يعلم ففى القسم الاول كانت للغارس و فى القسم الثانى الحكم فى ذلك الى القاضى ان رأى بيعها وصرف ثمنها الى عمارة المقبرة فله ذلك كذافى الواقعات الحسامية .

(الفتاوی الهندیة ج ۲ ص ۴۷۳ و ص ۴۷۴) و هکذا فی (الفتاوی التاتارخانیة ج ۵ ص ۸۷۳)

رجل جعل ارضه مقبرة و فیها اشجار اراد ورثته ان یقطعوا الاشجار فلهم ذلك (الفتاوی التاتارخانیة ج ۵ ص ۸۷۳)

(**نوټ**) د مقبرې درختې که یو چا وقف کړې وي د یوشي لپاره نو ضرور باید هغه شي ته مصرف شي او که یې جهت د وقف معلوم نه ؤ نو د مسجد په عمارت کې هم مصرفیدلای شي ، او که دغه مقبرې متولي نه درلود نو بغیر له قاضي څخه بل چا ته د تصرف اجازه نشته .

وفی مجموع النوازل : سئل نجم الدین عن اشجار فی مقبرة هل یجوز صرفها في عمارة المسجد؟ قال : نعم ان لم تکن و قفا علی وجه آخر ، فقیل له : فان تداعت حوائط المقبرة الی الخراب أیصرف الیها او الی المسجد؟ قال : الی ماهی وقف علیه ان عرف ، و ان لم یکن للمسجد متول و لاللمقبرة فلیس للعامة التصرف فیها بدون اذن القاضی (الفتاوی التاتارخانیة ج ۵ ص ۸۷۵) و کذا في (الفتاوی الهندیة ج ۲ ص ۴۷۲)

او د وښو پریکول مکروه تنزیهي دي که شنه وو، او مباح دي که وچ شوي وو .

یہ تو بڑے درختوں کا حکم ہے - ہاں خود رَو گھاس اگر سبز ہو تو اس کا کاٹنا مکروہ تنزیہی ہے - یکره ایضًا قطع النبات الرطب و الحشیش من المقبرة دون الیابس (شافی) (کفایت المفتی ج ۷ ص ۱۱۲)

واللہ تعالي اعلم.

که په رانیول شوې ځمکه کې قبرونه پیدا شي؟

پوښتنه : د دارالافتاء ریاست ته ! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته محترمه ! زمونږ د مسجد شمالي طرف ته قبرونه دي تر دیرش کاله پخوا جوړ سوي دي چې زمونږ له کور څخه ۲۰۰ متره لیرې دي او د بعضې همسایه ګانو په کورو کې مو هم بعضې قبرونه پیدا سوي دي چې پر هغو باندې بناوې سوي دي اوس زمونږ د کور په دننه ځمکه کې چې په دوه قبالو مو رانیولې ده او پر هغې باندې مجبوراً بناګانې کوو قبرونه پیدا سوي دي چې اجساد په کلي صورت نسته فقط په وزن د دوه خورده یا یو پاو هډوکي کیږي ، آیا مونږ دغه بناء وکړو او کنه ؟ اوس زما او د خپلو فامیلي دوستانو په مابین کې پر دغه بناء اختلاف دی ، لطفًا شرعي جواب او هدایت ته ضرورت لرو او په دغه احاطه کې د تورو میږیانو غارونه هم سته ؟

(المستفتي : عبدالقدیر مدیر اداري رادیو)

الجواب بعون الملک الوهاب

محترم مستفتي صاحب باید د دغو ځمکو په باره کې پوره معلومات وکړي که چېرې دغه ځمکې چې قبرونه پکې پیدا شوي دي پخوا د مقبرې لپاره وقف شوي وي او وروسته خلکو جعلي قبالې وربانديې جوړې کړې وي او مستفتي پکې ځمکه رانیولې وي نو د دې حکم اوس هم د وقف دی ذاتي استفاده ورځنې ممنوع ده ، دغه ځمکې به بیرته د مقبرې لپاره فارغه کیږي او د دې لپاره قبالې اصلي وي او که جعلي اعتبار نه لري او که پخوا دغه قبرونه په شخصي ملکیت کې جوړ شوي وي او اوس دا قبرونه زاړه شوي وي نو بیا جائز ده چې بناء وربانديې وشي ، البته د هغه هډوکو سره به هیڅ نوعه بې احترامي نه کیږي .

و اما حکمه (ای الوقف) فعند هما زوال العین عن ملکه الی الله تعالی

وعند ابی حنیفة رَحِمَهُ اللّٰهُ حکمه صیرورة العین محبوسة علی ملکه بحیث لا تقبل النقل عن ملك الی ملك والتصدق بالغلة المعدومة متی صح الوقف بان قال جعلت ارضی هذه صدقة موقوفة مؤبدة او اوصیت بها بعد موتی فانه یصح حتی لایملك بیعه ولایورث عنه الخ (الفتاوی الهندیة ج ۲ ص ۳۵۲) و هکذا فی (الهدایة ج ۲ ص ۲۱۲ ط رشیدیه) و فیها: قال و اذا صح الوقف لم یجز بیعه ولاتملیکه الخ (الهدایة ج ۲ ص ۲۱۲)

لایعمل بالخط والختم وحدهما الااذا کان سالما من شبهة التزویر و التصنیع فیعمل به (المجلة - المادة: ۱۷۳۲)

لکن اذا کانت الاعلامات والسندات مطابقة للاحکام الشرعیة و الا فلا یعمل بها الخ (شرح المجلة للاتاسي ج ۲ ص ۱۱۷)

و لو بلی المیت و صار ترابا جاز دفن غیره فی قبره و زرعه و البناء علیه کذا فی التبیین (الفتاوی الهندیة ج ۱ ص ۱۲۷) و هکذا فی (ردالمحتار ج ۱ ص ۶۵۹) وفیه: قال فی الامداد و یخالفه ما فی التاترخانیة اذا صار المیت ترابًا فی القبر یکره دفن غیره فی قبره لان الحرمة باقیة وان جمعوا عظامه فی ناحیة ثم دفن غیره فیه تبرکا بالجیران الصالحین و یوجد موضع فارغ یکره ذلك آهـ قلت لکن فی هذامشقة عظیمة فا لاولی اناطة الجواز بالبلاد اذ لایمکن ان یعدّ لکل میتٍ قبر لایدفن فیه غیره وان صار الاول تراباً لاسیّمافی الامصار الکبیرة الجامعة والالزم ان تعم القبور السهل والوعر علی ان المنع من الحفر الی ان لایبقی عظم عسر جداً و إن امکن ذلک لبعض الناس لکن الکلام في جعله حکمًا عامًا لکل احدٍ فتأمل.

واللہ تعالی اعلم.

تَمّ المجلّدُ الثّاني

ویلیه المجلّدُ الثّالث و اوّله کتاب الحدود